دوکتور حبیب الله تږی

# پښتانه



60

# پښتانه

عنعنوي روايات، نوي نظريات او پخوانی متون
د پښتنو د نسب، نامه ، ژبې، پخواني اجتماعي ژوند
او هېواد په باره کې څه وايي؟

لیکوال

پوهاند دوکتور حبیب الله تږی

۱۳۷۷

PROPERTY OF
ARIC
Established 1989

## دکتاب پېژندنه


دکتاب نوم : پښتانه

لیکوال : پوهاند دوکتور حبیب الله تږی

خپرونکی : دپښتني فرهنگ دودې ټولنه (جرمني)

دخپرونو پرله پسې نومره : ٤

دچاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

دچاپ ځای : **دانش کتابخانه، قصه خوانی بازار- پېښور**
**تېلفون: 2564513**

دچاپ کال : ۱۳۷۷ کب= ۱۹۹۹ مارچ

کمپوزر : مصطفي سحر- غازي کمپوزنگ

# مننه او یادونه

زه د یو شمېر دوستانو د هغو صمیمانه یادونو مننه کوم چې ما ته یې پدې باره کې کړي دي چې دا مطالب د کتاب په شکل چاپ شي. پدې لړ کې په خاص ډول د پخوانی دوست او ځوان طالب العلم زلمی هېواد مل زیات ممنون یم. دوی نه یوازې ما ته بیا بیا په کلکه دا خبره کړې ده چې باید دا مطالب نشر شي او په خپله خپرونه کې یې د مقالو په توگه خپاره کړي هم دي او ددې جدي طرفدار و، چې د کتاب په توگه هم ژر چاپ شي، بلکه د کتاب د چاپولو د چارو او اهتمام. د فهرستونو د ترتیبولو درون د کار یې هم، د خپلې هغې کلکې علاقې له امله په غاړه اخیستی دی چې له علم او تحقیق سره یې لري.

زه د هغو یو شمېر زیار کښو او له خپل ثقافت او تاریخ سره د کلکو علاقمندو ځوانانو ښاغلیو: جمال الرحمن، خلیل رسولی، اجمل روهی او خوشحال روهی مننه هم کوم چې په آلمان کې د پښتنی فرهنگ دودې ټولنې مسوولیت په غاړه لري او زمونږ ددې کوچنی اثر د نشر اراده یې وکړه.

د غه راز د زیبا خادم د هغه زیار او زحمت مننه کوم چې دواشنگټن ډي سی د تطبیقي ژبپوهنې په موسسه کې یې فقط د پښتنولۍ د احساس په اساس، د دغه اثر د لومړۍ مسودې د ټایپولو په برخه کې ایستلی دی او په عین وخت کې یې لفظي غلطیو ته هم زما ور پام کړی دی. که زیبا ددې اثر د لومړۍ مسودې د ټایپولو درون د کار او زیار په غاړه نه وی اخیستی، ښایي چې دا لیکنه به په کلونو د چاپ مرحلې ته نه وی رسیدلې.

په پای کې د تطبیقي ژبپوهنې له موسسې او په تېره بیا پدغې موسسه کې د پښتو د پخوانی پروژې له متصدی «باربرا رابسن» نه ډېره مننه کوم چې زیبا ته یې اجازه ورکړه چې له کمپیوټر او نورو وسایلو نه یې استفاده وکړي.

پدې ضمن کې یوه تخنیکی یادونه هم ضرور ده او هغه دا چې ما په ارادي ډول کوشش کړی چې ددې اثر په متن کې د لاتینی حروفو له استعمال نه ځان وژغورم، ښایي چې دا به یوه نیمگړتیا وي خو ما د چاپي مشکلاتو د کمولو په خاطر منلې ده.

دوکتور تېری



PROPERTY OF ARIC Established 1989

# د سر خبرې

دافغانستان په معاصر تاريخ کې وروستی څه د پاسه شل کلونه اورنی کلونه دي.
په دې کلونو کې افغانانو دهيواد دننه او بهر دخارجي هيوادو په کمپونو اوښارونو کې
ډېرې سختی وګاللې او زموږ پر هيواد په مادي اومعنوی لحاظ دومره زيانونه تحميل
شول چې جبيره يې په بې آلايشه هيوادنی مينه دافغانانو کلونه کلونه سخت کار او زيار
ته اړه لري.

ددې څه د پاسه دوولسيزو دوروستيو شپږو اوو کلونو ناوړو پيښو اود تنظيمو اکی
خونړيو جګړو دافغانستان پر اقتصادي، اجتماعي، فرهنګي، سياسي، پوځي او نورو
موسساتو مرګونی ګوزارونه وکړل. له رکود سربيره، ټول موسسات تباه او برباد، چور او
غلا شول او يا هم د توپکيانو دجګړو په جريان کې داور خوراک شول.

دوروستيو څو کلونو پېښو زموږ په هيواد کې د فرهنګ موسسه تر هر بلې
موسسې زيانه وځپله او ددې مؤسسې بيلابيل رغوونکی توکې يې داسی سره و مروړل
او داسې يې تالا ترغی کړل چې زيانې برخې جبران کيدای هم نشی.

دهيواد فرهنګی موسسې اکثر فلج شوي دي، دځېړنې د آثارو د ايجاد او
د فرهنګ دودې شرايط له منځه تللی دي. خلک کتاب، ورځپاڼې، مجلې نشی موندلای
او که له ګاونډيو هيوادو ورهم شی د کتاب اوخپرونو زياتره مينه وال د ځان او کورنی
لپاره ګوله ډوډۍ ته اريان دي، نو کتاب به پرڅه رانيسي.

موږ همدغو نا دودو او دهيواد دننه فرهنګی رکود ته په پاملرنه په جرمني کې
د پښتنی فرهنګ د ودې ټولنه جوړه کړه او داموهيله ده چې دهمدې ټولنې له لارې
اودهيواد پالو او فرهنګپالو نورو افغانانو په مرسته څه داسې کتابونه چاپ او خپاره کړو
چې دهيواد دننه او دباندې زموږ هيوادوالو ته ورسيږي اوخپله فرهنګی تنده پرې ماته
کړي.

د کتابونو دنشر په همدې لړۍ کې موږ د کابل پوهنتون د پخوانی استاد او
دافغانستان نوميالی پوه پوهاند دوکتور حبيب الله تږی د پښتانه نومی اثر دخپرولو
تښکل وکړ. له استاد تږي نه مننه کوو چې دا کتاب يې دچاپ لپاره راولوراوه.

په درناوي

د پښتني فرهنګ دودې ټولنه (جرمنی)

# دمطالبو فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| سریزه | لومړی |
| پښتانه او پخوانی متون | یو |
| اول فصل | |
| د پښتنو اصل او نسب | ۱ |
| دوهم فصل | |
| د پښتنو اصل او ریښه | ۳۷ |
| دریم فصل | |
| پښتون - افغان: تاریخی سابقه او ریښه | ۵۰ |
| څلورم فصل | |
| پښتانه پخوا چېرې او سېدل؟ | ٦۵ |
| پنځم فصل | |
| پښتانه او مهاجرتونه | ۱۲٤ |
| شپږم فصل | |
| یوه تحلیلی تبصره | ۱٦۰ |

| | |
|---|---|
| اووم فصل | ۱۸٦ |
| بابر او پښتانه | |
| اتم فصل | ۲۱۰ |
| افغانستان | |
| نوملیک (داعلامو فهرست) | ۲۳٦ |
| مأخذونه | ۲۷۸ |
| انگریزی ماخذونه | 1-6 |

# سریزه

شپږویشت کاله د مخه د کابل مجلې په لسمه گڼه (جدی ۱۳۵۱ ش) کې زمونږ د گران استاد پوهاند دوکتور حبیب الله تږی یوه مقاله چاپ شوې وه چې عنوان یې و: (د پښتو د تاریخ یو ناڅرگند فصل) ، د دې اوږدې مقالې دویمه برخه د مجلې په بله ورپسې گڼه کې چاپ شوه ۰ ډیرو لوستونکیو په مینه ولوسته او ما غوندې مبتدیانو ته خو ډیره نوې ایسیدله. ما خپله ډیرې داسې خبرې پکې ولوستې چې مې پخوانه وې لوستې. هغه وخت زه د ادبیاتو او بشری علومو د پوهنځی د څلورم کال محصل وم او ور سره مې د خپلو ځینو ښاغلیو استادانو په لورېینه د پوهنځي د پښتو نشراتو په څانگه او ورځې مجلې کې کار هم کاوه. د ورځې د دفتر ته د استادانو تگ راتگ ډیرو او زیاترو په کابل مجله کې د استاد تږی خپره شوې لیکنه ستایله او ځینو به لا داویل چې که دې لړۍ ته دوام ورکړي.

د ۱۳۵۲ ش کال په پیل کې را معلومه شوه چې په کابل مجله کې

د استاد تړي خپره شوې مقاله د پوهنوال علمي رتبې ته د دې د ترفيع د تيسس يوه برخه ده او دوى به د دې رتبې د ګټلو لپاره د پښتنو اجتماعي تاريخ ليکي.

د هماغه کال د جوزا په مياشت کې استاد د همدې کتاب ډيرې پاڼې راکړې، چې يې د ورمې مجلې په ټايپست ټايپ کړم.

د کتاب ټايپ شوې پاڼه به هره ورځ استاد تړي او ما په ګډه مقابله کولې تر دې چې کتاب له ټايپ او مقابلې وروت د کتنې او نظريو لپاره آماده شو.

ما چې هغه مهال د مقابلې په وخت کې دا کتاب له سره تر پايه ولوست- بې له کومې مجاملې عرضوم چې - د دې کتاب ځسرڅه ما ته نوي وو او له ځينو داسې کتابونو استفاده پکې شوې وه، چې يې ما تر هغه وخته نوم هم نه و اوريدلی دامې هيله وه چې که ژر تر ژره دا کتاب چاپ او زموږ خلکو ته ورسي.

په هماغو ورځو کې چې لا د استاد تړي کتاب د پښتنو اجتماعي تاريخ د ترفيع په بروکراسۍ کې يو ځای بل ځای استول کيده، ما له خپل بل او پر ما حقدار استاد پوهاند مير حسين شاه سره -چې خپله د تاريخ استاد او هغه وخت د پوهنځي رئيس و- يوه ورځ د دې کتاب يادونه وکړه؛ هغوی را ته وويل چې: دا کتاب ما وکوت ډير مفيد او د کار کتاب دی، چې کله يې د ترفيع مراحل تبر کړل نو بيا به يې د استاد تړي په خوښه د پوهنځي د پښتو نشراتو له څانګې خپور کړو.

دهماغه ۱۳۵۲ ش کال د وږي په اواخروکې استاد تړي امریکې ته ولاړ او کتاب پاتې شو.

له هغه مهاله ښایسته دوې، دوې نیمې لسیزې تیرې شوې وې، خو داستاد تړي داجتماعي تاریخ د کتاب یو عمومي تصویر هماغسې زما په ذهن کې پاتې واوله ځانه سره به مې ویل چې کاشکې زموږ څو نور افغان عالمان پرځان ستونزه ومنې او زموږ فرهنګ ته ځینې داسې آثار ډالۍ کړي چې د فرهنګ د معنوي او کیفي ارزښتونو له پیاوړتیا سره مرسته وکړي. د ۱۹۹۷ م په وروستیو میاشتو کې مې له استاد تړي سره په تلفون خبرې کولې، ناڅاپه د پښتنو داجتماعي تاریخ کتاب په ذهن کې را وګرځید، بې درنګه مې له استاد د دوی د دغه کتاب پوښتنه وکړه، استاد راته وویل: « هغه کتاب چې تا هغه مهال په کوم شکل لیدلی و، هغه بیخي بدل شوی دی او ما له ډیرې پخوانه پر دې موضوع کار کاوه او په دې وروستیو شلو پنځه ویشتو کلونو کې مې پر دې موضوع ډیر کتابونه او مقالې لوستي دي او د نویو موادو او منابعو په استناد مې دا کتاب بیرته له سره لیکلی او بشپړ کړی دی ».

د استاد دې خبرو خوند راکړ، ما هغه وخت د افغانستان دلیکوالو ټولنه کې دوفاجریده چلوله او ده د میلادي کال په پای کې به مې د کال ګڼې په نامه د اخبار یو د ګڼه په ډیرو مخونو کې را ایستله. نو مې د ۱۹۹۷ م کال ګڼې لپاره ده مدې کتاب یو فصل تړي راوغوښت. استاد زما عرض ومانه او د مهربانۍ له مخې یې د کتاب اووم فصل راولیږه او

ما دا فصل ترچاپ د مخې او هم د تصحیح او بیا کتنې په منظور درې ځله په مینه ولوست او له هر ځل لوستو مې یې خوند واخیست.

د ۱۹۹۸م (۱۳۷۷ش) په مارچ کې دوفا جریده سقوط شوه او پر ځای یې د آزاد افغانستان جریده چاپیدله. دا جریده موږ له پیله په ډیرو مخونو کې چاپوله، نو مې ځکه له استاد ترې نه غوښتنه کوله چې ډېر ګڼې لپاره د کتاب یو یو فصل را ولیږي. همداسې و شول د آزاد افغانستان د جریدې په خپرو شویو زیاترو ګڼو کې د استاد درې کتاب بیلابیل فصلونه چاپ شول او کله چې جریده په مجله بدله شوې نو د مجلې په لومړۍ ګڼه کې هم د دغه کتاب یو فصل خپور شو.

استاد د ۱۹۹۸م کال په جولای کې پیښور ته تشریف راوړی و د خپلو همیشنیو لوریینو په لړۍ کې یې د کتاب وروستي دوی کتلې متن ټول ما ته را وسپارد او دایې راته وویل: « کتاب مې بشپړ تا ته وسپارد، نور نو ته پوه شه او کار دی چې څه پرې کوې » او دایې هم زیاته کړه: د کتاب نوم ما بدل کړی دی، اوس یې د پښتو د اجتماعي تاریخ پر ځای د پښتانه نوم پرې ایښی دی.

استاد چې کله کتاب را وسپاره نو زه یې په آزاد افغانستان کې له نشر د سربیره په کتابي شکل چاپ او خپرولو ته ډېر لیوال وم.

سملاسي مې ذهن ته راغلل، چې په جرمنۍ کې زموږ د افغانانو دوې ټولنې دي: یوه د پښتني فرهنګ دودې ټولنه او بله هم د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، چې مشر یې ځوان او په فرهنګ مین لیکوال

ښاغلی زرین انځور دی. ما له ځان سره فیصله کړې وه چې زه به له دوی سره خبرې کوم، په ۱۹۹۷ م کال کې مې هم دغو ښاغلیو ته ویلي وو او له دغو ټولنو څخه به یوه دا کار وکړي.

خو مخکې تر دې چې زه له دغو دوو ټولنو سره د خط کتابت له لارې د کتاب د چاپ موضوع بیا مطرح کړم. ښاغلی جمال الرحمن له جرمنی نه پېښور ته راغی. جمال الرحمن د پښتنی فرهنګ دودې ټولنې ډېر تکړه غړی دی. له ده سره مې د استاد تړي د کتاب د چاپ موضوع مطرح کړه. ښاغلی جمال الرحمن د اغوښتنه په ډېره خوشحالی ومنله او ما ته یې وویل چې سملاسي باید کار پرې شروع شي. ما هماغسی وکړل او کتاب می د چاپ لپاره کمپیوټر ته وسپاره او استاد تړی مې هم د دوی د کتاب د چاپولو د کار له پیله خبر کړ.

استاد را ته وویل! «کتاب چې د چاپ ته وسپاره نو د چاپ چارې به یې هم ته سمبالوې! زه یوه مقدمه ګوتې، د انګریزی او پښتو - دری مأخذو فهرستونه در استوم؛ کتاب ته به د اعلامو فهرست هم جوړوې او ورسره به یوه سریزه هم پرې لیکې»

د استاد ټول فرمایشونه مې - د اعلامو د فهرست د جوړولو د ګران او ستونزمن کار په شمول - ومنل خو د سریزې د لیکلو په مورد کې مې ورته وویل: «ستاسې پر کتاب د سریزې کښل ما لپاره دویاړ خبره ده خو زه ستا شاګرد یم او زه عاجز ځان د دې وړ نه بولم چې پر داسې یو ګرانبیه علمې کتاب سریزه وکاږم» استاد امر وکړ چې دا کار وکړه. د استاد امر

له مخې راته دا جرآت پیدا شو چې، لکه سریزه دا څو مخه ولیکم او څو پاڼې کاغذ تور کړم. ما د دې سریزې د ولیکنې پیل ځکه د استاد تړي د پښتانه دلیکنې له لومړنیو کلونو وکړ، چې د دغه کتاب دلومړنۍ برخې په باب خپل لومړنی برداشتونه څرګند کړم او د کتاب د نهایي شوې برخې په باب هم.

د پښتنو د انسابو، قبیله یي جوړښتونو، سیمه ییزو او خپل منځي روابطو او قبیله یي - سیمه ییزو جنګونو په ارتباط په پخواني افغانستان او هند کې کتابونه ډېر لیکل شوي دي- دا کتابونه زیاتره په دري ژبه دي، خو څه پښتو، اردو، انګریزي او حتی یو نیم په عربي هم پکښې پیدا کیږي. دا کتابونه زیاتره مستقل همدغو موضوعاتو ته وقف شوي دي خو ځینې یې د نورو مسایلو او موضوعاتو د توضیح په ترڅ د پښتنو په ارتباط ځینې داسې ټکي لري چې د پښتنو دا جتماعي تاریخ د څېړونکیو او مورخانو په درد هم لګي او حتی په ځینو لیکنو کې سړی له داسې ټکیو او یادونه سره مخامخ شي چې په دمخنیو پېړیو کې د پښتنو د اجتماعي - اقتصادي او رواني ځانګړنو څوک ترې ایستل کیدای. د دغسې کتابونو یو مثال د اخوند درزیوه ننګرهاري په تذکرة الابرار والاشرار کې د پښتنو د ژوند - ژواک په باب یادونې دي ( ادبي څېړنې ، د استاد روهي ) له دې سربېره د څه د پاسه دوو پیړیو په ترڅ کې د شرقي هند د کمپنۍ انګریزي ملکي او عسکري مامورینو او نورو غربي څېړونکیو او مستشرقانو هم د منځنۍ آسیا د دغه قوم (پښتنو)

دژبی، فرهنگ، تاریخ او انسابو او نورو اجتماعی جوړښتونو او خصوصیاتو په باب ښایسته ډیر کتابونه لیکلي دي. خو د یادولو وړ ده، چې د پښتنو په باب شرقي ژبو د پښتنو او غیر پښتنو له خوا لیکل شوی آثار، که له یوې خوا ځینې نکات او سنیو څېړونکیو ته په لاس ورکوي، نو د دې تر څنګه د همدغو کتابونو زیاتره پاڼې په مکررو روایاتو او خرافي نظریو او ور سره په دې قوم (پښتون) پسې له جوړو شویو افسانو ډک دي.

د خواشینۍ خبره یکې لا داده چې د پښتنو په باب د غربیانو ځینې څېړنې هم له کښل شویو لرغونو شرقي آثارونه اغیزمنې دي او د ځینو بیا پر دغو زړو شرقي اسنادو متکي استنتاجونه دومره بې لارې کوونکي دي چې ګویا لوستونکی د ترکستان پر لارو سر کوي.

په معاصر دوران کې چې ځینې افغان مورخین د افغانستان د تاریخ په ارتباط د پښتنو پر تاریخي سوابقو، د دوی پر اوسیدنځایونو – انتیکي – اجتماعي جوړښتونونو او د پښتني ټولنې د اجتماعي – اقتصادي، او فرهنګي رشد پر مسایلو رغیدلي دي. ځینو د منفي ګرایشونو د درلودو او ځینو پر اسنادو د نه اتکا له امله د پښتنو په ارتباط له هغو زړو شرقي آثارو استفاده کړې چې د نعمت الله د مخزن افغاني، د ابراهیم بیټنی د تاریخ او هم د مرآة الافاغنه غوندې آثارو په تقلید په وروستیو دوو دریوو پیړیو کې کښل شوي او یا یې د پښتنو د عنعنه یي انساب رسالې لیدلې چې په بیلا بیلو نومونو لیکلی شوې دي او

دنړۍ دبیلابیلو هیوادونو په کتابخانو کې ځای پر ځای میندلې کیږي.

دغسې ستونزو ته پاملرنه په معاصر دوران کې چې لر اوبر د پښتنو په ارتباط څه کښل شوي د اسلامي تقویم په لومړنیّو پېړیو کې د پښتنو داجتماعی ، اقتصادی ژوند څېړ د نشی ترسیموّ (ي) داوسیدو ځایونه یې په بشپړ ډول نشی راښوولی او هم دهغه وخت له مسلطو نظامونو او حکومتونو سره د پښتنو پر روابطو څه کوټلی مواد په لاس نه راکوي.

همدغو ربړو یا همدې خلاته په پاملرنه زمونږ استاد پوهاند دوکتور تړی دخپلو هلو ځلو اوکلونو ، کلونو علمی زیار او مطالعې په برکت حاضر پښتانه نومی کتاب بشپړ کړ. داکتاب له یوې مقدماتي لیکنې سربېره په اتو څپرکیو کې بشپړ شوی دی اوپه هر څپرکې کې یې د پښتنو پر ژوند، تاریخ ژبې او ددوی (د) استوګنځایونو او اجتماعی، اقتصادی روابطو او نورو ځانګړنو په باب لنډ خو د کار بحثونه کړي دي. که څه هم دا اثر دحجم له پلوه ډیر پنډ نه دی، خو ډیر زیات مفاهیم پکی په خورا استادۍ ډیر لنډ راوړل شوي دي. که بهٔ بل چا داکتاب لیکلی، نو بویه چې په سلګونو مخونو به یی به ډیرو بې ارتباطه نقل قولونو ډک کړي وای.

څنګه چې ماددې لیکنې په پیل کې هم ویلی دي چې زه خپل ځان پردې درانه اثر دڅه لیکلو جوګه نه بولم، خو اوس چې مې داکار کړی نو ددغه کتاب په باب زما مشخصې خبرې دادي:

۱) استاد ددغه اثر دبشپړ تابه لپاره ټول اول لاس مآخذ کتلي

دي، په دويم او دريم لاس مآخذو يې اتکا نه ده کړې. دوی چې کوم زاړه متون کتلي دي له دغو متونو د پښتنو داجتماعي تاريخ په اړه دافغانستان او پښتو په معاصره تاريخ ليکنه کې يا استفاده نه ده شوې او که شوې هم وي ډيره لږ اودځينو نورو مواردو په ارتباط. ددغه اثر په مآخذو کې له شرقي متونو سربيره د پښتنو او افغانستان په باره کې کښل شوي غربي آثار هم شامل دي. دغو آثارو ته دوی مستقيمه مراجعه کړې او ددغو پوهانو نظريې هم دخپل کار دبشپړتابه لپاره کتلي او کار آمد خبرې يې ترې را اخيستي دي.

۲) دکتاب په بيلابيلو برخو کې استاد دخپل تيسس دبري لپاره دشرقي متونو او غربي پوهانو معلومات ارا وې او نظريې را اخلي، بحث پرې کوي او دقوي دلايلو له ارائې وروسته خپل هدف ته درسيدو لپاره پر مخ درومي.

استاد داتولې نظريې اودمتونو خبرې په پټو سترگو نه دي منلي، ډېرو اروپايي پوهانو نظريې يې په دلايلو رد کړي دي. لوستونکی که دغه اثر په غور ولولي نوبه ورته ښکاره شي چې استاد دخپل دغه اثر په بيلابيلو څپرکيو کې دپروفيسور مارگنستيرن او لاف کرو، هنري والتر بيلو، گانکوفسکي او کروسنسکي له نظريو سره علمي برخورد کړی اودپښتنو داجتماعي تاريخ دځينو اړخونو په باره کې يې ددغو پوهانو نظريې په انتقادي نظر کتلي دي اودنقد د علمي موازينو او آدابو په رعايت يې دا ډول نظريې اواراوې په مستند ډول رد کړي او حتی دهغوی

ښوولی مآخذ یې هم پسې کتلی او خبره یې ښه پسې سپینه کړې ده.

دمثال په ډول، بیلو یوځای دخپل یو نظر دپیاوړتیالپاره دقاضی منهاج السراج جوزجانی دطبقات ناصری یادونه کړې ده، مګر استاد داخبره په طبقات ناصری کې هم ورپسې پلټلې اوبیایې په جرآت ویلي دي چې طبقات دهغه څه په باب -چې بیلو یې وایی- څه نه لري. همدا ډول پروفیسور مارګنستیرن اسلامی دایرة المعارف ته برابره کړې خپله لیکنه کې یو ځای دبیهقی تاریخ ته حواله ورکوي استاد دتاریخ بیهقی له مطالعې وروسته دهغه دیو نظر په باب کاږی چې دپروفیسور مارګنستیرن داخبرې په تاریخ بیهقی کې نه دي راغلې.

۳) دکتاب لومړی څپرکی دپښتنو داصل اونسب په باب دشرقی او غربی مورخینو اوڅېړونکیو بیلا بیلې نظریې دیږ لنډې را اخلي او بیا دهرې نظریې ضعیفی خواوې څرګندوي اوپه پای کې دهمدغو منفی اومثبتو نظریو له نچوړه وروسته دعلمي پرنسیپونو پر اساس هغه لارې ښيي چې معاصر پوهان ترې دیو قوم دنسب دمعلومولو لپاره کار اخلي.

دپښتنو د اصل اونسب په اړه چې کومې تازه لیکنې په افغانستان کې شوې دي دالیکنې دپښتني ټولنې په جوړښت کې درې عمده توکي یادوي ( سرمحقق دوست شینواری، پښتانه څوک دي؟ ۹مخ). په دغو دریو توکو کې یو عمده توکی ساک ښيي. (فقید پروفیسور مارګنستیرن (۱۹۷۸م مړ) خود پښتنو څېړنو دبین المللی مرکز دپرانیستو په نړیوال سیمینار ( د۱۳۵۴ ش کال- لیندۍ) کې داسې

لسم

ښووله چې ګونډې ټول پښتانه دساکو بقايا دي) د دې ټولو خبرو

ترڅنګه بايد موږ دا هيره نه کړو. د پښتنو په قبيله يي جوړښت کې

دسهاکو ياساکو قبيله اوس هم شته او څو مشهور خيلونه او پښې لري.

داستوګنې ځايونه يې معلوم دي. د کابل ولايت دبګراميو ولسوالي ته

مربوط دساکو له کلي سر بېره د کابل شرقي ولسوالي سروبي کې

او دافغانستان په يوبل شرقي ولايت لغمان کې دسهاکو د قبيلې بيلا

بيلې پښې ژوند کوي. په دغو سيمو کې ميرعلي خيل، تره خيل، محمد

خيل پښتانه او شمشران خيل دسهاکو د قبيلې بيلابيلې پښې ګڼې او

ساک د پښتنو يوه قبيله بولي د ساکو دغو اوسنيو موجودو پښو ته په

پاملرنه سړی دې ته اړ کيږي چې د پښتنې ټولنې په تعمير کې دساکو

عنصر ومني.

دځينو پښتنې قبايلو د نسبي شجرو په اړه په پخوانيو شرقي آثارو

او دځينو غربيانو په څېړنو کې ځينې داسې خبرې راغلې دي چې توضيح

ته اړه لري. استاد په خپل دغه اثر دې ډول موضوعاتو ته هم جدي توجه

کړې ده او هغو ريږو ته يې د حل مناسبې لارې لټولې چې د پښتنو د نسبي

څېړنو په برخو کې موجودې وې، لکه:

الف: کرو او مارګنستيرن په خپلو ځينو آثارو کې دابدالي يادراني

پښتنو په باب ويلي دي چې د دغو قبايلو تاريخي هويت په تياره کې

دی. استا د دغسې مشکوکو خبرو ځواب په مستدل ډول د کتاب ددريم

څپرکي په وروستيو برخو کې کړی دی او- لکه څنګه چې استاد هم ويلي

دي - د درانو پښتنو تاریخي سابقه له ترینو پښتنو سره نښتون لري.

دجنوبي پښتونخوا او سیدونکي ښاغلي شوکت ترین ماته وویل:

د ترینو څلور عمده پښې دي، لکه: سپین ترین، سور ترین، تور ترین او بور ترین. د درانی قبیلې اړه له بورو ترینانو سره ده. مانا داچې درانی یا ابدالي پښتانه په لوړه کې په ترینو ګډیږي. د ترین یاد په زړو آثارو کې لکه چې داستاد په دغه اثر کې راغلی دي - هم شوی او د پښتنو د شجرة النسب په روایاتو کې له لرغونیو زمانو نه تر او سه پورې پښتانه د درانې قبیلې منشأ له ترینانو بولي.

ب) بله شخړه د غلجي او خلجي ده، چې له پخوانه تر او سه له ډېرو خرافي روایاتو سره مله روانه ده. استاد پر دې مسأله هم د څلورم څپر کې یو ځای بحث کړی دی او هغه لرغوني روایت یې هم موندلی چې پر غلجیانو د ترکي خلجیانو دا وښتو (پاړونه) يکی راغلې ده. زه د استاد خبرې د لته نه را غبر گوم. لوستونکی به یې په کتاب کې ولولي. د جهان نامې د روایت د تفسیر او رد و قبول په اړه چې دوی کوم استدلال کړی دی هم منطقي دی او علمی او د جهان نامې دا روایت هیڅوک تر دې زیات ښه نشي تفسیرولای. په دې اړه زه یو دوو نورو نکتو ته هم د ښاغلیو لوستونکی توجه اړول غواړم او هغه داچې:

ښاغلی سلیمی کندهاري، په منځنیو پېړیو کې د هند د پاچهانو یو مرقع ډوله کتاب موندلی دی چې سوونه کاله د مخه لیکل شوی او د هند د پاچهانو څېرې هم پکې رسم شوي دي. دا کتاب داتل خان په نامه یو

سړی لیکلی دی. په دې کتاب دهغو شاهانو په باب هم یادونې راغلې دي چې ځینې څېړونکي یې خلجیان بولي. ددغه مرقع لیکوال ددغو په اصطلاح خلجیانو له نامه سره ځای پر ځای د افغان کلمه هم کاروي. دامرقع دخلجي (!) شاهانو عصر ته په نژدې وخت کې لیکل شوې ده. که به دغه شاهان افغان نه وای نو به دمرقع لیکوال ددغو شاهانو له نامه سره دافغان نوم نه تاړه.

بله خبره داچې د پښتنو تر ټولو ستر فرهنګیالی خوشحال بابا (۱۰۲۲-۱۱۰۰هـ ق) په خپله یوه قصیده کې چې یې ددهلي دښار دزاړه برم په ستاینه کې ویلې ده، یو ځای ویلي دي:

بیا سلطان جلال الدین په سریر کښیناست

چې په اصل کې غلجي دولایت و.

که به داخلک افغانان نه وای، نو به یې خوشحال بابا هیڅکله دغلجي تابه یادونه په دومره صراحت نه وه کړې.

٤) د پښتنو د تاریخ په عامو کتابونو کې د پښتنو د ټاټوبي پخوانی ځایونه غور او دسلیمان غرونه ښوولي شوي دي. مګر داستاد تږي د با اعتباره شرقي زړو متونو په استناد -داسلامي دوران په کابولسو پېړیو کې- د پخوانی افغانستان په ډېرو برخو کې د پښتنو استوګنه ثابتوي.

استاد دهمدې څلرم فصل په پیل کې کښلي دي «... اسلامي آثار او اسناد له لسمې نه ترشپاړسمې میلادي پېړۍ پورې دهغې سیمې په بیلو بیلو برخو کې د پښتنو داستوګنې یادونه کوي چې له آمونه تر اټکه

له هراته تر کشمیره، له کرمانه تر ملتانه اوله چتراله د عربو د بحیرې ترحدودو پورې امتداد لري. حال داچې زمور ځینې ښاغلی افغان لیکوال پښتانه دهند له یو کلي نه راغلي خلک بولي (درد های خراسانیان ۲۱ مخ) او حتی د تاریخنامهٔ هرات غوندې یو اثر - چې دافغانستان وجود د یو ځانته ملک په توګه راښيي. دافغانانود مشرانو او واکوالو نوموړنه اخلي، ملي اوجنګي کارنامې یې بیانوي - تحریفوي اولیکي (ترجمه) «تاریخنامهٔ هرات له حدود العالم نه کابو څه باندې څلور سوه کاله وروسته په اتمه پېړۍ کې لیکل شوی دی، دافغانانو دژوند ساحه - چې داوخت به یې نفوس هم زیات شوی و اود خوریدو ساحه به یې هم پراخه شوې وه - په ډېره محدوده ساحه کې ښيي، حتی پنځوس فرسخه هغه هم د کردانو اوسیدانو تر رهبرۍ لاندې» (دردهای خراسانیان ۲۳ مخ) داستاد تړي د لیکلی پښتانه نومي حاضر کتاب لوستونکی به خپله وګوري چې د پښتنو دلرغونی هیواد، دحدودو دښوولو ددوی داجتماعی - اقتصادی جوړښتونو او نورو ځانګړنو په اړه زیاتره اسناد روی له تاریخنامهٔ هرات نه اخیستي دي.

داوسنی افغانستان په سیمو کې د پښتنو دسکونت په اړه د یوې بلې خبرې یادونه هم بې ضرورته نه ایسي او هغه داچې زمور ځینی غیر پښتانه افغان رورنه دخپلو منفي ګرایشونو له مخې غور د پښتنو دلرغونی ټاټوبی په توګه نه مني.

مور د غو ښاغلیو ته په درناوی وایو چې تاسې د پښتنو دنسب

شجرې او د پښتنو د قبیله یی جوړښتونو په باب کتابونه و گوري، نو به دا ښکاره شي چې پښتانه له غور سره اړه لري او که یه؟ مخزن افغانی مرآة الافاغنه، دابراهیم بیټنی تاریخ، تواریخ خورشید جهان، حیات افغانی، صولت افغانی، جامع التواریخ، تحفة البشتون، خلاصة الانسباب او په لسگونو نور دغه ډول آثار په تواتر لیکی چې د پښتنو یو لرغونی ټاټوبی غور دی.

دغه راز په همدغو یادو شویو کتابونو کې راغلی دي چې د کند په اولاده کې یو تن د غوری په نامه مشهور او د دې نامه د تسیمې وجه داسی بیانوي: «د کنده دوه زامن وو یو غوري چې نوم یی شیخ ابراهیم خو څنگه چې د غور په ممالکو کې د زوکړی و نو یی ځکه غوري بولي» (د مخزن افغانی ج ۲، ۵۶۶-۵۶۷ مخونه، خلاصة الانساب ۱۰۶ مخ).

د غوري په اولاده کې دولت یار، خلیل، زیړانی او ځمکنی شامل دي. د مومندو او داؤد زیو په شمول دا ټولې پښتنې قبیلې د غوری یا غوریه خیل په نامه یادیږی. د پښتنو تاریخی او ادبی آثار دا قبایل د غوري او یا غوریه خیل په نامه یادوي. د پښتنو د ځینو لرغونو شاعرانو په دیوانونو کې هم دغه قبایل غوریه خیل یا غوري بلل شوي دي. دا سریزه د ډېرو مثالونو گنجایش نه لري خو د موضوع د لا روښانتیا لپاره به د عبدالحمید مومند دا لاندی بیت راوړو:

چې د استاد نافې بوی اخلي حمیده

څه په نه وي خوش دماغ، غوري خښي
(دعبدالحمید دیوان ۱۰۸ مخ)

له دې سربېره اوس هم په غور او د دې سیمې په مرکز چغچران کې ځینو کلیو او درو نومونه د ځینو پښتنې قبایلو له نومونو سره یوشی دي، لکه کاسی دره، د دولت یار کلي او نور...

۵) ما د دې سریزې په یوه برخه کې وویل چې استاد د ځینو اروپایی پوهانو او څېړونکیو له نظریو سره علمي - انتقادي برخورد کړی چو د دوی دا ډول برخورد یوازې د غربیانو په آثارو پورې منحصر نه دی، بلکه د کتاب په نورو فصلونو کې د پښتنو د خپلو کښلیو کتابو روایاتو او بیانونو ته هم د شک په نظر کتلی دي او د غو آثارو ځینې خبرې یې په دلایلو رد کړې او په ځینو برخو کې د متونو د روایاتو له مقایسې کتنې کار اخیستی دی، لکه د پښتنو د ځینو مهاجرتونو په ارتباط یې د آخوند درویزه ننگرهاری (۹۴۰-۱۰۲۸ هـ ق) د تذکرة الأبرار والاشرار روایت له تواریخ حافظ رحمتخانی سره مقایسه کړی او هم د همدغه تواریخ حافظ رحمتخانی د ځینو یادونو په استناد یې د همدې تاریخ ځینو نورو روایتونو ته د شک په نظر کتلي او د بابر نامې د شهادتونو او خبرو په استناد یې هم د تواریخ ځینې خبرې او بحثونه د تأمل وړ بللي دي! مونږ پدې پوهېږو چې د مآخذ ونقد داو سنیو څېړنو شمزۍ جوړوي او استاد تری د غه علمی اصل ته د پابند عالم په توگه په ټول کتاب ځای پر ځای د غربی او شرقی آثارو ځینی نظر یې او خبرې نقد کړې دي.

٦) داستاد کتاب په یویل فصل کې د پښتون او افغان د نومونو تاریخي سوابق راسپړل شوي دي؛ په دې برخه کې هم ترکومه حده چې ممکنه او میسره وه، استاد د زړو فارسي او پښتو متونو په استناد او هم ځینو غربي آثارو ته په پاملرنه د موضوع حق لکه څنګه چې ښایي ادا کړی دی. دافغان دیاد د تاریخي ریښې د سپړلو ترڅنګه یې د پښتون د ریښې سپړنه هم کړې ده، او ویلي دي چې داخوند درویزه مخزن الاسلام لومړنی منظم پښتو اثر دی چې د پښتون نوم پکی یاد شوی دی.

استاد د څېړنې علمي موازینو ته دوفادار پوه په توګه داحکم قاطع نه دی صادر کړی او یو ځای یې لیکلي دي: «که له مخزن نه وړاندې لیکل شوي آثار په پښتو لیکل شوي وي، نو د پښتون کلمه به هم پکې راغلې وي ځکه خپله پښتانه ځانونه پښتانه بولي.».

داستاد دخبرو له لوړه اقتباسه داهم موږ ته ښکاري چې استاد په خپلو څېړنو کې احتمالاتو ته ځای پریښی او پدې باوري دی چې قاطع حکمونه څیړنې بې لارې کوي.

زه ددې کتاب د لوستونکیو دخبرتیا لپاره کاږم چې د پښتون کلمه له مخزن نه غالباً دمخه دارزاني روښاني په دیوان کې راغلې ده. غالباً مې ځکه ورسره وویل چې دبایزید روښان په حالنامه کې ارزاني دروښان (۹۲۷-۹۲٦- ۹۸۵ هـ ق) په لومړنیو مریدانو او خلفاوو کې یاد شوی دی او آخوند درویزه یې هم په تذکرة الابرار والاشرار کې په زیرکی اوفصاحت قایل دی. ددغو یادونو پر اساس له اخوند درویزه نه مشر

ښکاري. په دې اړه بله خبره داده چې دارزاني په ديوان کې له ۹۹٤ هـ ق نه تر ۱۰۱۰ هـ ق پورې سنې راغلې دي او دده ژوند هم تر دغه مهاله يقيني دی او داسنې د مخزن له تاليفه څو کاله وړاندې ده.

ارزاني يو ځای ويلي دي:

ددې افغاني درونو

ارزاني پښتون حکاک دی

(دارزاني کليات، د مهجور خيشکي د phD تيسس تايپي نسخه ۳ ۱۵ مخ).

دغه راز دروښان پير د اولادې معاصر روښاني شاعر دولت لواڼي هم په خپل ديوان کې پښتون راوړی دی، دده ويلي دي:

تل تر تله وفايي به ځينې مومې

داپښتو خبره پند که، که پښتون يې

(ددولت لواڼي ديوان ۲۱۹ مخ).

۷) استاد د کتاب په اووم فصل کې د ظهيرالدين محمد بابر دبابرنامې په استناد له پښتنو سره د بابر پر سلوک او روابطو رغيدلی دی. په دې اړه ددوو دريو نکتو يادونه ضروري ښکاري.

يوا داچې دافغانستان معاصر مورخين زياتره دافغانانو په اړه دبابر پر دغو يادونو پټه خوله پاته دي او دا اثر (پښتانه) به غالباً لومړنی اثر وی چې دبابر دخپلو ليکنو په استناد دبابر او پښتنو پر روابطو اوجنګونو دبابر خپلې خبرې راغبر ګوي او هغه مظالم تړل

بیانوي چې دغه پاچا پردې قوم کړي دي.

کله چې د ۱۹۹۷ م کال د دسمبر په میاشت کې ما دوفا جریدې کال گڼه خپره کړه نو په دې گڼه کې د استاد کتاب همدا اووم فصل (ب بز او پښتانه) هم خپور شوی و. ځینو کسانو ماته وویل چې تا باید دا لیکنه نه وای خپره کړې او دلیل یې داو چې پردې لیکنې به زموږ ترک نژاده افغان وروڼه خفه شي. ما ورته په جواب کې وویل چې دا خبری دا ثر لیکوال (استاد تړی) له ځانه یادنورو دلیکنو پر استناد نه دي کښلي، بلکه د بابر خپلې کښنې یې په خورا امانتدارۍ ترجمه کړې دي. بابر پاچا چې د پښتنو له سرونو نه د کلمه مینارونو په جوړولو ویاړی آیا موږ به دا حق ونه لرو چې د خپل قوم په باره کې د ده هغه خپلې خبرې خپلو خلکو ته وړاندې کړو؟

بله خبره داده چې استاد تړی د بابر او افغانستان په باب یو بل اثر هم تهیه کړی دی، امید دی چې ډېر ژر دا اثر هم لوستونکیو ته وړاندې شي.

۸) استاد تړی د کتاب په وروستي (اتم فصل) کې د پښتنو د تاریخي د نومونو: افغانستان، روه او پښتونخوا پر سوابقو او د هغو زمکو پر حدودو رڼا اچولې ده چې د تاریخ په اوږدو کې په دغو دریو نومونو یادې شوې دي او ورسره په څنگ کې یې د ځینو لرغونیو متونو په استناد د کشور افغان، جبال الافغانیه او نورو نومونو یادونه هم کړې او دا یې ویلي دي چې له افغانستان، روه او پښتونخوا نه سربیره

دافغانانو اوسیدنځای پر دغو نورونو مونو هم یاد شوي دي.

په پښتو آثارو کې د پښتونخوا دنامه دیادونې په ارتباط استاد یو ځای کاږي: « د آخوند درویزه مخزن الاسلام... داسلامی عصر لومړنی مکمل اثر دی، چې د پښتونخوا کلمه په مکرر ډول پکې راغلې ده... »

په لوړه اقتباسي توته کې د مکمل اثر قید راوړل په خپله داستاد دعلمی احتیاط څرګندونه کوی. مونږ پوهیږو چې د پښتو لاس ته راغلی منظم او بشپړ آثار دروښانیانو او ددرویزه د کورنۍ دي.

په متفرقو پښتو آثارو کې د پښتونخوا یادونه یو ځای نیم نوره مونږله کیږي اما داحمد شاه بابا په دیوان کې چې د پښتونخوا د یادون په اړه استاد کومه یادونه کړې، زما عاجز په رایه هغه یوڅه توضیح ته اړه لري.

استاد لیکلی دي: « داحمد شاه بابا دهغه دیوان په یوه غزل کې هم د پښتونخوا کلمه راغلې چې د مرحوم حبیبی په همت په کال ۱۳۱۹ کې خپور شوی دی، خو داغزل داحمد شاه بابا ددیوان په هغو قلمی نسخو کې چې مونږ ته میسرې وې نشته ».

داستاد داخبرې بیاهم پر علمی احتیاط متکي دی او ذدوی غوندی یو عالم باید دامسأله همداسی توضیح کړي.

له استاد نه سربیره مونږ ځینو پېښوریو ورونو هم ددې غزلی (چې د پښتونخوا نوم پکی راغلی دی) دالحاقی تابه په اړه یوه لیکنه دجرس مجلې د ۱۹۹۵ م کال (داپریل - جون) په ګڼه کې کښلې وه او داشخړه

له جرس نه سربیره وحدت دور څپاني او حتى دشمشاد ترمجلې هم اوږده شوه.

اصلي خبره داده، چې لوی احمد شاه بابا (۱۱۶۰-۱۱۸۶ هـ ق) دیوان په ۱۱۶۳ هـ ق کال بشپړ شوی او د دیوان په وروستیو برخو کې راغلي اختتامیه بیتونه دادي:

کتاب ختم شو په دوشنبې یارانو موږ ځــــو تاسو دلې

په آخر ورځ د روژې سنه هزار وصدو شصت وسی

دبابا د دیوان زیاترې نسخې چې د دغسې نسخو له مخې خطاطي شوې دي، په هغو کې به ضرور دغه غزله - چې پېښوریو ورونو الحاقي بللې او زموږ درانه استاد په میسرو خطي نسخو نه ده میندلې - نه وي. ځکه دغه غزله چې د پښتونخوا یاد پکې راغلی دی، باید احمد شاه بابا تر ۱۱۷۰ هـ ق وروسته ویلې وي. نو داغزله به په هغو نسخو یا نسخه کې راغلې وي چې تر ۱۱۷۰ هـ ق وروسته ترتیب شوې دي.

زه د ذې کتاب دلوستونکیو د خبرتیا لپاره لیکم چې:

د ۱۹۹۸ م کال د نومبر په میاشت کې زه کوټې ته تللی وم او هلته مې له ښاغلی سلیمی کندهاری سره څو ځله ولیدل یوه ورځ یې راسره د خپلو خطي نسخو په باب خبرې کولې د خبرو په ترځ کې یې راته وویل: له ماسره د احمد شاه بابا د دیوان یوه داسې نسخه شته، چې د بابا دامشهوره غزله - چې د پښتونخوا یاد پکې راغلی - هم پکې شته. دانسخه د احمد شاه بابا د لمسي شاه زمان سدوزي لپاره لیکل شوې ده.

يو ويشتم

داسریزه له ما ډېره اوږده شوه. داکتاب ډېرې نورې ښېګڼې هم لري، بویه چې دکتاب پر ښیګڼو او ګټورتوب نورې خبرې هم شوې وای، خو داچې دټولو یادول به خبره اوږده کړي اوزه باور لرم چې که ذوقمن داستاد کتاب څو ځله هم ولولي ستړیا به حس نه کړي. د ۱۹۹۷ م له دسامبر څخه د ۱۹۹۹ د مارچ تر اواسطو پورې د ما د حاضر کتاب بیلابیلې برخې او هم په بشپړ ډول ترشپږو ځلو پورې لوستي دي. په هر وار مې تری خوند اخیستی دی او نه یې یم ستړی کړی.

زه په پای کې خپل ګران استاد پوهاند دوکتور تري ته ښه صحت، اوږد ژوند او ور سره: فراغ غواړم چې خپل فرهنګ او خپلو هیوادوالو ته لکه پښتانه نومی اثرنور درانه او ښه آثار وړاندې کړي.

په درناوی

زلمی هیوادمل

پیښور . د ۱۳۷۷ ش کال کب

# پښتانه او پخواني متون

په معاصرو افغاني او غير افغاني ليکنو کې، خپله په پښتو نخوا کې، د پښتنې تولنې دهغې تاريخي دورې دحالاتو په باره کې چې داسلام له اوايلو نه بيا دبابر دپاچايي تر وخته دوام کوي، دمنل شوو پخوانو اسلامي متونو او ثقه اسنادو پر بنا ښېخي لږ څه ويل شوي دي. دافغانستان مؤرخينو او مؤلفينو خو حتى، په يوه يابل دليل، هغه مهم مطالب هم له قلمه غورځولي چې دبابر په خاطراتو کې د پښتنو په باره کې راغلي دي. په نتيجه کې دافغانانو په تأليفاتو کې، ان دروښانيانو دتحريک تر ابتدا پورې د پښتنو په خپل ملک کې دهغوی دحالاتو په باره کې، دثقه اسنادو او متونو پر بنا ، دومره لږ څه راغلي دي چې تقريباً په هيڅ حساب دي.

دمعاصر افغانستان دتاريخ پياوړی مؤلف، ورتن گريگورين، دخپل بې ساري اثر، «دمعاصر افغانستان ظهور»، په دېرشم مخ کې د پښتنې

تولنې د تاريخي مطالعې د دې نيمګړتيا په باره کې وايي چې: «د پښتنو دلرغونې تولنې ماهيت نه دی څرګند شوی.»

سر اولاف کرو خو دخپل جامع اثر «دې پټانز» په يوسل واتلسم مخ کې، لا وايي چې پدغو څو پخوانيو پېړيو کې په اسلامي متونو او اسنادو کې، اصلاً دومره څه نه دي راغلي چې د پښتنو په اجتماعي ژوند او حالاتو رڼا واچولی شي. دی ليکي چې« پرته له هغه څه نه چې البېروني [ دهند په تاريخ کې ] ويلي او پرته له هغې يوې ضمني يادونې نه چې دڅورلسمې پېړۍ سياح ابن بطوطه کړې ده، ددغو پنځو پېړيو په تاريخونو کې «ددې کراړو او سرکشو خلکو، يعنی پښتنو په باره کې زيات څه نه دي ويل شوي».

خود پښتني تولنې داجتماعي تاريخ وتلی ليکوال، مونستوارت الفنستن بيا، چې د پښتنی تولنې دتاريخي مطالعې دې ستونزې ته ډېر پخوا ملتفت شوی دی، ددې تاريخي دورې دڅېړنې ستونزه پدې کې نه ګڼي چې ګوندې د زړو اسلامي متونو کې د پښتنو په باره کې هېڅ نشته، بلکه دی وايي چې په پخوانو اسلامي آثارو کې د پښتنو په باره کې، اصلاً، پراخه او دقيقه پلټنه نه ده شوې.

الفنستن دخپل پاخه او درانده اثر، «دکابل سلطنت» ، ديوسل و دوپنځوسم مخ په دوهمه حاشيه کې د پښتنو په باره کې ليکي چې «دفارسي او عربي تاريخونو دقيقه پلټنه به غالباً ددغو خلکو [ پښتنو ] دلرغونو حالاتو په باره کې مونږ ته زياتره اطلاعات راپه ګوتو کړي او

موږ ته به دا دې توان راکړي چې د هېواد تاریخ یې لږ ترلږه د [سلطان] محمود غزنوي له زمانې نه راوسپړو. خو ضروري کتابونو تر لاسه کول ګران دي او راسپړل به یې ډېر وخت ونیسي.»

الفنستين ښځې په حقه و. ځکه یو خو دهغه په وخت کې څه چې حتی نن هم هغه پخوانی آثار او اسناد سړي ته په اسانی په ګوتو نه ورځي چې د پښتنو یادونې پکې شوې دي او بل دا چې دا یادونې د زرهاوو پاڼو په منځ کې، اکثره، د نورو مطالبو په ضمن کې یو یا بل ځای په فرعي او متفرق ډول هسې خال خال راغلې دي او لټول او پیدا کول یې په حقیقت کې یو شاقه کار دی. ښایی له همدې امله تر اوسه چا دې ته زړه نه دی ښه کړی چې دا یادونې په کافی اندازه را ټولې او بیا یې د یوې مجموعې په توګه، چاپ کړي. خو دا هم کېدی شي چې له چا سره د دغسې یوې مجموعې د ضرورت احساس نه وي پیدا شوی.

له موږ سره دا احساس ښایسته دمخه پیدا شوی و او له همدې امله مو تخمین دیرش کاله پخوا د هغو متونو د پلټلو او راټولولو هڅې پیل کړې چې پدغې پخوانی تاریخی دوره کې، خپله په پښتونخوا کې د پښتنو په حالاتو څه رڼا اچولی شي.

موږ دا متون اکثره په کامله امانت داری راټول کړي دي او هرمتن چې ترجمه غوښتې هغه مو په کامل احتیاط، تقریباً ټکي په ټکي پښتو کړی دی. ښایی چې پدې متونو کې داسې ټکي هم راغلي وي چې یو یا بل پرې خوابدی شي. خو زموږ اراده د چا خوابدي نه وه. بلکه غوښتل مو چې

دپخوانو متونو، هغه ټکي په خپل اصلي شکل اوبې له دې چې دحب او بغض له مخې تصرف پکې وشي، هر څومره چې کولی شو هغومره، راټول کړو. چېرته موچې تبصره کړې هلته مو هم ډېر کوشش کړی چې له عندي قضاوت نه ځان وژغورو او هره خبره دمربوط متن اوسند په استناد وکړو. ځکه نودا کتاب په عمومي ډول، دپخوانو متونو اودنورو داقوالو يوه مجموعه ده.

دامجموعه له اتو اساسي فصلونو نه جوړه ده. وروستي پنځه فصلونه يې اساساً دپخوانو متونو په استناد تدوين شوي دي. خو اول درې فصلونه يې، عمدتاً، دمعاصرو غربي مؤلفينو داظهاراتو او نظرياتو په حواله ليکل شوي دي. ښايي چې دا درې فصلونه په تېره بيا اول او دوهم، ځينو ته بېځې تفصيلات وبريښي خو موږ ته دا يومسلم ضرورت بريښېده چې دغه متون او مطالب، دځېړونکو دکار داسانتيا دپاره، په يو ځای تفصيل له هغو متعددو او متفرقو منابعو نه، چې هر وخت دهرچا لاس نه ورسېږي اوډېر خلک ورسره نابلده دي، راټول اوپه يوه ځانته مجموعه کې نشر شي.

دمجموعې دمتونو او مطالبو په راټولولو کې زما ښځې، «مارجی»، ډېره ستره برخه لرلې ده. هر کله چې زه دامريکا په يوه يابل ايالت کې، ددغو متونو او مطالبو دپلټلو دپاره يوې يابلې کتابخانې ته تللی يم، مارجی هم، معمولاً، راسره ملګرې وه اوپه کامل شوق يې دکتابخانو دکتلاګونو په لټولو، دغربي آثارو او په غربي ژبو، په تېره بيا په

انگریزی باندې د ترجمه شوو شرقي آثارو په پیداکولو او ډېر ځله پلټلو کې او همدغه راز دضروري یاد داشتونو په اخیستلو کې دومره زیات او په دومره علاقه کار کړی دی، چې زه دا مجموعه په حقه زموږ دواړو د ګډ کار محصول بولم. خو د نهایي کار د نیمګړتیا او سهوې یا خطا مسوولیت ټول زما په غاړه دی.

موږ دا متون او مطالب اکثره له معروفو آثارو، د څېړنې د منل شوو اصولو په اساس په ډېر غور، په خپله اصلي بڼه او بې له کوم غرضي تصرف او بدلون نه را اخیستي دي. مګر دا نه شو ویلی چې ګوندې د دې متونو او مطالبو هر ټکی د کاڼي کرښه دی او هیڅ خوبکې نشته.

دا یو تریخ واقعیت دی چې حتی په یو زیات شمېر معتبرو پخوانو تألیفاتو او تاریخونو کې داسې مطالب لیکل شوي او بیا په تواتر په نورو پخوانو آثارو کې داخل شوي او په نهایت کې یې ځینو معاصرو تحقیقي څېړنو ته لار پیدا کړې ده، چې اساساً خیالي او افسانوي ماهیت لري او له واقعیتونو سره اړخ نه لګوي. د دې خبرې یو ډېر لوی دلیل دا دی چې یوه پخواني مؤلف هر څه لیکلي دي، ځینو نورو پخوانو مؤلفینو په پټو سترګو رانقل کړي دي او وروسته بیا معاصرو آثارو ته هم ور داخل شوي دي. مثلاً که په یوه معروف لرغوني عربي اثر کې، د هغه مؤلف چې ټول عمر یې د المغرب په یوه ساحلي کلي کې تېر کړی دی او هندوستان یې هیڅکله نه دی لیدلی، لیکلي دي چې د هند د مدراس یوې شهزادګۍ وزرونه وکړل، والوته او د قفقاز غرونو ته ولاړه.

داخبره وروسته د پرو نورو پخوانو مؤلفينو هم په خپلو تأليفاتو کې په تواتر رااخيستې او په نهايت کې ځينو معاصرو څېړنو کې د استناد د پاره استعمال شوې ده.

داخو هسې يو فرضي مثال و خو په پخوانو تاريخونو او آثارو کې رښتيا هم د پر زيات داسې خيالي او جعلي روايتونه او خام مطالب راغلي دي چې يو يې هم د اصولي کره کتنې او منطقي استدلال تاب نه لري . يو مثال د پښتنو په باره کې د افغنه او قيص عبدالرشيد افسانه او دهغې په اساس باندې د پښتنو د نسب جوړه شوې شجره ده، چې هم د منطقي پخواني او ځينې اوسني تاريخونه پرې ډک دي، اوهم په پښتنو کې له ډېر پخوانه په شفاهي ډول رايجه شوې ده. خو که دا او داسې ډېر نور د پخوانو تاريخونو او آثارو مطالب د اصولي اجتماعي او تاريخي کره - کتنې د معيارونو په اساس وڅېړل شي نو يقين دی چې افسانوی اړخ به يې په واقعي اړخ دومره غالب شي چې دا ټول روايت به باد يوسي.

نو د پښتنو او زموږ د سيمې د ډېرو نورو ولسونو د پخواني اجتماعي ژوند په باره کې د واقعي او حقيقي اطلاعاتو د ترلاسه کولو د پاره يو ډير اساسي او حتي ضروري شرط، د علمي اجتماعي مطالعاتو د اصولو په اساس د پخوانو تاريخونو او تأليفاتو جدي او دقيقه کره کتنه ده. پدې کره کتنه کې بايد دغه آثار په کاملاً آفاقي ډول چاڼ شي او کومې برخې يې چې له حقايقو او واقعيتونو سره اړخ نه لګوي په هغو ټولو د بطلان خط کش شي او نور د اجتماعي او تاريخي مطالعاتو د آثارو مخونه پرې

تور نه شي.

مور پدا اوسنی مجموعه کې دځینو مهمو ټکو په باره کې، لکه په تواریخ حافظ رحمت خانی کې دیوسفزو دمهاجرت دوخت او دپښتنو غلځو او ترکو خلجو دفرضي اختلاط دروایت او یونیم بل ټکی په باره کې دخپل توان په اندازه کره کتنه او تبصره کړې ده. خو نور متون او مطالب مو لکه څنګه چې دي هغسې پرې ایښې دي او ځکه چې نه مو نور وخت لاره او نه کافي صلاحیت.

PROPERTY OF ACKU
8029

# اول فصل

## د پښتنو اصل او نسب

د پښتنو د اصل او نسب په باره کې له ډېر پخوانه ډول ډول روايات او نظريات اظهار شوي دي. دا روايات او نظريات دومره زيات او له يو بل نه متفاوت دي چې معروف مستشرق او پښتو پېژندونکی، هنري راورټي، وايي: «د هيڅ قوم د اصل او نسب په باره کې د نظريو اختلاف دومره زيات نه دی، لکه د افغانانو د اصل او نسب په باره کې چې دي.» (۱)

چا پښتانه د هغوی د خپل عنعنه يي روايت په اساس بني اسرائيل بللي او چا بيا قبطيان ګڼلي دي. چا په مغلو ور ګډ کړي او چا د ارمنيانو، تاتارانو، هپتاليانو او ساکانو په کتار کې درولي دي. چا بيا په عين وخت کې له راجپوتانو، برهمنانو، جټانو، يونانيانو، ترکانو، عربانو او نورو سره ګډ کړي دي. خود پښتنو د اصل او نسب په باره کې تر ټولو نه

عام اوبـخي زور روايت هغه دی چې وايي پښتانه بني اسرائيل دي.
تر ټولو نه پخوانی تحريري سند چې ما دا روايت پکې ليدلی هغه
دابوالفضل « آئين اکبري » دی چې له کال ۱۵۹۷ نه تر ۱۵۹۸ پورې
ليکل شوی دی.

ابوالفضل کله چې دده په خپله اصطلاح د کابل د سرکار د حالاتو په باره
کې غږيږي د پښتنو داصل او نسب په باره کې يوه لنډه يادونه کوي
اوليکي چې « افغانان ځانونه داسرائيلو اولاده ګڼي » پدې پسې وايي
چې« پښتانه پدې عقيده دي چې ډېر لرې نيکه يې چې « افغان » نوميده،
درې زامن لرل چې هغه سړبن، غرغشت او بټن وو. » پدې پسې هغه
پښتني ستر قبايل يادوي چې وايی د نسب سلسله يې همدغو درېوو تنو
ته رسيږي.

ابوالفضل په پای کې دا يادونه هم کوي چې غلځي، لودي او نيازي د يوه
غنغنه يي روايت په اساس له بلې پښې نه دي. (۲)

آخوند درويزه هم داسې يو روايت په تذکرة الابرار والاشرار کې چې د کال
۱۶۰۳ او ۱۶۱۳ ترمنځ يې ليکلی، په اختصار ثبت کړی دی. دی وايي
چې افغانان د مهتر يعقوب اولاده ده چې داسرائيلو په نامه يادېږی.
داسرائيلو يو ډېر لوی مشر طالوت ؤ. له طالوت نه دوه زامن پاتې شول
چې يويې آصف نوميده او بل يې افغان. دافغانانو طايفه دهمدې افغان
اولاده ده. خو څرنګه چې افغانان د سليمان په غره کې اوسېدل، نو په
عربستان کې سليماني بلل کيږي. (۳)

اما کوم اثر چې د پښتنو د اصل او نسب روایت لومړی ځل په تفصیل پکې ثبت شوی هغه د نعمت الله هروي «تاریخ خان جهاني و مخزن افغاني» دی چې له کال ۱٦۱۲ نه تر کال ۱٦۱۳ پورې لیکل شوی دی. د مخزن افغاني د روایت لنډیز دا دی:

ملک طالوت د اسرائیلو پاچاؤ، خو د مخه له خپل مرګ نه یې د سلطنت امور مهتر داؤد ته وروسپارل. دی خپله وروسته له اوه څلویښت کاله سلطنت نه په یوه جګړه کې ووژل شو. ملک طالوت دوه ښځې لرلې او د مرګ په وخت کې یې دواړه امیندوارې وې. وروسته له څه مودې نه د دواړو کره زامن وشول. مهتر داؤد چې د دغو میرمنو سرپرستي ورپه غاړه وه، د یوې د زوی نوم برخیا کېښود او د بلې د زوی نوم ارمیا. کله چې د برخیا کره زوی وشو د هغه نوم یې آصف کېښود او کله چې د ارمیا کره زوی وشو د هغه نوم یې افغنه کېښود.

وروسته له مهتر داود نه مهتر سلیمان د اسرائیلو پاچا شو. ده د ملک د چارو د نظم او اداري کار آصف او افغنه ته وروسپاره. د دغو دوو ورونو په تېره بیا افغنه اولاده چې په شام کې اوسېده دومره زیاته شوه چې له حسابه ووته. وروسته د مهتر سلیمان له مرګ نه د اسرائیلو ورځ بده شوه.

بخت نصر شام ونیو؛ بیت المقدس یې وران کړ او د آصف او افغنه اولادې دوه د سر سړي عزیز او دانیال یې له خپلو پیروانو سره بندیان کړل. بخت نصر وروسته د اسرائیلو د ولس زره مهم خلک ووژل او پاتې یې له آصف او افغنه سره غور، غزني، کابل، فیروزکوه او د کندهار شاوخوا سیمو ته

فرار کړل. دافغنه اولاده په دغو سیمو کې میشته شوه.
کله چې خالد بن ولید مسلمان شو نو دغو خلکو ته یې مکتوب ورولیږه داسلام د پیغمبر دبعثت زیری یې پرې وکړ او داسلام منلو ته یې ور وبلل.
کله چې دافغنه اولادې ته دخالد مکتوب ور ورسېد، یوشمیر مشران یې مدینې ته روان شول. په دغو مشرانو کې دبني افغان تر ټولو نه ستر مشر قیص نومېده چې دنسب سلسله یې ملک طالوت او ابراهیم خلیل الله ته رسېده. خالد دغه خلک د پیغمبر حضور ته ور وستل.
آنحضرت له هر یوه نه دنامه پوښتنه وکړه. دبني افغان مشر ورته وویل چې دده نوم قیص دی. حضرت پیغمبر ورته وویل: «قیص عبراني نوم دی. څرنګه چې موږ عرب یو نو ستا نوم به وروسته له دې عربي او عبدالرشید وي.»
عبدالرشید له خالد سره یو ځای په یو شمېر جګړو کې په مېړانه وجنګېد او خالد حضرت پیغمبر ته دهغه دمېړانې په باره کې معلومات ورکړل.
حضرت پیغمبر عبدالرشید ته دبتان لقب ورکړ. بتان چې وروسته پټهان شو، هغه تیر ته وایي چې بېړۍ پرې تکیه وي. حضرت پیغمبر وروسته عبدالرشید خپل حضور ته ور وباله؛ دخیر دعا یې ورته وکړه او له خپل یوه صحابي او یو شمیر انصارو سره یې بیرته غور ته ولیږه چې په خلکو کې داسلام تبلیغ وکړي. له قیص عبدالرشید نه چې په کال ٤٠ هجری کې په اوه اتیا کلنۍ مړ شو، درې زامن پاتې شول. یو سړبني، بل بیټني او بل غرغشت.

نعمت الله هروي په پای کې وایی، پر ته له کرلانونه، دنورو ټولو پښتنو اقوامو د نسب سلسله همدغو درې وو تنو ته رسیږي او ټول د همدوی اولاده جوړوي او کرلانی د قیص عبدالرشید د دیني زوی له پښته دی. (٤)

له نعمت الله هروی نه را وروسته هم ډېرو نورو واقعه نګارانو اوهم خپله پښتنو مؤلفینو، لکه افضل خان ختک، حافظ رحمت خان، زردار خان اوحتی قاضی عطاء الله خان، پښتانه بني اسرائیل بللي دي.

خو په غربي مؤلفینو او څېړونکو کې د بنګال د شاهنشاهی آسیایی ټولنې رئیس، سرویلیم جونز، لومړنی شخص ؤ چې د پښتنو د اصل او نسب د ې عنعنه یي روایت ته یې د غربیانو جدی توجه ور واړوله او په یوه لنډه کې تبصره کې یې داسې وښوده چې کیدی شي پښتانه د یهودو له نسله وي.

په کال ۱۷۸٤ کې یوه انګرېز لیکوال، هنری ونسیتارت، سرویلیم جونز ته یو لیک واستاوه او په هغه کې یې ورته ولیکل: «څه موده د مخه ما ته د اسرار الافاغنه په نامه یو کتاب لاس ته راغی چې مولوی خیر الدین تصنیف کړی او په اصل کې د هغه یوه اثر لنډ شکل دی چې حسین ولد صابر ولد خضر د حضرت شاه قاسم سلیمانی مرید... په پښتو لیکلی دی... که څه هم چې دا لیکنه د پښتنو د قومی اصالت په باره کې د واقعي تاریخ په حیث نه شي منل کېدلی خو سره له دې یې هم «انګریزی» ترجمه در استوم او ښایی چې ستاسې ټولنې ته به په زړه پورې وي.»

دونسیتارت لیک او ترجمه دواړه د کال ۱۷۸٤ د مارچ په میاشت کې د آسیایي څېړنو په دوهم ټوک کې نشر شول. کومه لیکنه چې ترجمه یې ونسیتارت جونز ته ورولېږله، اساساً، دهغه روایت یو څه مختصر شکل دی چې نعمت الله هروی د پښتنو د اصل او نسب په باره کې لیکلی او موږ یې لنډیز د مخه را واخیست.

ویلیم جونز د ونسیتارت په ترجمه باندې یوه لنډه کې تبصره ولیکله او په هغې کې یې وویل چې «ښایي د افغانانو په باره کې دا بیان دیوه ډېر په زړه پورې کشف سبب شی... موږ ته دا معلومه ده چې د اسرائیلو لس قبیلې وروسته له یو څه مودې سرگردانۍ نه یوه وطن ته چې ارسریت نومېده ولاړې او محتملاً هلته میشتې شوې. اوس موږ گورو چې د فارسی ژبې تر ټولو نه معتبر تاریخونه وایی چې پښتانه د یهودانو له نسله دی او خپله افغانان هم همدا وایی. حتی ویل کېږی چې د دوی [ افغانانو ] د قبایلو نومونه هم د یهودو دي... که څه هم چې افغانانو د اسلام له منلو نه رادې خواته ډېر زیات کوشش کړی چې خپل اصل او نسب پټ کړي خو پښتو ژبه چې ما یې یوه ډکشنري لیدلې ده له کلدانی ژبې سره ډیر زیات ورته والی لري او [ افغانانو ] یوه لویه سیمه د هزارې یا هزارت په نامه یادېږي.» جونز په پای کې وایي چې «زه د پښتو ژبې او ادبیاتو د څېړنې ډېر کلک سپارښت کوم.» (٦)

جونز ډېر لوی عالم او هغه شخص ؤ چې لومړی ځل یې په کال ۱۷۸٦ کې

په هغه مضمون کې چې د آسیايي ټولنې په یوه غونډه کې يې ولوست، له لاتین، یوناني او جرمانیکو ژبو سره د سانسکرت تاریخي خپلوي په مسلم ډول، ثابته کړه او دده دا ابتکار یوه معاصر پوه د ژبنیو څېړنو د نوي انکشاف له څلورو ډېرو سترو موفقیتونو نه لومړنی ستر موفقیت وباله. (۷) ځکه نو د پښتو ژبې او ادب د څېړنې په باره کې دده سپارښت د کلام الملوک ملوک الکلام په فحوا د پښتنو او پښتو څېړنې ته دډېرو غربي څارونکو او څېړونکو توجه ور واړوله، خو په عین وخت کې د پښتنو او پښتو د اصل او ریښې د څېړلو په برخه کې د جونز خبرې هغه عنعنه يي روایت نور هم تقویه کړ چې د پښتنو اصل او نسب يې بني اسرائیلو ته ور کش کړی ؤ.

د جونز له تبصرې نه وروسته ډېرو غربیانو کوشش وکړ دا ثابته کړي چې افغانان له اصله یهود دي. له دغو کسانو نه ځینې لکه جورج روز په خپل کار کې دومره جدي وو چې پدې باره کې يې مستقل کتابونه ولیکل. خو کوم غربي مؤلف چې تر ټولو نه پخوا پدې باره کې زیاتې ګروېږنې وکړې هغه الګزانډر برنز ؤ.

برنز هغه انګریز دی چې افغانانو د «برنس» په نامه پېژانده او په کال ۱۸٤۱ م کې له خپل ورور او یوه همکار سره یو ځای په هغې بلوا کې ووژل شو چې د کابل خلکو د اشغالګرو انګریزانو او دهغوی د لاس کوسي شاه شجاع په خلاف کړې وه. برنز د خپل هغه سفر خاطرات چې په کال ۱۸۳۲ م کې يې دهغه وخت افغانستان او بخارا ته کړی، په هغه اثر کې

چې «بخارا ته سفر» نومېږی ثبت کړی دی. دی په کابل کې د خپلو
ګروېږنو په اساس دې نتيجې ته رسېدلی چې پښتانه بني اسرائيل دي.
برنز چې په کابل کې د امير دوست محمد خان له ورور نواب جبار خان
سره د هغه په خپل کور کې اوسېده ليکي: «ماله هغو يو زيات شمېر
خلکو نه چې موږ د خپل کور به کره تل ور سره کتل، د دې متنازع فيها مسئلې
په باره کې معلومات تږلول چې پښتانه له اصله يهود دي. د غو خلکو ما ته
خپل کتابونه راوړل، مګر ما يې د لوستلو وخت نه لاره او ورنه غوښتل
مې چې شفاهي معلومات راکړي. برنز وايي: «افغانان ځانونه بني
اسرائيل يا د اسرائيلو اولاده ګڼي... او وايي بخت نصر د بيت المقدس له
سقوط نه وروسته، د غور په ښار کې مېشته کړي دي.... وروسته تر دې
چې د افغانانو عنعنه او تاريخ مې په ډېر دقت ثبت کړ، زه د دې د پاره
هيڅ دليل نه وينم چې د هغوی خبره ونه منم. ښايي چې د تاريخي وقايعو
په ترتيب کې به يې څه خطاوې موجودې وي او ځينې تاريخونه به يې
د تورات له متن سره اړخ نه لګوي... [خو] د افغانانو څېرې د يهودانو دي
او خپله هم وايي چې د يهودانو له نسله دي. افغانان له يهودانو سره ډېر
کلک تعصب لري او پر ته له يوه په ځای دليل نه ځانونه د يهودانو اولاده
نه ګڼي... څرنګه چې د اسرائيلو ځينې قبايل شرق ته راغلي، نو بلې موږ
دا ونه منو چې افغانان د هغوی اولاده ده؛ خو اسلام يې منلی دی.» (۸)
برنز په کابل کې له امير دوست محمد خان سره هم په دې موضوع غږېدلی
دی او امير هم داسې ښودلې ده چې پښتانه له اصله يهود دي.

برنز په خپل يوه بل اثر کې چې په کال ۱۸٤۳ کې د «کابل» ترعنوان لاندې خپور شوی او افغانستان ته د ده د يوه بل سفر (۱۸۳٦-۱۸۳۸م) خاطرات دي، ليکي کله چې ده له امير دوست محمد خان نه د پښتنو او يهودانو د قومي ارتباط په باره کې پوښتنه وکړه، امير داسې ورته وويل چې «موږ د خپل ورور کونډه کوو او خپلې لور ته ميراث نه ورکوو نو ولې به يهود نه يو.» (۹)

(يهودان د خپل مذهبي اصل پر بنا د خپل وروړ کونډه دې ته نه پرېږدي چې بل څوک وکړي او لور د ميراث مستحقه نه ګڼي.)

ويليم مور کرافټ هم چې د نولسمې پېړۍ په اوايلو کې (۱۸۱۹-۱۸۲۵م) دهغه وخت په افغانستان او شاوخوا ملکونو کې ګرځېدلی دی، پښتانه يهودانو ته ورته بولي. دی کله چې د خيبر د پښتنو په باره کې غږېږي، ليکي چې «ويل کېږي د خيبر يانو شمېر ډېر زيات دی او عمدتاً په غرونو کې اوسېږي. دوی په غرنيو خلکو کې ډېرې د نګې ونې لري او څېرې يې بيخي د يهودانو دي.» (۱۰)

کله چې مورکرافټ تر دې نه لږ وړاندې د جمرود د افريدو په باره کې غږېږي، ليکي: «قاضي يې چې بيخي يهودي غوندې ښکاريده، له خپلو يو شمېر عزيزانو سره پېښور ته زموږ ليدلو ته راغلی ؤ.» (۱۱)

چارلز مېسن يو بل پخوانی انګريز سياح دی چې پښتانه يې په خپله سفرنامه کې اسرائيل بللي دي. دی وايي د پښتنو د اصل او نسب په باره کې بايد هغو مختلفو عنعنو ته مراجعه وکړو چې يا دوی خپله ساتلي او

یاهغو مؤرخینو ثبت کړي چې ددوی په باره کې یې څه ویلي دي. پدې پسې دی یوشمېر روایتونه په لنډ ډول یادوي او بیا لیکي:

« یوبل روایت پښتانه دهغو یهودانو اولاده ګڼي چې دخلفاوو له یوه جنرال خالد سره ملګري شوي وو. بنا یي داخبره دخیبر دقبیلو په برخه کې رښتیا وي. دوی په داسې یوه ځای کې اوسې چې دعربستان دیوه سنګر یاموضع [ خیبر ] نوم یې ورباندې ایښی دی. ددغو پښتنو ځنې په ځینو لحاظونو دیهودانو ځینو ته پاتې کېږي او که یې کوم یهود وویني نو هرو مرو به یې خپل عزیزان وبولي. » ( ۱۲ )

یوبل انګریز چې پښتني سیمې ته تللی او دخپلو مشاهداتو په نتیجه کې یې داسې ښودلې چې افغانان بېخي یهودانو غوندې ښکاري، هغه یوصاحب منصب دی. دا صاحب منصب په هغه یوه لیک کې چې دکال ۱۸۵۲ م دجنوری په شلم یې لیکلی دی، لیکي: « څنګه چې له اباسیند نه تېر شوم، نو کتل مې چې دخلکو څېرې کټ مټ [ دیهودانو وې]. نه یوازې داچې دخلکو څېرې ( دیهودانو وې ) بلکه ټول حالات سړی دې ته ور بولي چې دوی [ دیهودانو ] دلسو قبیلو اولاده وګڼي. دوی ځانونه بني اسرائیل بولي...... او افتخار پرې کوي. پداسې حال کې چې دنورو مسلمانانو دپاره تر دې نه ستر سپکاوی نشته چې یهود وبلل شي »
( ۱۳ )

اما یوله هغو کسانو نه چې دپښتنو او یهودانو اصل او نسب په بارد کې یې مستقل کتاب ولیکه هغه جورج روز دی. دی پدې اثر کې چې عنوان

يی « افغانان، لس قبيلې اود شرق سلطانان » دي او په کال ۱۸۵۲ کې خپور شوی دی، کوشش کوي په دلايلو او اسنادو داوښيي چې داسرائيلو لس قبيلې ورکې شوې او له خپلې اصلی مينې نه په بله خوا تللې دي. پدې پسې ښيی چې دغه لس قبيلې په نهايت کې افغانستان ته تللی اوپښتانه دهمدغو لسو قبيلو اولاده ده. (١٤)

روز د پښتنو او يهودو په ارتباط لومړی هغه مطالب داستشهاد دپاره را اخلي چې الگزانډر برنز د پښتنو د يهوديت په باره کې په خپله سفرنامه کې ثبت کړي دي او ځينې تکی يې مورږ دمخه را واخيستل. روز دبرنز خبرې ډېرې معتبرې گڼي او يو دليل يې هم دابولي چې برنز له امير دوست محمد خان سره ډېر نژدې او دوستانه روابط لرل او په کابل کې دامير ديوه ورور کره اوسېده او ځکه نو افغانانو، نه يوازې دخپل اصل او نسب په باره کې دقيق شفاهی معلومات ورکړي، بلکه خپل کتابونه يې هم ورورې دي. روز وروسته له دې چې دبرنز له سفرنامې نه هغه عنعنه يې روايت را اخلي چې پښتانه يهود گڼي ليکی: « پدې ډول موږ ته معلوميږي چې افغانانو برنز ته ويلی دي چې دوی تر هغه وخته يهود وو ځو چې مسلمانان شول. » (١٥)

روز پدې پسې دبرنز خبره تکراروي او وايي که پښتانه په رښتيا هم له اصله يهود نه وي نو هيڅکله به يې ځانونه بني اسرائيل نه وی بللي، ځکه افغانان د نورو مسلمانانو په شان له يهودانو نه ډېره کرکه کوي. (١٦)

روز بیا یو شمېر تاریخي واقعیتونه یادوي او لیکي:

« پښتانه د یوه خپلواک ولس په توګه په هغو سیمو کې ژوند کوي چې ټول روایات یې له قدیمترینو وختونو نه د همدوی ټاټوبی بولي. دوی د فارس سلطانانو او په کلونو کلونو یې پر هند واکداري کړې ده. »

ځکه نوروز وایي پدې حساب یوازې پښتانه ددې وړ دي چې هغه د شرق سلطانان وبلل شي چې د یهودانو په ډېر زاړه مذهبی کتاب کې یې یادونه شوې ده. (۱۷)

روز په نتیجه کې وایی: « آینده یوازې خدای ته معلومه ده ... خو د راټولو شوو شواهدو په اساس، یقین ته نږدې ګومان دادی چې افغانان د اسرائیلو لس ورکې شوې قبیلې او د شرق سلطانان دی. » (۱۸)

روز د دې ترڅنګه د ځینو لیکوالو هغه خبرې هم چې وایي پښتانه بنی اسرائیل نه دي، یادوي او کلک مخالفت ور سره کوي.

روز په پای کې د ژبې خبره یادوي او وایی داڅه عجیبه خبره نه ده چې پښتنو دې خپله اصلی عبرانی ژبه بایللې وي. ځکه دی وایي کله چې د یوه ولس یو څو قبیلې له خپل ملک او خلکو نه جلا او په یوه بل ملک کې د یوه غښتلي او ګڼ ولس په منځ کې میشتې شی، هلته نو بیا داڅه د تعجب خبره نه ده چې د غه قبیلې خپله ژبه بایلی. روز خبرې ته دوام ورکوي او وایي حتی یو غښتلي او فاتح قوم هم خپله ژبه په ډېره آسانی بایللی شی. (۱۹)

یوبل لیکوال چې د پښتنو او یهودو د اصل په مسأله یې ځانته کتاب

ولیکه هغه د پښتنو ژبې او پښتنی اقوامو او تاریخ څېړونکی، هنری والټر بیلو، دی. دا کتاب ښایسته اوږد عنوان لري او هغه دادی چې «دافغانانو په باره کې یو نوی سوال یا دا چې پښتانه رښتیا هم اسرائیل دي او که بل څو ک؟»

متأسفانه موږ ته د دې لیکنې په وخت کې د بیلو دا کتاب لاس ته رانه غی. خو هغه په دوو نورو کتابونو کې هم چې د یوه عنوان یې دافغانستان د قوم پېژندنې مطالعه ده او د یو بل عنوان یې دافغانستان طوایف دی، پدې مسأله غږېدلی دی. بیلو پدې دواړو کتابونو کې هغه عنعنه یي روایت چې پښتانه بني اسرائیل گڼي را اخیستې او په ضمني او یا صریح ډول یې د تائید سر ور ته خوځولی دی.

بیلو پدا اول کتاب کې یو ځای لیکی چې افغانان دهغوی د خپلې عنعنې په اساس دهغو اقوامو په جمله کې راځي چې اسلام یې په خپله خوښه منلی دی او ځرنگه چې افغانان په افتخار ځانونه بني اسرآئیل گڼي دا د دې معنا لری چې د دوی دا ادعا به غالباً رښتیا وي چې اسلام یې د دغې سیمې له نورو اقوامو نه د مخه منلی دی. ځکه د دوی اصل مذهب یعنې یهودیت، اسلام ته ډېر ور نژدې دی. (۲۰)

بیلو پدا بل اثر کې هم هغه عنعنه یی روایت ته د منلو سر خوځولی چې د پښتنو داصل او نسب په باره کې معمول دی او د تائید د پاره یې ځینې تاریخي ټکي هم یاد کړي دي. بیلو دلته لیکي چې افغانان ځانونه بنی اسرائیل گڼی او وایی چې اصلاً بخت نصر له شام نه د اسیرانو په حیث

غور ته بوولی او هلته یې میشته کړي دي. دی وایي داخبره تورات هم تائیدوي او داسرائیلو هغه لس قبیلې چې اسیری شوې وې. وروسته وتښتېدې او داسیریت ملک ته یې پناه یووړه او ارسریت ننني دهزاره سیمه گڼل شوې ده.

بیلو داهم وایی چې په طبقات ناصری کې راغلی دي چې دغور دشنسبانی کورنۍ دواکدارۍ په وخت کې په هغه ځای کې یو ولس اوسېده چې بنی اسرائیل نومېده او ځینو یې له شاوخوا ملکونو سره ډېر زیات تجارت لاره. (۲۱)

پدې ډول بیلو هم هغه عنعنه یي روایت چې پښتانه له اصله بنی اسرائیل گڼي تائیدوي. خودی ځینې پښتانه بنی اسرائیل گڼي مگر ډېر نور یې بیا په نورو طایفو مثلاً برهمنانو، راجپوتانو، جتهانو، یونانیانو، هفتالیانو، ساکانو یاسیتیانو، مغولانو، ترکانو، عربانو، ارمنیانو او نورو ور گڼوي.

بیلو تر ټولو زیات پښتنی قبایل او قومونه په راجپوتانو پورې تړي. دی دراجپوتانو دودونه، عنعنات، اخلاق او ډېر نور اجتماعی خصوصیات په ښایسته تفصیل یادوي اوله پښتنو سره یې یوشی بولی.

بیلو د پښتنو او راجپوتانو داصل اونسب د ارتباط په باره کې دومره وړاندې ځی چې ځینې پښتنی قبایل او ډېرو قبایلو اکثره اقوام په راجپوتانو پورې تړي. مثلاً دی دبیټنی قبیلې دخرشبون پښه په څلور پنځوس قومه ویشی او بیا وایی چې ددغو قومونو دتقریباً نیمایی

نومونه « واضحاً راجپوت اويا هندي دي. » (۲۲)

ښايي چې دبيلو په خبرو کې به ځينې داسې ټکي هم وي چې ديوڅه غور ارزښت ولري. مګر اکثره خبرې اوحکمونه يې بيخي له احتماله لرې حدسياتو، بعيدو قياساتو او د الفاظو اونومونو پداسې صوتي مقايسه بنادي چې په ژبنيو مطالعاتو کې دعاميانه اشتقاق اللغه په نامه يادېږي اواصواتو دمقايسه يي او تاريخي مطالعې له نظره دومره اعتبار نه لري. بيلو د تاريخي او اجتماعي مطالعاتو اصولو ته هم پوره اعتنا نه ده کړې. مثلاً کله چې دی ديوه پښتني قوم نوم دراجپوتانو، برهمنانو او ياکوم بل لرغوني قوم ياقبيلې له نامه سره مقايسه کوي، ددغه پښتني قوم په تاريخي سابقه هيڅ بحث نه کوی او دانه ښيي چې دغه پښتني قوم څه وخت او څنګه پدې نامه ياد شوی دی. په نتيجه کې دی ډېر داسې قومونه چې اسلامي نومونه لري، په لرغونو غير اسلامي طايفو پورې تړي او نومونه يې هم فقط دځينو سطحي شباهتونو پر بنا ددغو اقوامو له نومونو سره يوشی بولي؛ که څه هم چې پدې باره کې هيڅ دليل او شاهد نشته چې دا اقوام به له څو سوه کاله نه پخوا پدې نومونو ياد شوي وي. علاوه پردې بيلو کله کله په اصطلاح له پچې نه پېچومې جوړوي. مثلاً دی، د طبقات ناصری په حواله ليکي چې په لرغوني غور کې يو ولس اوسېده چې بني اسرائيل نومېده او ځينو کسانو يې له شاوخوا ملکونو سره ډېر وسيع تجارت لاره.

خو کوم مطلب چې پدې ارتباط په طبقات کې راغلی دی دهغه په هيڅ

برخه کې هم دانه دي ویل شوي چې په غور کې د یهودانو کوم ولس اوسېده. په طبقات کې یوازې په یوه یهود خبرې شوې دي او لنډېز یې دادی:

په غور کې یو یهودی ؤ چې د امیر بنجی ملګری ؤ. یوه ورځ دغه یهود چې ډېر زیات ملکونه او دهغوی د واکدارانو دربارونه یې لیدلي وو او له درباري آدابو سره ډېر ښه بلد ؤ، امیر بنجی ته وویل چې که زه داسې لارې چارې در وښیم چې د اسلام خلیفه هارون الرشید خوشحاله کړې او هغه ټول غور در کړي نوماته به بیا دومره یو ځای را کړې چې یو شمېر بنی اسرائیل پکې دېره کړم. امیر بنجی له یهودي سره د اخبره ومنله. دواړه د هارون الرشید دربار ته ولاړل. خلیفه د امیر بنجی له سلوک نه دومره خوښ شو چې ټول غور یې ورکړ. (۲۳)

د طبقات د دې روایت په برخه کې دوه ټکي د یادولو وړ دي. یو دا چې دا روایت اصلاً د افغانستان په اساطیرو کې راغی او دومره ارزښت نه لري. بل دا چې طبقات ناصری په صراحت یوازې په یوه یهود غږېږی او وایي همدې یوه یهودي آرزو لرله چې نور یهودان هم غور ته ور ولي.

هنری راورټی هم پښتانه د یهودانو له نسله بولي. دی په هغه مضمون کې چې د پښتنو او پښتو د اصالت په باره کې یې لیکلی او په کال ۱۸۵٤ کې یې د بنګال د شاهنشاهی ټولنې په مجله کې خپور کړی او بیا یې له خپل پښتو ګرامر سره د مقدمې په حیث یو ځای کړی دی، او پر د بحث کوي او لیکي چې پښتانهٔ خپله ځانونه د یهودانو له نسله بولي. پدې

پسې وايي دامطلب دسدوزو دقبيلې په يوه تاريخ کې، چې پدې وروستيو وختو کې دده لاس ته ورغلی دی او تذکرة الملوک نومیږی په بهترینه طریقه بیان شوی دی. راوړتی وایي دا اثر اته ټوکه او جمله ٦٤٠ مخه دی. دکتاب هر مخ ١٧ سطره لری او په پښتو ژبه لیکل شوی دی. دی وایي داکتاب ډېر نایابه دی. راوړتی دکتاب دیباچه او مقدمه ترجمه کړې او په همدې مضمون کې یې ځای کړی دی.

د تذکرة الملوک په مقدمه کې هغه عنعنه يي روايت په ښايسته تفصيل راغلې چې پښتانه بني اسرائيل بولي. راوړتی وروسته د دغې مقدمې له ثبتولو نه وايي: «علاوه پر هغه اثر چې مايې لنډير دلته راواخيست په ډېرو معتبرو آثارو کې دا ثابته شوې ده چې افغانان اصلاً د دغه ملک نه دي چې دا اوس پکې هست دي، بلکه [ په لرغونو زمانو کې ] له لوېديځې آسيا نه په ورو ورو ورته راغلي دي او دا څه ناممکنه خبره نه ده. ښايي چې مختلفو عواملو د پېړيو په تېريدلو هغوی دې ته مجبور کړي وي چې د بيت المقدس له شاوخوا سيمو نه مهاجرت وکړي» (٢٤)

راوړتی وروسته د خپل پښتو قاموس په مقدمه کې په زياتره صراحت او قاطعيت دا حکم کوی چې پښتانه بنی اسرائيل دي. دی ليکی:

«وروسته له کامل غور نه غواړم دا نتيجه واخلم: له هغه نژدېوالی نه چې ما د پښتو او سامي او ايرانی ژبو ترمنځ وښود؛ له هغو متعددو رواياتو نه چې پدې باره کې موجود دي؛ د حضرت يعقوب د اولادې له هغو دوو نه چې د يهودانو له اسارت نه پنځه ويشت پېړی راوروسته هم په

افغانانو کې رایج دي؛ له دې نه چې ددوی [افغانانو] څېره له بل هر ولس نه په قاطع ډول توپیر لري؛ ددوی [افغانانو] له ینډی او حتی یو بل سره غدر نه؛ د تجارت په کار کې ددوی له ځیرکی نه اوله ګنې سره ددوی له مینې اوله هغو متعددو ثبوتونو نه چې مونږ یې پدې باره کې لرو چې دوی په تدریج سره د آسیا له غرب نه وړاندې تللي دي- زه غواړم دا نتیجه واخلم چې افغانان د یهودانو د [لسو] قبیلو بقایا دي»( ۲۵ )

د یهودانو په دایرة المعارف کې هم راغلي دي چې پښتانه د خپلې عنعنې په اساس ځانونه د یهودو دلسو ورکو شوو قبیلو اولاده ګڼي. پدې پسې په دایرة المعارف کې هغه مطلب په ډېر لنډ ډول را اخیستل شوي چې بیلو په غور کې د یهودانو د موجودیت په ارتباط د طبقات ناصری په استناد لیکلی او مونږ د مخه پرې وغږېدو.

د یهودانو دایرة المعارف دا هم لیکي چې ویل کیږي کوم د یهودانو معبد چې کنډوالې یې په کابل کې موجودې دي، د هغه تاریخ د بخت نصر وخت ته رسیږي. ( ۲٦ )

په ځینو آثارو کې بیا پښتانه قبطیان او د فرعونانو له نسله ګڼل شوي دي او د ابو الفضل، آئین اکبری بیا هم لومړنی لیکل شوی اثر دئ چې دغه راز یو روایت پکې راغلی دی. ابو الفضل کله چې دده په خپل قول د کابل د سرکار په بحث کې د پښتنو په اصالت غږیږي دا روایت یادوي خوبې اساسه یې بولی. دی لیکي:

«ځینې وایی چې افغانان قبطیان دي او کله چې اسرائیل له بیت المقدس

نه مصر ته ولاړل، دغه خلک [یعني افغانان] هندوستان ته راغلل......
داډېر اوږد بحث دی او زه دلته ورنه تېرېږم خو یوازې دومره باید وویل
شي چې داهسې یوه خیالي افسانه ده. » (۲۷)
فرشته بیا دغه شان یو روایت د یوه بل اثر په حواله په خپل تاریخ کې
ثبت کړی دی. دی لیکی:
« ما په مطلع الانوار کې چې یوه منلې مؤلف لیکلی او ماته دد کن
دکاندیش په یوه ښار گوتی کې لاس ته راغی، لوستي دي چې افغانان
فرعون الاصله قبطیان دی. کله چې موسی پیغمبر هغه کافر (فرعون)
ته ماته ورکړه او په سره بحیره کې غرق شو، ډېرو قبطیانو د یهودا دین
ومانه. خو نورو یې چې سر تنبه او خودرایه وو، رښتینی دین و نه مانه
او له خپل ملکه ولېږد بدل هندوستان ته ولاړل. په نهایت کې دسلیمان په
غرونو کې میشته او دافغانانو په نامه یاد شول. » (۲۸)
فرید الدین احمد هم په رساله ٔ انساب افاغنه کې وایی پداسې معیاری
آثارو کې، لکه تاریخ افغانی، تاریخ غوري او نور، راغلي چې اکثره
پښتانه اسرائیل دي، خوځینې یې بیا قبطیان دی. (۲۹)
داسې ښکاری چې د انساب افاغنه یوه نسخه دمعروف انگرېز مؤرخ،
جان ملکم لاس ته هم ور غلې وه. دی پدې ارتباط لیکی: « زه دافغانانو
د تاریخ یوه قلمی نسخه لرم. ددغه تاریخ مؤلف دافغانانو دوه نور
تاریخونه، چې یو یې دافغانانو تاریخ دی او بل یې دغور تاریخ، یادوي او
وایی له دغو دوو آثارو نه داسې ښکاری چې افغانان قسماً ځانونه

دمصر دقبطیانو له نسله بولي اوقسماً داسرائیلو له نسله. » (۳۰)
اما په ځینو هغو آثارو کې بیا چې په افغانستان او ایران باندې دچنګېز له یرغل نه وروسته ددغې سیمې دحالاتو په باره کې لیکل شوي، افغانان او یوبل قوم چې جرمابلل شوی اومعمولاً له افغانانو سره څنګ په څنګ ذکر شوی، له مغلو سره خلط شوي دي. (۳۱)
له دغو آثارو نه یو ډېر پخوانی دمحمود کتبی تاریخ آل مظفر دی چې په ځینو قلمي نسخو کې دحمد الله قزوینی له تاریخ ګزیده سره یو ځای راغلی اود تاریخ ګزیده جز بلل شویدی. تاریخ آل مظفر په کال ۸۲۳ کې تصنیف او په کال ۱۳۳۵ کې دنوایی په همت په تهران کې خپور شوی دی. پدې اثر کې افغانان او مغل ښېخي سره ګډ شوي څه چې ډېر ځله ښېخي یوشی ګڼل شوي دي، لکه داچې « عماد الدین محمود ...... ددار-ابجرد په سیمه کې دهرې طایفې عسکر را ټول کړل او اوغانی او جرمایی مغلو ته یې هم بلنه ورکړه. » (۳۲) یوبل ځای وایي: « پدغه وخت کې چې اوغانیانو او رمائیانو حرکت کاوه، نوروزیانو چې هغوی هم مغول اود کرمان په ګرمسیر اوسرد سیر کې میشته اوله دوی سره همسایه دي، هیڅکله هم خپل اخلاص پرې نه ښود او ځکه نو په امان پاتې شول. » (۳۳)
وروسته بیا لیکي: « اوغانیانو جالغ (۳٤) لاره او دمغلو له دود سره سم یې دهغه پرستش کاوه او دبتانو په نامه یې قرباني کولې. (۳۵)
دمیرخواند دروضة الصفا په متن کې هم دآل مظفر دپېښو دبیان په ترڅ

کې افغانان او جرمایان په ډاګه له مغلو سره ګډشوی او داسې پکې راغلي دي: «امیرمحمد... کرمان ته راغی او وروسته له څو ورځو نه خبرو نه راغلل چې اوغان او جرما مغولانو دولایت په شاوخواکې بغاوت او چورپیل کړی دی... » (۳۶)

دروضة الصفا دچاپ شوي نسخې دعناوینو په فهرست کې هم افغانان او مغول سره ګډ شوي دي، خو زه نه پوهېږم چې دا فهرست دمؤلف دی او که دناشر.

لکه څنګه چې ډورن دمخزن افغانی په یادداشتونو کې راوړی دي، عبدالرزاق سمرقندی بیا څوځو ځایه افغانان او جرمایان له ترکانو سره ګډ کړي دي. یو ځای لیکي: «امیر مبارزالدین مظفر... پدې فکر چې ښایي اوغان او جرمای اتراک به دهغه ترمظفرانه بیرغ لاندې راټول شی، دبم په لاره ولاړ او دجیرف په دښته کې یې واړول. » (۳۷)

یوبل ځای لیکی چې شاه شجاع پدې پسې شو چې دافغان او جرمای پوځ تباه کړي. «دوی ترک نژاده دي. » بیا لیکی: «امیر سیور غتمش داقوي احتمال ګانه چې سرګردانه قبایل او ترک افغانانبه ورسره یو ځای شي.»(۳۸)

پدې ډول یوشمېر مؤرخینو دیوې خاصې دورې دوقایعو دبیان په ترڅ کې افغانان په وضاحت له مغولو او ترکانو سرځ ګډ کړې دي. پدې باره کې موږ دهمدې فصل په یو دیرشم یاداشت کې یوه لنډه تبصره کړې ده.

ځینې اروپایان بیا دارمنیانو په یوه عنعنه یې روایت پسې تللي دي او

افغانان یې له ارمنیانو سره ګډ کړي دي. کوم اروپایی لیکونکی چې دغه روایت یې تر ټولو نه دمخه ثبت کړی هغه کروسنسکی دی. کروسنسکی چې اصلاً پولنډی دی له کال ۱۷۲۰ نه تر کال ۱۷۲۵ پورې په اصفهان کې دعیسوی اسقف دسکرتر او ترجمان په حیث اوسېده او په اصفهان کې یې دپښتنو دفتحې اودصفوی دولت دسقوط حالات په سترګو لیدلي او یاد داشت کړي دي. دا یادداشتونه په حقیقت کې دهوتکو دتاریخ یوازینۍ معتبره اصلي منبع ده. کروسنسکی دخپلو یاداشتونو په اوله برخه کې دافغانانو په اصل اونسب یولنډ بحث کوي او پدې ضمن کې لیکی چې دافغانانو تاریخ «بیخی مبهم دی او دامعلومه نه ده چې دوی اصلاً دشیروان یاهغه ولایت دی چې دکسپین دبحیرې په خواکې داغستان ته ورڅرمه، پروت دی او که دهغو دښتو چې له دغه ولایت سره هم سرحده او له باب الابواب نه ها خوادي او که لرغونی کسپي دي او یاددغه ملت یوه څانګه ده.
په هرصورت کله چې [ګوډ] تیمور فارس او نور ګاونډي ملکونه تالا کړل نودغه خلک یې یوه لرې ملک ته چې دفارس او هند ترمنځ پروت دی، ولیږدول چې هم له ټولو یرغلونو نه په امان وي او هم نور تاوانی نه شي. ځینې مؤرخین پدې عقیده دي چې دا ولس هغه وخت له ارمنستان نه راوتی دی چې دشیروان ولایت دالبانیا په نامه یادېده او خلک یې البانیایان بلل کېدل...... دشېروان او کره باغ په سیمه کې دلویو لارو ساتونکی اغوانیخ بلل کیږي چې دارمنیانو په ژبه کې یې معنا

دافغانانو مشر دی او د گیلان په سرحد کې... ارمنیان ځانونه اغوان لیک گڼي او پدې نامه ډېر ویاړي. ډیر امکان لري د [افغانستان] دکندهار نوم وروسته له هغه چې دوی [افغانان] پکې میشته شول ، دکنډسار kendsar له نامه نه جوړ شوی وي او ځیني مؤلفین کنډسار هغه ماڼۍ گڼي چې ستر سکندر جوړه کړې وه... کله چې افغانان له ارمنیانو سره او سېدل نو یې شکه دهغوی په دود او مذهب وو. خو کله چې له خپلې اصلي خاورې نه لرې شول او له هندیانو سره گډ شول نو په وروو ورو یې اسلام ومانه. حتی په اوس وخت کې هم چې [افغانان] ډوډۍ پخوي په یوه خوايې دصلیب علامه کاږي او دا ددوی ارمني عنعنه ده چې تر اوسه یې ساتلې ده. دوی دخپلو پلرونو او نیکونو په پیروي له چور او چپاو نه خوند اخلي او هند ته د نږدې والي له امله یې له جنگ سره عادت پیدا کړی دی. » (۳۹)

د کروسنسکی د پورته عباراتو په باره کې څو ټکی د یادولو وړ دي. یو داچې دا پورته مطلب د دوسغ سیو دفارس دانقلابونو په تاریخ کې چې اساس یې دهغه دلیکوال په قول د کروسنسکی خاطرات دي، په یو څه تفاوت ثبت شوی دی.

بل داچې کوم اثر چې موږ دا پورته مطلب ورنه را اخیستی په هغه کې، دافغان کلمه په همدا خپل شکل یعني افغان لیکل شوې ده. مگر د دوسغ سیو دفارس په انقلابونو کې دافغان کلمه د کتاب له سره تر پایه پورې «اغوان» په شکل لیکل شوې ده او ښایي ددې خبرې دلیل دا وي چې کروسنسکی افغانان له اصله ارمنیان بولي او ارمنیان لکه څنگه چې وروسته به وليدل شي ، له ډېر قدیم نه د «اغوانانو» په نامه یاد شوي دي. درې یم کروسنسکی وایي چې گوډ تیمور «افغانان» له شیروان نه داسې یوه ملک ته وشړل چې د فارس او هندوستان ترمنځ پروت دی. خو

وروسته هم په همدې اثر کې او هم دفارس دانقلابونو تاریخ کې په صراحت ویل شوی چې دا ځای همدا دافغانستان کندهار دی.

کوم مطالب چې جورج کیپل په خپله سفرنامه کې، چې په کال ۱۸۲٤ م کې چاپ شوې ده، راوړي دي دهغو روحیه هم داسې ده چې ګوندې پښتانه او ارمنیان په اصل او نسب سره یو شی دي.

دی یو ځای لیکی:

«دسبا ناري په وخت کې دکلی دماجت ملا راغی او په فارسي یې خبرې راسره پیل کړې. څرنګه چې ملا ته معلومه شوې وه چې زه له هند نه راغلی یم نو په خاص ډول دې ته لېوال و، چې دافغانانو [یعنې هغه چا] په باره کې معلومات تر لاسه کړي چې ده اورېدلی وو چې دهند تر ټولو نه جنګیالي خلک دي او قبیلې یې پدې افتخار کاوه چې له هغوی [افغانانو] سره له یوه نسله دی.» کیپل خبرې ته دوام ور کوي او لیکی:

«دشیروان په ولایت او شاوخوا سیمو کې ځایي خلکو دخپل اصل او نسب په باره کې داسې پوښتنې رانه کولې چې په یادونه ارزي او دا ځکه چې له عام ذهنیت سره اړخ لګوي او هغه دا چې دلرغونې البانیا (شیروان) دیوې سیمې خلک دهند دتاتارانو هغه قبایل جوړوي چې دافغانانو په نامه یادېږي... زما په یادداشتونو کې یو مطلب دی چې له داسې یوه کتاب نه مې را اخیستی چې اوس یې نوم نه راځی. مطلب دادی... لرغونو البانیایانو خپل هېواد ترکانو ته ور خوشې کړ... او دوی خپله دافغانانو یا هغه ملت جوړ کړ چې ارمنیان یې خپل ورونه

بولی، البته ژبې یې اوس فرق لري. خو دا دژبو فرق په ډېره آسانه پېښېدلی شی.»(٤٠)

بیلو هم یو ځای افغانان داصل او نسب په لحاظ له ارمنیانو سره تړي اوحتی د «افغان» لفظ هم دارمنیانو د «اغوان» یونوی شکل بولی. دی «دافغانستان دقوم پېژندنې مطالعه کې» د پښتنو دبېلو بېلو قبایلو او اقوامو داصل او نسب په باره کې له ډېر اوږده بحث نه وروسته وایی: پښتانه دهغوی دخپلې عنعنې په اساس له لرغوني یوناني مؤرخ هېرودوتس نه تخمین یوه نیمه پېړۍ اوله لرغوني یوناني جغرافیه پوه سترابونه تقریباً څلورنیمې پېړۍ پخوا په غور کې اوسېدل. خو کوم قومونه چې دغو دوو تنو یوناني مؤلفینو په خپلو آثارو کې دغور او شاوخوا اودلرغوني آریانا په نورو برخو کې یاد کړي دي، موږ یې د پښتنو له اوسنیو اقوامو سره دنومونو دشباهت او مطابقت په اساس دټولو څرک ولګاوه. مګر ددغو دوو لرغونو مؤلفینو په آثارو کې هیڅ داسې قومی نوم نه دی راغلی چې هغه دې له افغان سره مشابهت او مطابقت ولري. حتې خپله پښتنو هم په خپله قومي شجره کې دافغان په نامه کوم قوم یا ولس نه دی یاد کړی. بیلو خبرې ته دوام ورکوي او وایي عربان دمخه تردې چې دخپلو فتوحاتو په لړکې افغانستان ته ورسېږی د «اغوان» یا «اوغان» له نامه سره دارمنستان دغرنیو خلکو په مفهوم، بلد وو. نو کله چې د پښتنو غرنی ملک «غور» ته ورسېدل، پښتانه یې هم د «اوغان» یا «افغان» یعنې غرنیو خلکو په نامه یاد کړل. خوبیلو وایی

دا امکان هم شته چې دغور پښتانه خپلو گاوڼديانو دعربو له ور رسېدلو نه دمخه، «افغانان» بللی وي او بيا عربانو هم په همدې نامه ياد کړي وي.

بيليو وايی که خبره داسې وي نوسړی دې نتيجې ته رسيږي چې دغور اوسېدونکی اصلاً له ارمنستان نه راغلی «اغوانان» وو او له يهودانو او دغور له ځايی اوسېدونکو سره يې يود گډه او واحده ټولنه جوړه کړې وه.

(٤١)

بيلو په همدې ارتباط د پښتون او پښتونخوا په کلمو هم ښايسته اوږد بحث کوي او پدې لړکې وايی چې د پښتون کلمه اصلاً له فارسی «پشته» نه راوتې ده. دی وايي «پشته» په فارسی کې دغونډۍ يا غره معنا لري. څرنگه چې پښتانه په «پشته» يا غره کې اوسېدل نو د «پښتنو» ياغرنيو خلکو په نامه ياد شول او هېواد يې «پښتونخوا» يعنې د پښتنو ملک وبلل شو. خودبيليو داتعبير دده دخپل ذهن او تصور مولود ښکاري. ځکه موږ پوهېږو چې په فارسی کې غره ته «پشته» نه وايي، بلکه «کوه» ورته وايی او په يوشمېر زړو ايرانی ژبو کې هم دا کلمه تقريباً په همدې شکل راغلې ده. مثلاً په پهلوی کې داکلمه کوف kof په اوستا کې کوفه kaofa او په زړه فارسی کې کوفه kaufa ده.

(٤٢)

په پښتنو کې، البته، کوه ته «غر» وايی او دافغانستان دځينو ځايونو په نومونو کې هم د «غر» ريښه په يوه يا بل شکل شته، لکه گردېز، غرجستان يا غرشستان، غور او ښايی نور. نو که په لرغونو وختو کې

دپښتنو گاونډيانو او ياوطندارانو غوښتني وي چې پښتانه دغرنيو خلكو په نامه ياد كړي، هرومرو به يې دكوهستانيانو يا غرستانيانو ياگرستانيانو اوياكوم بل داسې نامه ياد كړي وي چې د «كوه» يا غر يا «گر» رېښه به پكې وي، اودپښتنو ملك به يې هم البته كوهستان يا غرستان او يا دې ته ورته يوشي بللي وي.

يوشمېر نورو غربي ليكوالانو هم دانظر يه منلې چې افغانان ارمنيان دي. (٤٣) خو ددوی ټولو خبره په هغه روايت بنا ده چې دكروسنسكي په خاطراتو كې راغلې او وايي چې پښتانه دگوډ تيمور په وخت كې له ارمنستان نه دافغانستان دكندهار سيمې ته لېږدول شوي دي.

معتبر تحريري اسناد دكروسنسكي داخبره په قاطع ډول فسخ كوي. دا اسناد چې تفصيل يې ددې ليكنې په څلورم فصل كې راغلى دى، په ښكاره صراحت او وضاحت وايي چې د تيمور دېرغلونو په وخت كې، په نننۍ افغانستان كې پښتانه يو آباد ولس دى او تيمور څو څو واره يرغلونه پرې كړي دي او ډېر زيات يې ورنه وژلي دي حتى يو شمېر ډېر پخواني اسناد، لكه دبېروني، عتبي، ابن اثير او نورو ليكنې اودغزنويانو دوخت دځينو شاعرانو اشعار، داښيي چې پښتانه له گوډ تيمور نه څو سوه كاله دمخه دنننۍ افغانستان له بېلو بېلو سيمو نه نيولې بيا داباسيند تر غاړې پورې ميشته او آباد دي. وروسته به وښيو چې دوی پدې سيمو كې له دومره پخوانه آباد دي چې له تيمور نه ډېر پخوا يوه ښايسته لويه سيمه

ورته منسوبه اود «افغانستان» په نامه یاد ه شوې ده.

ځینو غربي لیکوالو بیا پښتانه دارمنیانو تر څنګه له ګرجیانو سره هم تړلي دي. یو له دغو لیکوالانو نه Clairaut کلیرات دی. کلیرات وایي ده ته یوه ګرجي چې جوزف نومېده ویلي دي چې افغانان پدې عقیده دي چې دنوح پیغمبر زوی، یافث، درې زامن لرل چې نومونه یې ارمن، اغوان او کردون وو او ارمنیان، اغوانان او ګرجیان په ترتیب سره دهمدوی اولاده ده او اغوانان بیا وروسته له ارمنستان نه دسلیمان غرونو ته لېږدېدلي او دا اوسنی افغان ولس یې جوړ کړی دی. (٤٤)

دا او هغه نور مطالعې چې موږ تردې ځایه را واخیستل، په اصل کې ټول یا په عنعنه یې روایاتو بنا شوي دي او یا په عادي مشاهداتو. اما کومې اصولي اودقیقې څېړنې چې د پښتنو د تاریخ، ژبې او اجتماعی خصوصیاتو په باره کې د نولسمې پېړۍ له اوایلو نه رادې خواته شوې دي، دهغو په نتیجه کې دانظریات رد شوي دي. نوې څېړنې پښتانه داصل او نسب په لحاظ آریایان اودهندو اروپایی کورنۍ دهغې ستړې څانګې غړي بولي چې دهندو ایرانی په نامه یادېږي.

لومړنی غربی مؤلف چې د پښتنو داصل او نسب په باره کې یې عنعنه یي روایات په کلکه رد کړل. هغه منستوارت الفنستن دی. دالفنستن معروف کتاب، دکابل سلطنت، چې آن په کال ۱۸۱٤ کې لیکل شوی دی، دپښتنی ټولنې داصولی مطالعې په برخه کې، داسې دقیق او نفیس اثر دی چې تر اوسه یې ساری نه دی لیکل شوی.

الفنستن دخپل اثر یو بحث د پښتنو د اصل او نسب مطالعې ته وقف کړی دی. دی پدې برخه کې لومړی هغه عنعنه یي روایت را اخلي چې پښتانه بني اسرائیل گڼي او بیا وایي د دغه روایت د بطلان دلایل خپله په همدې روایت کې پراته دي. ځکه دی وایي دا روایت ساول (ملک طالوت) د ابراهیم پیغمبر پنځه څلویښتم پښت گڼي او قیص د ساول اوه دېرشم پښت بولي. خودی وایي د دې دوو ټکو اول له مقدس کتاب، تورات، سره قطعاً اړخ نه لگوي او دوهم ټکی یې منطق نه مني. ځکه یوازې اوه دېرش پښته شپاړس سوه کاله نه کیږي. (٤٥)

الفنستن همدلته د ویلیم جونز هغه تبصره هم یادوي چې د آسیایي څېړنو په خپرونه کې یې د ونسیتارت په ترجمه کړې او موږ په همدې بحث کې د مخه را اخستې ده. الفنستن هغه څلور دلیلونه چې جونز د خپلې ادعا د ملاتړ د باره وړاندې کړې دي یو یو په مستدل ډول ردوي او وایي:

«د افغانانو او یهودانو د دود او دستور ترمنځ ډېر شباهتونه ښودل کېدلی شي. خو دغه راز شباهتونه د بېلو بېلو ولسونو د اجتماعي ژوند په عین مرحله کې معمول وي او که دا ټکی د قومونو ترمنځ د عینیت دلیل وي نو بیا کېدی شي چې تاتاران، عربان، جرمنان او روسان ټول یو شی وي». (٤٦) پدې ډول، الفنستن دا نظر یه چې پښتانه بني اسرائیل دي، غوڅه ردوي.

الفنستن همدلته دا نظریه هم ردوي چې پښتانه اصلاً قفقازیان دي. دی پدې ارتباط لیکي: «له یوه نه زیاتو اروپایانو دا عقیده هم څرگنده کړې

ده چي افغانان دقفقازيانو يوه قبيله او په خاص ډول دارمنيانو اولاده ده. خو خپله پښتانه هېڅکله هم ځانونه دارمنيانو له نسله نه بولي. اما ارمنيان تل دا خبره کوي. » الفنستن وروسته له يوڅه بحث نه ليکي:

«زه ددې دپاره هيڅ دليل نه وينم چې افغانان له غربي قفقازيانو سره وتړم. البته يوه جرمني چې نوم يې زړه ته نه راځي داخبره کړې چې په تېره پېړۍ کې يې هلته افغانان ليدلي دي خو داخبره دهيڅ شي د ثبوت دليل نه شي کيدلی. (٤٧)

جان ملکم هم دفارس په تاريخ کې هغه روايت ردوي چې وايي پښتانه بني اسرائيل دي اوليکي: «هيڅ داسې کومه کتيبه نه ده پيدا شوې چې دا عقيده تائيد کړي چې پښتانه ديهودانو له نسله دي او ددوی خپله مبهمه عنعنه پداسې يوه موضوع کې دمسلم حقيقت په حيث نه شي منل کېدلی» (٤٨)

اما کوم غربي مؤلف چې د پښتنو داصل او نسب په باره کې يې لومړی ځل ډېره وسيعه او دقيقه اصولي څېړنه وکړه او په نتيجه کې يې د پښتنو داصل او نسب په باره کې عنعنه يي روايات رد کړل هغه ستر مستشرق او دبشري علومو لوی عالم برنا ډورن دی چې دخپل علمي ژوند يوه لويه برخه يې د پښتنو دژبې او تاريخ مطالعې ته وقف کړې ده.

ډورن دخپلو ډېرو نورو کارونو تر څنګه دخواجه نعمت الله هروی تاريخ خانجهاني ومخزن افغاني په انګريزي ترجمه کړی او په لندن کې يې په کال ١٨٣٦ کې چاپ کړی دی. ده پدې ترجمه يو لړ ډېر پاخه او

ارزښتناکه یادداشتونه لیکلي او له کتاب سره یې ضمیمه کړي دي.
ډورن دهمدې یادداشتونو په یوه برخه کې دهغه روایت په ارتباط چې پښتانه بني اسرائیل بولي داسې لیکي:
« داچې دفارسي ژبې مؤرخین پښتانه دیهودو له نسله ګڼي دا پرته له یوې خبرې نه دکوم بل شي ثبوت نه شي کیدی او هغه داچې دا لیکوالان روایات، پرته له دې چې ماهیت یې معلوم کړي، دخپل دود په اساس، دمسلمو حقایقو په توګه ثبتوي » (٤٩)
دغه راز ډورن وایي داچې دافغانانو او یهودانو نومونه سره یو شی دي ددې دلیل دادی چې افغانان مسلمانان دي. دمسلمانانو او یهودانو ډېر نومونه مشترکه تاریخي او قومي منبع لري' داچې دافغانانو څېرې ښځی یهودانو ته ورته دي ، داهم ددې دلیل نه شي کېدی چې پښتانه دیهودانو له نسله دي. ډورن ددې خبرې دتائید دپاره دجان ملکم دا عبارت را اخلي چې « که ددوو ولسونو دڅېرو سره ورته والی ددې دلیل کېدی شي چې هغوی دې له عین نسله وي' هلته نو بیا کیدی شي چې کشمیریان هم دخپلو څېرو له امله دیهودانو له نسله وبلل شي، ځکه یوشمیر غربیان کشمیریان هم، کټ مټ یهودانو ته ورته بولي. » (٥٠)
ډورن دهغه روایت په رد کې چې وایي پښتانه دبیت المقدس له شاوخواسیمو نه افغانستان ته تللي دي، وایي پښتانه له کوم بل ملک نه افغانستان ته نه دي تللي، بلکه لکه څنګه چې سر ویلیم جونز وایي « دلرغوني پارو پامیزاد (یعني مرکزي افغانستان او شاوخواسیمو)

اصلي او ځایي اوسېدونکی دي. » ډورن وايي: « تاریخ دا ثابته کړې ده چې د غزنوي سلطان محمود دواکداری په وخت کې او تر هغه نه ډېر پخوا دوی (افغانان) په هغو کلاوو کې آباد وو چې تر اوسه پکې میشته دي. » (۵۱) یو شمېر معتبر اسناد چې زمونږ د دې لیکنې په څلورم فصل کې راغلي د ډورن د دې ادعا مؤید دي.

ډورن هغه روایت او نظریات هم ردوی چې پښتانه ارمنیان بولي او وایې که سړی د ارمني اغوانانو تاریخي سوابق دسپنټ مارتین په هغه اثر کې ولولي چې د ارمنستان خاطرات نومیږی نو سمدستي به پدې قانع شي چې ارمني اغوانان او پښتانه یا افغانان یو شی نه ، بلکه دوی بېخي سره جلا ولسونه دي. (۵۲)

ډورن د ځینو غربیانو دا نظر هم چې وایي پښتانه له اصله ګرجیان دي او ګرجي ژبه وایي ، بېخي بې اساسه بولي او وایي چې په هیڅ غور نه ارزي. (۵۳)

ډورن په پای کې پښتانه د هندو اروپایي ولسونو د ستري کورنی غړي بولي مګر په عین وخت کې یې یو ځانته لرغونی ولس ګڼي . اولیکی:

« زه دا خبره منم چې افغانان به د هغې ستري کورنی غړي وي چې جرمنیان ، هندیان ، سلوانیان او یونانیان ور پورې مربوط دي خو لکه څنګه چې مونږ د دې په باره هېڅ تاریخي ثبوت نه لرو چې وښیو یونانیان یا جرمنیان د هندیانو او لاده ده ، د غه راز دا هم په یقین سره نه شو ویلای چې افغانان د لرغونو فارسیانو یا هندیانو اولاده ده. » (۵۴)

پدې برخه کې دډورن او جان ملکم نظر تقریباً سره یو دی. ملکم هم وایی چې دافغانانو «له عاداتو نه داسې ښکاري چې دوی له فارسیانو، تاتارانو اوهندیانو نه جلا او متفاوت خلک دي. (۵۵)

داوو هغه دیاډوني ورو روایات او نظریات چې دپښتنو داصل او نسب په باره کې په شرقی اوغربی آثارو کې زموږ له نظره تېرشوي وو اودلته مو، څومره چې ممکنه وي په هغومره مختصر خو داسې شکل راواخیستل چې په مفهوم کې یې څه بدلون را نه شي.

په پای کې باید وویل شي چې په معاصر وخت کې پوهانو دیوه ولس داصل او نسب دمعلومولو یوه ښه لار دهغه ولس دژبې داصل اوریښې دماهیت څرګندول ګڼلي اود پښتو ژبې په باره کې هم پدې ارتباط کافی څېړنې شوې دي. نوزموږ ددې لیکنې دابل فصل به دهمدې څېړنو یو اجمال وي.

**داول فصل یادداشتونه:**

۱) راورتي، هنري، پښتو ګرامر، مقدمه، مخ٤.

۲) ابوالفضل، آئین اکبری، مخ ٤٠٦ - ٤٠٧.

۳) دروېزه، آخوند، تذکرة الابرار والاشرار، مخ ۸۳ - ۸٤.

٤) هروي، خواجه نعمت الله، تاریخ خانجهاني ومخزن افغاني، ټوک ۱، مخ ٦۳ - ۱۱۵.

۵) ونسیتارت، آسیایي څېړنې، ټوک ۲، مخ ٦۷، کال ۱۷۸٤.

٦) همدا اثر، همدا مخ.

۷) رابنز، دژپېوهنې لنډ تاریخ، مخ ۱۳٤.

۸) برنز، الگزانډر، بخاراته سفر، ټوک، ۱، مخ ۱٦۲-۱٦٤، لندن، کال ۱۸۳٤م.

۹) برنز، کابل، مخ ۱۰۹ (لاهور، دوهم چاپ، کال ۱۹٦۱ اول چاپ، لندن، ۱۸٤۱م).

۱۰) مور کرافټ، ویلیم، سفرونه، ټوک ۲، مخ ۳۵۳.

۱۱) همدا اثر، مخ ۳٤۸

۱۲) میسن، چارلز، دمختلفو سفرونو خاطرات، ټوک ۱، مقدمه، مخ ٤۱ - ٤۲.

۱۳) روز، جورج، افغانان، لس قبیلې او دشرق سلطانان، مخ ۷۹.

۱٤) همدا اثر، مخ ۱ - ۲٤.

۱۵) همدا اثر، مخ ۲۷

۱٦) همدا اثر، مخ ۳۱.

۱۷) همدا اثر، مخ ٤۲ - ٤۳.

۱۸) همدا اثر، مخ ٤۳

۱۹) همدا اثر، مخ ۳۵ - ۳٦

۲۰) بیلو، دافغانستان دقوم پېژندنې مطالعه، مخ ۱۹۰

۲۱) بیلو، دافغانستان طوایف، مخ ۱۵

۲۲) بیلو، دافغانستان دقوم پېژندنې مطالعه، مخ ۱۳ - ۱٤

۲۳) منهاج الدین، طبقات ناصری، دراورټي انگریزي ترجمه، ټوک ۱، مخ ۳۱۳-۳۱٤.

۲٤ ) راورټي ، دافغانانو داصل اوريښې په باره کې ځينې تبصرې ، دبنګال دآسيايي ټولنې مجله ، کال ۱۸٥٤ ، نمبر ٦

۲٥ ) راورټي ، پښتو ډکشنري ، مقدمه ، مخ ۱۱ - ۱۲

۲٦ ) ديهودانو دايرة المعارف ، مخ ۲۲۳ - ۲۲٤

۲۷ ) ابوالفضل ، آئين اکبرى ، انګريزى ترجمه ، ټوک ۲ مخ ٤۰۷ .

۲۸ ) فرشته ، محمد قاسم ، تاريخ فرشته ، دبرګز ترجمه ، ټوک ۱ ، مخ ٤

۲۹ ) ډورن ، برنارد ، دافغانانو تاريخ ، يادداشتونه ، مخ ٦٤ ، حاشيه ۱ .

۳۰ ) ملکم ، جان ، دفارس تاريخ ، ټوک ۱ ، مخ ٥۹٦ .

۳۱ ) په افغانستان او شاوخوا ملکونو باندې دمغولو له يرغل او تسلط نه وروسته ، دافغانستان په ګرمسېر او شاوخواسيمو کې مغولو په يوه يا بل شکل واکداري کړې او دسيمې له خلکو سره ګډ شوي دي او په خپلو پوځونو او لښکرو کې يې هم ډېر زيات محلي خلک ، په تېره بيا پښتانه ، ځای کړي دي . دسيمې دمؤلفينو او مؤرخينو ليکنې داسې ښيي چې په ډېرو مواردو کې دپوځ دسرخلک مغول دي ، خو نور پوځيان يې اکثره افغانان دي او ، لکه څنګه چې برنارد ډورن اټکل کړی ، په ډېر غالب ګومان همدا اختلاط ددې سبب شوی چې يو شمېر مؤلفين افغانان او دسيمې ځينې نور خلک مثلاً « جرمائييان » هم مغول وګڼي . خپله دافغانانو له اصل او نسب سره عدم بلديت ددغو مؤلفينو قضاوت زياتره متأثر کړی وي .

بايد وويل شي چې ددې مؤلفينو په آثارو کې افغانان او جرمائييان ، په پرله پسې ډول ، څنګ په څنګ ياد شوي دي او ترکوم حده چې ماته معلومه ده ، دجرمائييانو داصل او نسب دځرګندولو په باره کې تراوسه هم کومه ديادونې وړ څېړنه نه ده شوې .

۳۲ ) کتبى ، محمود ، تاريخ آل مظفر ، مخ ٤٤ .

۳۳ ) همدا اثر ، مخ ۳۲-۳۳ .

٣٤) ددې کلمې په معنی نه زه پوه شوم اونه د تاریخ آل مظفر مهتمم څه پرې ویلی دي.

٣٥) کتبی، تاریخ آل مظفر، مخ ٣٧.

٣٦) میرخواند، تاریخ روضة الصفا، ټوک ٤، مخ ٤٧٤.

٣٧) ډورن، دافغانانو تاریخ، یادداشتونه، مخ ٦٦-٦٧ (انگریزی).

٣٨) همدا اثر، همدا مخ.

٣٩) کروسنسکی، دیوه سیاح خاطرات، مخ ٢١-٢٣.

٤٠) گیپل، جورج، سفرنامه، ټوک ١، مخ ٢٠٣-٢٠٤.

٤١) بیلو، دافغانستان دقوم پېژندنې مطالعه، مخ ٢٠٤-٢٠٧.

٤٢) برهان، محمد حسین، برهان قاطع، ټوک ٣، مخ ١٧٣٩، ددوکتور معین په اهتمام، تهران، ١٣٦٢.

٤٣) ډورن، مخکې یاد شوی اثر، مخ ٧١.

٤٤) الفنستن، دکابل سلطنت، مخ ١٥٤- ١٥٦.

٤٥) همدا اثر، مخ ١٥٦، حاشیه ٢.

٤٦) همدا اثر، مخ ١٥٧.

٤٧) همدا اثر همدا مخ.

٤٨) ملکم، جان، دفارس تاریخ، ټوک ١، مخ ٥٩٧.

٤٩) ډورن، مخکې یاد شوی اثر، مخ ٦٥.

٥٠) همدا اثر، مخ ٧٢.

٥١) همدا اثر، همدا مخ.

٥٢) همدا اثر، مخ ٦٦، ٧١.

٥٣) همدا اثر، مخ ٧٩.

٥٤) همدا اثر، مخ ٧٢.

٥٥) ملکم، جان، دفارس تاریخ، ټوک ١، مخ ٥٩٧.

# دوهم فصل

# د پښتو اصل او ريښه

کله چې سړی هغه روايات او نظريات را سپړي چې د پښتو د اصل او ريښې په باره کې په مختلفو آثارو کې راغلي دي، نو له راورتی سره دا خبره هرو مرو مني چې «د پښتنو دژبې د اصل او ريښې په باره کې هم د نظر اختلاف تر هغه نه کم نه دی، لکه خپله د پښتنو د اصل او نسب په باره کې چې دی.» (۱)

پښتو چا د دهوانو ژبه بللې ده، چا سامی ژبو ته ور کش کړې ده او چا په هندو ايرانی ژبو پورې تړلې ده. چا د هندو ايرانی ژبو دسترې ونې په هندي څانگه پورې مربوطه گڼلې ده او چا يې په ايرانی څانگه پورې. چا بيا پښتو اصلاً، دساکانو يا سيتيانو ژبه بللې ده او چا د هندو ايرانی ژبو ترمنځ يوه مستقله ژبه او د اتصال کړی گڼلې ده.

د تذکرة الملوک (۲) مؤلف وايی چې ځينې روايتونه پښتو د دهوانو ژبه بولي. دی ليکي:

«ځيني روايتونه وايي چې افغانانو خپله ژبه له ديوانو نه زده کړه؛ ځيني نور بيا وايي دا د کسي د غره داوسېدونکو ژبه ده؛ دافغانانو دا عادت ؤ چې د دغو خلکو ښځې او لونړې به يې ترې بوولې او ودونه به يې ورسره کول او ځکه يې نوپښتو ژبه ورنه زده کړه او خپله ژبه يې چې ابراهيمي (عبری) وه، هېره کړه.» (۳)

کوم مطالب چې د پښتو داصالت په باره کې ځيني غربی مؤلفينو ليکلي دي، په هغو کې هم بعضې د تذکرة الملوک له افسانوی روايتونه وروسته نه پاتې کېږي.

هنري راورتي ليکي: «د پښتو ژبې دافعالو او ضمايرو له خصوصياتو او ځينو نورو مشخصاتو نه داسې ښکاري چې دا يوه عجيبه او لرغونې ژبه او له هرې معلومې ژبې نه متفاوته ده.» (٤)

راورتي وايي ددې خبرې دليل دادی چې پښتانه اصلاً د يهودو دلسو ورکو شوو قبيلو بقايا دي. دی وايی کوم وخت چې دا قبيلې د فلسطين په يهوديه کې اوسېدې هلته يې ژبه ديو شمېر نورو قبايلو له لهجو سره ګډه شوه.

کله چې دا قبيلې له خپل اصلی ملکه دهغوی دا اوسنی ملک، افغانستان ته روانې وې، په لاره کې يې ژبه د ډېرو نورو ملکونو له ژبو سره هم ګډه شوه. څرنګه چې دغه دلارې په سر ملکونه اکثره غرنی وو نو خلک يې په مختلفو دروکې پداسې وړو وړو قومونو وېشل شوي وو چې له بهر سره يې رابطه او مخابره نه لرله. ځکه يې نو دهر قوم ژبې له نورو ژبو سره بېخی توپير لاره. راورتی په پای کې ليکی څرنګه چې د پښتو ژبې اساس همدغه ګډه وډه ژبه جوړوي نوله دې امله دا يوه عجيبه او له نورو نه متفاوته ژبه ده. (٥)

کله چې راورټي دخپل گرامر په مقدمه کې د پښتو او نورو ژبو په ارتباط غږېږي، دهغو کسانو نظريات ردوي چې وايي پښتو يوه آريايي ژبه ده او وايي چې « پښتو زما په خيال د سامي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري. » پدې پسې راورټي کوشش کوي دا وښيي چې پښتو هم په صوتي ، هم په صرفي او هم په نحوي لحاظ له عربي او عبراني ژبو سره تړلې ده. (٦)

راورټي يو ځيرک او ډېرې وسيعې مطالعې خاوند محقق و او له زړو ايراني ژبو په تېره بيا زند سره يې د پښتو نژدې ارتباط درک کړی و. مثلاً يو ځای ليکي:

« نن له اباسيند نه سمدستي لويديځ پلو ته داسې يوه ژبه ويل کېږي چې د عباراتو او ساختمان په لحاظ له هرې معاصرې ژبې نه ببخي فرق لري او په غالب گومان له زند، پهلوي او عبري نه راوتې ده او دا ژبه پښتو...... ده »(٧)

خو ځرنگه چې د راورټي مطالعه په زړو فارسي او پښتو آثارو کې ډېره پراخه وه او پدغو آثارو کې، چې راورټي په ډېر زيات اهميت ورته قايل و، پښتانه په مکرر او متواتر ډول بني اسرائيل بلل شوي وو او خپله پښتنو هم دا روايت تائيداوه، نو له دې امله دی ترپايه له سامي ژبو په تېره بيا عبري سره د پښتو د اصل اوريښې په نږدې ارتباط کلک ودرېد او ورنه تېر نه شو.

سرويليم جونز، د بنگال د شاهنشاهي آسيايي ټولنې د مؤسسې رئيس، له راورټي نه پخوا پښتو له سامي ژبو سره ورته بللې وه. جونز د بنگال د آسيايي ټولنې په مجله کې په هغې يوې لنډکۍ اوبې درنگه تبصره کې چې د يوې تاريخي ليکنې په ارتباط يې وکړه، وويل چې « پښتو کلداني ژبې ته ډېره

زیاته ورته ده. »(۸)
مگر د پښتنو د تاریخ او ژبې یو شمېر څېړونکو او د ژبنیو مطالعاتو مقتدرو پوهانو له کلدانی او نورو سامی ژبو سره د پښتو ارتباط په قاطعیت رد کړ او وې ویل چې پښتو له اصله یوه آریایی ژبه ده.
کلاپروت لومړنی وتلی مستشرق ؤ چې په کال ۱۸۱۰ کې یې د آسیایی ادبیاتو د آرشیف په اول ټوک کې دا نظریه په صراحت رد کړه چې گوندې پښتو له سامی ژبو سره تړلې ده. ده ولیکل چې « د پښتو او سامی ژبو ترمنځ نه په کلماتو کې اندکترین شباهت شته او نه په گرامري جوړښت کې. » (۹)
منستو ارټ الفنستن، چې د پښتنو د ټولنې او تاریخ د مطالعې په برخه کې د ډېر وچت صلاحیت خاوند و، په کال ۱۸۱٤ کې د پښتو او کلدانی ژبې دورته والی په باره کې د ویلیم جونز خبره رد کړه او وېې لیکل چې ده دوه سوه او اتلس پښتو کلمې د یو شمېر نورو ژبو له معادلو کلمو سره مقایسه کړې. خو: « له دې وو نه یوې هم له عبراني او یا کلداني سره اندکترین شباهت نه لاره. » (۱۰)
یو بل انگریز مولف، جان ملکم، هم د فارس په تاریخ کې الفنستن ته ورته نظر څرگند کړ او وېې لیکل چې « د عبري او پښتو یا د افغانانو د معاصرې ژبې ترمنځ د نژدیوالي هیڅ څرک نه لگېږی ».(۱۱)
د پښتنو د تاریخ، ژبې او ادبیاتو لوی محقق او ستر مستشرق برنارد ډورن هم په کال ۱۸٦۳ کې ولیکل چې « پښتو ژبه له عبری یا کلدانی ژبې سره نه د گرامر په لحاظ اندکترین شباهت لری او نه د لغاتو په لحاظ. » (۱۲)
ډورن د پښتو منتخباتو په مقدمه کې هم دا خبره وکړه چې « پښتو له هیڅ

سامي ژبې سره څه ارتباط نه لري. » (۱۳)

په يوه بل اثر کې هم چې د هرې مځکې انجيل نومېږي او په کال ۱۸٤۸ کې بېګستېر خپور کړی دی، د پښتو د سامیت نظريه په قاطع ډول رد شوې او ليکل شوي دي چې پښتو «د سامي ژبو هيڅ خصوصيات نه لري. » (۱٤).

البته يو زيات شمېر غربي مؤلفينو او د ژبنيو مطالعاتو پوهانو نه يوازې دا چې له ډېر پخوا نه د پښتو د سامیت نظريه رد کړې، بلکه دا يې هم په ډاګه کړې ده چې پښتو يوه هندو اروپايي ژبه ده.

بيا هم کلاپروت لومړني غربي محقق دی چې پښتو يې يوه آريايي ژبه وبلله او دا عقيده يې په ډېره کلکه په ډاګه کړه چې « پښتو بې شکه د هندو، جرمانيک ژبو دسترې ډلې يوه څانګه ده. » (۱۵)

د ژبنيو مطالعاتو ډېر لوی عالم پاټ هم پښتو په قاطع ډول آريايي ژبه وبلله. لو ونتال پدې ارتباط داسې ليکي:

« پاټ چې بل دده په سويه ستر د فق اللغه عالم نه دی تېر شوی، يوه شيبه هم پدې صرفه نه کوي چې پښتو د هندو اروپايي ژبو په کتار کې ودروي. »(۱٦)

ډورن هم د پښتو منتخباتو په مقدمه کې پښتو يوه سوچه آريايي ژبه وبلله او ويې ليکل چې « پښتو د هندو فارسي ژبو په لويه کورنۍ پورې مربوطه ده. » (۱۷)

اما هر څومره چې د ژبې تاريخي مقايسوي څېړنې زياتره د علم حيثيت غوره کاوه، د ژبو په باره کې مطالعه هم هغومره دقيقه کېدله. د پښتو په برخه کې پوهانو يوازې پدې قناعت ونه کړ چې د هندو-ايراني ژبو په کورنۍ پورې

مربوطه آریایی ژبه یې وبولی؛ بلکه غوښتل یې داهم معلومه کړي چې ددغې لویې کورنۍ له کومې څانګې سره خاص ارتباط لري.

څرنګه چې په پښتو کې دهندو ایرانی ژبې دلویې کورنۍ ددواړو ډلو خصوصیات دورایه او په وفرت موجوددي، نوپه اول کې چا پښتو په هندی ډله پورې وتړله او چا په ایراني ډله پورې.

کوم غربی لیکوال چې پښتو یې لومړی ځل دهندو ایرانی ژبو له هندی ډلې سره مربوطه وګڼله هغه رابرت لیچ دی. لیچ په کال ۱۸۳۹ کې دبنګال د آسیایی ټولنی په مجله کې د پښتو ګرامر په باره کې یو مضمون، چې په حقیقت کې په لویدیځ کې د پښتو ګرامر لومړنی طرحه ده، خپور کړ او دهغه په مقدمه کې یې د پښتو او سنسکرت داصواتو له یوې ساده مقایسې نه وروسته ولیکل چې ددغو دوو ژبو اصوات ښیي چې پښتو په قاطع ډول دسنسکرت بنه لری. (۱۸)

اما چا چې پښتو دهندی ژبو دیوې ښایسته وسیعې تاریخی - مقایسوی مطالعې په نتیجه کې دهندو ایرانی ژبو له هندي څانګې سره مربوطه وګڼله هغه رودولف هورنل دی. هورنل په خپل هغه اثر کې چې دګادي ژبو مقایسوی ګرامر نومیږي، لیکی چې دهندشمال غربی سرحد تر نهایی حدودو پورې پراکرت ژبې ویل کیږي. «خوله دې ځای نه ها خوا پښتو او کافري ژبې پرتې دي. » دې خبرې ته دوام ورکوي اولیکي: «ترومپ په خپلو هغو مقالو کې چې د پښتو او کافري ژبو په باره کې یې لیکلې دي، له ګادي سره ددغو دوو ژبو نژدې والی ته توجه وراړولې ده...... مګر خبره له دې نه وړاندې ځی او (دغه ژبې) خصوصاً پښتو دمګادي پراکرت ژبې

مسلم خصوصیات لري.»(۱۹)

هورنل پدې پسې له ځینو ګادي ژبو سره د پښتو او نورستانی ژبو یو شمېر ګډ خصوصات او ممیزات په ګوته کوي او په پای کې لیکي چې « له دې نه څرګندیږي چې مګادي پر اکرت او پښتو او کافري ژبې په لرغونې زمانه کې ښېخی سره نژدې وې او حتی یوه ژبه یې جوړوله. وروسته سور اسیني ژبې د مګادي او د غو ژبو ترمنځ واقع شوې او مګادي ژبه یې ورو ورو د شرق په لور بیخي لرې تېل وهله. » ( ۲۰ )

په پښتو کې د هندی آریایی ژبو خصوصیات د ومره بارز وو چې حتی فرانسوي لوی ختیځ پوه جېمز ډار مستتر هم په اول سر کې په خپل هغه اثر کې چې هند ته د فلالوجیکو مطالعاتو د سفر رپوټ نومېږي او په کال ۱۸۸۷ م کې خپور شوی دی، د هندو ایرانی ژبو په هندي ډله پورې مربوطه وګڼله. ( ۲۱ )

اما چاچې پښتو اول وار د هندو ایرانی ژبو دونې له ایرانی څانګې سره وتړله هغه شیلې ډیور دی. ده په خپل هغه اثر کې چې « د مقایسوی فلالوژی اجمال » نومېږي او په کال ۱۸۵۳ کې خپور شوی دی، پښتو، اساساً، د ایرانی ژبو په کتار کې ودروله خو په عین وخت کې یې وویل چې پښتو ځانته خاص موقعیت لری. دی د ایرانی ژبو په بحث کې لیکي چې د افغانستان ژبه یعنې پښتو هم په همدې څانګه پورې ارتباط لري خو « ځانته یې په یوه خاصه او ابتکاري طریقه انکشاف ورکړی دی. » ( ۲۲ )

د ژبنیو مطالعاتو لوی عالم ماکس میولر هم پښتو له ایرانی ژبو سره مربوطه وګڼله. ده په خپل هغه اثر کې چې عنوان یې « په شرق کې د جګړې د مرکز

ژبې » دي او په کال ۱۸۵۵ م کې خپور شو، ولیکل: « افغاني یا د پښتو ژبه..... د خپل ګرامر په لحاظ د فارس د ژبو له ډلې سره تړلې ده؟ (۲۳)

میولرورو وسته په خپل یوه بل اثر « دافغانانو ژبه » کې چې په کال ۱۸۶۲ م کې خپور شو، خپله خبره نوره هم تصریح کړه او پښتو یې د ایرانی ژبو په شرقی ډله پورې مربوطه وګڼله او یدې ترتیب یې له « زند » سره ونښلوله. (۲٤)

پاټ په کال ۱۸۳۳ م کې اروپایی ژبې په پنځو کورنیو ویشی او پښتو او فارسی دواړه یې په دوهمه کورنۍ پورې مربوطې ګڼي. (۲۵)

اما ځینو پوهانو بیا پښتو دهندي او ایراني ژبنیو ډلو ترمنځ یوه ځانته او مستقله ژبه بللې ده.

ډاکتر ارنست ترومپ چې دخپلو ډېرو وسیعو ژبنیو مطالعاتو او څېړنو په لړکې یې پښتو ګرامر هم لیکلی دی، پښتو دهندي او ایراني ژبو ترمنځ یوه اتصال کړی بولي او لیکي: « پښتو کلمات مستقیماً له ګاونډیو پراکرت لهجو، په تېره بیا پنجابی او سندهي نه مشتق شوي دي؛ دصرف او ترکیب دعملیې دساختمان له نظره سندهی ته ښخی زیاته ورته ده؛ پښتو په تېره زمانه کې دمتعدی افعالو له نظره له سندهي سره کامل مطابقت لري او یوازې دسندهي ژبې پر اساس تشریح کیدلی شی. مګر پښتو په هېڅ صورت کومه دپراکرت لهجه نه ده، بلکه یوه زړه مستقله ژبه ده چې له هندی آریایی ژبو نه دایرانی ژبو کورنۍ ته دبدلون لومړنۍ مرحله ښیی او ځکه نو ددواړو خصوصیات او ممیزات پکښې څرګند دي؛ خو بیا هم دپراکرت خصوصیات زیاتره پکې بارز دي. دپښتو داخصوصیت دهغې له

جغرافیایی موقعیت سره هم اړخ لګوي. » (۲۶)

پروفیسور اډیلنګ Adelung هم پښتو یوه ځانته مستقله او خاصه ژبه وبلله. (۲۷) اوشیلی ډیورهم، لکه څنګه چې وړاندې وویل شول، وایي چې « پښتو ځانته په یوه خاصه او ابتکاري طریقه انکشاف ورکړی دی. » (۲۸).

ډورن خپله د پښتنو په باره کې هم همدا نظر لري او وایي چې پښتانه، نه د ایرانیانو له پښته دي او نه د هندیانو، بلکه دا د دغو دواړو سترو ولسونو ترمنځ یو مستقل قوم دی. (۲۹)

جان ملکم هم پدې برخه کې د ډورن ته ورته نظر لري او لیکي چې « پښتانه له فارسیانو او هندیانو نه متفاوت خلک دي. » (۳۰)

اما د چا خبره چې د پښتنو د ژبې د ریښې او اصالت د ټاکلو په برخه کې د کاڼي کرښه شوه، هغه فرانسوي لوی عالم او ستر مستشرق جېمز دارمستېټر ؤ. ده د خپل هغه درانه او ستر اثر په اوله برخه کې چې د افغانانو ولسي سندرې نومېږي او پښتو عنوان یې د پښتونخوا د شعر هار و بهار دی (چاپ ۱۸۸۸)، پښتو او زند په پوره تفصیل او ډېر دقت سره مقایسه کړې او په پای کې دې نتیجې ته ورسېد چې پښتو له زند سره دومره نژدې ارتباط لري، لکه نوې فارسي یې چې له زړې فارسی سره لري. پدې ډول دارمستېټر د یوه واقعي طالب العلم په حیث پخوانی نظریه د نویو حقایقو په رڼا کې بدله کړه او پښتو یې په قاطع ډول د هندو ایرانی ژبو د لویې ډلې د ایرانی ډلې په شرقی ډلګۍ پورې مربوطه وګڼله او په ډاګه یې کړه چې پښتو زند ته ښېخی نژدې یوه بله ژبه ده. خو پښتو د شمالی هندي ژبو عناصر هم په ښېخی

خلاص لاس او پراخه پیمانه کسب کړي دي. (۳۱)

جورج مارگنسترن چې د پښتو ژبې په تېره بیا دهغې د تاریخی - مقایسوي څېړنې په برخه کې له ډېر مستېمر نه راوروسته دډیر اوچت صلاحیت خاوند دی، دډېر مستېمر نظر کاملاً تائیدوی. خوپه عین وخت کې پښتو په شرقی ایرانی ژبو کې دساکانو لرغونې ژبې ته دومره ورنږدې بولی چې وایی پښتو له اصله، غالباً، یوه دساکا لهجه ده. دی خبرې ته دوام ورکوي او وایي البته ددې امکان نشته چې سړی دې ددغو دوو ژبو ډیرې نږدې اړیکی تثبیت کړي. (۳۲) د مارگنسترن خبره ځینې نور مؤلفین هم، اساساً، تائیدوي. (۳۳)

که سړی د مارگنسترن نظریه ومني او پښتو دساکا یوه لهجه گڼي، نو معنا به یې داوي چې پښتو لږترلږه دوه زره کاله پخوا معموله وه. ځکه دساکانو مشران له میلاد نه تخمین سل کاله دمخه یعنې د (۹۷ ق.م.) په شاوخوا کې، په نننی پښتونخوا کې مسلط شول او په پنځم میلادي کال کې یې سلطه پای ته ورسېده او پدې پسې یې ژبه هم لادرکه شوه.

اوس سوال دادی چې پښتو او ساکاخو، اساساً دایرانی ژبو په شرقی ډله پورې مربوطې ژبې دي، نو پښتو دا دومره قوي دهندي ژبو خصوصیات له کومه کړل؟ داسوال دوه احتمالی ځوابونه لرلی شي. یو داچې پښتو له اصله یوه ایرانی ژبه وه او دهندي ژبو ډېر زیات عناصر، لکه څنگه چې ډار مستېمر او نور وایی، وروسته ور داخل شوي دي. بل داچې پښتو له اول سرنه داسې یوه ژبه وه چې هم یې دهندي ژبو خصوصیات لرل او هم دایرانی ژبو. راځئ چې لومړی دا اول احتمال وڅېړو.

دیوه قوم ژبې ته دیوه بل قوم د ژبې په ډېره وسیعه پیمانه خصوصیات، معمولاً، هغه وخت ور داخلېدلی شي چې لومړی قوم د دوهم قوم تر ډېرې قوي او اوږدې سیاسي او ثقافتي سلطې لاندې راغلی وي. خو تاریخ شاهد دی چې د پښتنو ملک په اسلامي عصر کې هیڅکله هم د هندوستان تر دغه راز سلطې لاندې نه دی راغلی، بلکه پدې دوره کې ډېر ځله هندوستان د افغانانو او پښتنو تر سیاسي سلطې لاندې راغلی او اساساً همدا کار په هند کې د اسلام او اسلامي ثقافت د خپرېدو سبب ګرځېدلی دی. اما له اسلام نه وړاندې داسې یوه دوره تېره شوې چې په هغې کې د پښتنو ملک د هندوستان تر یوې قوي او طولاني سیاسي او ثقافتي سلطې لاندې راغلی و. دا دوره د موریا د کورنۍ دواکدارۍ عصر دی چې د چندراګوپتا دواکدارۍ له سرنه (۳۲۳ ق.م.) پیل شوې او د آشوکا په مرګ (۲۲۷ ق.م.) پای ته رسېدلې ده او نږدې سل کاله یې دوام کړی دی. په واقعیت کې همدا یوازینۍ دوره ده چې کېدی شي پښتو ته د هندي ژبو خصوصیات په دومره وسعت او قوت ور ننوتي وي او که داخبره داسې وي نو پښتو به لږ تر لږه یوه دوه نیم زره کلنه او حتی تر هغه نه هم زړه ژبه وي. اما کله که سړی هغه اول احتمال ومني او داسې وګڼي چې په پښتو کې د هندي او ایراني ژبو خصوصیات ان د اول سرنه موجود وو، هلته نو بیا د ترومپ نظریه تقویه کېږي او پښتو د هندي او ایراني ژبو ترمنځ یوه ډېره لرغونې د اتصال کړۍ یا په بل عبارت د دغو دوو کورنیو دیو شمېر ژبو د انشعاب منشأ ګرځي.

**د دوهم فصل یادداشتونه:**

۱) راورټي، هنري، پښتو ګرامر، مخ ۱۷.

۲) تذکرة الملوک د پښتنو تاریخ دی او راورټی د خپل گرامر په مقدمه کې معرفی کړی دی.
۳) راورټی، پښتو گرامر، مخ ۸.
٤) راورټی، پښتو د کشنري، مقدمه، مخ ۱۲.
۵) همدا اثر، همدا مخ.
٦) راورټی، پښتو گرامر، مقدمه، مخ ۲۲-۲۳.
۷) همدا اثر، مخ ٤.
۸) جونز ویلیم، آسیایی مطالعات، ټوک ۲، مخ ۱۷٦.
۹) راورټی، پښتو گرامر، مقدمه، مخ ۱۷.
۱۰) الفنستن، منستوارت، د کابل سلطنت، مخ ۱۹۰-۱۹۱.
۱۱) ملکم، جان، د فارس تاریخ، ټوک ۲، مخ ۵۹۷.
۱۲) ډورن، برنارد، د افغانانو تاریخ، یادداشتونه، مخ ٦۵.
۱۳) ډورن، پښتو منتخبات، مقدمه، مخ ۲.
۱٤) لونتال، ایسیدور، د بنگال د آسیایی ټولنې مجله، ټوک ۲۹، کال ۱۸٦۰ م. مخ ۳۲۵
۱۵) راورټی، پښتو گرامر، مقدمه، مخ ۱۷.
۱٦) لوونتال، مخکې یاده شوې خپرونه، مخ ۳۲۵.
۱۷) ډورن، پښتو منتخبات، مقدمه، مخ ۲.
۱۸) لیچ رابرت، د بنگال د آسیایی ټولنې مجله، ټوک ۸، مخ ۱، کال ۱۸۳۸.
۱۹) هورنل، رو دولف د گادي ژبو مقایسوی گرامر، مقدمه، مخ ۳۳.

۲۰ ) همدا اثر ، مقدمه، مخ ۳٤

۲۱ ) گریرسن، جورج، دهند دژبو سروې، ټوک ۱۰ ، مخ ۹.

۲۲ ) ډېور شیلی، دمقایسوی فلالوجی اجمال، مخ ۲۹۹.

۲۳ ) میولرماکس، په شرق کې دجګړې دمرکز ژبې، مخ ۳۲.

۲٤ ) گریرسن، جورج، دهند دژبو سروې، ټوک ۱۰ ، مخ ۹.

۲٥ ) لوونتال، مخکې یاده شوې خپرونه، مخ ۳۲٥.

۲٦ ) ټرومپ، ارنست، پښتو گرامر ، مقدمه، مخ ۱۲.

۲۷ ) راورټی، پښتو گرامر ، مقدمه، مخ ۱۸.

۲۸ ) شیلی ډېور ، مخکې یاد شوی اثر ، مخ ۲۲۹.

۲۹ ) ډورن، دافغانو تاریخ، یادداشتونه، مخ ۷۲ (انگریزی)

۳۰ ) ملکم، جان، دفارس تاریخ، ټوک ۱ ، مخ ٥۹۷.

۳۱ ) گریرسن، دهند دژبو سروې، ټوک ۱۰ ، مخ ۹.

۳۲ ) مارگنسټرن، جورج، اسلامی دایرة المعارف، ټوک ۱ ، مخ ۲۲۰

۳۳ ) اولاف کرو ، دی پټانز، مخ ٦٦-٦۸.

# دریم فصل

## پښتون - افغان: تاریخي سابقه او رېښه

په لرغونو شرقي آثارو کې «پښتون» معمولاً «دافغان» په نامه یاد شوی دی، خو یو شمېر غربي پوهان په دې عقیده دي چې د پښتون دکلمې سابقه تر افغان نه اوږده ده. او څه باندې څلور سوه کاله پخوا له میلاده دیونان ستر مؤرخ هېرودوتس (٤٨٦-٤٢٦ ق م) په خپل تاریخ کې پښتانه د پختویس یا پکتویس په بڼه ذکر کړي دي. دغه راز دوی وایي چې د پښتنو دملک یا پښتونخوا نوم هم همدومره زوړ دی او هېرودوتس په خپل همدې اثر کې د پکتیکا یا پکتویک په شکل یاد کړی دی. ددې پوهانو استناد، اکثره دهیرودوتس د تاریخ پدا لاندې عباراتو شوی دی:

«داریوش دوه تنه ددې خبرې دمعلومولو دپاره وګومارل چې اباسیند چېرته په سمندر ور ګډېږي. دغو دوو تنو خپل کار دکسپتیروس له ښاره اودپکتیکا له هبواده شروع کړ» (١)

«نور هنديان هم شته چې د کسپتيروس له ښار او د پکتيکا له هېواد سره ګډ سرحد لري، [او] د نورو هنديانو شمال ته ميشته دي. » (۲)

پختويس پوستينونه اغوستي وو او وطني لښندی او توري يې ګرځولې (۳) هنري بيلو، هنری لوونتال، اولاف کرو، او دلنګوستمک سروې آف انډيا مولف جورج ګريرسن دهېردوتس په پورته عباراتو کې د «پکتيکا» او «پختويس» الفاظ په ترتيب د ننني پښتونخوا او پښتون د کلمو معادل ګڼي (٤).

جورج ګريرسن د پښتون کلمه د آريايانو د زاړه کتاب، ريګوېدا، د پکتاس. له کلمې سره هم مقايسه کوي او ليکي چې دا دوه کلمې په ډېر غالب ګومان سره يوشی دي. (٥)

همدا پوهان دهيردوتس «اپاروتی» له پښتنو «اپرېدو» سره يوشی ګڼي (٦) او معروف ناروېژی ژبپوه مارګنستمرن، هم وايي چې په صوتي لحاظ دا ممکنه ده چې «اپاروتي» او «اپريدی» سره يو شی وي (۷).

کرو لکه يو شمېر نورو پوهانو غوندې کسپتوروس يا کسپتيروس، چې دهېردوتس په پورته عباراتو کې د پکتيکا له هېواد سره يو ځای د يو ښار په توګه ياد شوی دی، له ښايسته اوږده بحث نه وروسته پېښور بولي او دا ددې خبرې يو بل دليل ګڼي چې دهېردوتس پکتويک يا پکتيکا هرو مرو پښتونخوا ده. (۸)

ځينې پوهان، لکه مارګنستمرن بيا دا نظريه ردوي چې دهيردوتس «پکتويس» ننني پښتون دی. دی ليکي: «لېس او له هغه نه را وروسته نورو [پوهانو] پښتون دهيردوتس پکتويس بللی دی او دافريدو نوم يې د

[هیر دوتس] له اپاروتي سره معادل گڼلی دی.. دا وروستی خبره کیدی شي چې رښتیا وي، خو په هیڅ صورت یقیني نه ده. مګر لومړی خبره باید په فونالوجیکی او نورو دلایلو رد شي (۹)

(مور د مارګنستمرن د دې خبرې او ځینو نورو کمزورو تذکراتو په باره کې د همدې فصل په پای کې یوه یادونه کې په یو څه تفصیل غږېدلی یو او د پښتنو د تاریخي مطالعې د ځینو تکو د پوره وضاحت په خاطر په دې ارزي چې لوستونکی یې یو وار له نظره تېر کړي).

کوم مطالب چې تر دې ځایه په ډېر لنډ ډول یاد شول، له هغو نه دا څرګنده شوه چې بو شمېر څېړونکی او معروف پوهان د هېرودوتس د پکتویک او پکتویس الفاظ له پښتونخوا او پښتون سره یوشی بولي او وایی چې دا دوه نومونه تخمین دوه نیم زره کاله پخوا په لرغونو یوناني آثارو کې یاد شوي دي.

اما د «افغان» دلفظ په باره کې د یوشمېر محققینو عقیده داده چې دا کلمه تر ټولو د مخه د ایران د نقش رستم په هغې کتیبې کې راغلې ده چې په درې یمه میلادي پېړۍ کې د ساسانیانو دیوه واکدار، لومړي شاه پور، په هدایت په پارتی او یونانی ژبو لیکل شوې ده.

«شپرنګ لن» په خپل هغه مفصل مضمون کې چې عنوان یې لومړنی ستر شاهپور د زردشت پر کعبه باندې دی، د دغې کتیبې د تشریحاتو په ضمن کې یو ځای لیکي چې دی د دې کتیبې د «ابګان» یا «اوګان» کلمې ته د معاصر «افغان» له نامه نه بهتر معادل لفظ نه شي پیدا کولی. (۱۰)

اولاف کرو وایی د دې دوو کلمو د ارتباط ملاتړ دا حقیقت هم کوي چې د شاهنشاه شاهپور ډېر ملازمان هرو مرو هغه خلک وو چې د ایران ختیځ ته

پرتوسیمونه یې استخدام کړی وو. کرو همدغه راز وایي چې د ساسانیانو یو امپراتور، دریم شاهپور، هم د «اپاکان» په نامه چې «ابگان» ته ښه ورته کلمه ده، یاد شوی ؤ. کرو په پای کې وایي په «افغان» باندې د «ابگان» او «اپاکان» بدلېدل یو عادي امر دی او دا تکی سړی دې ته رابولي چې د درنو افغانانو اسلاف په همدا ساسانیانو او دهغوی په مشرانو کې ولټوي. (۱۱)

مګر ځینې نور محققین لکه ورتن ګریګورین بیا د نقش رستم د «ابګان» او «افغان» د کلمو ارتباط او یووالي ته د شک په نظر ګوري او وایي چې سړی باید د دغو کلمو په لفظي ورته والي باندې و نه غولېږي. ځکه دی وایي د پنځمې میلادي پېړۍ په ارمني آثارو کې د آذربایجان لرغوني اوسېدونکي په پرله پسې ډول همدې ته ورته نومونو باندې یاد شوي دي. (۱۲)

اما باید وویل شي چې که د نقش رستم په کتیبه کې د «ابګان» کلمه ارمنیانو ته راجع وي نو باید چې د «الوان» یا «اغبان» یا «اغوان» په شکل ثبت شوي وي نه دا چې د «ابګان» یا «اوګان» په شکل. ځکه کوم غربي مؤلفین لکه کروسنسکي، بیلو او نور چې د افغانانو او ارمنیانو په قومي ارتباط ډېر ټینګار کوي او وایي چې د دې لومړي سرکې ارمنیان د «البان» په نامه یادېدل. خو وروسته دا کلمه په «اغبان» یا «اغوان» بدله شوه.

کروسنسکي پدې ارتباط لیکي: «اغوانان اصلاً د شېروان [ اویا هغه] ولایت وو چې په قدیم کې د سترې البانیا په نامه یادېده..... [ د اغوانانو] نوم خپله د دې ښکارندوی دی چې دوی اصلاً د البانیا دي. ځکه په الباني

ژبه کې زموږ د لام توری د (غ) په توري بدلېږي. او زموږ (ب) د (و) په کانسوننټ بدلېږي او پدې ډول د البان له کلمې نه اغوان جوړ شوی دی.»(۱۳)

بیلو هم داخبره کوي او وایي د «اغوان» نوم اصلاً لرغونو رومیانو په ارمنیانو ایښی دی. دی وایي څرنګه چې ارمنیان د قفقاز په غرنۍ سیمه کې اوسېدل او په لاتیني کې «غره» ته «البه» ویل کېږي نو رومیانو د ارمنیانو وطن د «البانیا» یعنی غرنی ملک په نامه یاد کړ او خپله ارمنیان یې «البان» یا «الوان» یعنی د غرني ملک اوسېدونکی وبلل. بیلو وایي چې همدغه «البان» بیا په «اغوان» بدل شو. (۱٤)

نو که د نقش رستم دابګان کلمه د آذربایجان لرغونو اوسېدونکو ته راجع وي باید چې د البان، اغبان یا اغوان په بڼه لیکل شوې وي نه دا چې دابګان یا اوګان په بڼه.

ځینې وتلي پوهان د جورج مارګنسترن په شمول، بیا پدې عقیده دي چې د «افغان» نوم د لومړي ځل د پاره یوه لرغوني هندي منجم «وراهه میهیرا» د «اوګانه» په شکل ذکر کړی دی (۱٥)

دا منجم په خپل هغه اثر کې چې د شپږمې میلادي پېړۍ په اوایلو کې یې تألیف کړی او «براټ-سنهیتا» نومېږي، یو ځای لیکي:

« دا لاندې دلکې لرونکي ستوري په قلمرو کې شامل دي: غرني سنګرونه، پهلویان، څویتان، هونان، کولان، افغانان..... او غیر عادل او جاه طلبه خلک.» (۱٦)

(دلته داخبره د یادونې وړده چې «اچ. کرن» چې «براټ-سنهیتا» یې ان په

کال ۱۸۶۹ کې په انګرېزي ترجمه کړې ده، د «اوګانه» لفظ د «افغان» په شکل لیکلی دی او داددې معنا لري چې کرن بېخي متیقن دی چې دوراهه میهیرا داوګانه لفظ او د افغان نوم بېخي سره یو شی دي. )

جورج ګریرسن هم وایي چې دوراهه میهیرا داوګانه لفظ په زیاتره اطمینان دافغان له کلمې سره یو شی ګڼل شوی دي. (۱۷)

ځینې غربي محققین وایي چې یوه چیني زائر هم دخپل هغه سفر په خاطراتو کې د «افغان» یادونه کړې چې داومې میلادي پېړۍ په اوله نیمایي کې یې کړې دی.

الګزانډر کننګهم د هند لرغوني جغرافیه کې «داوپوکین یا افغان» تر عنوان لاندې لیکي: «چیني زائر هون څانګ او -پو-کین یوازې یو ځل په یوه لنډ عبارت کې ذکر کړی او دهغه موقعیت یې دفلنه [بنو] او غزني تر منځ دبنو شمال غرب او دغزني جنوب غرب ته ښودلی دی. » (۱۸)

کننګهم لږ وروسته بیا لیکي: «زه تقریباً متیقن یم چې دهون څانګ داوپوکین مطلب هرو مرو افغان دی. داو-پو-کین کټ مټ معادل به اوګان وي. ځکه دچیني ژبې په سېلابونو کې دافغان لفظ تردې نه په زیاتر صراحت نه شی ادا کېدلی...... اوکه خبره داسې وی نو داترکومه حده چې، ماته معلومه ده، دافغانانو تر ټولو نه قدیم ذکر دی. » (۱۹)

دکننګهم له یادونو نه وچته ښکاري چې ده ته دانه ده معلومه چې په «براټ-سنهیتا» کې هم داوګانه کلمه راغلې ده. اما کوم معادل لفظ چې دچیني ژبې د «اپوکین» دپاره ښیي هغه د «براټ-سنهیتا» له اوګانه سره تقریباً بیخي مطابقت لري.

د کننگهم له خبرونه دا هم ښکاري چې هون څانگ داو-پو-کین یا افغانه کلمه دهغې په لغوی مفهوم دافغانانو د ملک په معنا استعمال کړې ده او باید وویل شي چې دا کار ډېر راوروسته هم شوی دی.

ازرقی هروی د پنځمې هجری پېړۍ داولې نیمایی شاعر اودسلجوقیانو دکورنۍ مداح په هغې قصیده کې چې د آلپ ارسلان محمد سلجوقی دزوی، طغانشاه (مر گ: ٤٦٥ هجری) په ستاینه کې یې لیکلې ده وایی:

زهری گرسوی افغان شوی ای باد شمال

بازگویی زهری پیش ملک صورت حال (۲۰)

داچې د «افغان» لفظ په لرغونو غیر اسلامی آثارو کې څه وخت او په څه شکل راغلی دی، پدې باره کې قاطع اویقینی حکم، یو څه احتیاط غواړي. خو په اسلامی آثارو کې دانوم ان له قدیم نه په ښخی صریح او متواتر ډول همدا دافغان په بڼه ثبت شوی دی.

څرنگه چې ددې لیکنې په څلورم فصل کې راغلي دي، دافغان نوم لږ تر لږه زرکاله پخوا په همدا نننی شکل په حدود العالم کې ذکر شوی او وروسته له هغه نه اسلامي مؤلفینو په پرله پسې ډول یاد کړی دی. اما د پښتون لفظ په اسلامی آثارو کې ډېر وروسته ثبت شوی دی.

ترکومه حده چې ماته معلومه ده داسلامی دورې پخوانی معلوم اثر چې د پښتون کلمه بیا بیا پکې راغلې ده، هغه داخوند درویزه مخزن الاسلام دی چې د ۱٦۰۳ او ۱٦۱۲ میلادي کلونو ترمنځ لیکل شوی دی. اخوند درویزه یو ځای کله چې دروښان پیر دزوی، جلال الدین په باره کې غږېږي لیکي:

«دغه لا په یې په خوله کړه چې پادشاه د پښتنو یم؛ پښتنو لره به ښه کړم؛ پښتانه را پسې ځئ..... پښتنو ته لې پرې وکړ... پښتون درست پده زبون شه... مغل ګډ په پښتانه شو. د جلال له بده پبله کل پښتون مغل په دار کړ. »(۲۱)

مخزن په پښتو لیکل شوی دی او یقین ته نږدې ګومان دادی چې که د پښتنو په باره کې له مخزن نه وړاندې لیکل شوي آثار په پښتو وي، نو د پښتون کلمه به په هغو کې هم راغلې وي. ځکه خپله پښتانه ځانونه پښتانه بولي. خو خبره داده چې کوم اسلامي آثار چې په نورو ژبو لیکل شوي دي، په هغو کې پښتانه له ډېر قدیم نه «افغانان» بلل شوي دي او په پخوانو اسلامي آثارو کې یې ملک هم، لکه څنګه چې دد لیکنې په اتم فصل کې په تفصیل خبرې پرې شوي دي، د «کشور افغان»، «مرز افغان» «حد افغان» او «افغانستان» په نامه یاد شوی دی.

البته تاریخي شواهد داسې ښیي چې د «افغانستان» غیرپښتانه او سېدونکي هم له ډېر پخوانه دغه ګډ کور ته منسوب او د «افغانانو» په نامه یاد شوي دي.

ځینو مؤرخینو لکه محمود کتبي، برهان الدین میرخواند، عبدالرزاق سمر- قندي او نورو، لکه څنګه چې دد لیکنې په اول فصل کې خبرې پرې شوې دي د څورلسمې او پنځلسمې میلادي پېړۍ د «افغانستان» ترکان او مغل هم بیا بیا افغاني مغل او افغاني ترکان بللي او هزارګان یې هم په مکرر ډول د «افغاني هزاره» په نامه یاد کړي دي.

د سیفي هروي د هرات د تاریخنامې (تالیف ۷۱۸-۷۲۱ هجري) له ځینو عباراتو او بیاناتو نه داسې ښکاري چې د څورلسمې میلادي پېړۍ په اوله

نیمایی کې هم دهغه وخت د «افغانستان» غیر پښتانه اوسېدونکي «افغانان» بلل شوي دي. مثلاً کله چې سیفي دخپل وخت د «افغانستان» دپېښو په باره کې غږېږي د دغه ملک کردان په صراحت دافغانانو جز بولي. دی یو ځای دهغه وخت د «افغانستان» دواکدار، ملک «شاهنشاه»، له خولې لیکي:

«...... افغانان سخت بې پروا، غله، خوني، فتنه انگیز او مېړني خلک دي، په تېره بیا داکردان چې زما په خدمت کې دي او هر یو یې له رستم دستان اوسام نریمان سره د غرې وهي اورا پرزوی یې...... » (۲۲)

په عمومي ډول پښتنو تل ځانونه پښتانه بللي دي او دافغانستان نورو اوسېدونکو او بهرنیو خلکو اکثره دافغانانو په نامه یاد کړي دي. یوازې په پخواني هند کې پښتانه د پټهانانو په نامه هم یاد شوي او ځینو نورو خارجیانو هم کله کله د هندوستانیانو په تقلید پښتانه پټهانان بللي دي.

خپله د پښتنو په اکثره فارسي لیکنو او حتی د پرو پښتو اشعارو کې هم پښتون افغان بلل شوی دی او یو شمېر لیکوالانو او شاعرانو لکه آخوند درویزه او خوشحال خان خټک بیا پښتون او افغان د مترادفو الفاظو په توگه استعمال کړي دي.

دنولسمې پېړۍ له اوایلو نه رادې خواته اکثره غربي لیکوالو او مستشرقینو د «افغان» کلمه په خاصه او قومي معنا د «پښتون» مترادفه بللې ده؛ خو په عامه او سیاسي معنا یې په مکرر او متواتر ډول دافغانستان داتباعو په مفهوم استعمال کړې ده او پدې ډول یې دافغانستان ټول اوسېدونکي، لکه څنگه چې ښايي، افغانان بللي دي.

دافغانستان په سیاسي او فرهنگي حلقو کې هم له ډېر وخت نه رادې خواته دافغان لفظ دافغانستان داوسېدونکي اوتبعه په مفهوم استعمال شوی دی اوپدې وروستیو وختو کې یې دامفهوم ښېخی دعام ذهنیت جز گرځېدلی دی.

**یوه ضروري یادونه:**

مارگنسټرن داسلامي دایرة المعارف په همدې مضمون کې ځینې ښکاره سهوې هم کړي دي اوددې خبرې عمده دلیل هم دوه شیه ښکاري. یو داچې دده د مضمون داصلي نسخې دلیکنې په وخت کې هغه پخواني اسلامي تحریري اسناد چې د پښتنو په تاریخي موجودیت او اجتماعي حالت نسبي رڼا اچولی شي دومره نه وو راسپړل شوي. بل داچې خپله د مارگنسټرن تبحر هم په ژبنیو مطالعاتو کې و اودسیمې د تاریخي مطالعاتو او زړو متونو په ساحه کې یې ډېر کار نه و کړی. ځکه نو داځه عجبه نه ده چې هغه په همدې ځای کې یوه ښکاره اشتباه هم کوي اولیکي چې غزنوي سلطان محمود « په یوه بله موقع کې په پښتنو یرغل وکړ اوسزا یې ورکړه او داخبره بیهقي په ډاگه کړې ده »( اسلامي دایرة المعارف، ټوک ۱ ، مخ ۲۱۷ ) خو حقیقت دادي چې بیهقي په پښتنو باندې دسلطان محمود د حملو په باره کې یوه کلمه هم نه ده ویلې. البته د غزنویانو د عصر یوبل معروف مورخ عتبي، لکه څنگه چې ددې لیکنې په څلورم فصل کې په یوڅه تفصیل خبرې پرې شوي دي. په پښتنو د محمود د یرغل یادونه کړې ده.

مارگنسټرن په همدې لیکنه کې داهم وایي چې دابدالو اصل اونسب مجهول دی، خودغلځو په باره کې دا امکان شته چې دنامه د تسمیې وجهه یې یو

عامیانه روایت وي. (اسلامي دايرة المعارف، توک ۱، مخ ۲۱۷) که څوک دابدالو د اصل او نسب په باره کې پداسې افسانه پسې ګرځي، لکه د غلجو د نامه په باره کې چې جوړه شوې ده، نور خبرو ته هیڅ ځای نه پاتې کېږي. ځکه چې په علمي مطالعاتو کې د غه راز يو بې بنیاده روایت نه د یوې تاریخي حادثې د، رد دلیل کېدلی شي او نه یې د تائید او نه په بحث ارزي. خو څرنګه چې مارګنستېرن يو لوی عالم ؤ او الاف کرو هم د درانو په باره کې همدا خبره کوي، نو باید هرو مرو څه پرې وویل شي.

اولاف کرو هم وايي چې «د درانو اصل او نسب مجهول دی او د ستر شاه عباس تر وخته پورې [د تاریخ] له تیارو نه، نه وو را وتی» (دي پټانز، مخ-۹۰).

دلته، لکه نورو غونډې د کرو استناد هم پدې خبره دی چې بابر په بابر نامه کې داکثرو هغو سیمو د پښتنو قبایلو او قومونو نومونه اخیستی چې یرغلونه یې پرې کړي دي؛ خو دابدالو نوم یې سره له دې چې کندهار یې نیولی دی، نه دی اخیستی. (دي پټانز، مخ ۱۵۵-۱۵٦).

باید وویل شي چې په کندهار باندې دبابر د حملې او د کندهار د ښار د نیولو په وخت کې د کندهار واکداران دوه تنه مغولي ورونه شاه شجاع ارغون، چې بابر یې شاه بېګ بولي او د هغه کشر ورور محمد مقیم دی. ځکه نو د بابر زیاتره یادونې د همدې ورونو او د هغوی د مغلو حواریونو او نوکرانو او افسرانو په باره کې دي او د کندهار له پښتنو سره یې نه کوم ټکر کړی او نه په کوم بل لحاظ د دغې سیمې له پښتنو سره محشور شوی دی. ځکه نو بابر په کندهار کې نه یوازې د درانو یادونه نه کوي، بلکه بېخي د پښتون نوم نه

اخلی. که بابر د درانو پښتنو یادونه نه کوي داځه عجیبه خبره نه ده.
بابر د نورو پښتني اقوامو او مشرانو نومونه، معمولاً، هغه وخت اخیستي چې یاد خپلو عملیاتو او چور او چپاو په وخت کې ور سره مخامخ او یاد کوم بل ضرورت پر بنا ور سره محشور شوی دی.
علاوه پر دې که په بابر نامه کې د ابدالو نوم نه دی راغلی نو په آئین اکبري کې خوچې له بابر نامې نه یو څو لسیزې وروسته لیکل شوی او د هند د مغولو د عصر یو تر ټولو نه پخوانی او ډېر مستند اثر دی، په واضح ډول ذکر شوی دی.
کله چې ابو الفضل د کندهار په شرقي مضافاتو غږېږي دوه واری «ابدالي قبیله» یادوي او هغه مالیه ښیي چې ان د صفویانو د دولت په اول سر کې او یا خپله د مؤلف په قول د قزلباشانو په وخت کې پرې وضع شوې وه. (ابو الفضل، آئین اکبری، ټوک ۲، مخ ۴۰۳).
علاوه پر دې کله که په پښتني قبایلو باندې د نسب د شجرې په اساس بحث کېږي، هلته نو بیا دا خبره چې د درانو اصل او نسب مبهم دی، په یوه بل دلیل هم بې ځایه ښکاري. د نسب د شجرې په اساس ابدالیان د ترینو یوه پښه ده او ترین هغه پښتني قبیله ده چې له بابر نه ډېر وړاندې په تحریري اسنادو کې یاده شوې ده. له دغو اسنادو نه یوه هغه کتیبه ده چې نقل یې ماته لوی محقق عبدالحی حبیبي راکړی دی. دا کتیبه په څورلسمه میلادي پېړۍ کې د هغه یوه ماجت په دېوال لیکل شوې ده چې د غازي خان ډېرې په «بارکهان» کې واقع دی. کتیبه په فارسي لیکل شوې او پښتو ترجمه یې داده:

«دادملک پوپاتورترین موسیانی خیل مسجد دفیروز شاه په عهد کې په سنه ۷۷۰ هجری کې ودان شو»

علاوه پردې څنګه چې ددې لیکنې په څلورم فصل کې به ولیدل شی، سیفی هروی په تاریخنامه کې د پښتنو دیوې ډېرې سترې قبیلې یادونه په هغې سیمې کې کوی چې تر اوسه هم «ترین» پکې هست دي. دی لیکی چې ددغی قبیلې دیوه مشر نوم هرمز «تری» و اودسیفی دبحث له قرینې نه ښکاري چې «تري» پرته له «ترین» نه بل څه نه شی کېدلی.

کله چې اولاف کرو خپله هم دیوسفزو په هغه مهاجرت غږېږي، چې دتواریخ حافظ رحمت خانی دمتن له مطالعې نه یې وخت دپنځلسمی پېړۍ او اخر ښکاری، وایی چې دغه مهال ابدالی (درانی) ترین ګڼل کېدل (دي پټانز مخ ۱۷۷-۱۷۸).

ددې ټولو خبرو په رڼا کې سړی ویلی شی چې ددرانو تاریخی هویت دومره په تیاره کې نه دی پټ، لکه مارګنسټرن او کرو چې وایی.

مارګنسټرن په اسلامی دایرة المعارف کې یوه بله مغشوشه خبره هم کوي او وایی دانه ده معلومه چې په پخوا زمانه کې افغانان دسلیمان له غره نه دغرب خواته څومره وړاندې خپاره وو، خودی وایی په پخوانو آثارو کې هیڅ داسې څه نه دی ویل شوی چې له غزنی نه دغرب پلوته دې دپښتنو سکونت وښیي. (اسلامی دایرة المعارف، توک ۱، مخ ۴۱۲) دمارګنسټرن دا خبره هم له هغه څه سره اړخ نه لګوي چې په تاریخی اسنادو کې راغلي دي. په څلورم فصل کې به وښودل شی چې ډېرو اسلامی آثارو په هغې ساحې کې چې له هرات نه دا باسیند تر غاړو پورې امتداد لري، له قدیم نه، پښتانه

میشته بللی اودغې سیمې مختلفې برخې یې په یوه یا بل نامه د پښتنو دنفوس داکثریت اود سکونت دقدامت له امله همدوی ته منسوبې کړې دي. همدې آثارو، لکه څنګه چې په اتم فصل کې مفصل بحث پرې شوی دی، دخورلسمې پېړۍ په اوله نیمایی کې یوه لویه سیمه د «افغانستان» په نامه یاده کړې ده.

**ددرېیم فصل یاد داشتونه:**

۱) لوونتال، ایسیدور، دبنګال د آسیایی ټولنې مجله، ټوک ۲۹، مخ ۳۳۱.

۲) همدا اثر، همدامخ.

۳) همدااثر، همدامخ.

٤) بیلو، هنری، دافغانستان دقوم پېژندنې مطالعه، مخ ۱۹۸-۲۰٤؛ لوونتال، دبنګال دآسیایی ټولنې مجله، مخ ۳۳۱؛ ګریرسن جورج، دهند دژبو سروې، ټوک ۱، مخ ۱۰٦؛ همدا اثر، ټوک ۱۰، مخ ٥؛ کرو، اولاف، دی پټانز، مخ ۳٥-٤۱.

٥) ګریرسن، جورج، دهند دژبو سروې، ټوک ۱۰، مخ ٥.

٦) بیلو، دافغانستان طوایف، مخ ۷۷، ۱۹۷٦؛ دقوم پېژندنې مطالعه، مخ ۸۹-۹۱؛ دهند دژبو سروې، ټوک ۱، مخ ۱۰٦؛ همدا اثر ټوک ۱۰، مخ ٥؛ دی پټانز، مخ ۳۷.

۷) مارګنستیرن، جورج، اسلامی دایرة المعارف، ټوک ۱، مخ ۲۱۷.

۸) کرو، دي پټانز، مخ ۳۲-۳۳.

۹) مارګنستیرن، اسلامی دایرة المعارف، ټوک ۱، مخ ۲۱۷.

۱۰) سپرنگ لنگ، ام، دامریکا دسامی ژبو او ادبیاتو مجله، ټوک ۱۰۷،
مخ ۴۱۲، کال ۱۹۴۰.
۱۱) کرو، دي پټانز، مخ ۷۹ - ۸۰.
۱۲) گریگورین، ورتن، دمعاصر افغانستان ظهور، دمخ ۲۹ حاشیه.
۱۳) دوسغ سیو ، دفارس دانقلابونو تاریخ، ټوک ۱، مخ ۱۳۷ - ۱۳۹.
۱۴) بیلو، دافغانستان دقوم پېژندنې مطالعه، مخ ۲۰۵.
۱۵) اسلامی دایرة المعارف، ټوک ۱، مخ ۲۱۷.
۱۶) وراهه میهیرا، دي برات -سنهیتا، مخ ۱۱۰، نمبر ۳۸ - ۳۹.
۱۷) دهند دژبو سروې، ټوک ۱۰، مخ ۵.
۱۸) کننگهم، جورج، دلرغونی هند جغرافیه، مخ ۱۰۰.
۱۹) همدا اثر، مخ ۱۰۳.
۲۰) هروی، ازرقی، دیوان، مخ ۵۱.
۲۱) درویزه، اخوند، مخزن الاسلام، مخ ۱۳۵.
۲۲) هروی، سیفی، دهرات تاریخ نامه، مخ ۱۹۹

# څلورم فصل

# پښتانه پخوا چېرې اوسېدل؟

پخواني ليکل شوي اسلامي آثار او اسناد له لسمې نه تر شپاړسمې ميلادي پېړۍ پورې، د هغې سيمې په بېلو بېلو برخو کې د پښتنو د هستوګنې يادونه کوي چې له آمو نه تر اټکه، له هراته تر کشميره، له کرمانه تر ملتانه او له چترال نه د عربو د بحيرې تر حدودو پورې امتداد لري. (۱) خو لومړی موږ په هغو سيمو کې د پښتنو په باره کې يادونې را اخلو چې د غزنی، زابل، کابل، پکتيا او ننګرهار له ناوو او شاو خوا سيمونه تر اباسينده پورې امتداد لري.

**پښتانه په پکتيا او شاوخوا سيمو کې:**

حدود العالم من المشرق الی المغرب چې په کال ۳۷۲ هجري کې په فارسی ليکل شوی او د مؤلف نوم يې نه دی معلوم، د اسلامی دورې

لومړنی معلوم اثر دی چې پدې ځمکو کې دافغانانو دسکونت یادونه کوي. دا لرغونی اثر دګردېز له شرحې نه وروسته، سمدستي پکتیا دسیمې یوکلي داسې معرفي کوي:

«سول (۲) په غره کې یو آباد کلی دی او افغانان پکې هست دي. له دې ځایه تر حسینانه پورې لار ددوو غرونو ترمنځ پرته ده... دا لار له مخاطرې او بیم نه ډکه ده.» (۳)

یوبل ډېر پخوانی اثر چې په همدې حدودو، غالباً، دپکتیا اوپکتیکا په سمو کې، پښتانه میشته ګڼي هغه دعبدالجبار عتبی (مرګ-۴۲۷هجری) تاریخ یمیني دی. عتبي چې دسبکتګین اوسلطان محمود دواکدارۍ وقایع یې ترکال ۴۱۲ هجري پورې ثبت کړي دي، یو ځای داسې لیکي:

«څنګه چې داورې ګرمی تېره شوه، سلطان دهغو افغاني طایفو دټکولو لپاره ور وووت چې په لوړو درو او خپلو غرنیو ټاټوبو کې اوسېدل او کله چې سلطان [محمود] دقنوج غزاته وتی وُ، دهغه دملک په لمنو کې یې نارامي پیدا کړې وه. ده [سلطان] وغوښتل چې په هغو [افغانانو] یرغل وکړي، مېنه یې ور ورانه کړي او له شرنه یې ځان خلاص کړي. له غزني نه پدې نامه ووت چې ګوندې کومه بله خواځي. خو یو ناڅاپه، په هغوی [افغانانو] ور ولوېده؛ توره یې پرې را وابسته او یو عالم یې ورنه تباه کړل.» (۴)

دامطلب وروسته نورو مؤرخینو هم ثبت کړی دی. رشید الدین فضل الله

چې جامع التواریخ یې په کال ۷۰٤ هجری کې لیکلی دی او حمد الله قزوینی، چې تاریخ گزیده یې په کال ۷۳۰ هجری کې تألیف کړی دی، په پښتنو باندې دغزنوی سلطان محمود دا حمله تقریباً دعتبی په عباراتو بیان کړې ده. (٥)

ابن اثیر (٥٥٥ - ٦٣٠ هجری) په خپل معروف تاریخ «کامل» کې دکال ٤٠٩ هجري دپېښو دبیان په ترڅ کې دهغو پښتنو یادونه کوي چې له غزنی نه بهر دهندوستان دلارې په شاو خواکې پراته دي او وایی چې غزنوی سلطان محمود یرغل پرې وکړ او ډېر یې ورنه ووژل. دی لیکی:

« په همدې کال یمین الدوله هند ته دغزا دپاره روان شو. خپل پوځ یې مجهز او تیار کړ...... له غزنی نه ووت او لومړی یې په لاره کې پدې پیل وکړ چې دافغانانو چاره وکړي. افغانان کافران او وران کاران وو او دخپلو مېنو او غزنی ترمنځ دښتې او لارې یې وهلې. یمین الدوله ور وخوځېد؛ آبادۍ یې ور ورانې کړې او مالونه یې ورنه ولجه کړل. [دافغانانو] ډېر زیات مړه او اسیر شول او مسلمانانو یې ډېر مالونه په ولجه ورنه یووړل» (٦).

بلخي عنصری (مرگ: ٤٣١) هم چې دسلطان محمود ددربار ملک الشعراء ؤ، په پښتنو باندې ددغه سلطان دیوه بل یرغل دبیان په ترڅ کې دپښتنو یادونه کوي او وایی:

شه گیتی زغزنین تاختن برد (۷)

بر افغانان و بر گبران کهبر (۸)

دفارسي ژبې ځيني نور شاعران هم دغزنويانو په عصر کې دپښتنو اوده‌غو دهېواد يادونه کوي او وايي چې غزنوي افسرانو يرغلونه پرې وکړل. مثلاً دغزنويانو دعصر ستر قصيده ليکونکی، مسعود سعد سلمان (۴۴۸-۵۱۵) دغزنويانو دعصر ديوه ستر پوځی سالار «علی خاص» په ستاينه کې وايي:

شکسته گشت به تيغ تو لشکر کفار

خراب شد به سپاه تو کشور افغان(۹)

په يوه بله قصيده کې وايی:

گهی شتابان اندر قفای افغانان

چو اژدهای دژ آگه ميان غارتويی (۱۰)

دمسعود سعد دژوند ښځی زياته برخه ددوو غزنوي سلطانانو له عصر سره مصادفه ده. يو يې ابراهيم بن مسعود دی چې له کال ۴۵۰ نه تر کال ۴۹۲ هجري پورې يې سلطنت کړی او بل دهغه زوی سلطان مسعود دی چې له کال ۴۹۲ نه تر کال ۵۰۹ هجري پورې يې واکداری کړې ده. (۱۱) نود مسعود سعد ممدوح «علی خاص» هم بايد دهمدې عصر يو پوځی سالار وي.

کله چې ابن اثير دکال ۵۰۸ هجري پېښې ليکي او هغه جگړې بيانوي چې دسلطان محمود کړوسيانو، ارسلانشاه بن ابراهيم او بهرام شاه بن ابراهيم دسياسی قدرت په سر له يوبل سره کړې دي، يو ځل بيا دپښتنو او دهغو دغرونو او ښتارونو يادونه کوي.

ابن اثیر لیکی کله چې ارسلانشاه بیا دغزنی دتخت دنیولو په نیت غزني ته ولاړ، هلته یوه میاشت پاتې شو او دخپل ورور بهرامشاه په لټه کې ؤ. خو کله چې خبر شو چې دسلطان سنجر پوځ دبهرامشاه ملاتړ ته ور روان دی، نو ارسلانشاه «تېښته له جنګ نه غوره وبلله. ځکه هغه پوهېده چې عسکر یې له سلطان سنجر نه ډېر زیات ډارېږي. داوغانانو (۱۲) غرونو ته ولاړ او بهرامشاه اودسنجر عسکرو تعقیب کړ اوپه کومو ښارونو کې چې هغه [ارسلانشاه] اوسېده ټول یې وران کړل اودهر ښار خلکو ته یې پیغام واستاو او تهدید یې کړل.» (۱۳)

ابن اثیر وروسته په همدې سیمه کې دیوه خاص ښار، کرمان [کړمان] (۱٤) نوم اخلی او اوسېدونکی یې افغانان بولي. دی دکال ۵٤۷ هجري دپېښو دبیان په ترڅ کې دسلطان سنجر او غوریانو تر عنوان لاندې لیکي:

«علاء الدین حسین ...... دغزنی...... په ښار حمله وکړه. پدې وخت کې بهرامشاه بن ابراهیم بن مسعود بن محمود بن سبکتگین په غزنی کې واکواري کوله. ده [بهرامشاه] ونه شو کړی چې له علاء الدین سره ډغرې ووهي اوله غزني نه دکرمان ښار ته چې دغزنی او هند تر منځ واقع دی وتښتېد. ددغه ښار اوسېدونکی یو قوم دی چې افغانان نومېږي. دا ښار هغه دکرمان په نامه معروف ولایت نه دی.» (۱۵)

وروسته محمد قاسم په تاریخ فرشته کې ددغو پېښو په ارتباط لیکي:

«بهرامشاه ټینګار ونه شو کړی. له غزني نه کرمان ته ولاړ. داکرمان

هغه مشهور کرمان نه دی، بلکه د غزنین، هند او افغان ترمنځ یو ښار دی.» (۱٦)

محمد قاسم بیا لیکي:

«بهرامشاه ...... د بامیانو کلا ته ننووت او په پای کې د سلطان سنجر په زور او مرسته بیا غزنی ته راغی، ارسلانشاه افغانانو ته ور وتښتېد. د سلطان سنجر لښکر ورپسې ورغی و یې نیو. بهرامشاه ته یې په لاس ورکړ او هغه و واژه» (۱۷)

فرشته د یوې بلې پېښې د بیان په ضمن کې هم داسې ښیي چې په کرمان او شاوخواسیمو کې پښتانه هست دی، دی غزنی ته د سلطان شهاب ـ الدین د جنازې د وړلو د پېښې د بیان په ترځ کې لیکي چې «خواجه مؤید الملک د غور امیرانو ته ورغی او په کراره او د لاپلو یې داورته څرګنده کړه چې باید د سیوران (۱۸) او کرمان له لارې غزنی ته ولاړ شي. [په لاره کې] د افغانی قبایلو او تراهیه کفارو له لاسه ډېر زیات وتزنېد. کله چې کرمان ته ورسېد تاج الدین یلدز د سلطان د تابوت مخې ته ور ووت.» (۱۹)

د تونس معروف سیاح ابن بطوطه هم په خپله سفرنامه کې د پکتیا په سیمه کې د پښتنو یادونه کوي. دی کله چې په ۱۳۳۳ میلادي کال کې له کابل نه خوځیږي او هندوستان ته د تګ په لاره کې پکتیا ته رسیږي، هلته د کرماش (۲۰) په دره کې له پښتنو سره مخامخ کېږي. ابن بطوطه خپله دا پېښه داسې بیان کړې ده:

«له کابل نه کرماش ته ولاړو. دا ددوو غرونو ترمنځ یوه کلا ده او هلته افغانان لاري وهي. له دې سیمې نه په جنګ او ګرېز تېر شوو. افغانان دغره په لمن کې وو او زموږ دغشو دګزارونو له امله رانه ولاړل. موږ تخمین څلور زره اسونه لرل. څرنګه چې زه له اوښانو سره تلم نو ځکه له کاروان نه لرې پاتې وم. یو شمېر کاروانیان چې یو تعداد افغانان هم پکې وو له ما سره یو ځای تلل.» (۲۱)

یو بل معتبر پخوانی اثر چې پدې سیمو کې د پښتنو دسکونت یادونه کوي هغه ظفرنامه ده چې مولانا شرف الدین یزدي د ګوډ تیمور دجګړو او فتوحاتو په باره کې په کال ۸۲۸ هجري کې لیکلې ده. په ظفر نامه کې د تیمور او دهغه دجرنیلانو دهغو یرغلونو په باره کې هم یو لړ مطالب ثبت شوي دي چې په کال ۸۰۰ او ۸۰۱ هجري کې یې، دپکتیا، بنو او کوهاټ دسیمو په پښتنو کړي دي.

څرنګه چې دامطالب د پښتنی ټولنې دتاریخی مطالعې په برخه کې د پوره اعتناوړ دي نوله دې امله یې موږ ټول په یوڅه اختصار خو په داسې شکل دلته را اخیستي دي چې دمفهوم په لحاظ څه کمی پکې رانه شي. (۲۲)

یزدي وایی چې پدې سیمو کې د تیمور اقدامات او عملیات وروسته له هغې لیدنې کتنې نه پیل شول چې په کابل کې د پکتیا د پښتنو یوه قومی مشر ور سره وکړه. مولانا لیکی کله چې تیمور هندوستان ته د تګ په لاره کې کابل ته ورسېد، هلته دافغانانو یو مشر، ملک محمد، دخپلو

رعایاوو په ملگرتیا ورغی او عرض یې ورته وکړ چې د کرکس (۲۳) دقبیلې مشر موسی اوغانی دده وروړ، لشکرشاه اوغانی چې دامیر تیمور له بنده گانو څخه ؤ وژلی دی؛ د ایریاب (۲٤) کلا یې ورانه کړې ده او د دوی اسباب او املاک یې په زور ورنه اخیستي دي.

دغه راز ملک محمد تیمور ته وویل چې موسی اوغانی غلاوې کوي او لارې وهي او هیڅوک هم له دغو سیمو نه سلامت نه شي ورنه تېرېدلی.

ملک محمد تیمور ته وویل: «زه د مرگ له ویرې راتښتېدلی او ستا حضور ته راغلی یم» کله چې تیمور د ملک محمد خبرې واورېدې سخت په غوسه شو او ورته یې ویل: «ته ځان چېرته کړه. زه غواړم چې موسی اوغانی راوغواړم. که راغی غچ به دې ترې واخلم او که رانه غی نو تاته به لښکر درکړم چې د خپل وروړ انتقام ترې واخلې.»

تیمور موسی اوغانی ته یدې مفهوم یو فرمان ور ولېږه چې «تا د ایریاب کلا ورانه کړې ده. دا کلا د هند د لارې په سر واقع او ډېره مهمه ده. ته ځان په منډه راورسوه چې هغه ولایت تاته درکړم او کلا بېرته جوړه کړې.»

څنگه چې موسی اوغانی ته فرمان ور ورسېد، په منډه یې ځان تیمور ته ورورساو. تیمور موسی اوغانی ډېر وغتماو او زر دوزي جامې، د زرو ملا وستني او توره او یو زین کړی اس یې له ډېرو نورو سوغاتونو سره ورکړ او ورته ویې ویل: «ولاړ شه او د اریاب کلا بېرته جوړه کړه. کوشش وکړه چې ډېر ژر یې خلاصه کړې.»

تیمور درې زره مېړونه د خپل یوه جرنیل په مشرۍ له موسی اوغاني سره

ملګري کړل چې د کلا په جوړولو کې همکاري ور سره وکړي. موسی اوغانی ایریاب ته ولاړ او د کلا د جوړولو کار يې پیل کړ. مولانا شرف-الدين وايي چې «هره ورځ به له دوو سوونه تر درې سوو پورې مېړونه ډول او سرنی نغمو ته په ډېر جديت د کلا په جوړولو لګياوو».

تیمور د ۸۰۰ هجري کال د ذی الحجې په میاشت کې له کابل نه پکتيا ته ولاړ. څنګه چې ایریاب ته ورسېد خپلو لښکرو او ماهرانو ته يې هم امر وکړ چې د کلا د جوړولو په کار کې برخه واخلی او ډېر ژر يې داسي یوه کلا جوړه کړه چې یو جامع جومات او ډېر دهستوګنې ځایونه او نور واړه جوماتونه او نور ځایونه هم پکې وو.

تیمور خپلو تواچیانو ته ویلی وو چې د موسی اوغانی د هغو اتباعو له جملې نه چې د کلا په جوړولو لګياوو يو هم پرې نږدي چې خپلو ځایونو ته ولاړ شي. د موسی اوغانی مېړونه پدې خبره خبر شوي وو. تیمور یوه ورځ بهر وتلی ؤ او له کلانه راګرځېده. د موسی اوغانی او ه تنه اتباع چې په کلاکې يې کار کاو، دیوې بالاخانې دوره شا ته ولاړ وو. کله چې تیمور د دغه وره مخې ته ورسېد، د کلا له کړکۍ نه یو غشی پرې ورګوزار شو. غشی د تیمور خوا ته ولګېد او اس يې وتړهد. تیمور خپلو پوځیانو ته امر وکړ چې موسی اوغانی او دهغه ټول اتباع چې د کلا په جوړولو کې يې برخه اخيستې وه، ونیسی. هغو اوو تنو چې په تیمور يې دغشې ګوزار کړی و جګړه پیل کړه او څو تنه يې زخمي کړل. د تیمور مېړونو دا اوه تنه ووژل او موسی اوغانی او دهغه دوه سوه اتباع يې ونیول

او ملک محمد اوغانی ته یې په لاس ورکړل. ملک محمد اوغانی ټول ووژل او له ککرونه یې منارونه جوړ کړل. بیا تیمور خپلو مېړونو ته امر وکړ چې د موسی اوغانی په خلکو یرغل وکړي. دوی د موسی اوغانی د ولس ټول نارینه ووژل او ښځې، ماشومان او مالونه او نور څه یې دایریاب په خلکو ووېشل. تیمور ملک محمد د هغه د ورور لشکر شاه اوغانی پر ځای د دغه ولایت والي وټاکه او دایریاب کلایې هم هغه ته ور وسپارله.

تیمور له اریاب نه شلوزان (۲۵) ته ولاړ او هلته یې شهزاده خلیل سلطان ته امر وکړ چې له یو شمېر امراوو سره بانو (۲٦) ته ولاړ شي او دی خپله له څلور زره سپرو سره نغر (۲۷) ته ولاړ. هلته ورته وویل شول چې د پرنیان (۲۸) په نامه یوې قبیلې د ده له اطاعت نه سر غړولی او جنگی مېړونه یې نه دي ورکړي. تیمور ته دا هم وویل شول کوم وخت چې د شاهزاده پیر محمد لښکر له هندوستان نه له ولجو او مریانو سره کابل ته روان وو، د پرنیان د قبیلې مېړونه پرې ور ولوېدل او لښکر یې تالاکړ.

تیمور چې دا خبرې واورېدې سخت په غوسه شو او په همدې ورځ د دې اوغانانو ټکولو ته ور روان شو. درې ورځې وروسته ور ورسېد او جنگی عملیات یې پیل کړل. د پرنیان د قوم ډېر زیات خلک یې ووژل ماشومان یې اسیر کړل؛ اموال او اسباب یې تالا کړل او کورونه یې ور وسوځول. تیمور څه موده نور هم هلته پاتې شو او غوښتل یې چې د پرنیان د قوم

جرړې له ببخه وباسي او ببخې يې تباه کړي. خود پرنيان د قوم يو مشر چې اوبل نومېده تيمور ته په ننواتې ورغی. تيمور نوره تباهي ونه کړه. اوبل يې ډېر ونازاوه او خپله د ۸۰۱ هجري کال د محرم په مياشت کې نغز ته ولاړ. خو دی لا نغز ته نه و رسېدلی چې امير سليمانشاه د کلانيانو (۲۹) اوغانانو په قبيله چې د مولانا شرف الدين په قول «يوه غښتلې، لويه او با ابهته قبيله وه» حمله وکړه. د سليمانشاه پوځ کلانيان سره له دې چې مولانا وايي «تنور او زړور خلک وو» مات کړل. ډېر يې له تېغه تېر کړل؛ نور يې ترې ونيول؛ واړه يې ورنه اسير او کورونه يې ورتالا کړل. تيمور له نغر نه بانو او له بانو نه هندوستان ته ولاړ.

مولانا شرف الدين ليکي چې تيمور له هندوستان نه د بېرته راتګ په وخت کې هم په بانو کې ستون شو او هلته پير علی تاز او امير حسين قوجين او نورو سردارانو چې د تيمور د فرمان په اساس «د اوغانانو د مفاسدو د دفع کولو د پاره په بنو کې پراته وو» يوه ګله اسونه او زرغويي چې د بنو د شاوخوا خلکو نه يې په زور بېولي وو، تيمور ته وروستل. تيمور اسونه خپلو سردارانو ته ور وبښل، خو غويي يې بېرته خاوندانو ته ور کړل.

مولانا وايي چې تيمور له بانو نه نغر ته ولاړ. «محمود برات خواجه او هندوشاه يې کابل ته ولېږل چې د هغه ځای لښکر د افغانانو د شر د دفع کولو د پاره ور ولي.» تيمور خپله د هغې کلا د پراخولو د پاره په نغر کې پاتې شو چې سليمانشاه «د افغانانو د شر د دفع کولو د پاره جوړه کړې

وه. » ددې کار له خلاصېدلو نه وروسته د کرماش ددرې له لارې، کابل ته و خوځېد. دلته مولانا دیوه ستانه پښتانه یادونه هم کوي اولیکي چې «شیخ احمد خواجه افغانی دعالم پناه [تیمور] په حضور مشرف شو.» تیمور له کرماش نه لوګر او له لوګر نه کابل ته ځي.

یوبل اثر چې وایي پدې سیمو کې پښتانه هستوو، هغه تواریخ حافظ رحمت خانی دی چې اصلاً خواجو ملیزی د تواریخ افاغنه په نامه د ۱۰۳۳ هجری په حدودو کې لیکلی او بیا پیر معظم شاه په کال ۱۱۸۱ هجری کې د حافظ رحمت خان په هدایت په خپلو عباراتو لیکلي او د تواریخ حافظ رحمتخاني نوم یې پرې ایښی دی. تواریخ دبابر د تره، الغ بیګ میرزا، په وخت کې کرمه دخېشکو پښتنو تیاتوبی بولی او لیکی: «فاطمه دابراهیم دګدای (زوی) الیاس زی یوسفزی و تښتوله. له کابله یې کرمې ته راوستله چې مقام دخېشکو دی.» (۳۰)

بابر هم دپکتیا په بېلو بېلو برخو باندې دخپلو یرغلونو او لوټ او تالان دبیان په ترخ کې دهغې سیمې د پښتنو په باره کې ښایسته زیاتې یادونې کړې دي. خو موږ هغه د پښتنو په باره کې دبابر له نورو یادونو سره یو ځای په اوّم فصل کې راوړې دي.

**پښتانه په غزني کې:-**

په تحریری اسنادو کې د غزنی په سیمه کې هم له ښخي پخوانه د پښتنو یادونې راغلې دي. عبدالحی بن ضحاک ګردېزي چې تاریخ ګردېزي یې د ٤٤٢ او ٤٤٣ هجري په حدودو کې لیکلی دی، دغزنی په غرونو کې

پښتانه میشته ګڼي او یو ځای د مسعود بن محمود غزنوي د عصر د پېښو د بیان په ضمن کې داسې لیکي:

«او څرنګه چې امیر هېپیانو (۳۱) ته ورسېد، هلته دېره شو...... او امیر اېزدیار یې د غزنی غرو ته، چې عاصیان افغانان پکې او سېدل، ولېږه او [ورته] ویې ویل: هغه ولایت وساته. [پامکوه] چې څه نارامي پکې پېښه نه شي.» (۳۲)

تواریخ حافظ رحمت خاني هم په غزنی کې له پنځلسمې میلادي پېړۍ نه پخوا پښتانه میشته ګڼي او لیکي چې «یوسفزي په ګاړه په نشکی او غوریه خیل خصوصاً خلیل په ترنک، په مقر او په قره باغ پراته وو.» (۳۳)

د همدې زمانې د پېښو په ارتباط بیا لیکي چې د «شیخ میر داد افغان خلیل متی زي نیکه...... له یو تعداد مریدانو سره چې شمېر یې تخمین درې سوو او پنځو سوو تنو ته رسېده... له ترنک او قلات او قندهار نه دلاشورې سیمې ته راغلل.» (۳٤)

تواریخ یو بل ځای وایي چې «پدې وخت کې داؤد زی او ځینې مومند چې له مقر او قره باغ نه راغلي وو، لاهم د کابل په نواحي کې میشته وو او ځینې مومند لاهم په مقر او قره باغ کې وو.» (۳۵)

حافظ رحمت خان هم په خلاصة الانساب کې چې په کال ۱۱۸٤ هجري کې لیکل شوی دی، لیکي چې «افغانان په هندوستان باندې د سلطان محمود غزنوي د یرغلونو تر وخته د قندهار او غزنی په سیمو کې میشته

وو » (۳٦) په سیرت جلال الدین منکبرني کې چې داومې هجري پېړۍ
په اوله نیمایی کې لیکل شوی دی، دخوارزمشاهیانو او چنګېزیانو
دمقابلې اوجګړو دبیان په ضمن کې په غزني کې دافغانانو یو لوی مشر
د «صاحب افغانیان» په نامه یاد شوی او داسې راغلي دي: کله چې
جلال الدین دخوارزمشاه مشر زوی په کال ٦۱۸ هجري کې غزنی ته
ورسېد هلته« ... صاحب افغانیان مظفر ملک او حسن قسراق چې دېرش
زره سپاره ور سره وو ، له هغه سره یو ځای شول. » (۳۷)
مولانا عبدالرزاق سمرقندی په مطلع السعدین کې چې له کال ۸۷۲ نه تر
کال ۸۷٦ هجري پورې لیکل شوی دی، لیکي: « دغزنی دولایت او ښار
لویان... دعالم پناه درګاه ته راغلل او دبرمل دخېل خانې اوخرشوانی
افغانان مشرف شول. » (۳۸)
دغزنویانو دعصر لوی مؤرخ ابو الفضل بیهقی (۳۸۵-٤۷۹) په مکرر
ډول په غزني کې دافغان شال په نامه یو ځای یادوي. یو ځای لیکي چې
« ... له خپلوانو، لویانو او مشرانو سره یو ځای افغان شال ته ور ننووت او
دامیر عادل سبکتګین پر مزار پلی شو. » (۳۹) بیا لیکي چې
« امیر بیا محمودی ماڼۍ افغان شال ته راغی. » (٤۰) بیا لیکي چې
« ... دینارونه او درهمونه او هرڅه یې په افغان شال کې درسوله په میدان
او بازارونو کې وښندل...... » (٤۱) بیا لیکي چې: « ... دارالملک ته
راورسېد او په افغان شال کې په محمودي ماڼۍ کې دمبارکۍ دپاره پلی
شو. » (٤۲) یوځل بیا هم لیکي چې « ... دافغان شال خواته ولاړ

شي... » (۴۳)

دبیهقي له دې تذکراتو نه ښکاري چې دغزنویانو ددارالخلافې په زړه کې یو ځای افغانانو ته منسوب دی او دسلطان محمود پلار هم په همدې ځای کې ښخ دی.

دغزنویانو له دارالخلافې او دربار سره د پښتنو دارتباط په باره کې په ځینو نورو معتبرو آثارو کې هم یو څه مطالب راغلي دي.

مبارکشاه فخرمدبر په آداب الحرب کې چې له کال ۶۲۶ نه تر ۶۳۳ هجري پورې یې لیکلی دی، وایی چې ادیرا نومی افغان چې د پېښور په شاوخوا کې دیوې سیمې کوتوال ؤ غزنی ته دسلطان محمود دربار ته ورغی. اسلام یې ومانه او ورسره ملګری شو. (۴۴)

خواجه نعمت الله هروی دسلطان محمود او سلطان مسعود په دربارونو کې دپښتنو په باره کې یو روایت ثبت کړی چې په ډېرو نورو آثارو کې هم راغلی دی. دی لیکي:

« دافغانانو نه تنه مشران دسلطان محمود خدمت ته ورغلل. ددې نهو تنو نومونه په تاریخونو کې داسې راغلي دي: ملک خانوی او ملک عامون او ملک داؤد او ملک یحیی او ملک احمد او ملک محمود او ملک محمد او ملک عارف او ملک غازی... سلطان [دامشران] ډېرو غښتل... له ځان سره یې و خوځول د سومنات او هندوستان غزاته روان شو... هر وخت به چې سلطان ته مشکل ور پېښ شو نو دا ملکان به یې دهغو له خپلو سپایانو او ډلې سره پرې وګومارل او دغه مشکل به حق

تعالی حل کړ... په لړوخت کې [ داملکان] ددولت ارکان... او دسلطنت په کار خانه کې ددخل خاوندان اوداعتماد وړ شول. کله چې سلطان محمود دکال ٤٢١ دربیع الاخر په اوم دپنجشنبې په ورځ مړشو، دهغه زامنو سلطان محمد اوسلطان مسعود همداسې سلوک ور سره کاوه» (٤٥).

نواب محبت خان په ریاض المحبت (تألیف: ١٨٠٦) کې وایی چې دسلطان محمود او پښتنو تر منځ کورنې روابط هم موجود وو. دی لیکی: «کله چې دغه واکدار [ سبکتگین] مړ شو، زوی یې، اسمعیل، چې مور یې اصلاً مینځه وه، دپلار ځای ونیو. مگر محمود چې مور یې دزابل دیوه مشر لورده وه، له دې خبرې سره مخالف ؤ چې [اسمعیل] دې دپلار ځای ونیسی او جگړه یې ور سره پیل کړه. افغانان چې [ دزابل] له دې مشر سره تړلې وو نو دهغه له لمسې یاپه بل عبارت دهغه دلور له زوی یعنې محمود سره ملگری شول. محمود اسمعیل ته ماته ور کړه اوپه یوه کلاکې یې بندي کړ. محمود ددې مرستې په بدل کې خپله لور دافغانانو دې قبیلې مشر شاهو ته ورکړه. له دې لورنه یې درې زامن پیدا شول او هغه سالار، مسعود او غازي و. »(٤٦)

لکه څنگه چې لړ وړاندې وویل شول ځینې غزنوي سلطانانو په بده ورځ کې افغانانو ته پناه ور وړې ده اولکه څنگه چې په وروسته فصلونو کې په تفصیل خبرې پرې شوي دي یو شمیر آثار دغزنوي واکدارانو په پوځ کې په زرگونو افغانان شامل گڼي اودسلطان محمود ځینې سترې فتحې

هم دهمدوی دسر برکت گنی.

باید وویل شی چې په بابر نامه کې هم دغزنې او شاو خواسیمو د پښتنو په باره کې ډېر څه راغلي او موږ د پښتنو په ارتباط دبابر نامې له نورو مطالبو سره یو ځای په اوم فصل کې راوړي دي. یوازینی خبره چې غواړو دلته یو څه پرې ووایو هغه داده چې دمقر او وازې خوا په سیمو کې دبابر ډېرې خبرې دغلځو پښتنو په باره کې دي. او ځینو شرقي او غربي څېړونکو او مؤلفینو بیا همدا غلځیان له هغو ترکانو سره ګډ کړي چې په زړو متونو کې دخلج یا خلخ په نامه یاد شوي دي. راځئ وګورو چې ددوی دا ادعا څومره په ځای ده؟

## خلجیان او غلځیان:-

یو شمېر مؤلفین او څېړونکی زړو اسلامی آثارو ته داشارې پر بناوایی چې یو وخت خلجیان چې اصلاً ترکان وو زابلستان ته ولېږدېدل. هلته میشته شول او خپله ژبه او عادات یې هېر کړل. دزابلستان دخلکو ژبه او عادات یې کسب کړل او پښتانه غلجیان یا غلځیان ترې جوړ شول.

ترکوم حده چې ماته معلومه ده، تر ټولو نه پخوانی اثر چې دزابلستان په ځایی خلکو کې دترکی خلجیانو دمنحلېدو خبره پکې یاده شوې، هغه دمحمد بن نجیب بکران جهان نامه ده چې په کال ٦٠٥ هجري کې لیکل شوې او په کال ١٣٧٥ کې ددوکتور امین ریاحی په همت په تهران کې خپره شوي ده.

جهان نامه وایي چې« دترکانو یو قوم خلج دخلخ له شاوخوانه زابلستان

ته ور واوښت او په يو، ببديا کې چې د غزنی خواتهٔ پرته ده میشت شو.
وروسته يې د هوا د ګرمۍ له امله څېره بدله او تور بخونه او ژبه يې بله
شوه.» (٤٧)

څرنګه چې د خلجيانو د مهاجرت او د زابلستان په ځايي اوسېدونکو کې
د هغوی د منحلېدو يادونه په جهان نامه کې شوې ده. او څرنګه چې
جهان نامه په (٦٠٥ هجري) کې ليکل شوې ده، نو د خلجيانو
د مهاجرت او په زابلستان کې د هغوی د منحلېدو پېښه، طبعاً، له ٦٥٠
هجري نه پخوا شوې ده.

د جهان نامې له متن نه دا هم په صراحت ښکاري چې د دغو مهاجرو څېره
او ژبه د جهان نامې د ليکنې له وخت نه پخوا بدله او تور بخونه شوې
او ژبه يې هم له دې نه وړاندې بله شوې ده.

که څوک د جهان نامې خبره منی هغه به ضرور دا هم منی چې ترک
خلجيان د شپږمې هجري پېړۍ له اواخرو نه ډېر پخوا زابلستان ته
ورلېږدېدلي دي. ځکه په هغې زمانې کې د خلجيانو په شان ديوه
غښتلي قوم دومره بدلېدل او د زابلستان په يوه ځايي قوم کې يې ببخي
منحلېدل بايد د کلونو او لسيزو نه، بلکه د پېړيو کار وي او پدې حساب
سړی په پوره اطمينان ويلی شي چې ترک خلجيان به لږ تر لږه په دوهمه
يا درې يمه هجري پېړۍ کې زابلستان ته لېږدېدلي او بيا د هغې سيمې په
ځايي خلکو کې منحل شوي وي.

کوم څېړونکي او مؤلفين چې وايي ترکي خلجيان د زابلستان په ځايي

خلکو کې منحل شوي او په نهایت کې په پښتنو غلځیانو بدل شوي دي
هغوی په حقیقت کې دا خبره تصدیقوي چې لږ ترلږه د دوهمې او درېـ
یمې هجري پېړۍ په حدودو کې د زابلستان ځایی او سېدونکی پښتانه
وو. ځکه جهان نامه وایی چې ترکو خلجیانو خپله ژبه بایلوده
او د زابلستان د ځایی او سېدونکو ژبه یې رده کړه. که ترکو خلجیانو
د زابلستان د ځایی خلکو ژبه زده کړې وي، که د غلځیانو ژبه تر اوسه
پښتو وي او غلځیان او خلجیان هم سره یو شی وي، نو د خلجیانو
د مهاجرت په وخت کې به د زابلستان د ځایی او سېدونکو ژبه هرو مرو
پښتو وه. که نه وي نو نه باید خلجیانو پښتو زده کړې وي او نه باید
د غلځیانو ژبه پښتو وي.
خوځینې کسان بیا له یوې خوا وایی چې ترک خلجیان زابلستان ته
لېږدېدلي او د هغې سیمې د ځایی خلکو ژبه او عادات یې کسب کړي
او پښتانه غلځیان ترې جوړ شوي دي، او له بلې خوا بیا وایی چې
« پښتنو په څورلسمه او پنځلسمه (میلادی) پېړۍ کې د غزنی سطح
مرتفع اشغال کړه. » (۴۸) او دا دوه خبرې اړخ نه سره لګوی. ځکه که
خپله پښتانه غزنی او زابلستان ته په اتمه او نهمه هجري پېړۍ کې ور
لېږدېدلي وي، نو ترک خلجیان بیا څنګه، په همدې ځای کې، له دې نه
ډېر پخوا یعنې د درېیمې او څلورمې هجري پېړۍ په حدودو کې پکې
منحل شوي دي؟ او که ترک خلجیان د زابلستان په ځایی خلکو کې د
درېیمې او څلورمې هجري پېړۍ په حدودو کې منحل شوي او پښتانه

غلځیان ترې جوړ شوي دي، نو بیا دا خبره څنګه کېدی شي چې پښتانه له دې نه دېر وروسته یعنې داتمې او نهمې هجري پېړۍ په حدودو کې غزنی او زابلستان ته ورلېږدېدلي دي ؟

له دې دوو خبرو نه یوه هرو مرو غلطه ده. خودا چې کومه یې غلطه ده ؟ د دې سپینول هغه چاته ور په غاړه دي چې وایی ترک خلجیان د زابلستان په ځایی خلکو کې منحل شوي او پښتانه غلځیان ترې جوړ شوي دي.

## پښتانه د کابل په سیمو کې:

پخوانو آثارو په کابل کې هم د پښتنو یادونې کړې دي. د ابن بطوطه سفرنامه تر ټولو نه پخوانی معلوم اثر دی چې وایی په کابل کې افغانان اوسېږي. کله چې ابن بطوطه په ۱۳۳۳ میلادي سنه کې له کابل نه تېرېږي وایی چې د دغه ځای اوسېدونکی افغانان دي. دی لیکې چې «کابل پخوا یو لوی ښار ؤ [خو اوس] یو کلی ترې پاتې دی. او د عجمیانو یوه طایفه چې افغانان نومېږي پکې اوسېږي. افغانان په غرونو کې دېرې کلکې مېنې لري او دېر غښتلی خلک دی.» (٤٩) ابن بطوطه خبرې ته دوام ور کوي اولیکې چې «هلته د سلیمان دغره په نامه یو ستر غر دی. دافغانانو پاچا هم هلته اوسېږی.» (۵۰)

ابن بطوطه په خپله سفرنامه کې په کابل کې د یوه وتلی ستانه افغان نوم هم اخلی او وایی چې «په کابل کې د شیخ اسمعیل افغانی په نامه یوه خانقا هم شته (او شیخ اسمعیل افغانی) د شیخ عباس نومی سترولی شاګرد ؤ. (۵۱)

اما کوم اثر چې د کابل په ښار او شاوخوا سیمو کې په پنځلسمه میلادي پېړۍ کې ، د پښتنو د حالاتو په باره کې ښایسته مفصل بحث لري هغه تواریخ حافظ رحمت خاني دی. په تواریخ کې د هغه مهاجرت په ترڅ کې چې وايي یوسفزو د پښتنو د پنځلسمې میلادي پېړۍ په حدودو کې د کندهار له سیمو نه غزنی او کابل ته کړي دی، راغلي چې « یوسفزي د کابل په سیمو کې ډېر حشمت او شوکت خاوندان شول او د کابل ټول حدود او مضافات یې ترخپل تصرف لاندې راوستل. » ( ٥٢ )

بیا لیکي چې د کابل پاچا الغ بیګ میرزا و. خو اصلي قدرت او واک اختیار د یوسفزو د مشر ملک سلیمانشاه په لاس کې و. ( ٥٣ )

بیا لیکي چې په کابل کې « یوسفزي هرګوره غالب وو. د میرزا الغ بیګ پروایې نه لرله. دخپل اختیار څښتن وو هرچې ملک سلیمانشاه او یوسفزو کول هغه به کېدل...... اسمعیل د مزکت زوی هسې یو بدمست او ظالم شرابي و چې اصیل خلق به یې په زور ټول او په یوه پیاله د شرابو به یې خرڅول او په بازار کې به یې په زور ظلم نرخ نرم کړ او څیزونه به یې اخیستل او نیاو یې چانه شه کاو » ( ٥٤ )

تواریخ داسې ښیي چې د پنځلسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې پښتانه په کابل او د کابل په شاوخوا سیمو کې میشته او مسلط خلک دي.

ډاچې پدې سیمو کې به څومره پښتانه اوسېدل، پدې باره کې سړی په یقیني ډول څه نه شي ویلی، خو تواریخ دا خبره په صراحت کوي چې د کابل د هغه وخت واکدار، الغ بیګ، یوازې د یوسفزو د قوم او د سوه

مشران په یوه ورځ وو ژل. (۵۵)
په کابل او شاوخوا سیمو کې د پښتنو د هستوګنې او حالاتو په باره کې په بابر نامه کې هم ډېر څه راغلي او مور وروسته په اوم فصل کې راوړي دي.

## پښتانه د ننګرهار او پېښور په سیمو کې:

په پخوانو تحریری آثارو کې د هغو سیمو د پښتنو په باره کې هم ډېرې یادونې شوې چې له ننګرهار نه دا باسیند تر غاړو پورې امتداد لري.
حدود العالم من المشرق الی المغرب بیا هم د اسلامی دورې لومړنی اثر دی چې ان په څلورمه هجري پېړۍ کې د ننګرهار په سیمه کې د پښتنو یادونه کوي. کله چې د دې اثر مؤلف د ننګرهار او لغمان په سیمو غږېږي، لیکی چې «بنیهار یو ځای دی چې پاچایې مسلمانی کوي او له ډېرشو نه زیاتې مسلمانې، افغانې او هندوې ښځې لري. نور خلک یې بت پرست دي او درې ستر بتان لري.» (۵٦)
داسې ښکاری چې د حدود العالم د پیدا شوې نسخې ناسخ د پورته عبارت د اولې کلمې ټکی، سهواً بېځایه ایښی او ننهار یې بنیهار کړی دی. دلیل دا چې یو خو د حدود العالم د متن له قرینې نه داسې ښکاری چې مؤلف یې د ننګرهار د سیمې په باره کې غږېږي او بل دا چې خپله د حدود العالم د رودونو په بحث کې هم دا کلمه واضحاً ننهار لیکل شوې ده.
«او بل هغه رود دی چې د لمغان او د دنپور په حدودو کې له غره نه راوزي او د ننهار له حد نه تېرېږی.» (۵۷) د حدود العالم محشی، مینورسکی هم

داکلمه ننهار یاننني ننگرهار بولی او وایی چې معنا یې نهه نهرونه ده. (۵۸)

عبدالجبار عتبی دهغو جګړو دبیان په ضمن کې چې سبکتګین دکابل له شرقي حدودو نه د پښتنو تر شاوخوا سیمو پورې دهندوشاهانو له مشر سره کړې دي، پدې سیمو کې د پښتنو یادونه کوي. دی لیکي چې دسبکتګین جګړنو دهندوانو په لښکر « یو په یو حمله وکړه. ډېر زیات یې ورنه تباه کړل او پاتې یې ورنه وتښتیدل. وروسته تر دې نه هندوانو لکې په سر واړولې اوله دغو ولایاتو نه یې طمع وشکوله...... دافغانانو او خلجیانو ولس چې ددغو سیمو کوچیان وو، دناصر الدین په مېړونو کې شامل شول » (۵۹)

ابن اثیر هم په کامل کې دکال ۳۶٦ هجري د پېښو دبیان په لړ کې لیکي چې دسبکتګین پوځ هندوان مات کړل. وروسته له دې پېښې نه « هندوان خوار شول. زیاتی یې بیرغ نه لاره او دایې و منله چې دهیواد داسې سیمو ته ولاړ شي چې څوک نه شی ور رسېدلی. څرنګه چې وروسته له دې پېښې نه سبکتګین دقوت او شوکت خاوند شو افغانیانو او خلج یې اطاعت ومانه. » (٦۰)

وروسته رشید الدین فضل الله په جامع التواریخ کې (تألیف: ۷۰٤ هجري) دامطلب تقریباً دالعتبی په عباراتو ثبت کړی دی. دی لیکي چې امیر ناصر الدین « یوپه یو حمله وکړه... هغه سیمې په اسلامي ملکونو ور زیاتې شوې...... دافغانانو او خلجیانو ډلې چې دهغه ځای

کوچیان وو... دهغه په مېرونو کې داخلې شوې. » (٦١)

محمد قاسم هم دا پېښه په تاریخ فرشته کې ثبت کړې او لیکي چې « وروسته له ذې فتحې نه ... سبکتگین دخپلو امیرانو یو تن په پېښور کې پرېښود او دافغان او خلج قومونه یې چې ددغو سیمو کوچیان وو په خپلو مېرونو کې داخل کړل او غزنی ته ولاړ. » (٦٢) میر خواند هم دا مطلب په روضة الصفا کې ثبت کړی دی. (٦٣) ابوریحان بېروني (وفات ٤٤٠ هجري) هم دهند په تاریخ کې وایي چې پدې سیمو کې افغانان میشته دي. دی لیکي:

« په هغو غرونو کې چې دغرب په لور دهند سرحد جوړوي دهندوانو او یا هغو خلکو قبایل هست دي چې له هغوی [هندوانو] سره نژدې خپلوي لري. دا سرکش او زېږه قومونه دهندوانو دطایفو تر ټولو نه لرې سرحداتو پورې پراته دي. » (٦٤)

بېروني لږ وروسته په همدې اثر کې په صراحت وایي چې دا زیږه خلک افغانان دي. دی لیکي چې دهند دغربی سرحد په غرونو کې دافغانانو متعدد قبایل میشته او دسندهـ دوادي تر گاونډه پورې خپاره دي. »

(٦٥)

بېروني په خپلو نورو آثارو کې هم دا غرونه دافغانانو دغرونو په نامه یادوي.

په صیدنه کې لیکي چې « داسطوخوزس... دا ډول دهند دځمکې د، پرشاور [پېښور] او دافغانانو دغرونو تر منځ ددهک (٦٦) خواته شین

کیږي. (٦٧)

په همدې اثر کې بیا لیکي چې: په جبال الافغانیه (٦٨) کې یو ډول وحشي زیتون پیدا کیږي چې وړې دانې لري» (٦٩)

بیروني په یوه بل اثر، الجواهر، کې لیکي چې سره زر دافغانانو د تغر په سیمه کې پیدا کیږي. (٧٠)

شیخ ربوه (وفات ٧٢٧ هجري) هم دافغانانو دغرونو یادونه کوي او داسي ښکاري چې مطلب یې همدا غرونه دي. دی لیکي چې «درېیم اقلیم...... له گجرات...... او دافغانانو له غرونو (٧١) او ملتان نه تر سنده پورې امتداد لري.» (٧٢)

ابوالفرج روني دغزنوی سلطان علاء الدوله مسعود بن ابوالمظفر ابراهیم دعصر شاعر دی. دغه سلطان چې له کال ٤٩٢ نه تر کال ٥٠٨ هجري پورې یې سلطنت کړی دی، په هند کې یې ډېر فتوحات کړي دي. (٧٣) روني دغه فتوحات ستایلي دي او دیوې قصیدې له یوه بیت نه یې داسې ښکاري چې دغزنویانو په عصر کې داباسیند دغاړې دلرغوني ښار، موهند یاویهند، اوسېدونکي هم پښتانه دي. روني وایي:

لـــــــشکر منصور اوهنوز به موهند

برتن افغان تنیده است فغان را (٧٤)

لرغوني معتبر آثار موهن یاویهند یابیهند داباسیند په غاړه کې یو ښار او دگندهارا پایتخت گڼي. بیروني چې دپخواني هند دځایونو او حالاتو دښودلو اوبیان په برخه کې دډېر وچت صلاحیت خاوند دی، ویهند

دگندهارا یوه قصبه او پایتخت بولي. دی په صفت المعموره کې لیکي چې «ویهند دسند په وادي کې دالقندهار (گندهارا) یوه قصبه ده.» (۷۵)

همدی بیا کله چې دهند په تاریخ کې، دهند دسیندونو اولویو لارو او بېلو بېلو سیمو په باره کې غږېږي، وایی سږی چې «دشمال غرب په لور ور وخوځيږي، وروسته له اته فرسخه دبیا ته دسیند غرب ته دجیلم سیند ته، وروسته له شل فرسخه دسند دسیند غرب ته دقندهار پایتخت ویهند ته او (بیا) پرشاور (پیښور) ته رسیږي.» (۷٦)

په همدې اثر کې بیا لیکي چې «غورونند... یولوی سیند دی او دالقندهار له پایتخت یعنې ویهند نه کوز دبتور قصر ته نږدې دسند په سیند کې تویيږي.» (۷۷)

یوبل ځای په همدې اثر کي دویهند موقعیت په درجو او دقیقو ښيي او لیکی چې «پرشاور په څلور دېرش درجو او څلور څلویښت دقیقو، ویهند په څلوردېرش درجو او شل دقیقو عرض البلد کې» واقع دی. (۷۸)

دمنهاج السراج جوزجاني په طبقات کې هم دویهند کلمه بیا بیا راغلې او دوهند، ویهند بهند، ومهند او یهند په بڼه لیکل شوې ده. یو ځای په طبقات کې راغلی چې «په کومه شپه چې محمود (غزنوی) وزیږید دوهند یا بیهند...... بتخانه چې دبرشایور (پېښور) په حدودو کې دسند دسیند په غاړه واقع وه ړنگه شوه.» (۷۹).

دالبېروني او جوزجاني بيانات پدې کې هيڅ شک نه پرېږدي چې ويهند يا موهند داباسيند په غاړه کې يو ښار او د ګندهارا پايتخت دی او روني وايي دغزنويانو لښکر په موهند کې په افغانانو ټاتار جوړکړ. ددې خبرې معنا داده چې داباسيند دغاړې پدې مهم ښار کې هم پښتانه اوسېدل. داځای اوس دهنډ په نامه يادېږي.

فرشته هم وايي چې سلطان محمود د کال ۳۹۱ او ۳۹۲ هجري ترمنځ په ويهند حمله وکړه او دهغه ځای پښتانه يې وځپل. دی ليکي چې «سلطان محمود په کال ۳۹۱ کې بيا... دبيهنده کلا ته ولاړ او هغه يې ونيوله..... جيپال او نور اسيران يې ... آزاد کړل. [خو] دافغانانو مشران يې ووژل او ځيني يې له ځان سره د خوړ خو په ... بوتلل.» (۸۰)

کوم مطلب چې مبارکشاه فخر مدبر په آداب الحرب کې (تأليف: ۶۲۶-۶۳۳ هجري) دادېرا نومي پښتانه په باره کې ليکلی دی، له هغه نه داسې ښکاري چې پښتانه دغزنويانو په عصر کې په پېښور او شاوخوا سيمو کې هم مېشته او دهندوانو له دربار سره محشور دي. مبارکشاه ليکي:

«مؤلف ديوه کار د پاره له پرشور (پېښور) نه بتي ګرام او شاپور ته روان ؤ. د پېښور يو پوه سپين ږيري ور سره ملګری شو... [سپين ږيري ورته ووېل] دسلطان يمين الدوله محمود [غزنوی]... په وخت کې اديرا نومي افغان دنر دري شحنه او کوتوال ؤ. اديرا له جيپال پاچا نه له دې امله ووېرېده چې يوه ورځ له جيپال سره ناست ؤ، [پاچا] مخ ور واړاو [او

ورته] ویې ویل چې اديرا تاسو دغويي غوښه خورئ؟ اديرا ځواب ورکړ چې زه يې نه خورم خو...... »(۸۱)

فرشته هم دابو الحسن علي بن مسعود بن محمود دجلوس دکال د پېښو دبيان په ترڅ کې پښتانه له پېښور نه تر ملتان او سنده پورې خپاره ښيي اوليکي «علي بن ربيع دمیرک وکيل په ملګرتيا... له يوشمېر مريانو او اميرانو سره پېښور ته وتښتيد او هغه سيمه يې ترملتان او سنده پورې تر لاسه کړه او افغانان يې چې خرابي او وراني يې کاوه، په توره ايل کړل. » (۸۲)

تواريخ حافظ رحمت خاني هم د پنځلسمې ميلادي پېړۍ په وروستيو وختو کې له کابل نه دا باسيند تر شرقي غاړو پورې پښتانه خپاره او هست ګڼي. ځينې له هغو يادونو نه چې تواريخ د کابل د پښتنو په باره کې کړې دي، مونږ په همدې بحث کې پخوا را واخيستې، خود پېښور په ارتباط ليکي چې «هغه وخت کې په پېښاور ميشت دلزاک هر ګوره ډېر زورور ممالک ګير تومن وو...... پېښاور، دو آبه، باجوړ، ننګرهار، کاله پانۍ تر هزارې تر سينده پورې دا واړه ملکونه د دلزاکو وو، هر چېرې دوی پرې ساکن وو»(۸۳).

بيا ليکي چې «ملک هيبوبن جته دلزاک عمر خيل...... زرو کورو کم وبيش عمر خېلو سره په باجوړ کې په جندول کې اوسيده» (۸٤)

بياليکي چې « دلزاک ډېر لوی تومن دی پدې ملکونه هر چيرته دوی پراته دی. چنانچه په پېښاور، په ننګرهار په تيراه په کال پانۍ

تر پیښهوره چې په کناره داباسین او په چچ هزاره او په کرلغ هزاره چې له اباسیند نه پورې غاړه پراته دی، اوسېږي. » (۸۵)

تواریخ پدې او نورو سیمو کې د دلزاکو دسکونت نورې یادونې هم کړې دي.

په بابرنامه کې هم په هغو سیمو کې چې له ننګرهار او شاوخواسیمو نه داباسیند تر غاړو پورې امتداد لري د پښتنو او دهغو دژوندانه دحالاتو په باره کې ډېر څه ویل شوي دي او لوستونکی یې د دې لیکنی په اوم فصل کې لوستلی شی.

## پښتانه په پخوانی «افغانستان» کې:

په ځینو پخوانو آثارو کې په هغې لویه سیمه کې هم په همدې وخت کې د پښتنو دسکونت او حالاتو یادونې شوې چې هم سیفی هروي په تاریخنامه کې (تألیف ۷۱۸ - ۷۲۱ هجري) او هم ځینې نورو پخوانیو مؤلفینو د «افغانستان» په نامه یاده کړې ده او مونږ ددې لیکنې په اتم فصل کې پرې غږېدلی یو.

لومړنی معلوم تحریری سند چې د دې پراخې سیمې په ځینو برخو کې، د پښتنو دسکونت یادونې پکې شوي هغه دفردوسی دشهنامې ملحقات دي چې دلیکلو وخت یې دشپږمې هجري پېړۍ په حدودو کې ټاکل شوی او دناظم نوم یې نه دی معلوم. ناظم دافغانانو او دهغو دمشر، کک کهزاد، په باره کې په ښایسته تفصیل غږېدلی دی خودلته یې یوازې یو څو دمطلب ټکی را اخلو.

ناظم وايي چې ده ته يوه بزګر د پښتانو خلکو له خولې داسې کيسه وکړه چې له غزني نه د درېو ورځو په فاصله يولوړ غرو. په غره کې يوه ستره کلا وه چې دي وايي نوم يې مرباد و. وايي چې پدې کلا کې يو ډېر غښتلی توريالی او جنګيالی سپين ږيری افغان اوسېده چې نوم يې کک کهزاد او د زرګونو سپرو او پياده جنګي مېړونو مشر و. د زابل او سيستان له سيمو نه به يې مال او باج ټولاوه د رستم پلار او نيکهٔ يې چې د سيستان مشران او پهلوانان وو، څو څو واره زور ور ښودلی او باج او خراج يې پرې منلی و. زال به کک ته هر کال د غوايي په پوټکی، لس مشکه زر ورکول. خوپه پای کې د زال زوی، رستم له کک سره ډ غر ې ووهلې او مات يې کړ. پدې وخت کې زال هم له سيستان نه ور ورسېد او لښکر يې له نورو پښتنو سره وجنګېد. ډېر زيات افغانان ووژل شول او ناظم وايي چې زال د کک شاهنشاهي مانۍ ته ور ننووت او تالا يې کړه. ناظم دا هم وايي چې د کک د شاهنشاهي مانۍ په هر ګوټ کې يوه خزانه پرته وه او زال ته ډېرې زياتې په درو ښکلل شوې خولۍ، په ياقوتو ښکلل شوې قباوې، په لالونو ښکلل شوي تاجونه، په ګوهرو ښکلل شوي ملاوستني، سپوږمۍ غوندې ځلانده مينځې، چيني غلامان او ښېخې زيات دينارونه او خز او سمور په ګوتو ور غلل پدې پسې زال د مرباد کلا ورانه کړه. کک او دهغه وراره بهزاد دواړه يې ووژل. (۸٦)

خپله د شهنامې د ملحقاتو د دې کيسې د سريو څو بيتونه دا دي:

چنين گفت دهقان دانش پژوه

مرایـن داسـتـان را زپـیـشـیـن گـروه
کـه نـزدیـک زابـل بـه سـه روزه راه
یـکـی کـوه بـدسـر کـشـیـده بـه مـاه
یـکـی قـلـعـه بـالای آن کـوه بـود
کـه آن حـصـن ازمـردم انـبـوه بـود
بـه دژ دریـکـی بـدکـنـش جـای داشـت
کـه در رزم بـا اژدهـا پـای داشـت
نـژادش زافـغـان سـپـاهـش هـزار
هـمـه نـاوک انـدازو ژوبـیـن گـذار (۸۷)

اما کوم مؤرخ چې پدې سیمو کې دافغانانو یادونې کړې هغه سیفي هروي دی. سیفي په خپل معتبر اثر، دهرات تاریخنامه کې چې له کال ۷۱۸ نه تر ۷۲۱ هجري پورې یې دسلطان غیاث الدین کرت په هدایت او مشوره لیکلې ده، دافغانانو او هغې سیمې په باره کې چې په تاریخنامه او ځینې نورو پخوانو آثارو کې، لکه تاریخ فیروز شاهی (۱۳۵۷م)، روضات الجنات (۸۹۷-۸۹۹ هجري) او مطلع السعدین (۸۲۷-۸۷۵ هجري) د «افغانستان» په نامه یاده شوې ده، یو لړ دپوره اعتنا وړ مطالب راوړي دي.

سیفي دا مطالب اکثره دهغو یرغلونو دبیان په ضمن کې یاد کړي چې دهرات دکرت دکورنۍ مؤسس، مشر ملک شمس الدین، د «افغانستان» په بېلوبېلو برخو کې کړي دي. سیفي د تاریخنامې

دیارلس فصله، غونډ، د «افغانستان» پښتو ته وقف کړي دي او د دې
ترڅنګه یې دافغانانو په باره کې ځینې نورې متفرقې یادونې هم کړې
دي.

څرنګه چې دسیفي تاریخنامه لومړنی معلوم اثر دی چې د
«افغانستان» نوم پکې یاد شوی او د «افغانانو» دسیاسي، اقتصادي
او اجتماعي ژوند په ارتباط یو څه مطالب پکې ثبت شوي دي، نوله دې
امله مونږ دغه درانده اثر دا دیارلس فصلونه، ټول په مرتب مګر
مختصر ډول را اخیستي او په دا ضمن کې مو یو نیم بل اثر مثلاً دزمچي-
اسفزاري روضات الجنات ته هم کله ناکله اشاره کړې ده.

سیفي وایي چې چنګیز خان په افغانستان او سیمه باندې دخپلو یرغلونو
او فتوحاتو په وخت کې ملک رکن الدین دغور او دغور دمضافاتو
دملک په حیث ومانه. وروسته بیا چې ملک رکن الدین په غزني کې
دچنګیزي حاکمانو لیدنې کتنې ته ورتلو ملک شمس الدین کرت به
یې هم له ځان سره بېوه. په همدې جریان کې ملک شمس الدین کرت
چنګیزي مشرانو ته ښه وروپېژاندې شو او دملک رکن الدین له مرګ نه
وروسته یې په کال ٦٤٣ هجري کې دغور دملک په حیث و مانه او
دملکۍ پګړۍ هم خپله چنګیزي مشر، طاهر بهادر، ورو تړله. کله چې
ملک شمس الدین کرت په کال ٦٤٥ کې دچنګیزیانو دلوی مشر، منکو-
خان، دربار ته ورغی هغه دهرات توابع او ځینې نورې سیمې چې دسیفي
دوخت افغانستان هم پکې شامل و، ورته په نامه کړې. ملک شمس-

الدین دچنګېزي منکوخان له یوه نژدې مشاور، جاهو، سره هرات ته ولاړ او د کرت د کورنۍ دواکداري سلسله یې پیل کړه، څو کاله وروسته یې د «افغانستان» دنیولو بندوبست وکړ. په کال ۶۵۰ هجري کې یې یو هیئت چې په سر کې یې جاهو واقع و «افغانستان» ته ولېږه او وظیفه یې داوه چې دچنګېزي مشرانو او ملک شمس الدین فرمانونه د «افغانستان» واکدار ملک شاهنشاه ته ورورسوي. هیئت فرمانونه ملک شاهنشاه ته واورول. شاهنشاه دهیئت مشر ته وویل چې «ملک شمس الحق والدین د کفارو په حکم دې ملک ته راغلی دی او موږ تر اوسه پورې چنګېز خانیانو ته مالیه نه ده ورکړې.» خو ملک شمس الدین ته به چې یو مسلمان ملک دی، یو څه مالیه ومنو. له دې ځواب نه وروسته یې دېرش تنه غلامان جاهو ته وروبښل او ملک شمس الدین ته یې هم ګران سوغاتونه ور ولېږل.

هیئت بېرته ملک شمس الدین ته ورغی. ملک شمس الدین چې دا مهال په تکناباد کې و د ملک شاهنشاه د ځواب له اورېدلو نه وروسته د خپلو دېرو زیاتو لښکرو سره په شاهنشاه باندې د حملې په اراده، مستونګ ته روان شو. شاهنشاه چې خبر شو له پنځه زره جنګي مېړونو سره د خاسک چونۍ ته چې له مستونګ نه بهر پرته وه، ولاړ.

ملک شمس الدین د ۶۵۲ هجري کال د محرم د میاشتې په اوایلو کې د مستونګ ښار کلابند کړ. خو څنګه چې پوه شو چې شاهنشاه د خاسک کلاته تللی دی، نو هلته پسې ورغی او کلایې محاصره کړه. کلا درې

میاشتې محاصره وه او د ملک شمس الدین او شاهنشاه قواوو اوه ځله جګړه سره وکړه. خو شمس الدین کلاونه شوه نیولی. په پای کې د ملک شمس الدین قواوو د خاسک په کلا له هرې خوا حمله وکړه. د کلا ور یې وسوځاو، کلا ته ور ننوتل او د ملک شاهنشاه ډېر زیات جنګي میړونه یې ووژل. ملک شاهنشاه او د هغه زوی بهرامشاه یې هم له نوي تنه خپلوانو او نوابانو سره ګرفتار او مړه کړل. سرونه یې ترې پرې کړل او شاو خواسیمو ته یې د نورو د عبرت د پاره واستول.

ملک شمس الدین د ۶۵۳ هجري کال د شهور په میاشت کې له مستونګ نه د «افغانستان» دیوې بلې کلا، تبري، د نیولو په نیت روان شو. د تبري د کلا کوتوال یو ډېر لوی د نامه او قدرت خاوند، المار افغان و. ده هغو فرمانونو ته چې جاهو «افغانستان» ته وړي وو، ډېر کلک ځواب ور کړی و او ویلی یې وو چې «که زما ټول خپلوان او عزیزان د ملک شمس الدین خدمت او مالیه و منی زه المار به یې تر مرګه ونه منم. نه د هبڅ سلطان په وخت کې زما پلرونو او نیکونو د مغولو خدمت منلی او نه یې د کفارو مالیې ته تن ور کړی دی. څو واره طاهر بهادر او سالی ـ نو یین راغلل خو سره له خپلو سترو لښکرو پښېمانه او مړه مړه شټونه بېرته ولاړل. موږ دامنو چې شل تنه غلامان ملک شمس الدین ته ور ولېږو خو که تردی زیات څه غواړي نو بیا به په توره او ډال فیصله کېږي.» (۸۸)

کله چې د ملک شمس الدین لښکر د تبري کلا ته ور ورسېد، له هرې

خوايي حمله پيل کړه. جګړه شپږته ورځې روانه وه. په پای کې ملک شمس الدين کلا ونيوله. المار يې ګرفتار او په ملا کې يې دوه ټوټې کړ. د المار د پنځوسو تنو صاحب منصبانو سترګې يې په سره سيخ ور نه وايستې. له پنځوسو تنو نه يې پښې او لاسونه پرې کړل. د پنځوسو تنو يې غوږونه او پوزې ور پرې کړې او پدې ډول يې د «افغانستان» ديوه بل لوی مشر، المار مبنه بېخې سپېره کړه.

شعيب افغان، د «افغانستان» يو بل لوی مشر و چې ملک شمس الدين غوښتل ويې ځپي، سيفي وايي چې شعيب يو نوميالی او زړور افغان او د سرنا (۸۹) د قوم و. يو زرو پنځه سوه جنګی مېړونه ور ته ولاړ وو. کله چې ملک شمس الدين په کال ۶۵۱ هجري کې د «افغانستان» په يرغل ور ووت، شعيب کشمير ته واوښت. خو کله چې خبر شو چې ملک شمس الدين د خاسک او تيرې کلاوې ونيوې نو بېرته «افغانستان» ته ولاړ.

د ملک شمس الدين يوه لوی مامور، محمدنهي، چې پنځه سوه مېړونه ور سره وو په ګرمسير کې ماليه ټولوله. شعيب ځان ګرمسير ته ورساو او د محمد نهي په مېړونو نيمه شپه ور ولوېده. ډېر يې ورنه ووژل او يو شمېر اسونه يې ورنه بو تلل.

کله چې ملک شمس الدين کرت پدې پېښه خبر شو نو د شعيب د ټکولو د پاره «افغانستان» ته روان شو، شعيب سمدستي د کهيرا کلا ته پناه يووړه. سيفي وايي دا کلا دومره يخه او له دومره شتونه ډکه وه چې «نه

په څلور کونجه دنیا کې بله داسې کلا موجوده وه او نه یې پرته د قارون ملعون له گنج نه بل چېرته د خزانو او ذخیرو ساري و. » (۹۰)
ملک شمس الدین وروسته له شلو شپو نه ځان د کلا خواته ور رساو.
پنځه تنه ژبور افغانان یې د ننه کلاته ور ولېږل چې شعیب ته ووایې چې د کلا ور پخپله خوښه پرانیزي او ملک شمس الدین ته تسلیم شي.
شعیب د هغوی خبرو سخت په غوسه کړ او پنځه واړه یې له کلا نه سر په څېړې گوزار کړل. ملک شمس الدین د شعیب دې کار سخت په غوسه کړ او له خپل ټول پوځ سره مخ په کلا ورغی. د شمس الدین پوځ شپږ څلویښت ورځې د کلا خواته پروت و، خو کلا یې ونه شوه نیولی. په پای کې خپله د کلا خلک دوه ډلې شول او ډغرې یې سره پیل کړې. د شعیب مخالفه ډله غالبه شوه او هغه یې لاس تړلی ملک شمس الدین ته ور ووست. شمس الدین د شعیب سر په خپل لاس پرې کړ او د هغې ډلې مشران یې ډېر زیات وغنول چې شعیب یې وروستی و.
د شعیب قتل د دې سبب شو چې د « افغانستان » یو بل نومیالی قومي مشر په کال ٦٥٤ کې له ملک شمس الدین سره ډغرې پیل کړې. دا د شعیب د تره زوی سندان افغان و. سیفي وایي چې سندان یو توریالی افغان او له څه مودې نه راهیسې خواته د ملک شمس الدین د دربار ملازم و.
ده چې زر تنه ملا تړلي او تکړه مېړونه ورته ولاړ وو، د ملک شمس الدین دربار پرېښود او له خپلو مېړونو سره یې د دوکي کلا ته پناه یوړه او هلته تخمین زر تنه نور « یاغي او داړه مار مېړونه » هم ور سره یو ځای

شول.

کله چې ملک شمس الدین دسندلږ حال ولید نو د «افغانستان» یوبل نومیالی، ملک تاج الدین ، یې دسندان ځپلو ته ور ولېږه. ملک تاج الدین چې دملک شاهنشاه دزوم، دمیرانشاه، مشر ورور ؤ ، له ملک شمس الدین سره هغه وخت په تکناباد کې ملگری شو چې ملک شمس الدین دملک شاهنشاه ځپلو او دمستونگ دحکومت ړنگولو ته ور روان و.

تاج الدین دکال ٦٥٤ هجري دربیع الاول په میاشت کې ځان له دوو زرو سپرو او سالارانو سره ددوکي کلا ته ور ورساوه. دجنگ نغاره یې وغږوله او خپلې لښکرې یې له کلانه را تاو کړې. سندان هم له اوه سوه مېړونو سره ور وووت او جگړه پیل شوه. جگړه او خونریزي اتلس ورځې روانه وه. په نولسمه ورځ ملک شمس الدین خپله هم له خپل عظیم لښکر سره ور ورسېد. دشمس الدین دلښکراو دسندان دمېړونو ترمنځ پنځه ورځې دکلا دوره مخې ته جگړه روانه وه خو په ور پسې شپه دشمس الدین مېړونو ددوکي کلا ور وسوځاوه او دکلا یو برج یې ونیو. سندان خپله هم له دوو سوو مېړونو سره له کلانه ور وووت او جگړه یې پیل کړه. دشمس الدین یو شمېر عسکري مشران او لویان یې ووژل. خو په پای کې خپله هم له خپلو مېړونو سره ووژل شو او ددوکي کلا هم ملک شمس-الدین ونیوله.

سیفي لیکي چې ددوکي دسیمې یو شمیر مالداران او غتیان ملک شمس-الدین ته ورغلل او ورته ویې ویل چې ددوکي له کلانه او یا فرسخه جنوب ته دافغاني غلو یوډله ده اودا تخمین دېرش کاله کیږي چې لارې

وهی. دوی له ملک شمس الدین نه خواست وکړ چې دغه افغانان چې د کنکان او نهران په نامه یادېږي، وځپي. ملک شمس الدین دوه زره سپاره دځینو وتلو سالارانو په مشرۍ د کنکان او نهران ټکولو ته ور ولېږل.

وروسته له ورځو ورځو جګړو نه له دواړو خواوو پنځه سوه تنه ووژل شول. په پای کې د ملک شمس الدین دسالارانو ټول پوځ یو وار په کنکان او نهران ورغی. سل تنه یې په جګړه کې ورنه ووژل او نور ټول یې له ټول مال او آل سره ملک شمس الدین ته ور وستل. شمس الدین ه اویا تنو نه لاسونه و ایستل او نور یې د «افغانستان» یوه مشر، ملک جاول، ته چې له شمس الدین سره یو ځای شوی و، ور وبښل.

د کنکان او نهران له ځپل کېدلو نه وروسته، د «افغانستان» دوو لویو مشرانو، ملک تاج الدین او ملک جاول په ګډه ملک شمس الدین، د «افغانستان» د یوې بلې کلا ورانولو ته ور وباله. دا کلا د ساجی په نامه یادېده او سیفی وایی چې پدې کلاکې «زروتنو داسې توریالو او زړورو افغانی مېړونو ژوند کاو چې د یزدګرد له وخت نه بیا تر اوسه پورې یې هیڅ پاچا، ملک او حاکم ته د اطاعت سر نه و ټیټ کړی او بې پروایی، توره، او زړورتیا یې له تصور او عقل نه وتلې وو». (۹۱)

ملک شمس الدین دا ومنله چې د ساجی په کلا یرغل وکړی. خو ده ددې مهم د ترسره کولو د پاره یې له چنګیزي سالار قنقوردای نوین نه هم دوه زره جنګی مېړونه وغوښتل. څنګه چې دا مېړونه ور ورسېدل د ساجی په

کلا ورغی. جګړه یې پیل کړه. اوه ورځې ډېر کلک جنګ روان و اوله دواړو خواوو نه دومره خلک ووژل شول چې سیفي وایي دوینو سیلاوونه روان شول. په پای کې ملک شمس الدین ځان د کلا وره ته ورورساوه خو څنګه چې ور له اوسپنې نه جوړو نو ژر یې مات نه شو کړی. دوه ورځې هلته پراته وو او په جګړه کې زر تنه نور هم له دواړو خواوو نه ووژل شول. په درېیمه ورځ د کلا خلک دوه ګونده شول او له یوبل سره یې جګړه پیل کړه. غالب ګوند د کلاور د دښمن د قواوو پرمخ پرانیست. ملک شمس الدین د کلا خلک څوک ووژل او څوک یې اسیر کړل. کلا یې ورانه کړه او ډېر زیات غنایم یې ور سره یوووړل.

په کال ٦٥٧ هجري کې ملک شمس الدین بیا مخ په «افغانستان» وخوځېد او داخل یې هدف د «افغانستان» د یوې بلې ډېري سترې او پخې کلا، بکر، نیول و. شمس الدین په ډېره بیړه ځان د کلا سیمې ته ورورساو او له کلا نه اته فرسخه لرې له خپل پوځ سره دېره شو. له هغه ځای نه یې خپل پنځه تنه سالاران او وتلي کسان کلا ته ور ولېږل او د کلا له مشرانو نه یې وغوښتل چې په خپله خوښه د ملک مخې ته وروورزی. خود کلا والي د ملک شمس الدین استازو ته ډېر سخت ځواب ورکړ او ورته ویې ویل چې که شمس الدین له ځان سره ښه کوي نو باید چې دده کلا ته چپ ونه ګوري.

کله چې شمس الدین ته د بکر د والي ځواب ور ورسېد، سمدستي یې خپلې لښکرې وخوځولې او د بکر د کلا شاوخوا ته یې واچولې. جګړه پیل

شوه اوله دواړو خواوو ته ډېر زيات مېړونه ووژل شول چې په هغو کې دشمس الدين څو تنه لوی پوځي منصبداران هم شامل وو. جګړه دولس ورځې روانه وه. په دیارلسمه ورځ دکلا يو شمېر مخور شمس الدين ته ورغلل او ورنه ويې غوښتل چې ددوی خراج و منی او دکلا محاصره ختمه کړي. شمس الدين دهغو خبره ومنله او جګړه يې بنده کړه.

دکلا والي لس زره ديناره، لس خرواره غله، يو شمېر عربي اسونه، پنځوس تنه غلامان اوډېر نور سوغاتونه شمس الدين ته ور کړل ملک شمس الدين هم دبکر دکلا مخورو ته سوغاتونه ور کړل او وروسته له څلورو ورځو نه بېرته ولاړ. زمچي اسفزاري وايي چې شمس الدين له دې ځایه زميندا ور ته ولاړ او هلته يې دملک شاهنشاه زوم، ميرانشاه، چې په مستونګ او دخاسک په چونۍ باندې دشمس الدين ديرغل په وخت کې تښتېدلی و، ونيو او ويې واژه. خو سيفی بيا دميرانشاه په باره کې وايي چې هغه له خاسک نه مخامخ سيستان ته ولاړ او هلته بيا دشمس الدين يوه نوميالي سالار، محمد نهی، وواژه.

سيفي ليکي چې يوه ورځ ميرانشاه او دهغه ټولو خپلوانو او عزيزانو په يوه باغ کې مېله جوړه کړې وه او دسرو شرابو درنګينو پيالو په شرنګ يې دزړه زنګ لرې کاوه، چې محمد نهی له پنځو سوو مېړونو سره يرغل پرې وکړ. خونړۍ جګړه ونښته. خپله ميرانشاه په جګړه کې ووژل شو او زوی يې، سالار، دښمن ګرفتار کړ او وروسته يې هغه هم وواژه.

دميرانشاه مشر ورور، ملک تاج الدين، چې له ملک شمس الدين سره په

تکناباد کې هغه وخت یو ځای شوی و چې شمس الدین اول ځل په «افغانستان» باندې دیرغل په نیت هلته تللی و، له شمس الدین نه جلا شو. په مستونگ کې یې دشمس الدین حاکم، غوري سپهسالار، وواژه او په مستونگ کې یې خپله پاچایی اعلان کړه. سیفی وایی کله چې ملک تاج الدین قدرت ته ورسېد ډېر ژر یې دافغانی میړونو یو لوی پوځ جوړ کړ چې دټولو شمېر یې لس زرو ته رسېده. سیفی دلته دهغې جگړې یادونه هم کوي چې، ظاهراً، دترینو قوم دملک شمس الدین له یوه سالار سره کړې ده او ملک تاج الدین هم ورگډ شوی دی.

کله چې دملک شمس الدین یو لوی سالار دیوه خاص ماموریت په ترخ کې دمستونگ په حدودو کې دبینی کاو په نامه یوه ځای ته ور نژدې شو، نو دهرمز تری [ترین] (۹۲) له قوم سره یې پداسې وخت کې جگړه پیل کړه چې هرمز په خپلهخیمه کې له مطربې سره دشرابو پیالې په سر اړولې. خو کله چې دجنگی میړونو او اسونو ځوږ او دنغارې اوشپېلۍ غږ ور تر غوږه شو، وار خطا او مست له خیمې نه ور ووت او قوم ته یې غږ کړ، دهرمز له غږ سره سم «پوره دوه زره افغانی مېړونه چې دشنو زمرو په څېر حملې او وژلو ته تیک ناست وو، ور ووتل. هرمز لکه دپولادو غر خپل زین کړی اس ته ور پورته شو. هندوستانی توره یې را و ایسته او لکه آسمانی تندر» دشمس الدین دسالار په پوځ ور وغورځېد. (۹۳) خو زور یې ونه رسېد او په شا ولاړ. پدې وخت کې دمستونگ نوی واکدار، ملک تاج الدین چې بینی کاو ته دمغولی

واکدار، نکودر، مخې ته ورغلي و اودهرمز په حال خبر شوی ؤ، دهرمز مرستې ته ورووت تهوله ورغ جګړه روانه وه خود دشپې له راتګ سره بنده شوه او هر څوک په خپله مخه ولاړل.

په کال ٦٦٦ هجري کې ملک شمس الدين په تيرايانو يرغل وکړ. سيفي وايي چې تيرايان « په لوړو غرونو او ډېرو ګرانو ځايونو کې ميشته وو او نه يې هيڅکله هيڅ پاچا ته باج او خراج ورکړی و او نه يې هيڅ وخت دچا اطاعت منلی و. » (٩٤) ملک شمس الدين پوره دوه نيمې مياشتې ور سره وجنګېد او په پای کې تيرايانو خپلې کلاوې دهغه کوتوالانو ته ور تسليم کړې. شمس الدين د تيرايانو څاروي په خپلو عسکرو وويشل او خپله له ډېرو زياتو غنايمو او اسيرانو سره هرات ته ولاړ.

ملک شمس الدين په کال ٦٧٦ هجري کې په تبريز کې مړ شو او پر ځای يې زوی، کشر ملک شمس الدين په تخت کښېناست. دغزني او هرات دولايتونو ټولو واليانو ورغلل او دهغه اطاعت يې ومانه، مګر دکندهار حاکم دا کار ونه کړ او ځکه نو کشر ملک شمس الدين کلکې جګړې ورسره وکړې.

داوو دهغو مطالب اساسي ټکي چې دسيفي دتاريخنامې په ديارلسو فصلونو کې د «افغانستان» دحالاتو په ارتباط راغلي او موږ دلوستونکو دکار دآسانتيا دپاره دلته په ښايسته مختصر ډول، خوداسې ثبت کړل چې دمفهوم په لحاظ څه کمی پکې رانه شي. پدې مطالبو کې دهغه وخت دپښتني ټولنې دساسي او اجتماعي ژوند په

باره کې یو شمیر ارزښتناکه ټکي راغلي او موږ په شپږم فصل کې ځانته بحث پرې کړی دی. دلته یوازې دومره وایو چې په تېرې، بیني کاو، شال، مستونګ، دوکي، کهیرا، ساجي او بکر اود «افغانستان» په نورو برخو کې له پښتني مشرانو او دکنکان او نهران افغانانو له لویانو سره دملک شمس الدین اودهغه دپوځي مشرانو او همکارانو دجګړو اونورو مربوطو حوادثو تشریحات چې اساسي ټکي یې لبږ وړاندې راواخیستل شول، په اومه هجري پېړۍ کې په یوه پراخه ساحه کې دپښتنو دهستوګنې ښکارندوی دي او داهم ښیي چې په شپږمه او اومه هجري پېړۍ کې یوه ښایسته لویه سیمه د «افغانستان» په نامه یاده شوې ده.

په تاریخنامه کې یو شمېر متفرقې یادونې هم دسیفي دوخت په «افغانستان» او ورڅېرمه سیمو کې دپښتنو په ارتباط راغلي دي.

کله چې مشر ملک شمس الدین کرت په کال ٦٤٨ هجري کې له هرات نه دمستونګ دلاندې کولو په نیت خوځېږي، په لاره کې له سیستان، فراه، اسفزار او غور نه دنورو تر څنګه دېر پښتانه جنګي مېړونه هم ټولوي او کله چې تکناباد ته رسېږي، هلته یې په لښکر کې دپښتني جنګي مېړونو شمېر دومره زیات دی چې ملک شمس الدین ببخې خاص قوماندان ورته ټاکي او هغه د «افغانستان» یو لوی مشر ملک تاج الدین دی چې همدلته په تکناباد کې له ملک شمس الدین سره ملګری شو. (٩٥)

کله چې چنګېزي شهزاده يسور له تکناباد نه دسيستان د يرغل په نيت

خوځېږي، هغه هم له دې سيمې نه دېر زيات جنګي مېړونه را ټولوی او

د تاريخنامې له متن نه داسې ښکاري چې په هغو کې پښتانه هم شامل

دي، ځکه کله چې يسور له دغه يرغل نه بېرته راګرځي او ځو وَرځي

د خوښۍ جشنونه جوړوي، پښتنو مشرانو او لويانو ته ښځي خاصه توجه

کوي او ډېر يې غټوي.

د کندهار د تېرې په سيمه کې چې تر اوسه هم په همدې نامه يادېږي،

د دغه ځای د يوه لوی مشر، المار افغان او د ملک شمس الدين کرت

د قواوو ترمنځ جګړې او نور تذکرات، چه تفصيل يې لږ وړاندې راغی،

د دې ښکارندوی دي، چې کندهار له ډېر پخوانه د پښتنو ټاټوبی دی.

د سيفي پر تاريخنامې علاوه، يوشمېر نور آثار هم، د دې خبرې مؤيد دي

چې د کندهار په ولايت او حدودو کې له ډېر پخوا نه پښتانه آباد دي.

په روضات الجنات کې (تأليف: ۸۹۷-۸۹۹ هجري) کندهار د پښتنو

ټاټوبی بلل شوی او يکې راغلي چې د دغه ولايت په نواحيو کې

افغانان هست دي. (۹٦) بيا ليکي چې «د کندهار د ولايت اوسېدونکي

افغانان دي او له دې ځايه مريان هرات ته بيول کېږي.»(۹۷)

عبدالرزاق سمرقندی هم په مطلع السعدين کې (تأليف: ۸۷۲-۸۷۵

هجري) د کندهار په سيمه کې پښتانه خپاره ګڼي او ليکي:

«خبر راغی چې د قندهاری ملک سيفل زوی او ملک محمد... يو بل سره

جګړې کوي... او يوشمير افغانان غلو په ګرمسېر او د قندهار په شاوخوا

کې ان دسند دسیند تر غاړې پورې خلک په فغان راوستي دي. » (۹۸)

سمرقندی یو بل ځای د آل مظفر دواکدارۍ دوخت دپېښو په لړ کې لیکي چې شاه شجاع وروسته د کرمان له مهماتو نه د گرمسېر افغانانو ته متوجه شو او « څرنگه چې د گرمسیر ولایت ډېر آباد و، پادشاه حکم وکړ چې باید افغانان منظمه مالیه ور کړي، که نه وي نو هر کال به زر مېړونه یرغل پرې کوي. افغانانو دځینې تخفیف غوښتنه وکړه، مگر ونه منل شوه او داسې فیصله وشوه چې باید هر کال دخراج په ډول مالیه ور کړي (۹۹)

په راتلونکي فصل کې به وگورو چې په تذکرة الابرار والاشرار، ریاض المحبت او خلاصة الانساب کې هم کندهار له ډېر پخوانه دپښتنو ټاټوبی گڼل شوی دی.

تواریخ حافظ رحمت خانی هم دا خبره تائیدوي او لیکی چې « ملک تاج الدین ستر مېړه او دبرم خاوند و. کله چې خشی قومونه یعنی یوسفزي گگیانی او ترکانی دقندهار په سیمو کې دگاړې، دنشکی، ډوک او ډاگ په سیمو کې اوسېدل ټول دهغه تر فرمان لاندې او تابع وو. » (۱۰۰) په تواریخ کې نور داسې مطالب هم راغلي چې کندهار له پخوانه دپښتنو ټاټوبی بولي.

ځینو مؤرخینو دافغانستان په شمالي سیمو په تېره بیا دبلخ په شاوخوا کې، دځینو پېښو دبیان په ضمن کې هم دپښتنو یادونه کړې ده.

عبدالجبار عتبی (مرگ: ٤٢٧ هجري) وايي چې سلطان محمود دایلک -

خان له قواوو سره دمقابلې دپاره دنورو تر ټنګه افغاني جنګي مېړونه هم را ټول کړل. دی لیکي:

«ایلک خان له پنځوس زره مېړونو سره له جیحون (آمو) نه تېر شو......

او دراتګ خبر یې په طخیرستان (تخارستان) کې سلطان (محمود) ته ور ورسېد. (هغه) سمدستي ولېږدېد او بلخ ته ولاړ چې ددوی طمع له هغو نواحیو نه وشکوي اود ځوري او وښو لار پرې وتړل شي، اوجګړې بندوبست یې وکړ اودترک اوخلج او هندو او افغاني دقومونو او دغزله طایفې نه یې ډېر لښکر را ټول کړ اودبلخ په څلور فرسنګې کې دمرخیال په پله...... پیاده شو» (۱۰۱)

داپېښه ابن اثیر هم په کامل کې ثبت کړې (۱۰۲) او وروسته رشید الدین په جامع التواریخ کې داسي لیکلې ده.

سلطان محمود له تخارستان نه «سمدستي روان شو اوبلخ ته ولاړ... اودترک او خلج او هندو او افغاني قومونه او دا غوز مېړونه یې ډېر زیات را ټول کړل.» اوجنګ ته ور وووت. (۱۰۳)

جو ینی هم کله چې په کال ٦٥٨ کې دمروې په یود پېښه غږیږي، هلته دهغو افغانانو یادونه کوي چې مغولي جرنیلانو، ظاهراً، له شاو خوا سیمو نه راټول کړي دي. جوینی لیکي:

«... دتالقانو له حدودو نه قراچه نوین دهغه ځری شو اوله یو زر سپرو او پیادوو سره ناڅاپه مروې ته راغی اوبیا یې په زخمونو مالګه ودوړوله او هر څوک چې په لاس ورغی ویې واژه... او په هغه پسي قونقو نوین له

سل زره خلکو سره را ورسېد او عذابونه او شکنجې یې پیل کړې او غزنوي خلجانو او افغانیانو چې مخې ته یې اچولي وو، داسې نا دودې پیل کړې چې ساري یې چا نه و لیدلی (۱۰٤) ځینو ته به یې اور اچاو او ځینې به یې په نورو شکنجو وژل...... » (۱۰۵)

کومې یادونې چې تردې ځایه وشوې، اکثره د سند د سیند د غربي پلو د پښتنو په باره کې وې. خو په پخوانو لیکل شوو اسنادو کې له ډېر قدیم نه د هغو پښتنو یادنې هم شوې دي چې د پښتونخوا په امتداد له اباسیند نه پورې غاړه پراته دي.

## پښتنانه په سند کې:

محمد قاسم فرشته وايي چې شیخ حمید لودي ان د غزنویانو د سلطنت له تأسیس نه پخوا لا په ملتان کې والي و او د دغو سیمو افغانان یې په پوځي چونیو کې د دې د پاره ځای پر ځای کړل چې په لمغان او ملتان باندې د تېریو او یرغلونو مخه ونیسي. فرشته وايي له همدې امله « د سبکتگین پالیسي داوه چې، هر څنگه کیږي، د شیخ حمید په سیمو باندې له یرغلونو ځان وژغوري. » (۱۰٦)

یو بل معتبر او پخواني اثر چې د اباسیند په غربي سیمو په تېره بیا په ملتان او د هغه ځای په شاوخوا سیمو کې د څورلسمې میلادي پېړۍ په اوله نیمايي کې د پښتنو یادونې کوي او په حالاتو یې یو څه رڼا اچوي، هغه د ابن بطوطه سفرنامه ده. بطوطه وايي:

«شاه افغان دسند دملتان په ولایت کې یاغی شو او دهغه ښار امیر یې چې بهزاد نومېده وواژه. څرنګه چې هغه [ محمد شاه تغلق] له شاه افغان سره دجګړې دپاره دعسکرو دتیاري امر وکړ او څنګه چې ( شاه افغان) ته معلومه شوه چې مقاومت نه شي کولی نو خپلو اقوامو ته چې په لوړو غرونو کې اوسېږي، ورغی. سلطان دې خبرې ډېر زیات په غوسه کړ او امر یې وکړ چې دهغه په قلمرو کې دې ټول افغانان ونیول شي. دا امر دقاضي جلال دمخالفت سبب شو. قاضي جلال له افغانانو سره دکنبایې (کمبې) او بلوزرې ښار ته نژدې میشت و. سلطان چې دافغانانو دقلع وقمع فرمان صادر کړ، ملک مقبل ته یې هم یو لیک واستاو. په لیک کې ملک مقبل ته چې دجزرات ( ګجرات) او نهر واله په سیمو کې وزیر و، هدایت ورکړل شو چې قاضي جلال او دهغه اطرافیان په یوه بهانه ونیسي... قاضي جلال دپاچاهي دعوه وکړه او دسلطان عسکرو ته یې ماته ورکړه. ددولت آباد افغانانو هم بغاوت وکړ. سلطان خپل نایب، نظام الدین ته امر وکړ چې دملک مل زوی او ددولت آباد نور افغانان ونیسي... خو خبره بل راز شوه... افغانانو په نظام الدین اودهغه په مېړونو حمله وکړه؛ ډېر یې ورنه ووژل او خپله نظام الدین یې و نیو. بیا ښار ته ننوتل خزانې یې ونیولې او دملک مل زوی یې دخپل واکدار په حیث وټاکه... کله چې دکنبایې او دولت آباد دپېښو خبر سلطان ته ور ورسېد،...... خپل زوم اعظم ملک بایزید یې له څلور زره جنګي مېړونو سره جنګ ته ولېږه. [ خو] دقاضي جلال لښکر ماته

وکړه... سلطان [ محمد شاه تغلق] خپله له لښکر سره ور ورسېد. قاضي جلال تېښگار ونه شو کړی اوله یو شمېر مېړونو سره و تښتید...[او] په دولت آباد کې د ملک مل زوی ناصر الدین سره یو ځای شو. سلطان پخپله له لښکر سره پسې ورغی... [ یاغیانو ] ماته وکړه. د ملک مل زوی او قاضي جلال ...... د دویقیر کلاته پناه یووړه. (۱۰۷)

ابن بطوطه وروسته دولت آباد ته ځي. هلته د ښار د ښېلو ښېلو برخو د معرفي په لړ کې د دویقیر په کلا هم غږیږي او بیا د ملک مل د زوی او قاضي جلال یادونه کوي او دیوه حکایت په ضمن کې خپله د ملک مل او یوه بل پښتانه، چې د دویقیر په کلا کې ور سره بندي و، نوموونه اخلي او لیکي چې « ملک خطاب افغاني ماته حکات وکړ چې یو وختې د دغې کلا [ یعني دویقیر ] په کوهي کې چې د مړو د کوهي په نامه یادیږي بندي وم. ده ویل هره شپه به مړې راتلې چې ومې خوري او مابه مجادله ور سره کوله. [ په پای کې سلطان ] له کوهي نه را و ایستم او ددې خبرې دلیل داو چې ملک مل [ افغان ] زما خواته یوه کوهي کې بندی و اودهغه گوتې اوسترگې مړو وخوړې او مړ شو. (۱۰۸)

ضیاء الدین برني هم په تاریخ فیروز شاهي کې ( تألیف: ۱۳۵۷م) د سلطان محمد تغلق د پېښو د بیان په ضمن کې د ملتان، دولت آباد او گجرات د پښتنو یادونې کړې دي. دا یادونې د تاریخ فیروز شاهي په ۱۸۲ - ۱۸۳ او ځینو نورو مخونو کې راغلی دي.

داو هغه اسناد او مدارک چې خپله په پښتونخوا او د پښتونخوا په

امتداد پر تو سیمو کې د پښتنو د حضور او سکونت یادونې پکې شوې او مورږ دلته، کلاً یا قسماً، را واخیستې. باور دی چې په لیکل شوو اسنادو کې به پدې اوږده موده کې د پښتنو په باره کې نورې یادونې هم شوې وي. خو مورږ ته په متونو کې دیو څه کر واړو په ضمن کې فقط همدا مخې ته راغلې وې او گرانو لوستونکو ته مو وړاندې کړې: «څه چې تیار هغه دیار».

خو باید وویل شي چې په پښتونخوا کې د پښتنو د سکونت تر څنگه یوه بله خبره هم داسې یوه بحث ته ضرورت لري چې په زړو متونو بنا شوې وي او هغه له یوې سیمې نه بلې ته د پښتنو د پخوانو مهاجرتونو مسأله ده او زمورږ د دې لیکنې دا بل فصل په همدې باره کې دی.

**دڅلورم فصل یاد داشتونه:**

۱ ) البته پښتانه له ډېر پخوانه هندوستان ته هم لېږدېدلي او هلته یې لوی او واړه حکومتونه جوړ کړي دي او په ایران کې یې هم یو څه موده واکداري کړې ده. خو څرنگه چې مورږ دلته هغه یادونې را اخلو چې خپله د پښتنو په ملک او له هغه سره څنگ په څنگ او نښتو سیمو کې د پښتنو په باره کې شوې دي، نوله دې امله هندوستان یا ایران ته وړاندې نه ورتېرېږو.

۲ ) دسول له نامه او موقعیت نه داسې اټکل کېدلی شي چې دا به داوسنې شمل د سیمې یوه آبادي وي. شمل د پکتیا یوه اوږده دره ده چې د ځتې کنډو او مکی ترمنځ پرته ده او اوسېدونکې یې ځدران دي. کوم سیند

چې پدې دره کې تیر شوی هغه هم دشمل په نامه یادیږي.

۳) حدود العالم من المشرق الی المغرب، مخ ۳۷۲.

٤) عتبی، تاریخ یمینی، مخ ۳۸۹.

٥) رشید الدین، فضل الله، جامع التواریخ، ټوک ۲، جز ٤، مخ ۲۰۹؛ دحمد الله تاریخ گزیده، مخ ۳۹٤، ابن اثیر، کامل، ټوک ۱٦، مخ ۳۰۸.

٦) ابن اثیر، کامل، ټوک ۱٦، مخ ۲۹.

۷) بلخی، عنصری، دیوان، مخ ۳۰۸.

۸) طوسی، اسدی چې دابیت یې دکهبر دکلمې په باره کې دشاهد په توگه را اخیستی دی، وایی چې کهبر په هندوستان کې دیوه ولایت نوم دی. لغت فرس، مخ ۱٦۱، برهان قاطع هم کهبر دهند یو ولایت بولی. برهان قاطع، ټوک ۲، مخ ۱۷٤٥.

۹) سلمان، مسعود سعد، دیوان، مخ ٤۱۸.

۱۰) همدا اثر، مخ ۱۷٥.

۱۱) همدا اثر، دیباچه، مخ ۲.

۱۲) داکلمه په کامل کې اوغنان لیکل شوې ده. خو یقیناً دادکوم ناسخ املایي سهوه ده.

۱۳) ابن اثیر، کامل، ټوک ۱۸ مخ ۱۷۹.

۱٤) دکرمان دره چې له شمال ختیځ نه دجنوب لویدیځ په لور اوږده پرته ده، تخمین نهه کروه اوږدوالی لري. په شمال کې په سپین غره لگیږي.

کوم سیند چې له دې درې نه راوزي له هغه سیند سره یو ځای کیږي چې له زیران درې نه راوزي او بیا داوزی خېل (دادځائیو یوه پنبه ده) له کلیو نه درې کروه لرې د کرمې په سیند ور گډیږي. (راورتي، دافغانستان او بلوچستان دیوې برخې په باره کې یاد داشتونه، مخ ۸۲).

۱۵) ابن اثیر، کامل، ټوک ۲۰، مخ ۲۱۶.

۱۶) فرشته، محمد قاسم، تاریخ فرشته، مخ ۸۷.

۱۷) همدا اثر، مخ ۸۶.

۱۸) دا په ډېر غالب گومان هغه دره ده چې دزیران په نامه یاده شوې ده. دا دره له سپین غره نه مخ په جنوب لویدیځ امتداد لري او اوږدوالی یې پنځه کروه دی. یو کوچنی سیند چې له سپین غره نه راکوزیږي پکې تېر شوی او په پای کې د کرمان له سیند سره یو ځای شوی دی. ددې درې اوسېدونکي توري دي. خو یو څه اوان کار هم پکې شته. (راورتي، همدا وړاندې یاد شوی اثر، مخ ۲۸).

۱۹) فرشته، تاریخ فرشته، مخ ۱۰۵

۲۰) دا ځای په بابرنامه کې هم بیا بیا یاد شوی او د کرماش په بڼه لیکل شوی دی.

۲۱) ابن بطوطه، سفرنامه، ټوک ۱، مخ ۴۴۶-۴۴۷.

۲۲) کوم مطالب چې مادلته را اخیستي هغه دظفرنامې په دوهم ټوک کې له مخ ۳۴ نه تر مخ ۴۱ پورې او دهمدې ټوک له مخ ۱۳۴ نه تر ۱۳۷

پورې راغلي دي.

۲۳) ماته پدې نامه د پښتنو د هيڅ قوم او قبيلې ترک ونه لګېده.

۲٤) په ظفر نامه کې دا نوم ارياب ليکل شوی او مطلب يې يقيناً همدا ننني د ځائيو داريوب دره ده چې راورټي يې هم ايرياب ليکی او داسې يې معرفي کوي:

دارياب دره د پېواړ غرب ته شمالاً او جنوباً پرته او شل کروه اوږده ده. اواره ځمکه يې کمه ده خو ډېره مشمره دره ده. اوسېدونکی يې ځائې دي. (راورټي، همدا وړاندې ياد شوی اثر، مخ ۸۱).

۲۵) شلو زان يا شنوزان د پېواړ شرق ته يوه لويه دره ده چې شمالاً او جنوباً پرته او، اوه کروه اوږده ده. دا دره په شمال کې له سپين غره سره يو ځای کېږي. يو کوچنی سيند هم ورنه راوزي او د پېواړ له سيند سره يو ځای کېږي. اوسيدونکی يې توري دي، خو يو څه اوانکار او هغه جتهان هم پکې اوسيږي چې اصلی قبيله يې په پنجاب کې پرته ده. (راورټی، همدا وړاندې ياد شوی اثر، مخ ۸۱)

۲٦) دا ځای چې په ظفر نامه کې بانو ليکل شوی همدا ننني بنو دی.

۲۷) د بيرونی په يوه رساله، الجواهر، کې چې په تخمين ۱۰٤۰ ميلادي کې ليکل شوې ده، د «تغر» په نامه يو ځای ياد شوی او موقعيت يې د پښتنو په سيمه کې ښودل شوی دی. بېرونی ليکی چې يو ډول سره زر د افغانانو په تغر کې پيدا کېږي. (بيرونی، الجواهر، مخ ۲۳۳).

کېدی شي چې د بيرونی «تغر» همدغه د ظفر نامې او بابر نامې د نغر

سیمه وي. بنایی دالجواهر کوم ناسخ دنغر دکلمې اولې برخې ته، سهواً، دیوه ټکي پر ځای دوه ټکي ایښي وي اوله نغر نه یې تغر جوړ کړی وي. که خبره داسې وي، نو نغر به پوره زوړ نوم وي.

۲۸) داکلمه په ظفرنامه کې پرنیان لیکل شوې. اصل یې یقیناً پړیان دی. پړیان دځمکنو یوه پښه ده او تر اوسه هم دهمدې سیمې په شاوخوا کې پراته دي. څرنګه چې په فارسي کې «ړ» نشته نو مؤلف د «ړ» پر ځای «ر» او «ن» لیکلی دی. په پښتو کې تر اوسه هم کله کله «ڼ» د «نړ» په شکل لیکل کیږي.

۲۹) داکلمه په بېځي غالب ګومان کړلاني ده. خو په ظفر نامه کې کلاني او په بابر نامه کې کراني لیکل شوې ده او ددې خبرې دلیل دادی چې «ڼ» نه دظفر نامې په ژبه کې شته او نه دبابر نامې په ژبه کې او ځکه نو په «ر» او «ل» چې «ڼ» ته ډېر نږدې غږونه دي بښودل شوي دي.

۳۰) معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خاني، مخ ۸.

۳۱) دتاریخ ګردیزي محشي، عبدالحی حبیبی، دا ځای دچارکارو اوس نی هوپیان بولی. تاریخ ګردیزي، مخ ٤۳۸.

۳۲) ګردیزي، عبدالحی بن ضحاک، تاریخ ګردیزی، مخ ٤۳۸.

۳۳) معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خاني، مخ ۵.

۳٤) همدا اثر، مخ ۳۵.

۳۵) همدا اثر، مخ ٤۲

۳٦) ډورن، برنارد، دافغانانو تاریخ، یادداشتونه، مخ ۷٦.

۳۷) نسوی، شهاب الدین محمد، سیرت جلال الدین منکبرنی، مخ۹۱.
۳۸) سمرقندی، عبدالرزاق، مطلع السعدین، مخ ۲۳.
۳۹) بیهقی، خواجه ابوالفضل، تاریخ بیهقی، مخ ۲۵٦.
٤۰) همدا اثر، مخ ۲٦۰.
٤۱) همدا اثر، مخ ۲۷۱.
٤۲) همدا اثر، مخ ٤۲۵.
٤۳) همدا اثر، مخ ٤۹۹.
٤٤) فخر مدبر، مبارکشاه، آداب الحرب، مخ ۳۱۵-۳۱٦.
٤۵) هروی، نعمت الله، مخزن افغانی، ټوک ۱، مخونه ۱۱٦-۱۱۹.
٤٦) ډورن، دافغانانو تاریخ، یادداشتونه، مخ ۷۹.
٤۷) بکران، محمد، جهان نامه، مخ ۷۳.
٤۸) گانکوفسکی، دپاکستان خلک، مخ ۱۳۰.
٤۹) ابن بطوطه، سفرنامه، ټوک ۱، مخ ٤٤٦.
۵۰) همدا اثر، همدا ټوک، همدا مخ.
۵۱) همدا اثر، همدا ټوک، همدا مخ.
۵۲) معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خانی، مخ ۵.
۵۳) همدا اثر، مخ ۷.
۵٤) همدا اثر، مخ ۸-۹.
۵۵) همدا اثر، مخ ۳٦.

۵٦ ) حدود العالم، مخ ۳۷۹ .

۵۷ ) همدا اثر ، همدا مخ.

۵۸ ) همدا اثر ، مخ ۳٦۵ .

۵۹ ) عتبی، تاریخ یمینی ، مخ ۳۳.

٦۰ ) ابن اثیر ، کامل ، ټوک ۱۵ ، مخ ۱۰۲ .

٦۱ ) رشید الدین، فضل الله، جامع التواریخ، مخ ۱٦ .

٦۲ ) فرشته، محمد قاسم، تاریخ فرشته مخ ٤۳ .

٦۳ ) میر خواند، روضة الصفا ، ټوک ٤ ، مخ ۹۲ .

٦٤ ) بیرونی، دهند تاریخ ، ټوک ۱ ، مخ ۱۹۹ .

٦۵ ) همدا اثر ، همدا ټوک، مخ ۲۰۸ .

٦٦ ) په پخوانو آثارو کې د «دهک» کلمه دیوه ځای دنامه په حیث بیا بیا راغلې ده او داسې ښکاري چې پدې آثارو کې بېل بېل ځایونه ددهک په نامه یادشوي دي. خو کوم ځای چې دغزنویانو دعصر ځینې مؤلفین او شاعران لکه عبدالحی گردیزی او مسعود سعد سلمان ددهک په نامه یادوي دهغه موقعیت غزنی ته نژدې ښکاري. اوس دغزنی او زرملې ترمنځ یو ځای ددهک په نامه یادیږي خو سړی په کامل یقین نه شي ویلی چې دابه هغه دگردیزي او مسعود سعد دهک وی.

خو کوم ځای ته چې بیرونی دهک وایی هغه دالصیدنې دناشر او محشی، زکی ولیدی توغان، په عقیده دافغانستان ننني ډکه ده چې دننگرهار دولایت په نهایی شرقی برخه کې دخیبر دلویې لارې په سر

پرته ده.

٦٧) بیرونی، صیدنه، انگریزی ترجمه، مخ ٢٤.

٦٨) دصیدني انگریزی مترجم داکلمه « افغانستان » لیکلې ده خوپه اکثرو عربی نسخو کې «جبال الافغانیه» راغلې ده او صحیح شکل یې هم همدا وروستی ښکاري.

٦٩) بیرونی، صیدنه، انګریزی ترجمه، مخ ١٧٣.

٧٠) بیرونی، الجواهر، مخ ٩٢.

٧١) پدې نسخه کې دا کلمه جبال الافاغنیه لیکل شوې ده خود البیرونی او نورو له لیکنو اودنخبة الدهر دبحث له قرینې او په عین عبارت کې له نورو یادو شوو نومونو نه څرګندیږي چې اصل یې جبال الافغانیه ده.

٧٢) دمشقی، نخبة الدهر، مخ ٢٠.

٧٣) رونی، دیوان، مقدمه، مخ څلور.

٧٤) همدا اثر، مخ ١.

٧٥) بیرونی، صفت المعموره، مخ ٣٠.

٧٦) بیرونی، دهند تاریخ، ټوک ١، مخ ٢٠٦.

٧٧) همدا اثر، ټوک ١، مخ ٢٥٩.

٧٨) همدا اثر، ټوک ١، مخ ٣١٧.

٧٩) منهاج الدین، طبقات ناصری، دراورتي انګریزی ترجمه، ټوک ١ مخ ٧٦.

۸۰) فرشته، تاریخ فرشته، مخ ۴۱۰.

۸۱) فخر مدبر، مبارکشاه، آداب الحرب، مخ ۳۱۵-۳۱۶.

۸۲) فرشته، تاریخ فرشته، مخ ۸۰.

۸۳) معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خانی، مخ ۳۰.

۸۴) همدا اثر، مخ ۳۳.

۸۵-همدا اثر، مخ ۵۶.

۸۶) دا داستان دشاهنامې له مخ ۵۳۸ نه تر مخ ۵۴۴ پورې راغلی دی.

۸۷) فردوسی، شاهنامه، مخ ۵۳۸.

۸۸) هروی، سیفی، تاریخنامه، مخ ۲۵۰.

۸۹) دانوم به په غالب گومان سوري وي.

۹۰) هروی، سیفی، تاریخنامه، مخ ۲۱۰.

۹۱) همدا اثر، مخ ۲۲۴.

۹۲) دا کلمه چې په تاریخنامه کې « تری » لیکل شوې ده، په اصل کې، په ښځی غالب گومان « ترین » ده ځکه کومه سیمه چې پدې ځای کې سیفي پرې غږېږي، هغه له ډېر پخوانه د ترینو ټاټوبی دی. لکه څنگه چې موږ د دې لیکنې د درې یم فصل په پای کې په « یوه ضروری یا دونه » کې او همدغه راز په شپږم فصل کې خبری پرې کړې دي، د ترینو دقوم نوم د پښتنو دبل هر قوم له نامه نه پخوا په اسلامی آثارو کې راغلی دی.

۹۳) هروی، سیفی، مخ ۲۷۱.

۹۴) همدا اثر، مخ ۳۰۲.

۹۵) همدا اثر، مخ ۲۰۰.

۹۶) اسفزاری زمچی، روضات الجنات، ټوک ۱، مخ ۳٤۱.

۹۷) همدا اثر، مخ ۱۱۲.

۹۸) سمرقندی، عبدالرزاق، مطلع السعدین، دوهم ټوک؛ لومړی جزء مخ ۳٥٦.

۹۹) همدا اثر، دکابل دانجمن قلمی نسخه، مخ ۲٤۱.

۱۰۰) معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خانی، مخ ۲٦.

۱۰۱) عتبی، تاریخ یمینی، دجرفادقانی ترجمه، مخ ۲۸٥.

۱۰۲) ابن اثیر، کامل، ټوک ۱٥ مخ ۳۰۱.

۱۰۳) رشید الدین، فضل الله، جامع التواریخ مخ ۱٥۱-۱٥۲.

۱۰٤) پدې عباراتو زما سر ښه خلاص نه شو او ښایی چې پښتو ترجمه یې بیخي صحیح نه وی.

۱۰٥) جو ینی، علاء الدین، تاریخ جهانکشای، مخ ۱۳۲.

۱۰٦) فرشته، تاریخ فرشته، دبرگز انگریزی ترجمه، ټوک، ۱، مخ ٦.

۱۰۷) ابن، بطوطه، ټوک ۱، مخونه ٥۷٥-٥۷۸.

۱۰۸) همدا اثر همدا ټوک، مخ ٦۳۳.

# پنځم فصل

# پښتانه او مهاجرتونه

د پښتنو د مهاجرت روایتونه دوه ډوله دي. یو هغه روایتونه دي چې وایي پښتانه د دنیا له کومې بلې برخې نه افغانستان او پښتونخوا ته راغلي او یا دلته میشته شوي دي. بل هغه روایتونه او فرضیې دي چې خپله په پښتونخوا او افغانستان کې له یوې نه بلې سیمې ته د پښتنو د مهاجرتونو بیان او اټکل یې شوی دی. په اول ډول کې داسې روایتونه راځي، لکه په مخزن افغاني، مطلع الانوار او د کروسنسکي په خاطراتو کې چې راغلي او موږ د دې لیکنې په اول فصل کې پرې وغږیدو. دا روایتونه پښتانه بني اسرائیل، قبطیان یا ارمنیان بولي او وایي چې له منځني ختیځ، شمالي افریقا، او یا د قفقاز له سیمو نه افغانستان او پښتونخوا ته لېږد بدلي دي. په دوهم ډول کې هغه روایتونه او فرضیې راځي چې وایي پښتانه د ننه په افغانستان او پښتونخوا کې له یوې

سیمې نه بلې ته لېږدېدلي او زمونږ دلیکنې د دې فصل د بحث موضوع هم همدا روایتونه جوړوي.

ترکومه حده چې ماته معلومه ده، هنري والتر بیلو لومړنی معاصر لیکوال دی چې د ننه په پښتونخوا او افغانستان کې، احتمالاً، د پښتنو په یوه لوی مهاجرت غږیدلی دی. بیلو وایي چې دا مهاجرت د پخوانی قندهار یا گندهارا یا ننني پېښور له شاوخوا نه او سنی قندهار ته شوی دی. دی وایي چې «په پنځمه یا شپږمه عیسوي پېړۍ کې له شمال نه د ساکانو Seythic دیو شمېر سترو ډلو د ظهور له امله د گندهار یا گندهارا د اصلي اوسېدونکو یو عام مهاجرت پیل شو. دا باسیند په غاړه کې یې خپلې مېنې پرېښودې او د لویدیځ په لور ولېږدېدل. هلته له خپلو نورو عزیزانو سره یو ځای شول او د هلمند په غاړو کې د یوې ځانته ټولنې په توگه دېره شول. دا سې ښکاري چې هلته یې یو ښار جوړ کړ او د خپل اصلي پایتخت - گندهار - په نامه یې یاد کړ. دا نوم [ تراوسه هم] د ننني کندهار ښار او ولایت ژوندی ساتلی دی.

په هغه وخت کې دا خلک د گندهاریانو یا گندهاري په نامه یادېدل. مذهب یې بودایي و او د خپل اوږده او رېږوونکی سفر په وخت کې یې د خپل مذهب تر ټولو نه سپېڅلی یادگار هم ور سره یوووړ او هغه د بودا داوبو لوښی و. (۱)

د گندهاریانو د دې مهاجرت نظریه اسلامي دایرة المعارف هم تائیدوي اولیکي:

«قندهار دګندهارا هغه شکل دی چې عربي واقعه نګارانو استعمالاوه. دمسعودی اوبېرونی قندهار په هیڅ صورت نننی کندهار نه دی. دبیلو دانظریه دمنلو ده چې دانوم [پخوانی] آراکوزیا [یا ننی کندهار] ته دګندهارا مهاجرو وړی و. لکه څنګه چې چینی زایر سونګ یون، چې په تقریباً ۵۲۰ میلادی کال کې ګندهارا ته تللی و ویلی دی، ددغه مهاجرت تاریخ په ښکی غالب ګومان پنځمه [عیسوی] پیړۍ یعنې هغه وخت دی چې هفتالیانو ګندهارا ونیوله. کومه دبودا دخیرات کاسه چې تر اوسه هم [داوسنی] کندهار له ښار نه بهر دسلطان ویس په زیارت کې ایښې ده، هغه په غالب ګومان مهاجروبودایی مذهبه مشرانو هلته وړې ده.»(۲)

بیلو داد بودا کاسه خپله لیدلې او وایي: «دا یوه ډېره لویه کاسه ده چې له یوې توربخونې شنې ډبرې نه جوړه شوې ده. کله چې ما دا کاسه په کال ۱۸۷۲ کې ولیده په یوه واړه زیارت کې چې دکندهار له زاړه ښار نه فقط یو څو سوه ګامه لرې واقع دی، پر ته وه او ډېر احتمال لري چې تر اوسه هم هلته وي.»(۳)

بیلو په یوه بل اثر کې دا مطلب په یو څه تفاوت ثبت کړی دی. هلته دی وایی چې دسوات، کابل او اباسیند ترمنځ سیمو ځایی خلک هغه وخت دترنګ غاړې ته ولېږدېدل چې دیوچي Yuechi یاجته Jata طایفې حمله پرې وکړه. دغه راز بیلو پدې اثر کې وایی چې دبودا کاسه یې په کال ۱۸۵۷ کې ولیده. (٤)

اولاف کرو په کال ۱۹۵۷ کې لیکي چې دا کاسه چې قطر یې څه باندې دوه متره دی، اوس د کابل په موزیم کې ده. (۵) خو کرو د ګندهاریانو دلرغوني مهاجرت په باره کې دبیلو نظریې ته دشک او تردید په نظر ګوري او لیکي چې « دبیلو دغه له تاوده کې خبرې چې د یوه تاریخي حقیقت په بڼه بیان شوې دي، دواقعي تاریخ په حیث نه شي منل کېدلی. ځکه اسناد، سکې او کتیبې دا لرغوني مهاجرت نه تائیدوي. دانظریه په حقیقت کې فقط ددوو قندهارونو دنومونو په مطابقت بنا شوې ده. » (٦)

اما باید وویل شي چې تاریخي اسناد هم پدې باره کې بېخي ګونګ نه دي. په ځینو پخوانو آثارو کې هم دداسې یوه مهاجرت یادونه شوې چې له اسلام نه پخوا دلرغوني قندهار « ګندهارا » له سیمې نه د کابل، غور او هرات په لور شوی دی.

سیفي هروی « دهرات تاریخنامه » کې، د عبدالجبار فامي د « تاریخنامې » په حواله وایي چې دهرات ښار اول ځل له قندهار نه راغلو مهاجرو جوړ کړی دی. سیفي دامطلب داسې پیل کوي:

« ... نوموړی مرحوم شیخ په خپله تاریخنامه کې دهرات دښار بنا په اته ډوله راوړې ده. لومړی داچې دهرات ښار دطهمورث بن هوشنګ په وخت کې جوړ شوی دی. » سیفي پدې پسې دهرات دښار دجوړېدو پېښه په نژدې دیارلسو مخونو کې بیانوي چې لنډیز یې دادی:

دطهمورث دواکدارې په وروستیو وختو کې له « قندهار » (۷) نه پنځه

زره تنه د کابل شاوخوا سیمو ته ولاړل. مګر هلته یې ټیک ونه شو، غور ته ولاړل. په غور کې یې هم دهستوګنې مخه ونه لیده یوه بل ځای ته ولاړل چه «اوبه» نومیږي. هلته ښا یسته زیاته موده پاتې او ښه آباد شول. خو وروسته بدي پکې پیدا شوه او په جګړو اخته شول.

کوم قوم چې په جګړه کې ماته وکړه هغه له «اوبه» نه شمیران ته ولاړ اوله هغه ځای نه بیا یوبل ځای ولاړ او هلته یې دقندز (۸) په نامه یو ښار جوړ کړ. ډېره موده په همدې ښار کې پاتې شول او بیا یې دهرات ښار جوړ کړ او ټول ور ولېږدېدل.

څرنګه چې سیفي دا مطالب دده په خپل قول دعبدالرحمن فامي دهرات له تاریخنامې را اخیستي او دتاریخنامې محشي، محمد زبیر صدیقي، دفامي دژوند وخت له کال ٤۷۲ نه تر کال ٥٤٦ پورې اټکل کړی دی، نو سړی ویلی شي چې دننني افغانستان په لور د «ګندهاریانو» یا «قندهاریانو» دمهاجرت پېښه دتاریخنامې له تألیف نه تخمین دوه سوه کاله پخوا لیکل شوې ده.

دهرات دښار دجوړېدلو روایت مؤرخینو په تواتر له یوبل نه اخیستی دی اومحد زبیر صدیقي په خپله مقدمه کې وایي چې دهرات تر ټولو نه پخوانی معلوم تاریخ دیاسین الحداد «دهرات تاریخ» دی چې په ۳٤۳ هجري کې لیکل شوی دی، نو که فامي اوسیفي خپل روایت دحداد له تاریخ نه اخیستی وي هلته بیا دګندهاریانو دمهاجرت دلیکل کېدلو وخت دڅلورمې هجري پېړۍ لومړۍ نیمایي برخې ته رسېږي او

مهاجرت به تر هغه نه ډېر پخوا شوی وي.

لنډه دا چې د نننی افغانستان په لور د «گندهاریانو» د یوه لرغوني مهاجرت خبره یوازې بیلو نه کوي، بلکه ځینو پخوانو اسنادو کې هم شوې ده.

دلته دا خبره هم د کولو ده چې نه سیفی په صراحت وایی چې دا مهاجر پښتانه وو او نه بیلو. خو کومې سیمې چې د مهاجرت پېښه پکې واقع شوې په هغو کې، لکه څنگه مو چې په څلورم فصل کې ولیدل، معتبرو زړو آثارو له ډېر پخوانه پښتانه میشته گڼلي دي. ځکه نو سړی ویلی شی چې که دا مهاجرت شوی وي په غالب گومان به د پښتنو وي.

پدې سیمو کې د یوه بل ډېر پخوانی مهاجرت یادونه د تاریخ فرشته مؤلف، محمد قاسم فرشته، کړې ده. هغه دا مهاجرت په صراحت د پښتنو بولی او لیکی چې افغانان په ۶۳ هجری کال کې له خپلو غرونه مخ په کرمان، شیووران او پېښور ور شېوه شول او هغه یې تباه کړل. د لاهور راجا یې زرتنه سپاره ځپلو ته ور ولېږل. خو ماته یې وکړه. راجا خپل ورارد له دوو زرو سپرو او پنځو زرو پیاده وو سره ور ولېږه چې بیا ډغرې ور سره ووهی. د افغانانو او هندیانو جنگی مېړونه پنځه میاشتې سره وجنگېدل. خو ژمی راغی او هندیان مجبور شول چې لاهور ته په شا ولاړ شي. پسرلی افغانانو او هندیانو بیا یو شمېر جگړې سره وکړې. په پای کې هندیان له نیلاب نه پورې وتل؛ افغانان هم په شا ولاړل او خپلو سرحداتو ته ستانه شول. خو وروسته افغانان بیا مخ په پېښور وړاندې

ولاړل. هلته یې په غره کې دخیبر په نامه یوه کلا جوړه کړه او دروه ولایت یې لاندې کړ. (۹)

نواب محبت خان هم په ریاض المحبت کې چې په کال ۱۸۰۶ م کې یې تکمیل کړی دی، د پښتنو دهمداسې یوه مهاجرت یادونه کوي. د ریاض المحبت دا روایت راورتی دخپل یوه مضمون په حاشیه کې راوړی او هغه دادی:

«کله چې دخراسان والي حجاج سقفی دخپل وراره قاسم سقفی په مشري هندوستان ته لښکر کشي وکړه پدې عملیاتو کې دافغانانو یو غښتلی لښکر ورسره ملگری و. دوی په روه کې وړاندې ولاړل او دروه له نیولو نه وروسته ملتان ته ورسېدل. روه افغانانو ته ور کړل شو او هدایت ورته وشو چې سر کشه هندوان لړایی ته پرې نږدي. کله چې افغانانو دروه سیمه ونیوله او پکې میشته شول دروهیله په نامه یاد شول. (۱۰)

نعمت الله هروی بیا په تاریخ خانجهانی ومخزن افغانی کې لیکلی، چې پښتانه له غور نه نورو سیمو ته لېږدېدلي دي. دی لیکي:

«څنگه چې ... سلطان شهاب الدین غوري دغزنی په تخت کښېناست، نو دهندوستان دنیولو نیت یې وکړ څو واري له غزنی نه هندوستان ته راغی. لومړی ځل له لاهور نه بېرته وگرځېد. دوهم ځل له نهر واله نه نامراده بېرته ولاړ. درېیم ځل یې دافغانانو دقبایلو دولس زره توریالی سپاره او جنگی مېړونه له یوځ سره راوستل؛ حق تعالی بری ورپه برخه کړ او دهندوستان راجا پتهورا یې وواژه... سلطان شهاب الدین دبېرته

تګ په وخت کې دغه خلک [افغانان] دروه او سليمان په غرونو، اشنغ او سوات او باجوړ کې [او] د کابل له حدودونه د نيلاب تر سينده او د قندهار له اطراف نه د ملتان تر سرحده پورې آباد کړل. ملک معزالدين يې له شلو زرو تنو سره و ګوماره چې دغه خلک [افغانان] ټول له خپلو کډو سره د غور له غرونو نه ولېږدوي او دغو [دروه] غرونو ته يې بوزي او پکې ميشته يې کړي...

کله چې معزالدين دا خلک [افغانان] ميشته کړل سلطان ډېر خوښ شو او د دوی آباديدل يې د هندوستان فتح وبلله او همداسې هم وو. نو سلطان مهرباني وکړه او هرې فرقې ته يې د نيلاب د سيند په شاوخوا کې جاګيرونه ورکړل.» (۱۱)

حافظ رحمت خان بيا په خلاصة الانساب کې چې په کال ۱۱۸٤ هجري کې يې ليکلې دی، وايي چې سلطان محمود په زرهاوو پښتانه په خپل پوځ کې هندوستان ته بوتلل او ډېر يې هلته ډېره کړل. دی ليکي چې «سلطان محمود پاچا څو وارې د سنده او هندوستان د نيولو په غرض راغی خو بې سوده او بې فتحې بېرته ولاړ. په پای کې يې د غزنی او کندهار د افغانانو لمن ونيوله. وايي چې د دغو سيمو د افغانانو دولس زره سپاره او دولس زره پياده ور سره ملګري شول او په ګډه ور سره راولېږدېدل او د پوځ په سر کې په هندوستان ور شېوه شول او ټول هندوستان يې تر د کنه پورې ونيو... سلطان محمود دا ورو ستی ځل د هند اکثره کافران قتل کړل او بېرته ولايت (۱۲) ته ولاړ... افغانان يې په

ځینو ځایونو کې خصوصاً د لاهور په شاوخوا کې د اسلام د دین د احکامو د ترویج د پاره ځای پر ځای او دېره کړل. » (۱۳)

ځینې اسناد وایي چې پښتانه د سلطان محمود له واکدارۍ نه پخوا هم پدغو سیمو کې ځای پر ځای شوي وو. فرشته وایي:

« کله چې د غزني حکومت د الپتگین لاس ته ورغی، نو د هغه جنرال، سبکتگین، اکثره د ملتان او لمغان پر سیمو یرغلونه کول او باوجود د افغانانو د مقاومت به یې د دغو سیمو خلک د غلامانو په توگه بېول. [ د اباسیند د غاړې دیوه کلي ] ، لاهور، راجاجیپال... له بهار تیانه وغوښتل چې شیخ حمید افغان ته مقام ور کړي. شیخ حمید [ لودي ] د ملتان او لمغان والي مقرر شو او پدغو سیمو کې یې افغانان په پوځي چونیو کې واچول » (۱٤)

آخون درویزه هم په تذکرة الابرار والاشرار کې له شرق نه د غرب په لور د پښتنو د لېږدېدو دوه سترې پېښې یادوي او وایي چې یوه یې د سلطان محمود غزنوي د لښکر کشۍ په وخت کې شوې ده او بله یې د الغ بیگ د واکدارۍ په موده کې. (۱٤۹٦-۱۵۰۱).

درویزه د اولې پېښې په باره کې لیکي چې یو مسلمان چې هند ته تللی و، سلطان محمود ته ورغی او هغه ته یې په هند کې د مسلمانانو او اسلام د حقارت حال بیان کړ. سلطان محمود چې خبر شو نو د هند مهم یې په ځان فرض وگاڼه. همدا و چې د کابل له لارې یې پر هند حمله وکړه. یو شمیر ځایونه یې ونیول خو په پای کې یې ماته وکړه او بېرته خپل

ملک ته ولاړ. هلته د کندهار افغانانو ته ورغی او مرسته یې ترې وغوښته. څورلس زره افغاني مېړونه چې له هر یوه سره یې یوه ښځه هم ملګرې وه، له سلطان سره ملګري شول. د ملتان له لارې یې په هند حمله وکړه. هند یې ونیو او ډېر افغانان هم هلته پاتې شول. د کندهار پاتې افغانان هم څوک هند ته ولاړل، څوک یې نورو ملکونو ته وکوچېدل او څوک یې په کندهار کې پاتې شول. افغانانو به چې هر ځای ونیو هلته به ډېره شول او د هغه ځای اصلي اوسېدونکي به یې ورک کړل؛ څوک به یې ووژل او څوک به یې خپل غلامان او رعیت کړل. (۱۵)

دروېزه د پښتنو د مهاجرت د بلې پېښې په باره کې داسې لیکي چې افغانانو چې کندهار سره وویشه، د ترینو برخه د کنداو زمند ترمنځ واقع شوه. د کند د خلکو له جملې نه شخي (۱٦) ترین ته زیاتره ور نژدې وو. ځکه د شخي برخه دارغسان ویاله وه چې د ترینو حدودو ته ډېره ور نژدې وه. یو وخت د ترینو او شخي ترمنځ بدي پیدا شوه او سره ونښتل. ترینو شخي څوک ووژل او څوک یې وشړل. کوم شخي چې د ارغسان له ویالې نه ولېږدېدل، غوریا خېلو ته په جرګه ورغلل او یو څه ځمکه یې ترې وغوښته. غوریاخېلو یو څه خرابه ځمکه ورکړه. وروسته د غوریا خېلو ځمکې د برشګال بارانونو او سېلابونو ښېخې خرابې کړې. کومه ځمکه یې چې خښتې ته ورکړې وه هغه یې په زور او جنګونو بېرته ترې واخیسته. شخي له دې ځای نه هم یوه بل ځای ته چې کارونګي نومېده ولېږدېدل. (په تواریخ حافظ رحمت خاني کې دا الفاظ ګاړه او نشکي

راغلي دي).

وروسته دا خلک له دې ځای نه د کابل ولایت ته ولاړل. اتمان خېل هم د تک (امکان لري چې دا نوم تل وي) او گومل له حدودو نه کابل ته ولېږدېدل او غوریاخېلو سره یو ځای شول. مهمند زي هم چې له اصله زمند دي، د ځینو پېښو له امله له خښې سره یو ځای شول.

یوسفزي او مندړ ډېر زیات کابل ته راغلل او دغه ځای مسلمان خلک یې ځورول؛ مالونه یې په ناحقه ورنه اخیستل او نامناسب کارونه یې کول. یوسفزو په نورو افغانانو ری نه واهه او له میرزا قلي بیگ نه یې احتراز نه کاوه او د پردې او حجاب پروایې نه ساتله. په پای کې خبره دې ته ورسېده چې میرزا قلي جنگ ور سره وکړ؛ یو شمېر یې ورنه ووژل او یو شمېر یې چور او تالا کړل. یوسفزي له میرزا نه وتښتېدل او د کابل د غرونو یوې درې ته ننوتل. وروسته له دې درې نه بېرته را کوز شول او خلک به یې ځورول او مالونه به یې ورنه تالا کول. میرزا قلي د مصلحت په اساس ښه سلوک ور سره پیل کړ.

یوه ورځ میرزا د یوسفزو سرداران خپل دربار ته ور وبلل او ښې جامې او ملمستیاوې یې ور کړې. بیا یې ورته وویل چې دا د دغوی خپله دېوان خانه د دا او هر وخت یې چې جامه، شراب او یا طعام په کار وي، هم دلته ورته تیار دي. پس له دې به د یوسفزو سرداران تل د میرزا دربار ته ور تلل. یوه ورځ یې نهه سوه تنه دربار ته ورغلل او میرزا ټول ووژل.

کله چې میرزا د یوسفزو مشران وژل، د دغوی ستر مشر ملک سلطانشاه

دمیرزا خدمت ته ورغی او خواست یې ترې وکړ چې دده دوه عرضه واوري. یو داچې احمد، ورارہ یې، ونه وژنې او آزاد یې کړي او بل داچې دیوسفزو عورتې او ماشومان بندي نه کړي او اجازه ور کړي چې په هره خوایې زړه کیږي ولاړ شي. میرزا قلي یې عرضونه ومنل. احمد له مرګه خلاص او وروسته دخپل قوم لوی مشر شو او یوسف زی یې دسوات، بنیر، باجوړ او دسمې یا خپله د دروېزه په قول دهموارې دملک خاوندان کړل.

یوسفزی دخپلو مشرانو له قتل عام نه وروسته ننګرهار ته ولیږدېدل او دلغمان له ترکلانو سره ولوېدل. څه موده وروسته دیوسفزو او مهمندزو ترمنځ په حصارک کې ډېر سخت جنګ وشه. جګړه یوسفزو وګټله. خودپښتنو له دود سره سم یې دا ځای دوژل شوو مېړونو پاتې کسانو ته ور پرې ښود.

ګګیانې په باسول کې پاتې شول او ځینې وایې چې یوسفزو باجوړ ته مخه کړه او دباجوړ څه برخې یې ونیولې خو یوسفزو یا باجوړ ساتلی نه شو او یا یې خوښ نه و. همداو چې په سفید سنګ کې له دلزاکو سره جرګه شول او ځمکه یې ورنه وغوښته. مګر دلزاکو ځمکه ورنه کړه او په پای کې یې جرګه په جګړه بدله شوه. دا جګړه هم یوسفزو وګټله. وروسته له دې یوسفزی دتاترې اوشلمان غرونو ته ولاړل. له هغه ځای نه یې له دلزاکو سره روغه وکړه او دپېښور سیمې ته ور ننوتل. دلزاکو مېړانه ور سره وکړه او ځمکه یې ور کړه. وروسته یوسفزي له دلزاکو نه جلا شول او

دوآبې ته ولاړل. یوسفزی له شلمانو سره هم چې په اشنغر کې پراته وو وجنګېدل؛ دشلمانو مشر چې جلو نومېده ووژل شو اوجګړه یوسفزو وګټله. شلماني یې وشړل او سوات ته ولاړل. دسوات سلطان دوی ته ځای ورکړ او دډنډ تر سرحده سیمه یې وروښله.

کله چې یوسفزی په اشنغر کې دېره وو دلزاکو بیا بدي ورسره را واخیسته. چون دسمې ملک ددلزاکو و، نو هر وخت به چې یوسفزی ورنه تېرېدل، دلزاکو به وژل او تالا کول به یې. کله به چې دیوسفزو کاروان له سمې نه تېرېده نو ددلزاکو داړه ماران به پرې ور لوېدل او تاراج کول به یې. ملک احمد دشخی خلکو ته رجوع وکړه او مرسته یې ترې وغوښته. مهمنزو سره له دې چې له یوسفزو سره یې مړي کړي وو، دملک احمد مخ و مانه او ګډ ور سره راغلل. خو یوشرط یې داو چې اشنغز به دهمدوی وي. ګګیاني هم ور سره ملګري شول او شرط یې داؤ چې دوآبه، به دهغوی وي.

وروسته دیوسفزو او دلزاکو ترمنځ سختې جګړې وشوې. دلزاکو ماته وکړه او هزارې ته واوښتل او هغه ملک یې وران کړ. دې پسې یوسفزو دسوات دملک دنیولو قصد وکړ اوپه دولس کاله کې یې ټول سوات ونیو. بیا دباجوړ دتلاش په جنګ لګیا شول او تلاش یې هم ونیو. پدې ډول دیوسفزو ملک له ناوګۍ نه تر ارهنډه پورې پراخ شو اوپه کلونو کلونو پکې آبادوو.

کله چې دیوسفزو مشری خان کجو ته ورسېده هغه دشیخ تپور په برخه

کې له غوریا خېلو سره کلکه جګړه وکړه او میدان یې وګاټه. (۱۷)
د یوسفزو د مهاجرت داپېښه چه ددرویزه په تذکرة الابرار کې په لنډ ډول ذکر شوې، په تواریخ حافظ رحمت خانی کې په پوره تفصیل راغلې ده.
څرنګه چې ددې مهاجرت او مربوطو پېښو په باره کې د معاصرو لیکوالو منبع همدا تواریخ حافظ رحمت خانی دی او ځینو معروفو غربي لیکوالو لکه مونستوارت الفنستن او اولاف کرو هم دامهاجرت په خپلو آثارو کې د تواریخ په استناد په پوره تفصیل ثبت کړی دی او په عین وخت کې تواریخ ددرویزه د تذکره الابرار له روایت نه هم په تفصیل او هم په یو شمېر اساسي ټکو کې توپیر لري، نوله دې امله مونږ د تواریخ لنډیز هم دلته را اخلو چې لوستونکو ته یې مطالعه او د تذکرې له روایت سره مقایسه اسانه شي.
تواریخ حافظ رحمت خانی دهغه اثر یو ساده شکل دی چې خواجو ملېزی د «تواریخ افاغنه» په نامه لیکلی او نواز طائر یې د تألیف وخت د تواریخ حافظ رحمت خانی په مقدمه کې له کال ۱۶۲۲ نه تر کال ۱۶۲۳ پورې اټکل کړی دی. پیر معظم شاه د خواجو ملیزی تواریخ افاغنه، د حافظ رحمت خان په هدایت په کال ۱۷۷۲ کې په ډېرو ساده او روانو عباراتو انشا کړی او د تواریخ حافظ رحمت خانی نوم یې پرې اېښی دی. د تواریخ د بابونو عناوین فارسي دی، خو متن یې اکثره پښتو او، یوڅه په پښتو او فارسي ګډ لیکل شوی دی. تواریخ لیکي:
«وایي چې یوسفزي په ګاړه په نوشکي او غوریه خیل په ترنک ، په مقر

او قره باغ کې پراته وو. په یوه سبب یې جنګ سره وشه. خشي یې درست مات کړل. هغه ملک یې ترې ونیو درست خشي چنانچه یوسفزي او ګګیانی او ترکلانی ور سره محمد زي هم دربست له قبایلو سره راوکوچېدل. مخ په ښکته کابل ته راغلل ساکن شوو. الغرض یوسفزي د کابل په سیمو کې دزیات حشمت او شوکت څاوندان شول. د کابل شاوخوا سیمې یې ټولې تر خپل تصرف لاندې راوستې » (۱۸)

پدې پسې تواریخ د یوسفزو د مهاجرت کیسه او مربوط حوادث تر دروېزه نه په ښېخی زیات تفصیل بیان کړي دي چې لنډیز یې داسی دی:

وایي چې یوسفزي د کابل په شاوخواسیمو کې میشته شول. دلته د دوی د سر سړی ملک سلیمان شاه ولد ملک تاج الدین ولد ملک رڅړ ؤ. کله چې ملک سلیمانشاه د کابل په سیمو او مضافاتو باندې مسلط شو، پدې وخت کې شهزاده الغبیګ ولد سلطان ابوسعید چې وړوکی هلک ؤ، له ډېر لږ شمېر مغولو سره له ماوراء النهر نه کابل ته راغی. کله چې ملک سلیمانشاه هغه ولید ډېره مینه یې ور سره پیدا شوه. دومره چې « خپله لور یې ورته منسوبه کړه. » هغې بهٔ دی تل د زوی په څېر په غېږ کې ساته او لویاوه کله چې تربیه او لوی شو، ملک سلیمانشاه بادشاه کړ. خود کابل د سیمو واقعی اقتدار بیا هم د یوسفزو او ملک سلیمانشاه په لاس کې و. الغ بیګ پدې خبره خوښ نه و او غوښتل یې چې ځان د ملک سلیمانشاه او د هغه د قوم له تسلط نه خلاص کړي. مګر یوسفزي ډېر غښتلي وو او ده یې د ځپلو بندوبست نه شو کولی.

یووخت د یوسفزو او ګګیانو ترمنځ دیوې ښغلې په سر ډېره سخته دښمني پیدا شوه. دا ښغله چې فاطمه نومېده د ملک سلیمانشاه وربره، د سلطانشاه لور او د ملک احمد خور وه او یو ګګیاني ته یې په نامه کړې وه. خو ابراهیم د ګدای زوی یوسفزی له کابل نه کرمې ته وتښتوله. ګګیاني پدې خبره له یوسفزو نه ډېر زیات خوابدي شول او په پای کې یې جګړې سره پیل کړې. الغ بیګ فکر وکړ چې اوس نو ښتانه ځپلی شي. اول یې د ګګیانو د ځپلو اراده وکړه او ملک سلیمانشاه یې هم خبر کړ، خو سلیمانشاه ګګیانو ته سړی ور ولېږه او د الغ بیګ په نیت یې خبر کړل. ګګیاني سمدستي وتښتیدل. الغ بیګ یې چې مېنې ته ورغی کتل یې چې «جای شته، جولا نشته.»

ګګیانو الغ بیګ ته خبر ورکړ چې د هغه د حملې په بندوبست ملک سلیمانشاه خبر کړل. الغ بیګ یوسف زو ته له غوسې وخوټېد. د ګګیانو مشران یې دربار ته ور وغوښتل. ښه یې ونازول او بیا یې ورته وویل چې «یوسفزي ستاسو هم دښمن دي زما هم... زه نور له یوسفزو نه بېزاره او ستاسې پر خوایم. باید خپل جنګي مېړونه را ټول کړئ او ور باندې ور ودانګئ. زه به هم له خپل ټول لښکر او قوت سره در ووزم او در سره ملګري به شم.»

ګګیانو چې دا ورځ له خدایه غوښته دستي یې خپل مېړونه را ټول کړل. الغ بیګ هم له خپل لښکر سره ور ووت او د یوسفزو جګړې ته ور روان شول. د کابل ښار ته نژدې د غوړې مرغې په سیمه کې د یوسفزو د لښکر

سره مخامخ شول. ګګیانو او مغولو ماته وکړه او په نتیجه کې پدې ښه پوه شول چې یوسفزی په زور نه شي ماتولی. نو الغ بیګ د یوسفزو مشرانو ته ډېری پېسې ور ولېږلې او ټول یې کابل ته ور وغوښتل. د یوسفزو مشرانو پیسې واخیستې او بیا کابل ته ور وخوځېدل. د الغ بیګ سړي مخې ته ور غلل او ور ته ویې ویل چې پاچا ټول بې وسلې دربار ته ور بللي دي. دربار ته تش لاس ور غلل. پاچا په ټولو مهربانی وکړه او خپلو امیرانو ته یې امر وکړ چې څو څو تنه یې ډوډۍ ته بوزي. امیرانو داکار وکړ؛ خو وروسته یې ټول یوسفزي لاس تړلی الغ بیګ ته ور وستل. الغ بیګ پر ته د ملک سلیمانشاه له یوه ځلمی وراره او پنځو تنو رانی زو نه د یوسفزو ټول اوه سوه مشران ووژل او امر یې وکړ چې د سیاه سنګ په سیمه کې دي ښخ شي. تواریخ وایی چې د دوی هدیره «تراوسه هم د یوسفزو د شهیدانو حظیره بلل کیږي.» (۱۹)

د ملک سلیمانشاه دا ځلمی وراره چې احمد نومېده او د یوسفزو د مشرانو له قتل عام نه ژوندی پاتې شو، خپل قوم ته ور غی او په حال یې خبر کړل. قوم یې فیصله وکړه چې زیاتی یې په کابل کې ګوزاره نه کېږي او باید چې په کومه بله خوا ولاړ شي. ټول پېښور ته وخوځېدل. پدې وخت کې د پېښور او شاو خواسیمو اوسېدونکی دلزاک پښتانه وو او «پېښاور، دوآبه، باجوړ، ننګرهار، کاله پانی، ترهزاري سینده پورې دا واړه ملکونه» د دوی وو. (۲۰) یوسفزو څه ځمکه ترې وغوښته. دلزاکو دوآبه ورو ښله او بیا یې د ملک احمد په غوښتنه دانشکول، عنبر او

باجوړ هم ور کړل. دا یې هم ورته وویل چې اشنغر له دوآبې سره دې هغه دې په خپله توره و ګټي. یوسفزي په دوآبه کې میشته شول او په کابل کې پاتې کونډې یتیمان هم پسې ورغلل. کوچې یوسفزي پورته دانشکول او عنبر ته ولاړل. یوشمېر زیات امان زی، کمال زی، ماموزی او ډېر زیات خواجو زی بیا پورته باجوړ ته ولاړل او په لاشوره کې دېره شول.

یوسفزو له دلزاکو، خلیلو او سواتیانو سره دیو شمېر نورو ملکونو د نیولو دپاره هم جګړې پیل کړې. دا ملکونه یې ونیول او ښه پکې آباد شول. وروسته یې ډیر نور ملکونه هم لاندې کړل او د خان کجو په وخت کې د یوسفزو اقتدار داسې حد ته ورسېد چې «تمامی اهل افغانستان یې مطیع او منقاد و ګرځیدل... درسته سمه تر اشنغزه، تر لنډی سینده، تر اباسینده او درست سوات تر تورواله تر تیرانه تر پنجکوړې تر نیاکه، چې دلاهور په نامه یادېږي او درست بونېر او چمله تر تینوله، او درست اشنغر او درسته دوآبه او درست باجوړ تر هندو راجه، تر اسماره تر ناوه ګۍ تر کونړه او درست پېښور تر کړپې دخیبره تر ننګهاره تر تیراه تر کوهاټه او درست ختیک او پورې ترمارګلې تر ګهګړو تر پکهلی، دا ملکونه واړه ددٌ مسخر وو - اهل سکنه یې بنده او فرمان بردار وو.» (۲۱)

تواریخ د یوسفزو ددې لوی مهاجرت او له دلزاکو سره د یوسفزو دلومړي جنګ د بیان په ترڅ کې د خلیلو دیوه مهاجرت یادونه هم کوی او وایي چې په لاشوره کې د یوسفزو له میشته کېدلو نه تخمین یو کال وروسته شیخ میرداد افغان خلیل متي زی او دهغه درې نیم سوه مریدان چې اکثره

يې خليل وو، د کندهار د ترنک او قلات له سيمو نه، له خپلو کډو سره لاشوړې ته راغلل او له يوسفزو سره ولوېدل. څه موده وروسته د خليلو ټول ولس له خپلو کډو سره په شيخ ميرداد پسې راغی او په لاشوړه کې ميشت شو. (۲۲)

تواريخ د پښتنو د يوه بل مهاجرت يادونه هم کوي او وايي چې «بابر پادشاه د ګګيانو له قوم سره چې په کابل کې پاتې شو، مخالفت راواخيست. [ګګياني] خوار و زار شو، نور بالکل له کابله راوکوچېدل په يوسفزو پسې راکښته روان شوو. مګر ټپه د موسيزو چې له يوسفزيو سره يې عداوت لاره... هور ته [په کابل کې] په ځای پاتې شول.» (۲۳)

تواريخ وايي چې وروسته د ګګيانو سترو ملکانو، ملک همزه ابن يعقوب او ملک ميري لاله زي يو شمېر نور ګګياني ملکان د يوسفزو ستر مشر ملک احمد ته دو آبې ته ور واستول. د غو ملکانو ملک احمد ته په کابل کې د ګګيانو بده ورځ بيان کړه او مرسته يې ور نه وغوښته. ملک احمد د ګګيانو ملکانو قدر او عزت وکړ او ورته ويې ويل چې: «ډېرسته دو آبه مو تاسې ته درکړې ده.» ټول ملکان بېرته خپل قوم ته ورغلل او د ملک احمد خبره يې ورته وکړه. ګګياني سخت خوشحال شول او د کړېږ په لار دو آبې ته ولاړل. کله چې ګګياني دو آبې ته ورسېدل يوسفزي له دو آبې نه اشنغر ته ولېږدېدل او دو آبه يې ټوله ګګيانو ته پرېښوده. (۲٤)

تواريخ دا هم وايي چې ګګياني دو آبې ته ولاړل او موسيزي ګګياني او يو

ځه اتمان خیل په کابل کې پاتې شول. وروسته دوی هم له کابل نه کوزې پښتونخوا ته ولېږدېدل. (۲۵)

څرنګه چې تواریخ حافظ رحمت خاني د پښتنې قبایلو د پېښو د بیان په باره کې تر ټولو نه پخواني لاس ته راغلی مفصل سند دی، نو له دې امله خارجي مؤلفینو، لکه الفنستن ان د نولسمې پېړۍ له اوایلو نه او وطني لیکوالو د دې اثر له پیدا کېدو او چاپېدو نه وروسته ډېره زیاته توجه ورته کړې ده.

تواریخ حافظ رحمت خاني د انشاء په لحاظ د پښتو نثر یو ډېر برازنده اثر دی او کېدی شي چې په معلومو لیکل شوو آثارو کې د پښتو د نوی نثر لومړنی نمونه وبلل شي. خو په تاریخي لحاظ یو شمېر نیمګړتیاوې او داسې خواوې هم لري چې ښایي له تاریخي واقعیتونو سره اړخ ونه لګوي او یا داچې له تاریخي ماهیت نه یې روایتي او افسانوي بڼه ډېره قوي وي. البته زه د ټول تواریخ کره کتنه له خپل دې بحث او حتی توان نه وتلې بولم خو د یوسفزو د مهاجرت او ځینو مربوطو پېښو په باره کې یوه یادونه حتمي ګڼم.

کله چې سړی تواریخ حافظ رحمت خاني د بابر نامې له هغو برخو سره مقایسه کوي چې د عین وخت پېښې پکې بیان شوي دي، نو دې نتیجې ته رسېږي چې د تواریخ یو شمېر ټکی د جدي تأمل وړ دي. یو له دې ټکو نه له کابل نه د پېښور په لور د دغه مهاجرت وخت دی.

تواریخ حافظ رحمت خاني له کابل نه د پېښور په لور د یوسف زو د عام

مهاجرت مشخصه نيته نه ښيي. خوله يولړ تشريحاتو نه يې داسې ښكاري چې دامهاجرت بايد د پنځلسمې پېړۍ ددوهمې نيمايي په اواخرو كې شوى وي.

په تواريخ كې راغلي چې يوسفزي كوزې پښتونخوا ته وروسته له دې ولېږلېدل چې د كابل واكدار الغ بيگ يې اوه سوه مشران تهول په يوه وخت ووژل. څرنگه چې الغ بيگ په كال ١٤٦٩ م كې د كابل او غزنى د سيمو واكدار وټاكل شو او په كال ١٥٠١ كې يعني په كابل كې د بابر دواكدارۍ له پيل نه تخمين درې كاله پخوا مړ شونو د يوسفزو دا اوه سوه مشران بايد د كال ١٤٦٩ او ١٥٠١ ترمنځ يو وخت وژل شوي وي. او د پاتې يوسفزو مهاجرت هم بايد هرو مرو له دې پېښې نه وروسته شوي وي.

كوم تشريحات چې په تواريخ كې د الغ بيگ، گگيانو او يوسفزو دروابطو او شخړو په باره كې راغلي دي، دهغو د مطالعې په نتيجه كې سړى ويلى شي چې د يوسفزو د مشرانو د قتل عام پېښه او له كابل نه د پېښور په لور د يوسفزو عام مهاجرت بايد د كال ١٤٨٥ او يا ١٤٩٠ په حدودو كې شوي وي. د تواريخ له ځينو عباراتو نه حتى داسې ښكاري چې د غه دوه پېښې بايد د پنځلسمې پېړۍ په ښځي وروستيو څو كلونو كې شوې وي. تواريخ دالغ بيگ د مرگ په باره كې ليكي:

« په هغه وخت كې الغ بيگ د يوسفزو په خلكو ظلم او حيف زياد كړ او جلا وطن [ يى ] كړل... الله تعالى په ده هم عذاب كښنود په دوا ړو

ورونونو يې بېړه وختله. په ډېرو سختيو ومړ. وروسته له يوڅه مودې نه محمد بابر... پادشاه شو... » (٢٦)

کله چې سړی د تواريخ دې عبارت ته د پښتنې ټولنې له اجتماعي ذهنيت سره يو ځای ځير شي، نو په پوره اطمينان ويلی شي چې تواريخ د يوسفزو د مشرانو قتل عام، دالغ بيګ مرګ او په کابل کې د بابر قدرت ته رسېدل يو بل ته ببخی سره نژدې پېښې ګڼي او دالغ بيګ د مرګ او د يوسفزو د مهاجرت د پيل ترمنځ فاصله بايد حد اکثر له دوو درېوو کلونو نه زياته نه وي.

څرنګه چې الغ بيګ په کال ١٥٠١ کې مړ شوی نو د يوسفزو د مشرانو قتل عام او د پېښور په لور د پاتې يوسفزو د مهاجرت وخت بايد د پنځلسمې پېړۍ د وروستۍ لسيزې په ببخی وروستيو کلونو کې وي.

د تواريخ له ځينو نورو مطالبو نه هم داسې ښکاري چې د يوسفزو داعام مهاجرت په همدې موده کې کوم وخت شوی دی. يو له دې مطالبو نه د هغې جګړې بيان دی چې تواريخ وايي يوسفزو لومړی ځل په کوزه پښتونخوا کې د هستوګنې د ځای د پيدا کولو د پاره له دلزاکو سره وکړه او خپله د تواريخ په قول د بابر ځينو مقربو سردارانو هم برخه پکې لرله. په تواريخ کې دا جګړه په تفصيل بيان شوې ده. خو يو څو د مطلب ټکي يې دادي:

« ... ملک سرخابي بن شمو کرلاني په هغه وخت کې يو نوميالی سردار ؤ او د محمد بابر پادشاه په نزد يې ببخی زيات قرب او اعتبار لاره او ملک

گهګر مهمند هم همداسې سردار او دخپل وخت يو توريالی و... ملک سرخابی او ملک گهګر... له تمامي خپله لښکره سره پرې را پرېښوې... [ددلزاکو مشران] ملک هيبو او ورور يې جهانشاه دواړه سره پرې وتل. نور دلزاک مات شول... ملک سرخابی او ملگ گهګر يوسفزي وخليلو ته وويل چه فتحه مو درلره وکړه.» (۲۷)

په تواريخ کې ديوسفزو اودلزاکو دلومړی جګړې په باره کې تفصيلات او داتکي چې يوسفزی دهغوی دمشرانو له قتل عام نه وروسته «... بالکل خوار وزار او حيران وپريشان خانه وار له خپلو کډو سره... په ښکته پيښاور ته روان شوو» (۲۸) اوشمېر يې هم دومره کم و چې تواريخ وايی په خيبر کې ټول د «يوې ونې سيوري لاندې ځای شو» (۲۹)، داسې ښکاري چې يوسفزي بايد په کابل کې دبابر دپاچاهۍ په وخت کې دکوزې پښتونخوا يوبېخي نوی، کوچنی اوکمزوری مهاجر قوم وي. خو کوم مطالب چې پدې ارتباط په بابر نامه کې راغلی هغه داسې ښيې چې يوسفزی آن دبابر دسلطنت په ابتدا کې په کوزه پښتونخوا کې يوګڼ، غښتلی اوبېخي آباد قوم دی.

بابر دکابل له نيولو نه فقط څو مياشتې وروسته دکال ۱۵۰۵ دجنوري په مياشت کې په کوهاټ يرغل کوي او دوه شپې هلته تم کېږي. کله چې دی په کوهاټ کې دخپل توقف په باره کې غږېږي ليکی:

«په کوهاټ کې درياخان ديار حسين زوی... خواست رانه وکړ چې په دلزاکو، يوسفزو او ګګيانو باندې يو شاهي فرمان راکړه. څکه کله که زه

[دریاخان] وغواړم دا باسیند له هابلي [لویدیځي] غاړې نه د پادشاه [بابر] په نامه جنگي مېړونه را ټول کړم نو هغوی به غاړه ونه غړوی. »(۳۰)

دبابر نامې له دې تذکر نه داسې ښکاري چې په کابل کې دبابر د پاچایی په ښخی اول سر کې یوسفزی، لکه دلزاکو غونډې دا باسیند دغربی غاړې یو معروف او لوی قوم دی. که نه وي نو دریاخان به نه دهغو مرستې ته دومره اړوی او نه به یې له بابر نه داخواست کړی وی.

په کال ۱۵۱۹ کې خو یوسفزي د کوزې پښتونخوا دومره دقوت او حیثیت خاوندان دی چې بابر یې دملاتړ د ترلاسه کولو دپاره خپښي ورسره کوي. بابر پدې باره کې خپله داسې لیکي:

« ددې دپاره چې د یوسفزو ولس خپل کړم نو د ملک شاه منصور لور مې هغه وخت ترې وغوښته چې د یوسفزو دقوم داستازي په حیث زما حضور ته راغلی و. ملک شاه منصور دملک سلیمانشاه زوی اوزما خیر خواه و.
(۳۱)

علاوه پر دې کومې لیدنې کتنې چې بابر په مختلفو مواقعو کې په کابل او کوزه پښتونخوا کې د یوسفزو له مشرانو سره کړي او کوم سوغاتونه او میلمستیاوې یې چې ور کړي (۳۲)، هغه هم ددې خبرې ښکارندوی دي چې بابر یوسفزي د کوزې پښتونخوا یو ډېر مهم او قوي قوم گڼي، بابر چې د سمې او سوات نوم اخلی؛ معمولاً، یوسفزي ورسره یادوي او دهغو سیمو یو ښخی مسلط قوم یې گڼي. دبابر له تذکراتو نه داهم

ښکاري چې په کابل کې دهغه دپاچا يی په وخت کې يوسفزي دباجوړ او سوات يو ښېخی آباد قوم دی.

بابر يو ځای ليکی چې له يوسفزو مشرانو سره « دې موافقې تـه ورسېدو چې ... دباجوړ او سوات افغانان بزگر بـه [ زموږ ] پـه عايداتو شپږ زر باره وريژې رازياتوي. » (۳۳)

دبابر نامې ددغو يادونو او ځينې نورو هغو تذکراتو پربنا چې لوستونکی يې ددې ليکنې په اوّم فصل کې خپله لوستلی شی، سړی داخبره په پوره ډاډ کولی شی چې يوسفزی په کابل کې دبابر دپاچايی په وخت کې دکوزې پښتونخوا يو کوچنی ښوزلی او ناتوانه قوم نه دی؛ بلکه يوگڼ، غښتلی او آباد ولس دی چې دکوزې پښتونخوا پـه سمه، سوات او ځينونورو سيمو کې ښېخی مسلط دی. خو که يوسفزی ، لکه څنگه چې تواريخ وايی ، پـه کابل کې دبابر لـه قدرت تـه رسېدلو نـه لږ دمخه «بالکل خوار وزار وپرېشان » پېښور تـه تللی وي او شمېر يې هم ښېخی کم وي، نو بابر به دومرد اعتنا نه وی ورتـه کړې.

دا او داسې نور شواهد ښيي چې يابه ديوسفزو داسې يو عام مهاجرت او لـه هغه سرد مربوط ، وړاندې وروستـه حوادث ، جنگونـه او ملک گيری پداسې شکل چې تواريخ حافظ رحمت خانی وايی نه وي شوي؛ يابه له هغه وخت نه چې په تواريخ کې ښودل شوی، ډېر پخوا شوي وي او يا به په همدې وخت کې فقط يو کم شمېر يوسفزی کوزې پښتونخوا تـه خپلو هغو يوسفزو عزيزانو تـه ور لېږدېدلي وي چې لـه پخوا نـه پـه کوزه پښتونخوا

کې میشته وو.

خپله تواریخ حافظ رحمت خانی هم په سوات کې د یوسفزو سکونت او همدا شان هغه ملک ته د یوسفزو د مهاجرت حادثې ته ښه‌ښخی پخوانی ریښه ور کوي او یو ځای د سوات د ځایی او لرغونو اوسېدونکو «متراوو» له قوله وایی چې دوی ځانونه له اصله یوسفزی بولي او وایی چې په ډېرو پخوا زمانو کې د کندهار له علاقې نه سوات ته ورلېږدېدلي دي. تواریخ لیکی:

«متراوي په سواتیو کې یو لوی تومن دی... او مؤرخان انساب د متراویو دارنګ وایی چې موږ په ذات یوسفزي یو، خو دلته مو راتګ پدې سبب وشو، چې زموږ پلرونه او نیکونه چې په قوم یوسفزی وو د قندهار له حدودو نه له ګاړې اونشکی نه د یوې حادثې له امله راغلل؛ دلته میشته شول او موږ د هغو اولاده یو» (۳٤)

لکه څنګه چې په همدې بحث کې مو وړاندې ولیدل، آخوند درویزه هم وایی چې پښتانه د سلطان محمود غزنوی په وخت کې په سوات کې میشته شوي دي. همدا شان ځینې نور مؤلفین هم وایې چې پښتانه د غزنویانو او غوریانو په وخت کې او حتی له هغه نه پخوا په کوزه پښتونخوا کې میشته شوی دی.

د هغه څه په نتیجه کې چې تر دې ځایه وویل شول سړی په پوره اطمینان ویلی شي چې د یوسفزو د مهاجرت زمانه او نیټه د اعتبار وړ نه ښکاري.

د بابر نامې او تواریخ مقایسه داسې ښیی چې په تواریخ کې د یوسفزو

دمهاجرت له روایت نه علاوه یو شمیر نور داسې ټکې هم شته چې منل یې ګران ښکاري.

په تواریخ کې یو شمیر داسې جګړې په ښایسته تفصیل بیان شوي چې ګوندې په هغو کې د بابر ځینو معروفو سردارانو او حتی خپله بابر هم ګډون کړی دی.

له دې جګړونه یوه په کوزه پښتونخوا کې د یوسفزو دملک ګیرۍ لومړنۍ جګړه ده چې له دلزاکو سره یې کړې او موږ لږ وړاندې په ډېر لنډ ډول یاده کړه. تواریخ لیکي چې پدې جګړه کې دبابر دوو نامي سردارانو هم ګډون کړی و او حتی داجګړه هم یوسفزو ته همدوی وګټله.

یوه بله جګړه هغه ده چې تواریخ وایي بابر دګګیانو په بلنه په کاله پانۍ کې له دلزاکو سره کړې اوبېشماره دلزاک یې قتل عام کړي دي. تواریخ پدې ارتباط لیکي چې دګګیانو یو مشر ملک همزه له دو آبې نه کابل ته ولاړ اوبابر یې کوزې پښتونخوا ته خپل کورته، چې په دو آبه کې و، ور سره بوته. بابر له هغه ځای نه د کاله پانۍ په عمر خېلو دلزاکو یرغلونه وکړل. تواریخ پدې باره کې ښایسته په تفصیل بحث کړی دی خو موږ یې دلته فقط یو څو ټکي را اخلو.

« ... ملک همزه کابل ته لاړ شه. ملازمت دبابر بادشاه (یې) حاصل کړ او ... په طریقه دخیر خواهۍ دملک ګیرۍ یې و پېښور ته را روان کړ. په څو ورځو کې (یې) کور ته دو آبې ته راووست... پادشاه له تمامی عسکر سره دشپې په قصد د کاله پانۍ ووت؛ یلغر یې وکړ... درسته ورځ تر

ځازیګره پوري جنګ وشه. داراپوري کلی چې پادشاه پکې ولاړ و تهول قتل شه... پس له هغه پادشاه پوري کلی نه متوجه شه... نوري لښکرې یې هم په پادشاه پسې دغه شان ور وخېژولې. ګوزارونه یې سره وکړل. دلزاکو هم هېڅ صرفه ونه کړله. [ کهځه هم ] چې درسته ورځ یې جنګ کړی و او کل په غشیو ویشتلي سوري سوري وو. اما له ځایه ونه خوځېدل. بالکل په هغه ځای قتل شو. پس له هغه پادشاه هغه کلی ته ور ننووت. غارت یې کړ. » ( ۳۵ )

پدې پسې تواریخ دبابر له پوځ سره ددلزاکو دیوې ښځې جګړه بیانوي. خو دمخه تردې چې په جګړه وغږېږو ددغې ښځې په ژوندانه باندې لنډ غوندې بحث کوو او وایو دا ښځه چې شاه بوړه نومېده، دعبدالرزاق عمرخیل دلزاک لور وه. کله چې « پېغله شوه خدای ( یې ) فهم په لباس مردانه کړ. دنارینه وو جامې یې واغوستلې. مدام به له ځلمیو سره ګرځېدله...... په ښه اس به سورېدله...... تیر اندازی به یې کوله...... سپاه سالاره ددلزاکو وه او شوهر یې نه کاوه. » ( ۳٦ ) خو په پای کې یې له یوه دلزاک ځوان سره چې رستم نومېده او لاس یې ور اچولی و، واده وکړ.

تواریخ لیکی په کومه ورځ چې دبابر پوځ دشاه بوړی په کلی یرغل وکړ، نو هغې خپل مېړه ته وویل چې باید دواړه دمغلو جګړې ته وروزي. خو مېړه یې خبره وانه ورېده. همداو چې شابوړی خپله څېره کې، یوازې دمېړه په کټ کېنیناسته او دبابر له پوځ سره یې مقدمه پیل کړه. مغل به چې ور نږدې کېدل دې به دغشو ګوزارونه پرې کول او یوغشی یې هم نه

خطا کېده. بې شماره مغل يې ووژل. په پای کې مغلو نور پوځ ته چيغه ور وړه او ورته ويې ويل دلته «هسې څه عظيمه بلا ده چې عالم يې سټ کړ. راټول شئ. پس له هغه لور دلوره عالم پرې راغی... او دايې په غشو له هر طرفه وويشتله. سوری سوری (يې) کړه پرېوتله. پس له هغه خلق ور ننووت. ويې ليدله چې ښځه ده. نو خلق واړه متعجب شه. له دې حاله يې پدغه وقت کې بابر بادشاه خبر کړ. بادشاه زر سړی ور واستاوه چې گورئ دغه ښځه مه وژنئ ژوندۍ يې ترما پورې راولئ. بارې لکه چې هغه سړی ورغی دا بيا مړه وه...... بادشاه چې له مرگه دشاه بوړۍ خبر شه. ډير افسوس ارمان (يې) وکړ او ملامت (يې) وکړ. چې دارنگ ښځه عالم نه وژنی. ژوندۍ به موراته راوستلې وه. دوی ورته وويل چې دې دارنگ غشی وويشتل چې تر زغرې نه اړ کېدل. موږ هسې پوهېدلو چې گوندې داسړی دی. څکه ووژل شوله. پادشاه او واړو اهل لښکر ددې تعريف وکړ او آفرين (يې) پرې ووايه او پس له هغه هر کله چې به په حضور د پادشاه کې دعمر خېلو د تاخت مذکور راغی پادشاه به دعمر خېلو دشجاعت خصوصاً شاه بوړۍ تعريف کاوه.» (۳۷)

بابر يو ډېر باريک بين اودقيق انسان و او څکه يې نو دخپلو پوځی عمليا تو په ترځ کې د پښتونخوا لوړ غرونه، مست او رانېه سيندونه، هسکې غونډۍ، ښکلې درې، دنگې ونې، گورې ورېځې، سپينی واورې، دشرنگ بارانونه، دکاروانونو بهيرونه، مختلف قومونه او دهغوی مشران، ډول ډول مرغان او حتی د بتو درنگينو بڼو ښکلا

اودهیلیو هگي او نور هرڅه دسر په سترګو لیدلي او دخپلو یرغلونو او دپښتنو مېړونو او مشرانو دکله مناروښو دبیان تر څنګه یې ډېر ځله په شاعرانه عباراتو په بابر نامه کې ثبت کړي دي. نو دا څنګه کېدی شي چې دغه شان یو باریک بین سړی د داسې جګړو یادونه ونه کړي چې نه یوازې نامي سردارانو یې ګډون پکې کړی، بلکه دده خپله هم برخه پکې اخیستې او دشابوړی دقهرمانۍاو سرتېری په شان پېښې هم پکې واقع شوې دي.

دلته ښایی داسې فکر وشي چې ګوندې داجګړې په هغو لسو کلونو کې واقع شوې وې چې حالات یې په بابر نامه کې نه دي ثبت شوي. اما خپله په تواریخ حافظ رحمت خانی کې د پېښو دبیان له تسلسل نه په وضاحت ښکاري چې له دلزاکو سره دبابر جګړې دباجوړ په کلاکې دبابر له جنګی عملیاتو او دباجوړیانو له قتل عام نه وروسته یعنې هغه وخت واقع شوې چې دبابر خاطرات په بابرنامه کې ثبت شوي دي.

لنډه دا چې نه یوازې دیوسفزو دمهاجرت دوخت او تاریخ په باره کې دتواریخ حافظ رحمت خانی دروایت منل ګران ښکاری، بلکه ددغه اثر یو شمېر نور مطالب هم دتأمل وړ دی.

دیوسفزو دمهاجرت او مربوطو مسایلو په باره کې یو بل ټکی هم دتوجه وړ دی. دتواریخ حافظ رحمت خانی اصل یعنې «تواریخ افاغنه» او دآخون درویزه تذکرة الابرار والاشرار تقریباً په یوه وخت کې لیکل شوي دي. خو کوم مطالب چې دیوسفزو دمهاجرت او مربوطو مسایلو په

ارتباط په تذکره او تواریخ ، دواړو کې راغلي ، په یوشمېر اساسي مشترکو ټکو کې توپیر سره لري او کله چې دواړه په عین پښتنه غږېږي نو ډېرې خبرې یې له یوبل سره اړخ نه لګوي. دادی دلته مورږ پدې لړ کې یو څو ټکی یادوو.

په تذکره کې دهغه وخت د کابل دواکدار نوم « میرزا قلی بیگ » لیکل شوی خو په تواریخ کې « میرزا الغ بیگ » راغلی دی.

دروېزه په هغه وخت کې په کابل کې د یوسفزو تر ټولو نه لوی مشر سلطانشاه بولی او وایی چې ملک احمد د سلطانشاه وراره و. مگر تواریخ حافظ رحمت خانی وایی چې هغه وخت کې په کابل کې د یوسفزو تر ټولو نه لوی مشر ملک سلیمانشاه و او ملک احمد د سلیمانشاه وراره او د سلطانشاه زوی و.

دروېزه وایی چې د کابل یوسفزی د خپلو مشرانو له قتل عام نه وروسته لغمان ته ولېږدېدل او هلته له گگیانو سره دېره شول. خو تواریخ وایي چې یوسفزي د خپلو مشرانو د قتل عام له غم لړلي پښې نه وروسته د خیبر له لارې پېښور ته کډه شول. هلته د لزاکو دوآبه ورکړه او پکې هستت شول.

دروېزه وایی چې په کابل کې د یوسفزو نه سوه مشران ووژل شول. خو تواریخ بیا د دغو مشرانو شمېر اوه سوه تنه بولی.

په تذکره او تواریخ کې ثبتې شوې پېښې او نور یادشوی مطالب هم له یو بل سره یوشی نه دي. خو څرنګه چې دلته زمورږ اصلی موضوع د دغو

دوو کتابونو مفصله کره کتنه نه ده اوپدې باره کې نورې خبرې موږ له خپل اصلي بحث نه لرې کوي نوله دې امله زیات څه نه پرې وایو اوبېرته اصلي مطلب ته راګرځو او د پښتنو د مهاجرت په باره کې د هغو مطالبو غټ غټ ټکي یوځل بیا یادوو چې پخوا مفصلې خبرې پرې وشوې.

په کومو مهاجرتونو چې مو . بخوا وغږېدو په هغو کې د سیفي د تاریخنامې د مهاجرت روایت تر ټولو پخوا ثبت شوی دی. دا مهاجرت له شرق نه د غرب په لور شوی او کوم خلک چې د دې مهاجرت په ترڅ کې لېږدېدلي هغه دلرغونی قندهار یاګندهارا له سیمو نه د هرات تر سیمو پورې تللي دي. دا خلک له یوې آبادې او اوارې سیمې نه بلې اوارې او آبادې سیمې ته تللي دي.

کوم مهاجرت چې بیلو یاد کړی او اسلامي دایرة المعارف هم تائید کړی هغه هم له شرق نه غرب ته اوله یوې آبادې سیمې نه بلې ته یا په مشخص ډول دلرغوني قندهار له سیمې نه دننی قندهار سیمې ته شوی دی. دا دواړه مهاجرتونه له اسلام نه پخوا شوي دي.

فرشته وایي چې افغانان په ٦٣ هجري کې، له خپلو غرونو نه مخ په شرق تللي او د پېښور او روه په سیمو کې دېره شوي دي. او حافظ رحمت خاني وایي چې پښتانه د سلیمان له غرونو نه آبادو سیمو ته ورکوز شوي دي. خویو یې وایي چې دا مهاجرت د اولې هجرې پېړۍ په نیمایي (٦٣ هجري) کې واقع شوی او بل یې وایي چې دا مهاجرت د غزنوي سلطان محمود له عصر نه څه وړاندې شوی دی.

نعمت الله هروي وايي چې پښتانه له خپل اصلي ټاټوبي، غور، نه مخ په شرق لېږدول شوي او له هرات نه تر ملتانه او د کابل له شاوخوا نه د نيلاب د سند تر حدودو پورې اچول شوي دي. دی وايي چې دا کار د سلطان شهاب الدين غوري په وخت کې شوی دی.

فرشته وايي چې شيخ حميد لودي، ان د الپتگين د واکدارۍ په وخت کې پښتانه د لغمان او ملتان سيمو ته ولېږدول او هلته يې ډېره کړل.

تواريخ حافظ رحمت خاني هم وايي چې پښتانه د کندهار له سيمې نه لو مړی کلات، غزني او کابل ته لېږدېدلي او بيا د ثور لسمې ميلادي پېړۍ په وروستيو کلونو کې د کوزې پښتونخوا د پېښور، سوات باجوړ او ځينو نورو سيمو ته لېږدېدلي او هلته ميشته شوي دي.

آخون درويزه او حافظ رحمت خان وايي چې پښتانه د سلطان محمود په پوځ کې، د کابل او ملتان له لارو هندوستان ته ولاړل او ډېر يې هلته ميشته شول.

له دې ټولو يادونو نه داسې ښکاري چې پښتانه په مختلفو وختونو کې له مختلفو ځايونو نه بېلو بېلو ځايونو ته لېږدېدلي دي. خو معمولاً ډېرو غير افغاني ليکوالو او د هغوی په تقليد، زما په شمول، ډېرو افغاني ليکوالو دا خبره کړې ده چې ګوندې پښتانه د پښتونخوا له يوې مشخصې او محدودې غرنۍ سيمې نه، له ثور لسمې او پنځلسمې پېړۍ نه رادې خواته، د دغې خاورې نورو سيمو ته لېږدېدلي دي. خو دا خبره له هغه يادونو سره اړخ نه لګوي چې پخوا مو ولوستل.

## د پنځم فصل یاد داشتونه

۱) بیلیو، هنری، دافغانستان طوایف، مخ ٦۱.

۲) اسلامی دایرة المعارف، ټوک ۲، مخ ۷۱۱.

۳) بیلو، دافغانستان طوایف، مخ ۲۲.

٤) بیلو، دقوم پېژندنې مطالعه، مخ ۷۱.

۵) کرو، اولاف، مخ ۱۷۰-۱۷۱.

٦) همدا اثر، مخ ۱۷۰.

۷) دسیفی مطلب هرو مرو پخوانی گندهارا ده چې په لرغونو عربی او فارسی آثارو کې، دقندهار په بڼه لیکل شوېده. ځکه سیفی لیکی چې دا مهاجر له خپل اصلی ټاټوبی نه لومړي کابل بیا غور او بیا هرات ته ولاړل او ددې خبرې معنا داده چې مهاجرت باید دکابل له شرقی سیمو یالرغونې گندهارا نه شوی وی. که داسې نه وي او مهاجرت له نننې کندهار یا قندهار نه هرات ته شوي وي نو خط السیر به یې بیخی بل وی.

۸) داقندز نننی قندز نه دی، بلکه هرو مرو دهرات شاوخوا سیمو کې کوم بل ځای دی.

۹) فرشته، محمد قاسم، تاریخ فرشته، دبرگز ترجمه، ټوک ۱، مخ٤.

۱۰) راورټی، دبنگال دآسیایی ټولنې مجله، مخ ۵٦٤-۵٦۵، نمبر٦، کال ۱۸۵٤.

۱۱) هروی، نعمت الله، تاریخ خان جهانی ومخزن افغانی، ټوک۱، مخ-

۱۱۹-۱۲۰.

۱۲) دکوزي پښتونخوا او هند پښتنو افغانستان دولايت په نامه هم ياداوه. خوشحال خان په هغې قصيدې کې چې دډيلی دشاهانو دمعرفی په باره کې يې ليکلې ده وايی:

بيا سلطان جلال الدين په سرير کښيناست
چې په اصل کې غلجی دولايت و.

۱۳) حافظ رحمت خان، حافظ، خلاصة الانساب، مخ ۷۸-۷۹.

۱٤) تاريخ فرشته، دبرگز ترجمه، ټوک ۱ مخ ۵-٦.

۱۵) درويزه، اخوند، تذکرة الابرار و الاشرار، مخ ۸٦.

۱٦) په تذکره کې داکلمه په اول کې «شيخی» او بيا وروسته «شخی» ليکل شوي ده. په تواريخ حافظ رحمت خاني کې سرترپايه «شخي» راغلې ده.

۱۷) درويزه، تذکره، مخ ۸۹-۹۵.

۱۸) معظم شاه، پير، تواريخ حافظ رحمت خانی، مخ ۵.

۱۹) همدا اثر، مخ ۲٦.

۲۰) همدا اثر، مخ ۳۰.

۲۱) همدا اثر، مخ ۱۸۵.

۲۲) همدا اثر، مخ ۳۵.

۲۳) همدا اثر مخ، ۱۰۸.

۲٤) همدا اثر، مخ ۱۰۸-۱۰۹.

۲۵) همدا اثر مخ ۱۳۲-۱۳۳.

۲۶) همدا اثر، مخ ۸۱.

۲۷) همدا اثر، مخ ۳۶-۳۸.

۲۸) همدا اثر، مخ ۲۹.

۲۹) همدا اثر مخ ۳۰.

۳۰) بابر، ظهیرالدین، بابرنامه، مخ ۲۳۱.

۳۱) همدا اثر مخ، ۳۷۵.

۳۲) همدا اثر، مخ ۴۰۰.

۳۳) همدا اثر مخ ۳۹۹ - ۴۰۰.

۳۴) معظم شاه، تواریخ، مخ ۷۳.

۳۵) همدا اثر، مخ ۱۱۱- ۱۱۵.

۳۶) همدا اثر، مخ ۱۱۶.

۳۷) همدا اثر، مخ ۱۱۶- ۱۱۹.

# شپږم فصل

# یوه تحلیلي تبصره

په څلورم او پنځم فصل کې یاد شوي اسناد او مدارک او ځینې یادونې چې په همدې فصل کې به وشي، خپله په پښتونخواکې د پښتنو داجتماعي ژوند دهغې تاریخي دورې د یو شمېر حوادثو او خصوصیاتو بیان او څرګندونه ده، چې په عمومي ډول له څلورمې هجري پېړۍ نه تر لسمې هجري پېړۍ پورې رسیږي. که څه هم چې پدې اسنادو او مدارکو کې یاد شوي حوادث او واقعیتونه د پښتنې ټولنې ددې اوږدې دورې داجتماعي پېښو او مشخصاتو په لوی سمندر کې یو څاڅکی دی او دداسې ناچیزه اسنادو او مدارکو پر بنا دیوې تاریخي دورې د حوادثو دسیر او خصوصیاتو د څرګندولو په باره کې کومه پراخه اصولي او هر اړخیزه تحلیلي څېړنه نه شي کېدی. خو موږ ددې وجیزې په اساس چې «څه تیار هغه دیار» دهمدې محدودو موادو په استناد د پښتنې ټولنې ددغې تاریخي دورې په باره کې یوه ناچیزه تبصره جایزه بولو. خو داهم

وايو چې «لمبول يې پر ما، ښنبل يې پر ملا».

دمعاصرې پښتنې ټولنې داقتصادي او اجتماعي ژوند څرنګوالی او پخوانی ميسر تحريري اسناد داسې ښيي چې پدې دوره کې ډېر زيات پښتانه کوچيان او مالداران دي، خوکليوالی او ښاري ژوند هم پکې رواج شوی او زراعت ته يې هم مخه کړې ده. موږ په څلورم فصل کې وليدل چې دغزنويانو دعصر معروف مؤرخ، عتبي، دهغو جګړو دبيان په ترڅ کې چې دغزنوي سلطان محمود پلار، سبکتګين، دکابل له شرقي سيمو نه دپېښور تر شاخوا سيمو پورې له هندو شاهانو سره کړې دي، وايي چې افغانان ددغو سيمو کوچيان دي خو دڅلورم فصل ځينې نور اسناد بيا داسې ښيي چې پښتانه په همدې وخت کې په کليو او ښارونو کې هم اوسېږي.

حدود العالم (تأليف: ۳۷۲ هجري) تر ټولو نه پخوانی معلوم اثر دی چې ديوه کلي او سېدونکي افغانان بولي. پدې اثر کې چې دڅلورمې اسلامي پېړۍ په دوهمه نيمايي کې ليکل شوی، راغلي دي چې سول يو آباد کلي دی او اوسېدونکي يې افغانان دي. (۱)

ابن اثير هم دکال ۴۰۹ هجري دپېښو دبيان په ضمن کې وايي چې سلطان محمود دافغانانو ودانۍ ورانې کړې. (۲) يوبل ځای همدغه مؤلف دکال ۵۰۸ هجري دپېښو دبيان په وخت کې پښتانه دښارونو اوسېدونکي بولي او وايي چې دبهرامشاه غزنوي او دسلطان سنجر عسکر دارسلانشاه غزنوي دټکولو دپاره دافغانانو ښارونو ته ولاړل او

هغه يې وران کړل. (٣)

دابن اثير او ځينو نورو مؤرخينو له بيانا تو نه داسې ښکاري چې د پښتنو دا ښارونه به د پکتيا، وزيرستان، بنو او کوهاټ په سيمو کې واقع وو.

ابن اثير خپله هم پدې لړ کې د کرمان (٤) نوم اخلي او وايي چې بهرامشاه د کرمان ښار ته چې اوسېدونکي يې افغانان دي، و تښتېد. دی وايي چې دا ښار دغزنی او هند ترمنځ واقع دي او هغه د کرمان په نامه معروف ولايت نه دی. (٥)

فرشته هم وايي دا کرمان [کرمان] چې بهرامشاه ور و تښتېد، هغه مشهور کرمان نه دی. بلکه دغزنين او هند ترمنځ يو ښار دی. (٦)

دابو الفرج روني له هغه بيت نه چې په ځلورم فصل کې خبرې پرې وشوې او له هغه څه نه چې په تاريخ فرشته کې دويهند دجګړې په باره کې راغلي او په ځلورم فصل کې يې يادونه وشوه، داسې ښکاري چې دغزنويانو په عصر کې داباسيند په غاړه کې هم پښتانه په ښارونو او آباديو کې ميشته دي. دا ټول مطالب ددې ښکارندوی دي چې پښتنو له ډېرو پخوا وختونو نه دکوچياني ژوند تر څنګه کليوالي او ښاري ژوند هم لرلی دی. په ځلورم فصل کې ذکر شوو اسنادو نه داهم ښکاري چې پدې تاريخي مرحله کې په «افغانستان» کې د مالدارۍ تر څنګه زراعت هم په کافي اندازه رواج او رونق پيدا کړی دی. دسيفي هروي په تاريخنامه کې پدې ارتباط يو مطلب راغلی چې لنډيز يې داسې دی.

په کال ٦٣٥ هجری کې په هرات کې د کرنې طريقه داسې وه چې دوه تنه

به ترزغ لاندې شول او درې یم به دسپارې موټانه پسې ونیوله. ځمکه به یې واړوله اوبیا به یې تخم وشینده. پدې کال یې چې د پنبې حاصل واخیست یوه اندازه یې «افغانستان» ته ولیږله. په «افغانستان» کې یې دکرنې ادوات پرې واخستل او هرات ته یې یو وړل. (۷)

دسیفی له دې یادونې نه ښکاری چې داومې هجری پېړۍ په اوله نیمایی کې په «افغانستان» کې دکرهنی آلات دومره ډېر او ښه دي چې په اصطلاح جنس په جنس تبادله یې دسیمې په سویه هم رواج شوې ده.

ددې وخت په افغانستان کې دزراعتی تولیدی وسایلو انکشاف دهغه ځای دمشرانو او واکدارانو دمالیاتی زراعتی ځمکو له وسعت نه هم ثرگندېدلای شي. مثلاً سیفی وایی دهغې مالیاتی ساحې وسعت چې عایدات یې د «افغانستان» دحکومت دمشر شاهنشاه زوم، میرانشاه او دهغه ورور ته ور تلل، پنځوس فرسنگه ؤ. (۸) دغه راز کوم دخوراکی موادو ذخایر چې دسیفی دوخت دافغانستان په سترو چونېو او کلاوو کې گودام شوي دي، هغه هم دزراعتی چارو په ښایسته انکشاف دلالت کوي.

دخاسک په کلا کې چې د «افغانستان» دارالملک، مستونگ، ته نژدې واقع ده، دسیفی په قول دومره «بې خدواندازې ذخیره» ځای شوې چې په کال ۶۵۲ هجری کې په مستونگ باندې دملک شمس الدین کرت دیرغل په وخت کې ملک شاهنشاه له پنځه زره جنگی مېړونو او مربوطو کسانو سره پناه ور وړې او درې نیمې میاشتې پکې کلابند پاتې کیږي

مگر سره له دې يې هم ذخيره نه خلاصيږي. (۹)

کله چې ملک شمس الدين د «افغانستان» په يوه بله کلا يعنې تيري باندې حمله کوي، هلته د «افغانستان» يو بل مقتدر مشر، المار له دوو زرو جنگي ميړونو او خپلو خلکو سره پوره دوه مياشتې په کلا کې د ننه تېروي، خو د کلا په ذخيره کې يې څه کمبود نه احساسيږي. (۱۰)

افغان شعيب په کال ٦٥٤ هجري کې د کهيرا په کلا کې څه باندې يوه نيمه مياشت کلابند پاتې کيږي خو د کلا ذخاير لا هم نه تماميږي. (۱۱)

همدا شان سندان د دوکي په کلاکې له نژدې دوو زرو جنگي ميړونو او نورو خلکو سره تقريباً يوه مياشت کلا بند دی خو هغه د «عمرونو ذخيره» چه د دوکي په کلاکې پرته ده، پای ته نه رسيږي. (۱۲)

د «افغانستان» په يوه بله کلا کې چې د بکر په نامه ياديږي، دومره زياتې غلې او دانې پرتې دي چې وروسته له دوه هفتې محاصرې نه يې لس خرواره ملک شمس الدين ته د سوغات په توگه ورکول کيږي. (۱۳)

کوم مطلب چې سيفي د هغه يوه لوی باغ په باره کې ليکلی چې ميرانشاه او د هغه زوی، سالار، له خپلو ټولو خپلوانو سره په کال ٦٥٨ هجري کې د شرابخوری جشن پکې جوړ کړی ؤ. (۱٤) له هغه نه دا په ډاگه کيږي چې پدې وخت کې په «افغانستان» کې د عادي زراعتي زمکو تر څنگه لوی لوی په ديوالونو محاط باغونه هم شته دي. د «افغانستان» د هغو سترو کلاوو او چونيو او حکومتي تشکيلاتو او لويو خانانو موجوديت، چې په تاريخنامه کې يې يادونه شوې او د دې ليکنې په څلورم فصل کې

هم خبرې پرې شوې دي. دومره اضافي توليد غواړي چې پرته د زراعت له کافي انکشاف نه يې امکان نشته.

سيفي داهم ليکي چې ملک شاهنشاه ژرد ينارهٔ د ملک شمس الدين کرت دمغل استازی، جاهو، په سروښندل (۱۵) او دبکر والی لس زره دينارهٔ ملک شمس الدين ته سوغات ورکړل (۱۶) اوله دې نه ښکاري چې دسيفي دوخت په «افغانستان» کې پيسې هم په چلند کې وې.

د تاريخنامې له متن نه داسې ښکاري چې دسيفي دوخت افغانستان ځانته يو ډول دولتي تشکيلات او داسې حکومت هم لري چې دچنگېزيانو سلطه يې نده منلې. ددې حکومت مشر، ملک شاهنشاه، ديوې جرگې په مخکې پدې ارتباط وايي چې « موږ نه تر اوسه چنگېز خانيانو ته ماليه ورکړې او نه به يې وروسته له دې ورکړو. »(۱۷)

دچنگيزيانو دسلطې په ارتباط، حتى د «افغانستان» يو محلي مشر سندان هم وايي چې «زما پلرونو او نيکونو، نه دهېڅ سلطان په وخت کې دمغولو خدمت منلى او نه يې دکفارو ماليې ته تن ور کړى دى. » (۱۸)

دافغانستان دحکومت مشر، ملک شاهنشاه د «فخرالدوله والدين» په لقب ياد شوى او دار الملک يې مستونگ دى. دشاهنشاه دلقب مراعات په هغو رسمي مکاتيبو کې هم شوى دى چې نورو واکدارانو ور سره کړى دى. په هغه ليک کې چې ملک شمس الدين کرت په کال ۶۵۰ هجري کې دمغولي حکمرانانو ديوه لوى مامور په لاس شاهنشاه ته استولى په هغه کې داسې راغلي دي.

« دافغانستان ستر ملوک فخر الدوله والدین ملک شاهنشاه او ملک میرانشاه او ملک بهرامشاه...... او رانا کنچر دې پدې پوه وي... » (۱۹)

له دې عبارت نه ښکاره ده چې خپله شاهنشاه ته د « فخر الدوله والدین » او دهغه د کورنۍ نورو غړو ته د ملک خطاب کېده. د تاریخنامې متن داهم ښیي چې حکومت ځانته پوځي، اداري او تشریفاتي هیئت لري او سیفي یې په مجموعي ډول د « دولت ارکان » او په ځان ځان ته ډول یې نوابان، حاجبان او سپه سالاران ګڼي. سیفي یو ځای لیکي چې « ملک شاهنشاه خپل نوابان، حاجبان او دخپلو لښکرو سپه سالاران دجاهو مخې ته ور واستول... بله ورځ ملک شاهنشاه دخپل دولت له ټولو ارکانو سره دجاهو لیدو ته ورغی. » (۲۰)

د تاریخنامې له متن نه داسې ښکاري چې د مستونګ حکومت په زرګونو منظم جنګي مېړونه هم لرل. سیفي د خاسک دچونۍ د پېښو په ترځ کې لیکي چې « ملک شاهنشاه... له پنځه زره جنګي مېړونو سره د خاسک چونۍ ته پناه وړې وه. » (۲۱) کله چې ملک تاج الدین د مستونګ د حکومت دچارو واګې په خپل لاس کې اخلې، سیفي وایي چې « په ډېر لږ وخت کې نږدې لس زره افغاني جنګي مېړونه را ټولوي. » (۲۲)

د تاریخنامې له متن نه داهم ښکاره ده چې د مستونګ حکومت ډېرې لوړې او پخې چونۍ لري. دخاسک څونۍ چې له مستونګ نه بهر پرته ده، دومره پخه ده چې ملک شمس الدین یې له خپل ټول حربي قدرت سره درې نیمې میاشتې نه شي نیولی. (۲۳)

د تاریخنامې له ځینو تذکراتو نه داسې ښکاري چې د «افغانستان» په ځینو تعمیراتي امورو کې له اوسپنې نه هم کار اخیستل شوی دی. مثلاً د ساجي د کلا په باره کې وایي، څرنګه چې د دغې کلا ورله اوسپنې نه جوړ شوي ؤ، نو د ملک شمس الدین پوځ يې دوه ورځې په ماتولو بریالی نه شو. (۲٤)

د تاریخنامې او روضات الجنات له ځینو تذکراتو نه ښکاري چې د «افغانستان» حکومتي او قومي مشران او خانان ډېر غلامان هم لرل او له ځینو ښارونو نه يې سوداګر نورو سیمو ته بیایي.

د مستونګ د حکومت مشر، ملک شاهنشاه، ډېرش تنه غلامان ملک شمس الدین کرت ته د سوغات په توګه ورلېږي. (۲۵) المار له ملک شمس الدین سره دامنې چې د کابل شل تنه غلامان د خراج په توګه ور کړي. د ملک شمس الدین جنګي مېړونه او مشران د سندان زیات شمېر غلامان، چې په تاریخنامه کې غلمان لیکل شوي دي، ګرفتاروي. (۲٦) د بکر د کلا والي پنځوس تنه غلامان ملک شمس الدین ته ور ښښي او میرانشاه پنځه تنه غلامان د ملک شمس الدین کرت یوه جنرال محمد نهي ته ورکوي. (۲۷)

زمچي اسفزاري له اومې هجري پېړۍ نه وروسته هم د کندهار د ښار او د هغه د مربوطو سیمو او ولایت د څرنګوالي د څرګندونو په ضمن کې د غه ښار یو مهم بندر او د غلامانو د یوه مارکیټ په توګه ښيي او لیکي: «د کندهار د ولایت اوسېدونکي افغانان دي او له دې ځایه غلامان هرات

ته بېول کېږي. » (۲۸)

د تاریخنامې مطالب د پښتني ټولنې د هغه وخت په اجتماعي روابطو هم یو څه رڼا اچولی شي. سیفي یو ځای لیکي چې: «له بیني کاونه اوه فرسنګه لرې... داوغانانو یوه قبیله وه چې نږدې دوه زره مېړونه یې لرل او مشرینی هرمز تري نومېده». (۲۹)

له دې عبارت نه ښکاري چې د سیفي په وخت کې هم پښتانه په بېلوبېلو قبایلو ویشل شوي او دځینو پښتني قبایلو دغړو شمېر هم ډېر زیات دی. ځکه څرنګه چې په همدا یوه ځای کې د یوې قبیلې دجنګی مېړونو شمېر دوو زرو تنو ته رسیږي، نو یقین دی چې د دې قبیلې د ټولو غړو شمېر به زر هاوو ته رسېده. سیفي د پښتنو د دې قبیلې نوم نه اخلی. خو مشر یې دهرمز تری په نامه یادوي.

څرنګه چې دلته سیفي پداسې سیمه غږیږي چې له ډېر قدیم نه «ترین» پښتانه پکې پراته دي، نوله دې امله سړی په کامل اطمینان ویلی شی چې دابه د ترینو یوه څانګه وی او مشر یې «هرمز ترین» دی. خو د تاریخنامې لیکوال او یا په ډېر غالب ګومان کوم ناسخ د «ترین» کلمه، سهواً، «تري» لیکلې ده، او داسې غلطی په قلمی نسخو کې بېشماره دي.

زموږ د دې ګومان ملاتړ یو بل تحریری سند هم کوی. داسند هغه کتیبه ده چې د سیفی هروی په عصر (۷۷۰ هجري) کې لیکل شوې او موږ په درې یم فصل کې پرې غږېدلی یو. پدې کتیبه کې چې د غازي خان ـ

د دېرې د بار کهان د یوه مسجد په دېوال لیکل شوې ده، نه یوازې دا چې د ترینو د قبېلې نوم په کامل صراحت یاد شوی بلکه د تور او سپین ترین تمیز هم پکې شوی او د تور ترین د یوې څانگې یعنې «موسیانی خېل» ذکر هم پکې راغلی دی. دا کتیبه لکه څنگه چې پخوا هم ویل شوي دي، اصلاً په فارسی ده او پښتو ترجمه یې داسې ده چې «دا د ملک پویا تور ترین موسیانی خیل مسجد د فېروزشاه په عهد کې په سنه ۷۷۰ هجری کې ودان شو». (۳۰)

د دې لنډ تذکر په نتیجه کې سړی په کامل اطمینان ویلی شي چې د سیفی په وخت کې هم یو لړ پښتنی قبایل او د هغو څانگې په همدا ننیو نومونو یادېدلې.

یو بل ځای کله چې سیفی له «شعیب افغان» او «سندان افغان» سره د ملک شمس الدین کرت په جگړو غږېږي، لیکي چې «د کهیرا کلا یې خرابه کړه او شعیب پر عیب یې چې د سورنا د قومو، وواژه.» (۳۱)

په دې عبارت کې د شعیب افغان د قوم نوم په صراحت اخیستل شوی او «سورنا» لیکل شوی دی. څرنگه چې دا نوم هم غلط شوی وي او اصل یې «از قوم سوریها» یعنې د سوریانو د قوم وي.

یو بل ځای کله چې سیفی په هغو پښتنو غږېږي چې د «افغانی غلو» په نامه یې یاد کړي دي، د «افغانستان» د یو شمېر مشرانو له خولې لیکي: «د دوکی له کلانه او یا فرسنگه د جنوب خواته یوه دله غښه دي چې د -کنکان او نهران- په نامه یادېږي.» (۳۲) د دې خلکو په باره

کې دسیفي له نورو بیاناتو نه سړی په پوره اطمینان دا اټکل کولی شي چې «کنکان» او «نهران» به هم دوه سره نزدې او ګاونډي پښتانه قومونه وي.

د «افغانستان» دیو شمېر مشرانو له نومونو نه چې په تاریخنامه کې راغلي، لکه المار، سندان، هرمز، جلم، رانا کنجر، سیورا، کیورا، میرانشاه او سام، دا هم معلومېږي چې د هغه وخت په افغانستان کې غیر عربي او بومي نومونه، ډېر زیات رایج دي. دغه راز دسام افغان، شعیب افغان او سندان افغان د نومونو له وروستی برخې نه معلومېږي چې سیفي د «افغان» لفظ د پښتنو دلقب په توګه هم استعمال کړی دی.

د تاریخنامې له متن نه دا هم ښکاري چې د دغه وخت د افغانستان د ځینو مشرانو له نومونو سره د هغوی د اقوامو نومونه هم په اصطلاح د تخلص په حیث استعمال شوي دي. لکه هرمز تری [ترین] او احمد توری.

میسر تحریري اسناد دا هم ښیي چې پښتانه له ډېر پخوانه سرکښه او جنګیالي خلک دي. عتبي وایي چې افغانانو د غزنوي سلطان محمود د قلمرو په ځینو برخو کې نارامي پیدا کړې وه او ځکه نو سلطان کلکې جګړې ور سره وکړې. (۳۳) ابن اثیر هم وایي چې افغانان ورانکاران وو او سلطان محمود یرغلونه پرې وکړل. (۳٤) عبدالحی بن ضحاک ګردېزي وایي چې غزنوی سلطان مسعود خپل زوی، امیر ایزدیار د غزنی غرنیو سیمو ته ولېږه چې د پښتنو د سرکشی مخه ونیسي. (۳۵) فرشته هم دغزنویانو دعصر د پېښو د بیان په وخت کې پښتانه سرکشه خلک

بولي او ليکي چې علي بن ربيع د پښتنو د سيمو افغانان چې سرکشي او ورانکاري يې کوله، اېل کړل. (٣٦) بېروني هم پښتانه زيږه او سرکشه خلک بولي. (٣٧) د فردوسي د شاهنامې ملحقات هم چې د شپږمې هجري پېړۍ په حدودو کې ليکل شوي، پښتانه غښتلي او جنګيالي خلک بولي. (٣٨).

د پښتنو دا خصوصيات د تاريخنامې په يو شمير عباراتو کې هم منعکس شوي دي. يو ځای د شاهنشاه له خولې ويل شوي چې «افغانان سخت بې باکه، خونړي او مېړني خلک دي» (٣٩) يو بل ځای د تېري د کلا د پښتنو په ترځ کې ليکل شوي چې « المار زرتنه توريالي مېړونه چې هر يو يې په جګړه کې لکه شين زمری او مست هاتي غوندې و، له کلانه ور وايستل... دې زړورو مېړونو ايستلې توري د څپانده سيند او سختې تالندې او ګړندي نهنګ او خونړي پړانګ په څېر... جګړه پيل کړه... دډبرو او ګېډۍ ګېډۍ غشو ګوزارونه يې شروع کړل... هر څومره مېړونه چې ورنه وژل کېدل، تهور يې هغومره زياتېده او له جګړې نه يې لاس نه اخيست. » (٤٠)

په تاريخنامه کې يو بل ځای د تيرايانو په باره کې راغلي دي چې هغوی « په عمل کې لکه دېوان او په جوسه لکه اهريمنان غوندې وو. له زمري اولېوه سره يې شيدې رودلې او له پړانګ او نهنګ سره يې شپې سبا کولې هريوه يې ځان باتور او رستم باله. » (٤١).

يو بل ځای د کنکانو او نهرانو افغانانو په باره کې راغلي چې« دا اوه سوه

بې باکه او جنګیالي مېړونه دي چې د جګړې په ورځ له دوو زرو سورو سره جنګېږي. » (٤٢) د ساجي د کلا د خلکو په باره کې ویل شوي چې هلته داسې «زر تنه تکړه او مبارز افغانان هست دی... چې زړور تیا، توره او سر تیري یې له عقل او تصورنه وتلي دی » (٤٣)

کله چې ابن بطوطه پښتانه یادوي هغه هم وایي چې « ډېر غښتلي خلک دي » (٤٤).

کله چې شرف الدین یزدي، له سیفي او ابن بطوطه نه ډېر را وروسته یعنې د ۸۰۱ هجري د یوې پېښې د بیان په وخت کې، د پکتیا کرلانې پښتانه یادوي نو هغه یې هم همداسې خلک بولي او لیکي چې دا « یوه غښتلې، سترداو باهیبته قبیله وه. » (٤٥)

بنایي د پښتنو همدا خصوصیات د دې سبب شوي وي چې له ډېر پخوانه د خپلو او پردو په پوځونو کې داخل شوي او په پرله پسې ډول یې عسکري خدمتونه کړي دي.

عتبي د سبکتګین د وخت د پېښو د بیان په ترڅ کې وایي چې افغانان د دغه واکدار په جنګي مېړونو کې شامل شول. (٤٦)

د مسعود سعد سلمان دا لاندې بیت هم پدې دلالت کوي چې د غزنوي سلطانانو په عسکرو کې پښتانه شامل وو:

ازلشکر ترک و هندوافغان　　　بریاره هزار شیر نرکرده (٤٧)

یوشمېر دراوروسته زماني معتبر تحریري اسناد هم د غزنویانو او همدغه راز د غوریانو په پوځونو کې پښتانه شامل ګڼي. فرشته له هندوانو سره

دسلطان محمود دیوې جګړې دبیان په وخت کې لیکي چې «ارسلان جاذب له لس زره ترکي، افغان او خلجي لښکرو سره دوه شپې ورپسې و او اته زره کفار یې ووژل.» (٤٨) همدی بیا لیکي چې «محمد باهلیم... له عربو او عجمو او افغانانو او خلجیانو نه ډېر ښه لښکر برابر کړ او له سرکشه کفارونه یې ډېر ووژل» (٤٩) فرشته دغزنوي بهرامشاه په باره کې لیکي چې هغه «له خپلو لښکرو سره چې له افغانانو او خلجیانو او نورو کوچیانو نه جوړې وې، دغزني شاوخواته راورسېد. (٥٠)

نعمت الله هروي هم دغزنوي سلطان محمود په پوځ کې پښتانه شامل ګڼي او وایي چې دغه سلطان دسومنات جګړه دپښتنو مشرانو او دهغوی دجنګي میړونو او ولس په زور وګټله (٥١) حافظ رحمت خان هم دکندهار او غزني دسیمو په لس ګونو زره پښتانه دغزنوي سلطان محمود په پوځ کې شامل ګڼي او وایي چې دهند په جګړو کې دسلطان بری دهمدوی دسرله برکته و. (٥٢)

دا یادونې دمنستوارت الفنستن داخبره تاییدوي چې «پښتنو دمحمود او نورو غزنوي سلطانانو دعسکرو ستره څه چې اساسي برخه جوړوله.» (٥٣)

فرشته او نعمت الله دواړه دغوریانو په عسکرو کې هم پښتانه شامل ګڼي.

کله چې فرشته یو ځای دسلطان شهاب الدین غوري په جګړو غږېږي وایي چې دسلطان نورو امیرانو ماته وکړه او وتښتېدل. خو «افغان او

خلجي اميران چې دلښکرو په سر کې واقع وو، په ډېره مېړانه وجنګېدل او په مېړانه کې یې ساری نشته.» (٥٤) بیا لیکي چې «سلطان شهاب الدین بل کال ته له یولک او اوه زره ترکانو، تاجکانو او افغانانو سره... له غزنی نه ووت.» (٥٥)

خواجه نعمت الله هم دسلطان شهاب الدین غوري په پوځ کې په زرګونو پښتانه شامل ګڼي او وايي چې په هندوستان کې دسلطان بری دهمدوی دسرله برکته و. (٥٦)

ځینې اسناد ببخي په صراحت وايي چې دغزنویانو او غوریانو په عصر کې پښتانه دهندوانو په پوځ کې هم شامل وو.

فرشته دجیپال په عسکرو کې پښتانه شامل ګڼي. (٥٧) دغه راز دی وايي چې پښتانه په هغو جګړو کې هم دهندو واکدارانو په پوځ کې داخل وو چې سلطان شهاب الدین غوري له تیپهورا سره وکړې. دی لیکي چې «تیپهورا یې... له دري سوه زره راجپوتانو او اوغانانو سپرو سره مخې ته ورغی او سلطان یې هم مخې ته ور ووت.» (٥٨)

دلته دهغو پښتنو غتيانو په باره کې - چې اکثره خپلو شخصي ګټو او دصوبداری، شوق دمحلي واکدارانو او یا جهانګیرانو خدمت ته ور بللي دي - داخبره هم دکولو ده چې دهغوی ډېر، یو اوبل وخت، له خپلو ولي نعمتانو نه بېل شوي او حتی ور سره جنګېدلی دي.

کله چې دملک شمس الدین لښکر د«افغانستان» دیوه وتلی پښتانه مشر، سندان، دتره زوی، شعیب وژنی نو سندان له شمس الدین نه چې

پخوا ور سره ملگري ؤ، جلا کېږي؛ د دوکي په کلا کې سنگر نيسي او ور سره جنگېږي. » (۵۹)

د «افغانستان» يوبل مشر ملک تاج الدين، چې له ملک شمس الدين سره په تکناباد کې ملگری شوی ؤ، په مستونگ کې د ملک شمس - الدين، والي وژني او هلته خپله واکداري ټينگوي. (۶۰)

کله چې مشر ملک شمس الدين په تبريز کې مري او پر ځای يې زوی، کشر ملک شمس الدين واکداری ته رسېږی، د کندهار مشر يې په خلاف راپورته کېږي او خپل مخالفت ته تر هغو دوام ور کوي چې په جگړه کې له دواړو خواوو نه دومره خلک وژل کېږي چې سيفي وايی « دوينو ويالې رواني شوې. »(۶۱)

ښايی همدا سر تېري او پوځی خدمات او ځينې نور اجتماعی مميزات د دې سبب شوي وي چې پښتنو له ډېرو پخوا زمانو نه ځانته خاصې وسلې هم لرلی او په ډېرو لرغونو آثارو کې هم د همدوی په نامه يادې شوې دي.

له ځينو پخوانو اسنادو نه داسې ښکاری چې د غزنويانو په عصر کې هم د پښتنو د ځينو وسلو، مثلاً يوې ورې نيزې يا شلگي ښخی نوم لگېده. د غزنوی عصر لوی شاعر، فرخی سيستانی (وفات ۴۲۹ هجری) خود پښتنو شلگی د برښ سمبول گنی. دی په هغې قصيدې کې چې د سلطان محمود په مدح کې يې ليکلې ده، د گنگ د لارو اغزي د پښتنو له شلگی سره تشبيه کوي او ليکي:

چه خارهایی کاندر سرینهای ستور
فروشد چو به ریگ اندر آهنین مسمار
به گونه شل افغانیان دو پره و تیز
چو دسته بسته به هم تیرهای بې سوفار (٦٢)

دآداب الحرب دمؤلف له وینا نه داسې ښکاري چې دپښتنو د توري او غشي نوم هم له ډېر پخوانه لګېده. دی لیکي چې «شل او ژوبین دافغانانو، هندوانو او هغو کسانو وسله ده چې هم توره لري او هم شل او ژوبین.

... توره څو ډوله ده. چیني او روسي او ... سورمان او تورمان...... سورمان او تورمان زیاتره دافغانانو توره ده.» (٦٣)

د تاریخنامې له متن نه ښکاري چې د سیفي دوخت په «افغانستان» کې له زغرو نه هم کار اخستل کېده. دخاسک د کلا د پېښې د بیان په ترځ کې ویل شوي چې «میرانشاه له درې سوو مېړونو سره چې زغرې یې اغوستې وې... دخاسک له کلانه ځان ګوزار کړ.» (٦٤)

میسر پخواني اسناد او مدارک په پښتنې ټولنه کې په مذهب او په تېره بیا داسلام د ترویج او تعمیم په څرنګوالي هم یو څه رڼا اچولی شي.

اسلام چې په افغانستان کې یې خپرېدل دغرب له لوري پیل شول، دلومړنۍ هجري پېړۍ په اوله نیمایی کې دعبدالرحمن بن ثمره د سرله برکته ان تر کابله مستقر شو او دابن ثمره نومیالي سپه سالار، مهلب داباسیند تر شرقي غاړو پورې ورساوه. (٦٥)

کومه کتیبه چې په وزیرستان کې دانګرېزانو پولتیکل اېجنټ
ستهیوارټ پیرز د توچي په وادي کې په کال ۱۹۰۷ کې پیدا کړه او په
سردا او کوفي رسم الخط لیکل شوې او اوس د پېښور په موزیم کې ده
(٦٦) هغه دديې ښکارندوی ده چې د عربو فاتحینان د دريمې هجري
پېړۍ په اوله نیمایی کې د پښتونخوا ډېرو صعب العبورو غرنیو سیمو
ته هم ور رسېدلی دي. خو ځینې نور پخوانی اسناد بیا داسې ښیي چې
ډېرو پښتنو تر ښایسته وروسته وختونو پورې هم اسلام نه دی منلی.
دغزنویانو د عصر شاعر مسعود سعد سلمان په هغه یوه بیت کې چې
دغزنویانو د وخت د یوه جنګي سالار، علی خاص، په باره کې دی، هغه
لښکر د کفارو بولی چې علی خاص په «کشور افغان» باندې د یرغل په
وخت کې ور سره جنګېدلی دی. مسعود سعد وایي:
شکسته گشت به تیغ تو لشکر کفار
خراب شد به سپاه تو کشور افغان (٦٧)
کله چې ابن اثیر د کال ٤٠٩ هجری د پېښو د لیکلو په وخت کې په پښتنو
باندې د سلطان محمود یرغل باندې غږېږي افغانان په صراحت کافران
بولي او لیکي چې «افغانان کافران او وران کاران وو.» (٦٨)
د عجایب المخلوقات مؤلف د شپږمې هجري پېړۍ په نیمایی کې وایي
چې افغانان د برهمن ونې ته سجده کوي. دی لیکي چې «د افغانانو په
حد کې یو د زغو ځنګل دی. پدې ځنګل کې یوه ستره ونه ده چې د ډېر
پنډوالی یې او د لس ارشه دی. دې ونې ته د برهمن ونه وایي او افغانان

سجده ورته کوي. » (٦٩)

دحدود العالم مؤلف دڅلورمې هجري پېړۍ په اواخرو کې، ظاهراً، افغانان او مسلمانان سره بېلوي او کله چې په ننګرهار غږیږي وایي چې ددغه ځای دپاچابنځې څوک مسلمانې، څوک افغانې او څوک هندوې دي. (٧٠) او پدې ډول افغانان له مسلمانانو نه جلا کوي. دحدود العالم مؤلف داکار دوخیانو په برخه کې هم کوي او کله چې سمر قنداق معرفی کوي لیکي چې «سمرقنداق یو ستر کلی دی چې هندوان، تبتیان، وخیان او مسلمانان پکې هست دی.» (٧١) حدود العالم لږ وروسته دوخیانو په باره کې نور صراحت هم کوي او کله چې په رختجب غږیږي، وخیان په ډاګه ګبران بولي او لیکي چې «رختجب یو کلی دی چې ګبر کې وخي پکې هست دي.» (٧٢) دوخیانو په باره کې له دې صراحت نه داسې ښکاري چې حدود العالم پدې ځای کې، په ښځې غالب ګومان پښتانه هم له مسلمانانو نه پدې فهم جدا کړي چې دکوم بل مذهب پیروان دي.

کوم مطلب چې مبارکشاه دادیرا افغان او جیپال پاچا دخبرو په باره کې لیکلی او مورږ په څلورم فصل کې راوړی دی، له هغه نه ښکاري چې دپېښور شاوخوا پښتنو کې دغزنوي سلطان محمود تر وخته اسلام نه دی تعمیم شوی. (٧٣)

کله چې بېرونی دپنځمې پېړۍ په اوایلو کې دهند په تاریخ کې دده په خپل قول دهند دغربی سرحد او یا دافغانانو غرنی ملک په قبایلو غږیږي

هلته دي دغه قبايل هندوان ياد هندوانو عزيزان بولي. (٧٤)
له پورته مطالبو او ځينو نورو مربوطو ټکو نه، لکه دا چې دويهند په جګړه او يو شمېر نورو جنګونو کې پښتنو او هندوانو په ګډه، د اسلامي فاتحينو له لښکرو سره جګړې کړي دي.٧٥ داسې ښکاري چې په پښتنو کې د اسلام دين ورو ورو خپور شوی او د ځينو سيمو پښتانه ترپنځمې او ښايي حتی د شپږمې هجري پېړۍ تر وروستيو وختو پورې هم لا نه دي مسلمان شوي.
کله چې سړی ميسر اسناد او را وروسته آثار د پښتني ټولنې د تحول او انکشاف په باره کې له عصري مطالعاتو او د دغې ټولنې له اوسنيو اقتصادي او اجتماعي مشخصاتو سره څنګ په څنګ مطالعه کوي نو دا خبره هم په پوره اطمينان کولی شي چې، لکه ډېرو نورو جوامعو غوندې په پښتني ټولنه کې هم بېلو بېلو مهارتونو او ايجاداتو په موازي ډول انکشاف نه دی کړی، بلکه د انکشاف جريان يې سره وړاندې وروسته ښکاري. ميسر اسناد او مربوط شواهد داسې ښيي چې د تورې او لينديءِ د استعمال صلاحيت او جنګي مهارت په پښتنو کې بېخي زړه سابقه لري او له ډېر پخوا نه يې پوره انکشاف کړی دی مګر فردي هنري ايجادات او د قلم استعمال بيا په پښتني ټولنه کې دومره زړه سابقه نه لري.
د يوې ټولنې په داسې تاريخي مرحله کې، لکه چې موږ پرې غږېږو، د جګړې مهارت او د تورې د استعمال صلاحيت د تنازع للبقا د اصل پر

بنا يو اوليه اجتماعي ضرورت دی. مگر فردي هنري ابداعات، لکه ديوه شاعر اشعار، عموماً، تفنني ماهيت او ثانوی اهميت لري. هنرمند پخواله دې چې په مسلکی هنري ايجاداتو گوتې پورې کړي بايد دخپل ژوند دبقا او دوام اوليه وسايل، لکه خوراک، پوښاک، تهاتوبی او نور ولري. دا وسايل يا بايد دی خپله خپل ځانته برابر کړي او يا يې نور ورته تهيه کړي.

د پښتني ټولنې پدې تاريخي مرحله کې دا دوهم احتمال يعنې داچې ديوه هنرمند، مثلاً، شاعر دژوندانه ضروري وسايل دې نور ورته برابر کړي، دومره نه ليدل کېږی. پدې اجتماعي مرحله کې په اکثرو پښتنو کې دکار مهارت او اقتصادی توليد لا دومره انکشاف نه دی کړی چې اضافي توليد يا مازاد دومره زيات وي.

دهنر په ايجاد او تمثيل کې دټولنې عادي غړي برخه اخلی. دلته يو ځوان هم کارگر دی او هم سندرغاړی. دلته يوه ښځه هم کار کوي او هم رقص. دوی هم جامې او کيږدۍ ياکوټې جوړوي او هم لنډۍ. هم کډې باروي او هم يې په سندرو کې ستايي. هم رمې پيايی او هم يې دشپيلۍ سوځوونکي نغمې په ښکليو سردرو کې انگازې کوي. هم دټولنې دژوندانه په مکتب کې دپخوانو او خپل توليدي مهارت راتلونکو نسلونو ته ور زده کوي او هم يې دذهني فعاليت محصول خوږې سندرې دخپلې حافظې له لارې ور رسوی. لنډه داچې پدې مرحله کې نه هنر کوم اختصاصي او ممتاز کار دی او نه هنرمند دا امتياز لري چې دژوندانه

ضروري وسايل نور ورته برابر کړي.

حتی ځینو هنرونو، لکه نڅا او موسیقی تر ډېرو را وروسته وختو پورې هم په اکثرو پښتنی قبایلو کې دکوم اختصاصي شغل حیثیت او داسې شکل نه دی غوره کړی چې داضافی تولید په بدل کې عرضه او خرڅ شي. کله چې سړی د پښتنو را وروسته ادبی او اجتماعی تاریخ په ځیر گوري نو له دې عصر نه ډېر را وروسته هم انفرادي او په تېره بیا تحریري ادبی ایجادات، معمولاً، دملایانو او یا ځینو خانانو کار دی او داځکه چې د ټولنې له اضافی تولید نه داستفادې امتیاز او دخط یا کتابت فرصت په منظم ډول دهمدوی په برخه دی.

په ډېر غالب گومان به همدا عوامل او واقعیتونه ددې سبب گرځېدلي وي چې په پښتنی ټولنه کې پدې تاریخي مرحله کې علوم، لیک لوست او هنرونه ډېر انکشاف ونه کړي او بنایي له همدې امله به ددې عصر کوم کامل پښتو تحریري اثر مو ږ ته نه وي را رسېدلی.

**دشپږم فصل یاداشتونه:**

١) حدود العالم من المشرق الی المغرب، مخ ٣٧٢.

٢) ابن اثیر، کامل، ټوک ١٦، مخ ٢٩.

٣) ابن اثیر، کامل، ټوک ١٨، مخ ١٧٩.

٤) دکرمان یا کرمان دپېژندنې دپاره و گورئ دڅلورم فصل ١٤ یاداشت.

٥) ابن اثیر، کامل ټوک ٢٠، مخ ٢١٦.

٦) فرشته، تاریخ فرشته، مخ ۸۷.

۷) هروی سیفی، تاریخنامه، مخ ۱۱۱.

۸) همدا اثر، مخ ۱۱۰-۱۱۱.

۹) همدا اثر، مخ ۲۰۲.

۱۰) همدا اثر، مخ ۲۰۵-۲۰۷.

۱۱) همدا اثر، مخ ۱۱۱-۱۱۲.

۱۲) همدا اثر، مخ ۲۱۳-۲۱۵.

۱۳) همدا اثر، مخ ۲۵۷.

۱٤) همدا اثر، مخ ۲٦۲-۲٦۳.

۱۵) همدا اثر، مخ ۱۹۸.

۱٦) همدا اثر، مخ ۲۵۲.

۱۷) همدا اثر، مخ ۱۹۸.

۱۸) همدا اثر، مخ ۲۰۵.

۱۹) همدا اثر، مخ ۱۹٦.

۲۰) همدا اثر، مخ ۱۹۸.

۲۱) همدا اثر، مخ ۲۰۲.

۲۲) همدا اثر، مخ ۲٦۹.

۲۳) همدا اثر، مخ ۲۰۲.

۲٤) همدا اثر، مخ ۲۲٦.

۲۵) همدا اثر، مخ ۱۹۹.

۲٦) همدا اثر، مخ ۲۱٥.

۲۷) همدا اثر، مخ ۲٥۷.

۲۸) اسفزاري زمچي، روضات الجنات، ټوک ۱، مخ ۱۱۲.

۲۹) هروی، تاریخنامه، مخ ۲۷۱.

۳۰) ددې کتیبې نقل ماته مرحوم عبدالحی حبیبی له خپلو شخصي یاداشتونو نه راکړی دی.

۳۱) هروی سیفی، تاریخنامه، مخ ۲۱۲.

۳۲) همدا اثر، مخ ۲۲۲.

۳۳) عتبی، تاریخ یمینی، مخ ۳۸۹.

۳٤) ابن اثیر، کامل، ټوک ۱٦ مخ ۲۹.

۳٥) گردیزی، عبدالحی، تاریخ گردیزی، مخ ٤۳۸.

۳٦) فرشته، تاریخ فرشته، مخ ۸۰.

۳۷) بیرونی، دهند تاریخ، ټوک ۱، مخ ۱۹۹.

۳۸) فردوسی، شهنامه، مخونه ٥۳۸-٥٤٤.

۳۹) هروی سیفی، تاریخنامه، مخ ۹۹.

٤۰) همدا اثر، مخ ۲۰٥.

٤۱) همدا اثر، مخ ۳۰۲.

٤۲) همدا اثر، مخ ۲۲۲.

٤۳) همدا اثر، مخ ۲۲٤.

٤٤) ابن بطوطه، سفرنامه، ټوک ۱ مخ ٤٤٦.

٤٥) یزدی، ظفرنامه، ټوک ۲ مخ ٤٠.

٤٦) عتبی، تاریخ یمینی، مخ ۳۳.

٤٧) سلمان، مسعود سعد، دیوان، مخ ٤٨٣.

٤٨) فرشته، تاریخ فرشته، مخ ٤٥.

٤٩) همدا اثر، مخ ۸۷.

٥٠) همدا اثر، مخ ۲، ۸۷.

٥١) هروی نعمت الله، ټوک ۱، مخ ۱۱۹-۱۲۰.

٥٢) حافظ رحمت خان، خلاصة الانساب؛ مخونه ۷۸ - ۷۹.

٥٣) الفنستن، د کابل سلطنت، مخ ۱۲٥.

٥٤) فرشته، تاریخ فرشته، مخ ٥٥.

٥٥) همدا اثر، مخ ۱۰۰.

٥٦) هروی نعمت الله، مخزن افغانی، ټوک ۱، مخونه ۱۱۹-۱۲۰.

٥٧) فرشته، تاریخ فرشته

٥٨) همدا اثر، مخ ۱۰۱.

٥٩) سیفی هروی، تاریخنامه، مخونه ۲۱۲-۲۲۱.

٦٠) همدا اثر، مخونه ۲٦٤-۲٦۹.

٦١) همدا اثر، مخونه ۳٦۹-۳۷۲.

٦٢) فرخی سیستانی، دیوان، مخ ٦١-٦٢.

٦٣) مبارکشاه، آداب الحرب، مخ ۲٥٨-۲٥۹.

٦٤) سیفی، تاریخنامه، مخ ۲۰٤.

٦٥) حبیبی، عبدالحی، افغانستان بعد از اسلام، لومړی ټوک، مخ ۱٦۲.

٦٦) کرو، دي پټانز، مخ ۱۰۵.

٦٧) مسعود سعد، دیوان، مخ ٤۱۸.

٦٨) ابن اثیر، کامل، ټوک ۱٦، مخ ۲۹.

٦۹) محمد بن احمد، عجایب المخلوقات، مخ ۲۱۷.

۷۰) حدود العالم، مخ ۳۷۹.

۷۱) همدا اثر، مخ ۳۳۹.

۷۲) همدا اثر، مخ ۳۹۹.

۷۳) مبارکشاه، آداب الحرب، مخ ۳۱۵-۳۱٦.

۷٤) بیرونی، دهند تاریخ، ټوک ۱، مخ ۱۹۹.

# اووم فصل

# پښتانه او بابر

ځو مره یرغلونه چې بابر د پښتونخوا له یوه نه تربل سره، په بېلو بېلو پښتنو قومونو او دهغوی په ځینو نورو وطنوالو کړي او ځومره عام قتلونه او مرګونه یې چې پدې یرغلونو کې کړي دي؛ ځومره سرونه یې چې پرې کړي، ځومره کله منارونه یې چې جوړ کړي، ځومره کلي او کورونه یې چې وران کړي او ځومره مالونه یې چې تالا او زور ګیره کړي دي، ښایي چې بل هیڅ جهانګیر او یرغلګر به نه وي کړي. خو په عین وخت کې ځومره معلومات چې موږ ته د پښتنی ټولنې د بېلو بېلو اقوامو او قومي مشرانو داجتماعي هویت او جغرافیایي موقعیت او د پښتنې ټولنې د یو شمېر نورو ممیزاتو او حتی د پښتونخوا د یولړ خصوصیاتو په باره کې د بابرَ د خاطراتو له لارې را رسېدلي دي، د بابر تر وخته او حتی له هغه نه تر ډېر وروسته وخته پورې، د بل هیڅ اثر له لارې نه دي را رسېدلي.

ځکه نو موږ دلته دبابر له خاطراتو یا بابر نامې نه تقریباً ټولې هغه یادونې را اخیستې چې په پښتونخوا کې د پښتنو په باره کې شوې دي. موږ دا مطالب دبابر نامې له هغې نسخې نه ترجمه کړي دي چې انیتا بېورج په کال ۱۹۲۲ کې له ترکی نه په انګریزي اړولې او په کال ۱۹۷۹ کې په نوي ډیلي کې بیا چاپ شوې ده. دڅېړونکو دکار د آسانتیا دپاره، دپښتو ترجمې په بېلو بېلو برخو کې دبېورج دانګریزي نسخې مخونه هم ښودل شوي دي.

موږ په ترجمه کې دامانت دارۍ په خاطر دبابر نامې انګریزي عبارات تر ډېره حده جمله په جمله او حتې کلمه په کلمه ترجمه کړي دي، خو په عین وخت کې مو کوشش کړی چې پښتو هم تر ممکنه حده روانه او دفهم وړ وي. که مو چېرته دمشروع او مطلوب اختصار په خاطر په کوم عبارت کې کومه کلمه یا جمله غورځولې، دهغې پر ځای مو ټکي ایښي دي. کله مو که په متن کې کومه کلمه یا فقره دمفهوم دپوره افادې او وضاحت دپاره ور زیاته کړې، هغه مو پېدې قوس [ ] کې لیکلې ده.

بابر کابل په کال ۱۵۰٤ کې ونیو، خو په بابر نامه کې یې له پښتنو سره دمخامخ کېدو او جګړو ګزارشات هلته پیل کړي چې دکال ۱۵۰۵ دجون په میاشت کې له کابل نه دهندوستان دسفر په نیت وزي. دبابر داسفر دجګدلک له لارې پیل کیږي او له پښتنو سره یې دمخامخ کېدو ګزارش دهمدې سفر په اول سر کې هغه وخت پیل کیږي چې ګرم چشمې ته رسیږي. په همدې ځای کې دپښتنو دیوه مشر یادونه کوي او لیکي

چې د ګګیانو یو مشر، فاجې، ظاهراً، له خپل کاروان سره راوستل شو. موږ هغه را سره بوته چې لار راوښیي. » (مخ ۲۲۹)

بابر وروسته له یو دوه مزله له خیبر نه اوړي او جم ته رسیږي. هلته یو څه تم کیږي. له جم نه مخ په کوهاټ خوځیږي. هلته یو ځل بیا د ګګیانو پښتنو یادونه کوي او لیکي چې « پدې وخت کې ګګیانی افغانان په پرشاور [ پښبنور ] کې اوسېدل. خو زموږ د پوځ له وېرې د غرو لمنو ته تللي وو. یو مشر یې کمپ ته زما سلام ته راغی. موږ هغه له فاجی سره یو ځای راسره بوته چې ګوندې لار راوښیي. » (مخ ۲۳۰)

بیا لیکي چې « له کمپ نه نیمه شپه وخوځېدو. سهار وختی له محمد فاجی نه واوښتو او د سبا ناري په وخت کې په کوهاټ کې کوز شوو. ډېرې زیاتې د غویو ګلې او ګامېښې زموږ د پوځیانو لاس ته ورغلې. ډیر زیات افغانان ګرفتار شول. خو ماټول راټول او خوشې کړل. د کوهاټ په کورونو کې بېحده حصره غلې موجودې وې. زموږ یرغلګروان د سند تر سینده پورې یرغلونه وکړل او وروسته له یوې شپې بېرته راسره یو ځای شول. کله چې زموږ لوټماران بېرته راغلل او دوه شپې مو په کوهاټ کې تیرې کړې، پدې باره کې مشوره وشوه چې بل په زړه پورې اقدام به موثه وي. فیصله وشوه چې د بنګښو په افغانانو او د بنو په ګاونډ یرغل وکړو او بیا د نغریا فرمل له لارې کابل ته ولاړ شو.

په کوهاټ کې دریاخان د یار حسین زوی... خواست رانه وکړ چې په دلزاکو، یوسفزو او ګګیانو باندې یو شاهي فرمان را کړه ځکه کله که زه

و غواړم چې دسند دسیند له هابلې غاړې نه دپادشاه په نامه جنګي مېړونه راټول کړم نو هغو به غاړه ونه غړوي، دریاخان ته دا فرمان ورکړل شو اوله کوهاټ نه رخصت کړی شو ». (مخ ۲۳۱) (دریاخان پدې وخت کې دبابر په هدایت داباسیند په شرقي غاړه کې، حسن ابدال ته نږدې کچه کوټ کې دېره دی - پښتومترجم).

بابر له کوهاټ نه دهنګو په لار بنګښو ته روانېږي اوپدې باره کې لیکي چې « دکوهاټ او هنګو ترمنځ لار په یوه تنګه دره کې تللې ده. کله چې موږ دغې درې ته ورننوتو دکوهاټ او شاوخواسیمو افغانان ددرې له دواړو خواوو نه دغرو په لمنو کې راټول شوي وو اود جګړې چیغې او نارې یې وهلې. زموږ لارښود ملک بوسعید کمري ته دافغانانو موقعیت ډېر ښه معلوم و. هغه عرض وکړ چې وړاندې زموږ ښی لاس ته یوه ځانته غونډۍ ده که افغانان دغرو له لمنو نه ورته راښکته شي، نو کېدی شي چې موږ پرې رالټاو شو او ویې نیسو. خدای همداسې وکړل. افغانان ربښتیا هم راکوز شول. موږ دجنګي مېړونو یوې ډلې ته وویل چې دغونډۍ او غرونو ترمنځ تنګی ونیسي. نوروته مو وویل چې دواړو خواوو ته یې حرکت وکړي. پدې ډول به له دواړو خواوو په افغانانو حمله وشي او ټول به تباه کړی شي. څرنګه چې په افغانانو له هرې خوا حمله وشوه، هغوی حتی جګړه هم ونه شوه کړی او سل دوه سوه تنه یې ونیول شول. ځینې ژوندي راوستل شول. خو ډېرو یې فقط سرونه راوړل شول. موږ ته ویل شوی وو چې افغانانو ته دمقاومت توان پاتې نه شي، شنیلی

په خوله کې نیسی؛ خپل دښمن ته ورځی او پېدې ډول ورته وایی چې: «خوسکی دې یم» دلته موږ دا دود ولیده. کومو افغانانو چې مقاومت ونه شو کړی، شنیلې یې په خولو کې نیولی وو موږ ته راغلل.

کوم بې چې زموږ سرو داسیرانو په توګه راوستی وو، امر وشو چې له ټولو نه یې سرونه پرې کړل شی، له ککرو نه یې زموږ په کمپ کې څلی جوړ شو. په ورپسې ورځ موږ وړاندې ولاړو او په هنګو کې کوز شوو هلته د هغه ځای افغانانو په غره کې سنګر جوړ کړی ؤ. ما د سنګر لفظ وروسته له دې چې کابل ته راغلم، واورید. زموږ سړی مخامخ ورو ختل. سنګر یې مات کړ او دسل دوو سوو مغرورو افغانانو سرونه یې پرې کړل. هلته هم له ککرو نه څلی جوړ شو. له هنګو نه شپه په لار تلل ته چې له بنګښو نه کوز پروت دی، ولاړو. هلته هم زموږ مېړونو په شاوخوا افغانانو یرغل وکړ خو ځینې یې له سنګر نه بېرته راغلل او ډېر څه یې رانه وړل. (مخونه ۲۳۱-۲۳۲).

بابر له ټل نه بنو ته ځی او د بنو په باره کې لیکی: «د بنو ځمکې کورانی، کیوي، سور، عیسی خیل او نیازي افغانان کري، کله چې په بنو کې کوز شوو، وامو ورېدل چې د دښت قبایلی مېړونه مقاومت کوي او د شمال خوا ته په یوه غره کې سنګر نیسی. د جهانګیر میرزا په مشرۍ یوه قوه په هغه څه ور ولېږله چې د کیوي [قوم] سنګر ښکارېده. هغه یې سمدستی ونیو او قتل عام یې ګډ کړ. ډېر سرونه یې پرې کړل او رایې وړل. ډېر سپین رخت هم لاس ته ورغی. په بنو کې موهم یو کله منار جوړ کړ.

وروسته تردې چې سنگر ونيول شو. د کيوي مشر ښادي خان شنيلي په خوله کې نيولی ؤ. زما حضور ته راغی او اطاعت يې وکړ. ما ټول اسيران وبښل.

دکوهاټ له لاندې کولو نه وروسته فيصله شوې وه چې په بنگښو اوبنو يرغل وکړو او دنغر يافرمل له لارې کابل ته ولاړ شو. خو کله مو چې بنو لاندې کړ، نوهغو کسانو چې په ملک کې بلد وو؛ عرض وکړ چې دشت نژدې دی او ډېر خلک پکې پراته دي او لارې يې هم ډېرې ښې دی، نو فيصله وشوه چې په دشت يرغل وکړو او بيا دفرمل له لارې بېرته کابل ته ولاړ شو. بله ورځ روان شوو او دعيسی خېلو په يوه کلي کې چې دکرمې دسيند په غاړه پروت دی، کوز شوو. خو څنگه چې کليوالو اوريدلي وو چې موږ ور روان يو، نودچوپاره غرونو ته تللي وو. زموږ يرغلگر دچوپاره غرونو ته وروختل؛ دعيسی خېلو سنگر يې وران کړ او دميږو اوپسو له رمو او ټوکرانو سره بېرته راغلل. پدې شپه عيسی خيلو حمله را باندې وکړه. خو څنگه چې موږ دڅارنې ډېر ښه بندوبست کړی و، نو هيڅ يې ونه شو کړی.» (مخونه ۲۳۳-۲۳٤)

بابر دچوپاره دغرو له لمنو نه مخ په غرب خوځيږي او ماسپښين مهال يې ځينې سپاره ددشت شا وخوا ته رسيږي اويو شمير کلي لوټ کوي. بابر خپله پدې باره کې ليکي چې «هلته مودتم کېدو په وخت کې، لوټمارانو

عالم عالم پسونه او میږې او د غویو گلې راوستې. دغه راز یې له سوداگرو افغانانو نه چې په لاره کې ور سره مخامخ شوي وو، سپین رخت خوشبویه ریښې، بوره او تیپو چاق راوړل او د خرڅلاو د پاره روزل شوي اسونه یې ورنه راوستل. هندي مغول یو مشهور او محترم افغان سوداگر، خواجه خضر لوهاني، له اس نه را وغورځاوه. سریې ورنه پرې کړ او رایې وړ. یو وار کله چې شیریم تغای په نورو لوټمارانو پسې ور روان و، یو افغان په لاره کې ور سره مخامخ شو او د شهادت گوته یې ورنه پرې کړه.» (مخ ۲۳۵)

بابر د گومل له سیند نه تیرېږي مخ په جنوب روانېږي او پدې باره کې لیکي چې «یو یادوه میله وړاندې یو شمېر اجل نیولي افغانان د غرو په کوزو لمنو کې راښکاره شول. مور خپل اسونه پسې ورخوشې کړل. پسې ورغلو. اکثره یې وتښتېدل. خو ځینې احمقان یې په کمرونو کښیناستل. یو افغان پداسې یوه ځانته دېره کیناست چې هابلې خواته یې پاڼ و اوځکه یې نو د تېښتې لار نه لرله. سلیمان قلی چوناق چې زغرې یې په تن وې، پاڅېده، [پدې افغان] ور وغورځېدا و ویې نیو. دادسلیمان قلی داسې یو کار چې زما په مخ کې یې وکړ او ترفیع مې پرې ورکړه. دېبرو د یوې بلې خرې د پاسه قتلق قدم له یوه بل افغان سره وارونه وکړل؛ غېږ په غېږ شول او دواړه یې لس دولس یارډه کوز ولوېدل. په پای کې قتلق قدم د دغه افغان سر پرې وکړ او رایې وړ. کوپوک بیگ د یوه بل غره په لمن کې له یوه افغان سره لاس او گرېوان شو. دواړه یې

دغونډی بیخ ته وکوږېدل؛ په پای کې یې د افغانان سر پرې کړ او رایې وو ړ. وروسته ټول اسیر افغانان آزاد کړی شول. » (مخونه ۲۳۶-۲۳۷) ۰

بابر مخ په جنوب وړاندې ځی دوکی، ته رسېږی. له دوکی نه مخ په غزنی ځی، وروسته له یو څو مزله په یوه ځای کې تم کیږي؛ هلته بیا په شاوخوا پښتنو یرغلونه کوي او وایی چې « ما په جهانګیر میرزا امر وکړ چې دیوشمیر تکړه سپرو مشري په غاړه واخلی او د شاوخوا سیمو په اوغانانو (افغانانو) یرغل وکړی...... درې څلور مزله وړاندې، جهانګیر میرزا یوشمېر افغانان لوټ کړل او یو څو میږې او پسونه یې ورنه راوستل ». (مخ۲۳۹) بابر یو څو مزله نور هم وړاندې ځی او د غزنی ولاړو او بو ته رسیږي. دلته دی د ولاړو اوبو د پراختیا او ښکلا له شاعرانه توصیف نه وروسته وایی چې « له ولاړو اوبو نه دوه میله لرې مورږ یو ډېر ښکلی شی ولید . د آسمان او اوبو ترمنځ به د سپیده داغ سرخی، ته ورته یو شی یو ځل راښکاره او بیا ورک شو او دا د بتو خپلونه وو. کله به چې بتو خپل وزرونه په هواکې خوځول نو یو وار به یې سرې بنې راښکاره او بیا به الونیا شوې. دابتې په لسګونو او شل ګونو زرو څه چې دومره زیاتې وې چې له حساب نه وتلې وې.

داوبو غاړې ته نه یوازې همدا مرغان، بلکه نور هر راز مرغان هم راتله چې هګۍ واچوي. داوبو په غاړه کې بې شماره هګۍ وې. دوه تنه افغانان داوبو غاړې ته دهګیو د ټولولو د پاره راغلل. زموږ ځینې کسان

تقريباً نيمه کروه پسې ولاړل او بېرته يې راوستل. » هرڅومره چې [ زموږ سږي ] وړاندې ولاړل، او به همدا يوه اندازه يعنې داس ترخيتې وې. څرنګه چې ځمکه اواره وه، داو بو عمق دومره زيات نه و. (مخ ۲٤۰)

بابر له دې ځای نه دغزني ښار ته او له هغه ځای نه بيا دکال ۱۵۰۵ دمې په مياشت کې بېرته کابل ته ځی. دهمدې کال دجون په مياشت کې غواړی چې په قندهار يرغل وکړي. خو دخپلې ناروغۍ او هغې زلزلې له امله چې وايي په کابل او پغمان او شاو خواسيمو کې وشوه او ښايي چې ددې سيمې په تاريخ کې به يې ساری ډېر کم ليدل شوی وي، دکندهار له يرغل نه لاس اخلی او په « قلات غلزايي » حمله کوي. دکلات په کلا کې دجګړې او دخپلو ځينو نامتو مېړونو دوژل کېدلو له بيان نه وروسته ليکی چې « جګړه تر مازيګره روانه وه او پداسې حال کې چې زموږ جنګي مېړونه جګړې او کار له پښو وغورځول، دکلا دننه خلکو دسولې غوښتنه وکړه او تسليم شول. » (مخ ۲٤۸)

بابر پدې پسې دکلات جنوب ته دسواسنګ او الاتاغ په پښتنو يرغل کوي او بيا کابل ته ځی. دی خپله پدې باره کې داسې ليکی: « په کومه شپه چې په کابل کې کوز شوو زه کلاته ولاړم. څرنګه چې خيمه او غوجل په چهار باغ کې وو، يو خيريلچی [ افغان ] ور واو ښت او هم يې زما کهار اس له يراق سره بوته او هم زما کچر » (مخ ۲٤۹)

بابر دکال ۱۵۰۷ دمې په مياشت کې په غلځو باندې دحملې په نيت خوځېږي او دخپل دې مهم په باره کې ليکی چې « موږ له کابل نه پدې

نیت راسپاره شوی وو چې په غلجو یرغل وکړو. کله چې په سرده کې پیاده شوو، خبر راغی چې ډېر زیات مومند (افغانان) له موږ نه پنځه میله په مشت او سکانه کې، پراته دي. زموږ بیګانو او سر تېرو غوښتل چې په مومندو یرغل وشي. مګر ما وویل آیا دا به صحیح وي چې موږ خپل اصلي هدف پرېږدو او په خپلو بزګرو یرغل وکړو؟ یه داکار نه شي کېدی.» (مخ ۳۲۳)

بابر د حملې پرځای د تګ فیصله کوي او لیکي چې له سرده نه په تیاره کې روان شوو. د کتیواز دښته مو په تیاره کې ووهله... لمر راختلی و چې د دې تېتیو غونډیو او وادي له منځ نه هغې دښتې ته وروتو چې غلجي له موږ نه یو ییغاچ [پنځه شپږ میله] لرې پکې پراته وو. څنګه چې دښتې ته ور ننوتو د [غلجو] تور والی راتر سترګو شوو. دا یا د دوی د [کېږدیو] تور والی او یا یې داورونو دود و...... کله چې تقریباً یو شرعي (دوه میله) پداسې حال کې وړاندې ولاړو چې د افغانانو تور والی راتر سترګو کېده، د یرغل اجازه ورکړل شوه. بې شماره مېږې او پسونه مو لوټ کړل. دومره زیات چې په بل هیڅ یرغل کې لاس ته نه وو راغلي. کله چې له لوټ نه وروسته بیا روان شوو، د افغانانو ډلې یوه په بله پسې دښتې ته راکوزې شوې او جګړه یې راوپاروله. ځیني بیګان او نور مېړونه پسې ورغلل او د افغانانو یوه ډله یې بېخي تباه کړه. ناصر میرزا هم عین کار وکړ او د افغانانو له ککرونه څلی جوړ شو. (مخ ۳۲٤) بابر د هغې ولجې په ارتباط چې له غلځو نه یې وکړه لیکي چې له هغوی نه یې «یو لک مېږې

اوپسونه بوتلل. » (مخ ۳۲۵).

بابر دکال ۱۵۰۷ په سپتمبر کې یو ځل بیا له کابل نه دهند په نیت خوځېږي اودسفر په ابتدا کې له مختلفو پښتنې قبایلو سره خپل تصادمات بیانوي. دی لیکي چې «له کابل نه دخورد کابل په لاره خوځېدو او په سرخ رباط باندې ښکته قوروق سای ته ولاړو. دکابل اولمغان (ننګهار) ترمنځ افغانان حتی په کراري او آرامي کې هم غله اوهم دغلو ملګري دي. دوی داسې پېښه له خدایه غوښته او ویل یې چې «هغه [بابر] له کابل نه ووت» او خپله بد عملي یې لس برابره کړله. تردې حده چې په کوم سهار چې موږ له جګدلک نه روان شوو، ددې ځای او لمغان ترمنځ پرتو افغانانو، لکه خضر خېلو، شیمو خېلو، خیریلچو او خوګیانو، غوښتل چې کوتل بند کړي. دهرو یې چې دشمال خواته غرو ته ختلي وو ډولونه وډنګول اواېستلې توري زموږ په لور را وخوځېدل... [خو] په پای کې وتښتېدل.

کله چې زه په افغانانو پسې غره ته ور ختلی وم، دهغوی یو تن مې چې له مانه کوز په منډه روان و په لاس وویشت. داپه غشي لګېدلی سړی او څو تنه نور راوستل شول او ځینې یې دنورو دعبرت دپاره ووژل شول. » (مخ ۳٤۱)

بابر داځل ترکونړه پورې ځی. خودهندوستان له تګ نه بیاهم لاس اخلي او بېرته کابل ته ځی. کله چې په کابل کې دځینو حالاتو په باره کې غږیږي د «ده افغانان» نوم هم یادوي او وایي چې «عبدالرزاق میرزا له

ننگهار ته راغی او په ده افغانانو کې ډېره شو. » (مخ ۱۴۵)

بابر د کال ۱۵۰۹ په پسرلي کې د مقر په مومندو يرغل کوي او له هغه نه وروسته بيا د کال ۱۵۱۹ تر ابتدا پورې چې لس کاله کېږي، د بابر د ژوند حالات په بابر نامه کې نه دي ثبت شوي. خو د کال ۱۵۱۹ د جنوري د مياشتې له درېيم نه د بابر د ژوندانه حالات بيا په بابر نامه کې راغلي دي او دا هغه وخت دی چې بابر د باجوړ په سيمه کې په چنداول (جندول) کې ډېره دی او غواړي چې د باجوړ په کلا يرغل وکړي. دی د دې مهم په ارتباط ليکي چې « سپېده داغ له کمپ نه د باجوړ په کلا باندې د يرغل په نيت وروخوځېدو. کلا ته نژدې پياده شوو او د دلزاکو افغانانو يو باوري سړی مو کلا ته ور ولېږه چې سلطان او خلکو ته يې ووايي چې اطاعت وکړي او تسليم شي. » (مخ ۳۶۷-۳۶۸)

بابر وايي چې د باجوړ خلکو يې توصيه ونه منله او ځکه يې نو حمله پرې وکړه؛ د باجوړ کلا يې ونيوله او اوسېدونکي يې قتل عام کړل. بابر خپله پدې باره کې داسې وايي « څرنګه چې باجوړيان ياغيان او د اسلام له ملت سره دښمنان وو او څرنګه چې د کفارو او معاندينو عادت ښخې پکې عام و نو د اسلام نوم يې له قبيلې نه ښخې ورک شوی و او [ځکه] نو قتل عام شول او ښځې او ماشومان يې اسير شول. تخمين درې زره نارينه يې ووژل شول خو څرنګه چې جګړه د کلا تر شرقي خوا پورې ونه رسېده نو يو څو تنه يې خلاص شول. کلا چې ونيول شوه مو ور ننوتو او ومو کتله. د دېوالونو د پاسه، کورونو کې، په لارو کې او په کوڅو کې،

هر چېرته بې حسابه مړي پراته وو. څوک چې تله راتله په مړو به ختل او ور باندې تېرېدل به. » (مخ ۳۷۰)

بابر دلته د شاه منصور یوسفزي یادونه هم کوي او وایي چې هغه « د دې قتل عام په وخت کې د خپل قوم د استازي په توګه له مونږ سره و او دا فتحه او قتل عام یې د سر په سترګو ولیدل. وروسته له دې چې خلعت مو ورکړ او وروسته له دې چې یوسفزو ته مو د تهدید فرمانونه ولیکل، رخصت مو کړ. » (مخ ۳۷۱)

بابر بیا لیکي چې « د محرم د میاشتې په نولسم، په یوسفزیو افغانانو باندې د یرغل په نیت سواد ته روان شوو او د پنجکوړې او چنداول او باجوړ د ګډ سیند ترمنځ د ېره شوو. دلته شاه منصور یوسفزایي د (کمالي) معجونو یو څو مزه دار کنډکي، چې کلکه نشه یې لرله، راوړي وو. یو کنډکی مې درې ټوټې کړ. یوه ټوټه یې ما وخوړه. یوه ټوټه مې ګدای تغای ته او یوه ټوټه مې عبدالله کتابدار ته ورکړه. ډېر سخت یې نشه کړم. داسې چې د ماښام د لمانځه په وخت کې بېګان د جرګې د پاره راغلل. ماونه شو کړی چې ور ووزم. عجب شی و.

د محرم په شلم کهراج ته مخامخ د کهراج او پشګرام د ناوو په خوله کې ګوز شوو. مونږ هم دلته وو چې تر ښنګري پورې واوره وشوه. دلته د واورې اورېدل نادره پېښه وه او خلک ورته حیران وو. د کهراج په خلکو باندې د سواد د سلطان ویس په موافقه ز.ا د پوځ د مصرف د پاره د خره په بار څلور زره باره وریژې حو" ه شوې او خپله هغه [ سلطان ویس]

واستول شو چې راټولې یې کړي. دې سپین سترګو غرنیو خلکو پخواله دې هېڅکله هم داسې بارنه و منلی. [څرنګه] چې دوی ټولې وریژې برابرې نه شوې کړی. نو تباه کړی شول.

د سه شنبې په ورځ د محرم په دروېشتم، د هندو بیګ په مشری یو لښکر ولېږل شو چې په پنج کوړه یرغل وکړي... خو خلک یې تښتېدلي وو. زمونږ مېړونو یوشمېر څاروي راوستل او له کورونو نه یې خرې خرې غلې د پوځ د مصرف د پاره راوړې. (مخونه ۳۷۳-۳۷٤)

بابر لږ وروسته له یوسفزو سره د خپلې خیښې د بندوبست په باره کې غږېږی او وایی: «د دې د پاره چې د یوسفزیو ولس خپل کړم، نو د ملک شاه منصور لور مې هغه وخت ترې وغوښته چې د یوسفزیو افغانانو داستازي په حیث زما حضور ته راغلی و. ملک شاه منصور د ملک سلیمانشاه زوی او زما خیرخواه و. مونږ لا په همدې ځای کې وو چې خبر راغی چې یوسفزیو د شاه منصور لور له سوغاتونو سره یو ځای راروانه کړې ده. ماښام مو د شرابو محفل جوړ کړی و. د (سواد) سلطان علاءالدین هم رابلل شوی و او ډېر عزت او خاص خلعت ورکړل شو. د یکشنبې په ورځ له وادي نه وخوځېدو د شاه منصور کشر ورور، طاؤس ـ خان، د شاه منصور د مخه یاده شوې لور راوسته» (مخ ۳۷۵)

[د سفر] د میاشتې په اوم ببګان او د دلزاکو افغانانو د سرخلک احضار شول او وروسته له سلا مشورې نه فیصله وشوه چې کال په خلاصېدو دی او د کب د کال یوازې یو څو ورځې پاتې دي. د سیمې خلکو غلې ټولې ننه

ایستلې دي. که اوس سواد ته ولاړ شو پوځ ته به موغله دانه، نه وي ناتوانه به شي. باید داسې وکړو چې دامبهار او پانی مانی سر ک واخلو؛ دا شنغر نه بر دسواد له سیند نه تېر شو اوپه هغو یوسفزیو او محمدي افغانانو ور وغورځېږو چې د یوسفزیو دمهورې سنگر ته مقابل سمه کې پراته دي. خو کوم بل کال چې دلته راشو نو، ددې ځای پر افغانانو به تر تېرلو نه وړاندې فکر وکړو » (۳۷٦) بابر خبرې ته دوام ورکوي او وايي بله ورځ چې چهارشنبې وه دسواد سلطان ویس او سلطان علاء الدین ته مو چپنې او اسونه ورو ښنل او رخصت مو کړل. موږ خپله روان شوو او باجوړ ته ولاړو. سبا سهار روان شوو او دشاه منصور لور مو د پوځ تر بېرته راتگه پورې دباجوړ په کلاکې پرېښودو... له امبهار او یوه بل لوړ کوتل نه واوښتو او تقریباً ماسپښین په پاتی مالي کې [ داکلمه وړاندې پانی مانی لیکل شوې ده – پښتو مترجم] ښکته شوو. افغان بردی له یو څو تنو نورو سره وړاندې واستول شوو چې حالات معلوم کړي. څرنگه چې زموږ او دافغانانو ترمنځ فاصله لنډه وه، نوله دې امله وختـه ونه خوځېدو. افغان بردی دسبا ناري په وخت کې بېرته راغی. دی یوه افغان ته په غوسه شوی و اوسر یې ورنه غوڅ کړی و. خو په لاره کې یې غورځولی و. ده داسې معلومات رانه وړل چې دسرې زړه یې غواړي. غرمه شوه. روان شوو. دسواد له سیند نه تېر شوو او دماسپښین لمانځه ته نژدې کوز شوو. دماسختن دلمانځه په وخت کې بیا سپاره شوو او په چټکی روان شوو.

رستم ترکمن مو لیږلی و چې حالات معلوم کړي. لړ یوه نېزه لوړ و چې هغه خبر را وړ چې افغانان زموږ په راتګ خبر شوي وو اوخپل ځایونه یې بدلول. یوه ډله یې په یوه لاره چې په غره کې تللې وه، روان وو. موږ پسې ور چټک شوو. یوشمېر یرغلګر موپسې ور ولېږل. دهغوی یو څو تنه یې ووژل او سرونه یې ورنه پرې کړل. یوشمېر اسیران او یو څه څاروي یې هم ور سره راوستل. دلزاکو افغانانو هم دیو څو تنو [ افغانانو ] سرونه پرې کړل او رایې وړل. سبا ته وخوځېدو او دکتلنګ او مقام تر منځ پیاده شوو. » (مخونه ۳۷۶-۲۷۷).

بابر دلته دیوه زیارت دورانولو په ښه بیانوي اولیکي چې « په تېرو دېرشو یا څلوېښتو کلونو کې یوه ګمراه قلندر چې شهباز نومېده یوشمېر یوسفزایي اودلزاک له لارې ایستلي وو. دده زیارت دمقام دغره دیوې غونډۍ په سر چې په شاوخوا ځمکو ور سپره وه، واقع و. مافکر وکړ چې داګمراه قلندر څوک دی چې زیارت یې پداسې آزاده فضا کې واقع دی. امر مې وکړ چې دا زیارت ړنګ او لوټه لوټه شي. دا ځای دومره ښکلی و چې موږ یو څه وخت هلته کښیناستو او معجون مو وخوړل. » (مخ ۳۷۷)

بابر پدې پسې یوځل بیا هندوستان ته ور اوړي، خو هلته له یوې میاشتې نه زیات نه پاتې کېږي او دکال ۱۵۱۹ دمارچ په دیارلسم بېرته کابل ته خوځېږي. کله چې دمارچ په شپږویشتم بګرام (پېښور) ته رسیږي، هلته ددلزاکو پښتنو له مشرانو سره بیا لیدنه کتنه کوي. دی پدې باره

کې لیکي چې « پدې ځای کې د دلزاکو د شپېږ تنو مشرانو هر یوه ته سل سل مثقاله سپین زر، جامې، درې غویي او یوه گامېښه چې په هندوستان کې لاس ته راغلې وه، ورکړل شول. د دې خلکو ملکان بو-خان او موسی وو. نورو ته مو د هر یوه له شان سره سم پیسې، توکران یو یو غویی او یوه یوه گامېښه ورکړل. کله چې سبا ته په علي مسجد کې پیاده شوو، یو یعقوب خېل دلزاک افغان چې معروف نومېده لس پسونه او مېږې، دوه باره وریژې او اته لوېې د خاید ک چکې د سوغات په توگه راکړې. » (مخ ص ۳۹۴)

بابر د اپریل په سر کې بېرته کابل ته رسیږي او هلته د مې د میاشتې په وروستیو وختو کې، د یوسفزو له مشرانو سره د لیدنو کتنو یادونه کوي او لیکي چې « د دوشنبې په ورځ د میاشتې په درویشتم ملک شاه منصور یوسفزایی له شپږ اوو تنو نورو یوسفزایو مشرانو سره له سواد نه زما خدمت ته راغلل. د دوشنبې په ورځ د جمادی الثانی په اول د یوسفزایو ملکانو ته چې د شاه منصور په مشري راغلي وو. خلعتونه ورکړل شول. ملک شاه منصور ته یوه اوږده د وریښمو چپن او یوه جیبه د هغې له تنیو سره ورکړل شوه. یوه بل ملک ته یوه چپن چې لستوني یې د وریښمو وو ورکړل شوه او شپږو نورو ته وریښمینی چپنې ورکړل شوې. ټول مو رخصت کړل. د دې موافقې ته سره ورسېدو چې دوی به په سواد کې له ابوهانه پورته مداخله نه کوي او د هغه ځای ټول بزگر به له خپل منځ نه باسي او همدغه راز به د باجوړ او سواد افغان بزگر د خره په بار شپږ زره

باره وريږي [بابر] ته دماليې په توګه ورکوي. » (مخونه ۳۹۹-۴۰۰)
دجولاي په اوه ويشتم، بابر دګرديز دسيمې په پښتنو له دې امله ديرغل نيت کوي چې وايي« دګرديز دسرحد عبدالرحمن افغانانو، نه باج دقناعت وړ و اونه يې سلوک، او کاروانونو ته يې هم تاوان رساوه. درجب په نهه ويشتم دچهارشنبې په ورځ، پدې نيت ور وخوځېدو چې يرغل پرې وکړو...... يرغل پيل شو يوه ډله [جنګي مېړونه] دګرديز جنوب شرق ته، دکرماش دغرونو په لور ولاړل. دمرکز چپې خواته لاربشودنه خسرو ميرزا ته ور په غاړه وه. شاته يې سيد علي روان و. اکثره پوځ دګرديز شرق ته يوې درې ته ور پورته شو. شاته يې دسيد قاسم دريان، ميرشاه قوچين، قيام (اردوشاه بېګ؟) هندوبيګ، قتلق قدم او حسين مېړونه ور روان شول. څرنګه چې اکثره پوځ درې ته ور پورته شوي و، زه هم په يو څه فاصله پسې ور وخوځېدم. ددرې خلک به هرو مرو ډېر پورته وو او کوم [جنګي مېړونه] چې ور روان شوي وو، اسونه يې له پښو ولوېدل خو هيڅ لاس ته ور نه غلل. يو شمېر، څلوېښت پنځوس تنه، افغانان پياده په اواره کې را ښکاره شول. کوم عسکر چې دپوځ شاته روان وو، پسې ورغلل. يو قاصد ماته راولېږل شو او زه سمدستي په بېړه ور روان شوم. حسن حسين يکې يوازې په حماقت او بې فکرۍ خپل اس ور خوشې کړ. منځ ته يې ور ننووت او توره يې پرې را واېسته. هغوی يې اس وويشته اودی يې را وغورځاوه. کله چې پورته کېده [يوه افغان] ګوزار پرې وکړ او را ويې پرزاوه. په چړو يې غار غار

او ټوټه ټوټه کړ. نور [ جنګي مېړونه ] کرار ورته ولاړ وو او هيڅ مرسته يې ور سره ونه کړه. ماچه دا خبر واورېد نور هم چټک شوم او ځينې د کور سړي او سر تېري مې د ګدای تغای، پاينده محمد قپلان، ابو الحسن وسله ساتونکي او مومن اتاکه په مشری پسې ور خوشې کړل. مقيم اتاکه لومړی شخص و چې يو افغان را وپرزاوه. سريې ورنه پرې کړ او رايې ووړ. ابو الحسن... دافغانانو په مخکې ودرېد. اس يې پسې ور خوشې کړ. په يوه يې ګوزار وکړ. راچپه يې کړ. سريې ورنه غوڅ کړ او رايې ووړ... داځلويښت پنځوس تنه افغانان ټول په تورو يا غشو راچپه او ټوټې ټوټې شول.

وروسته له دې چې ټول يې فيصله شول، موږ په شنه فصل کې کوز شوو او امر وشو چې [ دافغانانو ] له سرونو نه دې ځلي جوړ شي... کوم عسکر چې کرماش ته ولاړل، مېږې او پسونه او غنايم يې ور سره راوړل. يو له دغو عسکرو نه بابا قاشقه مغول ؤ. يوه افغان توره ور پسې را وايسته. دی کرار په ځای ودرېد غشی يې ورته برابر کړ. ګوزار يې پرې وکړ او راچپه يې کړ. » (مخونه ۴۰۳-۴۰۴)

بابر د همدې کال د سپتمبر په اتم د يوسفزو د لاندې کولو په نيت خوځيږي کله چې سلطان پورنه وړاندې اوړی، يو ځل بيا د دلزاکو له مشرانو سره ليدنه کتنه کوي. بابر خپله وايي چې « سلطان پورنه وړاندې کوز شوو. په همدې ورځ د دلزاکو مشران چې ملکان يې بوخان او موسی وو، راغلل. زما نقشه داوه چې د سواد يوسفزايي وټکوم. خودې مشرانو راته

وویل چې په اشنغر کې ډېر لوی ولس ژوند کوي او ډېرې زیاتې غلې لري. دوی ډېر ټینګار وکړ چې اشنغر ته ولاړ شو. له مشورې نه وروسته فیصله وشوه چې څرنګه چې ویل کیږي چې په اشنغر کې ډېرې غلې دي، نو دهغه ځای په افغانانو باید یرغل وشي. داشنغر او پرشاور دکلاوو خلک باید سم کړی شي او دغلو او دانو یوه برخه باید په [دغو کلاوو کې] وساتل شي.» (مخونه ۴۰۹-۴۱۰)

«سبا سهار دخیبر دکوتل په بېخ کې کوز شوو..... [بل سبا] دخیبر له درې نه تېر او په علی مسجد کې کوز شوو...... [بله ورځ] موچې څرو خبر راکړ چې افغانان له موږ نه خبر شوي او په تېښته کې دي. وړاندې ولاړو دسواد له سیند نه تېر او دافغانانو په فصلونو کې کوز شوو. [خو په کومه اندازه غله چې موږ ته ویل شوې وه] دهغې نیمایي څه چې څلورمه برخه هم هلته نه وه... هغه دلزاک افغانان چې موږ یې [دې یرغل ته] ور ویللو وشرمېدل...... سبا ته دسواد، دسیند له غاړې وخوځېدو. دکابل له سیند نه تېر او کوز شوو [هلته مو]... فیصله وکړه چې باید په هغو افریدو افغانانو چې سلطان بایزید یې یادونه وکړه، یرغل وشي. دپرشاور کلا باید ددوی دمالونو او غلو ډکه شي او یو څوک یې دساتلو دپاره وګومارل شي.» (مخونه ۴۱۱-۴۱۲)

بابر داکتوبر په دوهم له خیبر نه اوړي او کابل ته دبېرته تګ په لاره کې په خضر خېلو پښتنو یرغل کوي او خپله ددې یرغل دلیل داسې بیانوي چې «خضر خېلو ډېر بد کارونه کړي وو. کله به چې لښکر تلو راتلو،

[خظر خېلو به دلښکر] په وروسته پاتې او هغو عسکرو گوزارونه کول چې ځانته به کوز شوي وو او اسونه به يې ورنه اخيستل. ځکه نو دا يو روا، او په ځای کار ښکارېده چې [خضر خېلو ته] سزا ور کړل شي. په همدې نيت، سپېده داغ [د خيبر] د کوتل له ښخ نه روان شوو. د غرمې ډوډی موپه د ده غلامان (باسول) کې وخوړه. وروسته له دې چې اسونه مو ماړه کړل، د ماسپښين د لمانځه په وخت کې بيا وخوځېدو. موحسين وسله وال کابل ته واستول شو چې هلته ټول خضر خيل بندي کړي او د دارايی حساب يې ماته را کړي. موږ تر نيمې شپې مزل وکړ. دامعلومه وه چې خضر خېل له بهار (ويهاره) او مچگرام نه تر کړاسو پورې پراته دي [داکتوبر په ځلورم] چې سپېده داغ نه پخوا ورسېدو، يرغل پيل شو. د خضر خېلو اکثره مالونه او کوچنيان د ښکر لاس ته ورغلل. سباته مو په قيلاغو کې واړول... وزيرو افغانانو چې هيڅکله يې سم باج نه و ورکړي او [په وزيرو باندې] حملې وېرولي وو، درې سوه پسونه او مېږې راته راوستل.
سبانه بېل سبا د شموخېلو او خيرلچي افغانانو مشران راغلل. د لزاکو افغانانو هغوی ته ښېنه وغوښته او موږ هم وښښل. اسيران موبې خوشې کړل. ځلور زره پسونه او مېږې موباج پرې کښېنود. مشرانو ته مو يې چپنې ورکړې. محصلان مو وټاکل او ومو لېږل چې مېږې او پسونه راټول کړي.» (مخ ٤١٣).

## دپښتنو په باره کې دبابر متفرقې یادونې:

بابر د پښتنو په باره کې یو لړ متفرقې یادونې هم کړیدي. موږ دا یادونې دلته په جلا ډول ثبتوو. کله چې بابر د کابل دېېلو بېلو طایفو په باره کې غږیږي وایی «بهر په اطرافو...... او کلیو کې یې پشه یی، پراچی، تاجک، او افغانی قبایل اوسیږي...... جنوب ته دافغانی قبایلو ځایونه دي... په کابل کې یوولس دولس ژبې ویل کېږي: عربی، فارسی، ترکی، مغولی، هندی، افغانی، پشه یی، پراچی، برکی اولمغانی...... [ دلغمان په تومانونو کې ] ترټولو نه لوی ننګنهار دی چې کله کله په تاریخونو کې نګه رهار لیکل شوی دی. ددا روغه ځای یې په ادینه پور کې دی چې د کابل شرق ته په یوه ډېر بد او خراب سرک پروت دی. ترکوم وخته یې چې [ ددې سرک ] په خوا کې ابادي نه وه خیریلچی... او نورو افغانانو به شکاوه. » (مخونه ۲۰۷-۲۰۸)

کله چې بابر د غزنی په باره کې غږیږی لیکی چې « د غزنی په سیمه کې هزاره او افغانان ژوند کوي... خلک یې حنفی مذهبه او چندی مسلمان دي. ډېر یې درې میاشتې روزه نیسی. » (مخ ۲۱۸) بیا لیکی: « په کوم کال مې چې کابل او غزنی ونیول، په کوهاټ، بنو او دافغانانو په ځمکو مې یرغل وکړ او د دوکی او آب ایستاده له لارې غزنی ته ولاړم » (مخ ۲۱۸)

یو بل ځای دبرمل په باره کې لیکی چې « برمل یو بل تومان او نسبتاً خوار ځای دی. خومنې یې چې هندوستان ته لیږل کېږي، بدې نه دي. دشیخ

محمد سلمان اولاده شیخ زاده گان چې په هندوستان کې یې دافغانانو په دور کې ډېر قدر لاره، دهمدې ځای وو ». (مخ ۲۲۰) بیا وایي چې «بنګښ یوبل تومان دی. شاوخوایې ټول افغانان داړه ماران، لکه خوګیاڼي، خیریلچي، توري او لنډړ [غالباً انډړ] پراته دي. څرنګه چې [داتومان] له لارې نه چپ پروت دی، خلک یې مالیه نه ورکوي. خودې فرصت لانه دی پیدا شوی چې تابع یې کړم...... انشاء الله، کله چې موقع پیدا کړم هرو مرو به ددغو بنګښنو غلو چاره وکړم. » (مخ ۲۲۰)

یوبل ځای کله چې دکابل دقبایلو په باره کې غږیږي لیکي چې « دغسې چې دخراسان په سیمه کې دترکانو او مغولو اقوام (ایماق) ژوند کوي همداسې په کابل کې هزاره او افغانان ژوند کوي. » (مخ ۲۲۱)

کله چې دکال ۱۵۰۶ دحالاتو په باره کې غږیږي، په الیشنګ او الینګار کې دخپلو دوو حاکمانو دسلوک دیادونې په لړ کې وایي هغوی ټول ژمی د [ناصرمیرزا] دشرابو او ساعت تېرۍ ملګري وو. دغه راز دوی ددې ځای په ترکلاڼو افغانانو هم یرغل وکړ. دتودوخې له رارسېدلو سره میرزا دهغو بهرنیو قبایلو اوډلو په کورنیو حمله وکړه چې ژمی یې په ننګنهار او لغاناتو کې تېراوه او هغوی یې لکه مېږو غونډې له خپلو کلو سره مخې ته واچولې اودباران تر سینده یې ورسول. » (۲٤۱) (داترکلاڼې په کال ۹۲٦ هجری کې په مندراوړ کې پراته وو مخ ۲٤۲، حاشیه ۱)

کله چې بابر د کال ۱۵۰٦ د پښتنو د بیان په لړ کې د خپل یوه افسر، باقي چغانیان، دوژل کېدو په نسبت دهغه د حالاتو په باره کې غږیږي لیکي چې «یوځو تنو ساتونکو یې له خیبر نه تېر کړ او بېر ته راغلل. هغه د ګګیانو له یوه کاروان سره ملګري شو او نیلاب ته ور تېر شو...... دریا خان دیار حسین زوی چې پدې وخت کې [ حسن ابدال ته نږدې ] کچه کوټ کې و، زما دهغه فرمان په اساس چې په کوهاټ کې مې ورکړی و، یوشمېر دلزاک او یوسفزایي افغانان... راټول کړي وو: » (مخ ۲۵۰)

بیا کله چې د کال ۱۵۱۹ په فبروري کې له اباسیند نه پورې وزي او بهیرې ته چې اوس د پنجاب د شاه پور په ایالت کې واقع ده، رسیږي وایي چې ددغه ځای «دافغانانو یوشمېر مشران مې له خپل یوه سردار، لنګرخان سره یوځای د بهیرې خلکو ته ورولېږل چې دلاسایې کړي. » (۳۸۱)

یو بل ځای بیا د بهیرې د حالاتو په ارتباط لیکي چې «مور لانه وو روان شوي چې یوشمېر هندوستانیان او افغانان سره ټول شول... او د هندوبیګ په خلاف یې اقدام وکړ... هندوبیګ مقاومت ونه سو کړی... کابل ته راغی. » (۳۹۹)

# اتم فصل

# افغانستان

## جبال الافغانیه، کشور افغان، روه، پښتونخوا

یوشمېر مؤلفینو او د تاریخي مطالعاتو شاگردانو داسې انګېرلې ده چې گوندې دافغانستان نوم داتلسمې پېړۍ له نیمايي نه رادې خواته رواج شوی دی. خو دزړو اسلامي آثارو له مطالعې نه داسې ښکاري چې «افغانستان» دافغانانو دملک په معنی له څورلسمې میلادي پېړۍ نه پخوا هم معمول دی.

انګریز مستشرق هنري والتر بیلو په خپل هغه اثر کې چې دافغانستان دقوم پېژندنې مطالعه نومېږي او په کال ۱۸۹۱ کې یې پای ته رسولی دی، دهغې پراخې سیمې دحدودو له ښوودلو نه وروسته چې دده دوخت افغانستان جوړوي، لیکي:

« دافغانستان نوم... په نوی عصر کې ایرانیانو را اېستلی دی... که څه هم چې افغانان په تاریخ کې ان داتمې [میلادی] پېړۍ له سرنه رادې خواته د یوه ځانته ولس په حیث پېژندل شوي دي، خو هېواد يې داتلسمې میلادی پېړۍ ترنیمايې یعنې هغه وخته پورې پدې نامه نه و یاد شوی چې دخپل یوه پښتانه پاچا په مشرۍ خپلواک هېواد شو. نادرشاه افشار چې داسیمه يې دفارس په قلمرو کې داخله کړه، لومړنی شخص و چې [ددې ساحې] شمالی برخه يې دهغې داوسېدونکو داکثریت له امله افغانستان وبلله او جنوبی برخه يې په همدې دلیل دبلوچستان په نامه یاده کړه » (۱)

لکه څنگه چې ډاکتر حسن کاکړ پخپله یوه رساله کې لیکی، دافغانستان معروف لیکوال احمد علی کهزاد هم یو ځای وايی چې افغانستان یو تازه اوبېخی نوی نوم دی او گذشته يې له ۱۵۰ کاله نه وړاندې نه ځی. (۲)

یو ایرانی لیکوال، محمود افشار یزدي، بیا بېخی بلاکوي او وایی چې د افغانانو هېواد دنولسمې پېړۍ په وروستیو وختو کې دافغانستان په نامه یاد شوی دی. دی لیکی:

« کوم هېواد چې دافغانستان په نامه یادیږی اودایران دشرقی سیمې په یوه برخه اودخراسان په ولایت کې جوړ شوی دی، په تاریخ کې سابقه نه لري..... اوڅرنگه چې یوشمېر افغانی امراوو دنولسمې پېړۍ په وروستیو وختو کې پدې سیمه باندې تسلط پیدا کړی او یوڅه موده يې حکمرانی پرې کړې ده، نوله دې امله دا ځای دافغانانو دولت او وروسته

افغانستان بلل شوی دی. » (۳)

ظفر کاکاخیل هم وایی چې دچنگیز خان له وخت نه نیولې بیا دبابر تر وخته څه چې تردې نه څه وروسته زمانه کې هم « دافغانستان څه بېل تاریخ نشته او نه په هغه زمانه کې دا وطن پدې نامه مشهور و. » (٤)

اما معتبر اسلامي آثار ښيي چې د « افغانستان » نوم دافغانانو دملک په مفهوم له اتلسمې پېړۍ نه ډېر پخوا معمول و او کومه ساحه چې شمال ته دامو ترسينده، جنوب ته دعربو دبحيرې دغاړې ترحدودو پورې، غرب ته ترکرمان او شرق ته ترحسن ابداله پورې رسيږي، کله دهغې يوه يابله او کله يې تقريباً ټوله برخه د « افغانستان » په نامه ياده شوې ده.

خو بايد وويل شي چې افغانانو ته منسوبه سيمه تل او يوازې دافغانستان په نامه نه ده ياده شوې، بلکه داسلامي دورې په اوږدو کې دا ساحه په نورو نومونو هم ياده شوې ده، لکه « جبال الافغانيه » يا « جبال الافاغنه »، « کشور افغان »، « حد افغانيان »، « مرز افغان »، « افغان »، « رود » او « پښتونخوا ».

دلته به موږ اول پداوروستيو نومونو وغږېږو او بيا به د « افغانستان » دکلمې په سابقه او مفهوم بحث وکړو.

ترکومه حده چې ماته معلومه ده ابوريحان بيروني داسلامي دورې لومړنی مؤلف دی چې د « جبال الافغانيه » ذکر کوي. دی لومړی په خپل معروف اثر، دهند تاريخ، کې چې ليکنه يې په کال ٤۲۱ کې پای ته رسېدلې ده، دلرغوني هند دغربي سرحد په غرني سيمه کې افغانان

میشته ګني اولیکي چې ددوی مختلف قبایل دسند تر ګاونډه خپاره دي. (٥)

همدی وروسته بیا په یوه بل اثر «صیدنه» کې چې د ۱۰۵۰ میلادی په شاوخوا کې یې لیکلی ذی داسیمه دوه واري دجبال الافغانیه په نامه یادوي.

یوځای داسطوخوذوس د توضیح په ضمن کې لیکی چې «بهترین ډول یې هغه دی چې شنې پاڼې لری... دانوع ددهک (٦) خواته، دهند دخاورې دپرشاور [پېښور] اودجبال الافغانیه ترمنځ شنه کېږي. » (٧) په همدې اثر کې یو بل ځای دزیتون دمعرفی په ترځ کې لیکی: «وحشی زیتون چه جبال الافغانیه کې [ انګرېزی مترجم دجبال الافغانی معناً دافغانستان غرونه لیکلې ده. ] شین کېږي، وړې داني لري. » (٨) شیخ ربوه ( وفات ۷۲۷ هجری ) ښایسته وروسته هم دغه سیمه جبال الافاغنه بولی اولیکی چې «در یم اقلیم دچین له شمال ختیځه...... اوله جبال - الافاغنه (٩) او ملتان نه تر سنده پورې امتداد لری. »(۱۰) دغزنویانو دعصر ستر قصیده لیکونکی، مسعود سعد سلمان، (٤٤٨-٥١٥ هجری) بیا دافغانانو ملک دکشور افغان په نامه یاد کړی دی. دی دغزنویانو دعصر دیوه ستر سالار، علی خاص، په ستاینه کې وایی:

شکسته گشت به تیغ تو لشکر کفار
خراب شد به سپاه تو کشور افغان (۱۱)

اما دشهنامې دملحقاتو ورک نومی شاعر چې دژوند وخت یې شپږمه

هجري پېړۍ تاکل شوې ده، هلته چې له يوه افغان مشر، کک، سره درستم جګړه بيانوي، دافغانانو ملک دمرز افغان په نامه يادوي اودرستم له خولې ليکي:

همه مرز افغان به هم بر زنم

بدين دژ زکين آتش اندر زنم (۱۲)

محمد بن محمود بن احمد طوسي، چې عجايب المخلوقات يې په همدې پېړۍ کې يعنې له ۵۵۵ نه تر ۵٦۲ هجري پورې ليکلى دى، دافغانانو ملک دحد افغانيان په نامه يادوي او ليکي چې «دافغانانو په حد کې دزغويو ځنګل دى چې په هغه کې داسې يوه ونه ده چې پڼدوالى يې اووه لس ارشه دى...... دا دبرهمن ونه بلل کېږي او افغانان سجده ورته کوي.» (۱۳)

داسې ښکاري چې په پخوانو آثارو کې کله کله دافغانانو ملک يوازې داوغان په نامه هم ياد شوى دى.

ازرقي هروي دپنځمې هجري پېړۍ داولې نيمايي شاعر او دسلجوقيانو دکورنۍ مداح په هغې قصيده کې چې دآلب ارسلان محمد سلجوقي دزوى، طغانشاه، (مرگ ٤٦۵ هجري) په ستاينه کې يې ليکلې ده وايي:

زهي گرسوي افغان شوي اي باد شمال

بازگويي زهري پېش ملک صورت حال (۱٤)

دپورته يادونو په نتيجه کې سړى په پوره اطمينان ويلى شي چې

دافغانانو ملک له سوونو کلونو نه رادې خواته دجبال الافغانیه، کشورافغان، مرزافغان، حدافغانیان او افغان په نامه یاد شوی دی.

خوباید تأکید وشی چې دا کلمات ټول په لغوی معنا استعمال شوي دي، نه داچې په سیاسی معنا یاپه بل عبارت دانومونه فقط دافغانانو دمېنی معنا لري اوپداسې کومه ساحه نه دي اطلاق شوي چې هغه دې سیاسی حدودو محدوده کړي وي. خو داسیمه په همدا لغوی مفهوم هم هغه ځمکه ده چې داوسېدونکو اکثریت یې پښتانه یاافغانان دي، مګر ډېر نور قومونه هم، مسلماً په همدا یوه مېنه کې ور سره شریک او میشته دي.

یوبل نوم چې په ښایسته پراخه اندازه دافغانانو یا پښتنو په ملک اطلاق شوی هغه روه دی.

منستوارت الفنستن دروه په باره کې وایی چې دا کلمه په پنجابی کې دغره معنا لري اوده په ځینې انګریزی کتابونو کې لیدلې ده مګر اورېدلې يې نه ده. دی وایی چې افغانانو ته دانوم دهغو کتابونو له لارې ور رسېدلی دی چې په هند کې لیکل شوي دي. (١٥) خو هنري راورټی وایی چې هرڅوک چې په دېره جاتو کې دېره شوي وي هغه ته به روه دخپل کور دیوه لوښی یاکالی په شان اشنا نوم وي. مګر کومو انګریزانو ته چې داموقع نه ده پیدا شوي چې دومره دغرب خواته ماموریت وکړي، هغوی به زیات ور سره بلد نه وی. (١٦)

هنری بیلو بیا وایی چې هندیان دافغانانو ملک روه بولی او روه په هندي

کې دغره معنا لري. دروه اوسېدونکو ته روه والا یاروهیله یعنی دروه اوسیدونکي وایي. (۱۷)

اولاف کرو وایي دروه کلمه چې دافغانانو دملک په معنا استعمال شوې په جنوبي پنجابي ژبه کې دغره معنا لري اودملتان اوده‌ره جاتو دبلوچانو قبایل یې هم استعمالوي. (۱۸) خو کله چې مادامریکا غږدهندي او اردو خپرونو له غړونه پوښتنه وکړه هغوی وویل چې دروه کلمه نه په هندي کې دغره معنا لري او نه یې په پنجابي ژبه کې دغره په معنا اورېدلې ده.

تر ټولو نه پخوانی تحریری سند چې ما دروه نوم پکې لیدلی هغه تاریخ داؤدی دی چې عبدالله له کال ۱۵۷۵ نه تر کال ۱۵۷۶ میلادي پورې تألیف کړی دی. عبدالله دروه نوم دشیرشاه دحالاتو دبیان په ضمن کې یادوی او لیکي: «کله چې سلطان بهلول سلطنت ته ورسېد، له روه نه یې چې دافغانانو ټاټوبی دی، ډېر افغانان را وغوښتل... دفرید نیکه چې نوم یې ابراهیم و، له روه نه هندوستان ته راغی.» (۱۹)

دهند دمغلو دعصر ډېرو نورو مؤلفینو هم دروه نوم یادکړی دی. یو له دغو مؤلفینو نه عباس سروانی دی چې تاریخ شیرشاهي یې له کال ۱۵۷۹ میلادی نه لږ څه وروسته لیکلی دی. دی روه دافغانانو دملک په توګه په مکرر ډول یادوي او یوځای دهغه فرمان له یادولو نه وروسته چې ملک بهلول هند ته دپښتنو مشرانود وربللو لپاره صادر کړی دی لیکي:

«کله چې دا فرمان ور ورسېد افغانان... دروه له ټولو برخونه ډله ډله [هندوستان] ته ... راغلل.» (۲۰)

خواجه نظام الدین احمد هم چې طبقات اکبری یې له کال ۱۵۹۲ نه تر کال ۱۵۹٤ پورې لیکلی دی دروه نوم اخلی او لیکی: «کله چې سلطان بهلول قدرت ته ورسېد ډېر زیات شمېر افغانان یې له روده نه چې دافغانانو ملک دی، راوغوښتل......» (۲۱)

په تاریخ فرشته کې (تألیف: ۱٦۰۹ میلادی) هم دروه نوم په مکرر ډول یاد شوی دی. یو ځای راغلی چې «دسوریانو دکورنۍ یو غړی...... دروه په افغانانو کې میشت شو.» (۲۲)

خواجه نعمت الله هروی هم دروه کلمه بیا بیا استعمال کړې ده او یو ځای دسلطان شهاب الدین دفتوحاتو دبیان په ترڅ کې لیکی چې «درې یم وار یې دافغانانو دقبایلو دولس زره... سواره له ځان سره راوستل... سلطان شهاب الدین دا خلک دروه په غزنۍ سیمه کې ان دملتان تر سرحده آباد کړل.» (۲۳)

دروه نوم په پخوانو پښتنو اشعارو کې هم ډېر یاد شوی او هغو پښتنو شاعرانو چې په هند کې یې دپردېسی ژوند کړی دروه په یاد له سوزه ډک اشعار لیکلی دی. کاظم خان شیدا وایی:

په زړه مې ګرځی د غرونو څوکې حملې د بازو د زرکو کوکې
ووایه څه کا دروه نسیمه ګیرا منګولې زیبا مشوکې (۲٤)

اشرف خان هجری وایی:

د زړه بازيې تل د روه پر ځمکه گــــرځـــي
که هجری په د کن ناست خالی بدن دی ( ۲۵ )

خوشحال خان په ډيرو فارسی اشعارو کې ځان روهی بولی.

چه شرابيست اين که روهی را به يکی جرعه بې خبر کردی ( ۲۶ )

اما دا چه روه کومه سيمه ده؟ پدې باره کې هم په هغو آثارو کې چه د بابر له زمانې نه رادې خواته په هند کې ليکل شوي کافی صراحتونه شوي دي. خو ترټولونه پخوانی اثر چه ما د روه تعريف پکې ليدلی هغه بيا هم د عبدالله تاريخ داؤدي دی. په تاريخ داودي کې يو ځای راغلي چې «د روه اوږدوالی له سواد بجور [سوات باجوړ] نه د سيوی تر قصبې پورې چې د بکهر له توابعونه ده، رسيږي او سوريې له حسن ابدال نه تر کابل او قندهاره پورې دی او هر څه چه پدامنځ کې دي هغه ته روه وايی.» (۲۷)

د نظام الدين په طبقات اکبري، د محمد قاسم په تاريخ فرشته او د نعمت الله هروي په مخزن افغانی کې هم همدې ته ښځي ورته تعريفونه راغلي دي. (۲۸) خو نواب محبت خان بړيڅی، چې رياض المحبت يې په کال ۱۸۰۶م کې ليکلی او پدې برخه کې اصولاً د زيات ره صلاحيت خاوند دی، روه يوستر ملک بولي او ليکی چې «د شرق په لور تر کشميره او د غرب په لور تر هېرمنده چې د دوه نيمو مياشتو مزل دی، امتداد لري؛ د شمال په لور تر کاشغره او د جنوب په لور تر بلوچستانه امتداد لري؛ [دا] د افغانانو هېواد دی او افغانان پکې هست دي» (۲۹).

پښتونخوا دافغانانو یا پښتنو د ملک یو بل نوم دی چې اکثره خپله پښتنو استعمال کړی دی.

د آخون درویزه مخزن الاسلام، چې د کال ۱۶۰۳ او ۱۶۱۲ ترمنځ لیکل شوی دی، د اسلامی عصر لومړنی مکمل اثر دی چې د پښتونخوا کلمه په مکرر ډول پکې راغلې او د پښتونخوا او پښتونخا په بڼه لیکل شوې ده. درویزه یو ځای په بایزید روښان باندې د بحث په ضمن کې د سیدعلی ترمذې یادونه کوی او لیکې چې « حضرت سیدعلی ترمذی و په بنهیر کې ، پښتونخوا په مثال شپه وه دی ډیوه وه په اندهېر کې. دی نېکخواه د پښتونخوا و ساتندویه په دنیاو. » ( ۳۰ )

لږ وروسته کله چې د مغولی اکبر او بایزید روښان د زوی، جلال الدین، په تصادماتو غږېږي لیکی چې جلال الدین « دغه لا په ، په خوله کړه چې پادشاه د پښتنو یم...... پښتنو ټولی پرې وکړ ؛ ولې دی هم پښتونخا لره بلا شه. »( ۳۱ )

د احمد شاه بابا د هغه دېوان په یوه غزل کې هم د پښتونخوا کلمه راغلې چې د مرحوم حبیبی په همت په کال ۱۳۱۹ کې خپور شوی دی. خودا غزل د احمدشاه بابا د دېوان په هغو قلمی نسخو کې چې مونږ ته میسرې وې ، نشته. مرحوم حبیبی هم وایی چې دا غزل د احمدشاه بابا د دېوان د هغو درې وو قلمی نسخوله جملې نه چې دوی د چاپی دیوان د برابرولو د پاره استفاده ترې کړې ده او پیدا دوو نورو نسخو کې چې یوه یې د کندهار د بلدیې د کتابخانې او بله یې د پښتو ټولنې د کتابخانې مال ده ،

داغزل نشته. (۳۲)

داحمدشاه بابا په چاپي دېوان کې د پښتونخوا کلمه پدې بیت کې راغلې ده.

دډیلی تخت هېرومه چې رایاد کـــړم
زما دښکلې پښتونخوا دغرو سرونه (۳۳)

داحمد شاه بابا دعصر معروف شاعر پیر محمد کاکړ هم د پښتونخوا کلمه په یو بیت کې راوړې او هغه داده:

لکه شـــعر دی دده په پـــښتونخوا کې
بل به کم وي په داوخت دافغان شعر (۳٤)

اما په معاصرو لیکنو کې دډاکتر لیډن یو مضمون لومړنی سند دی چې ماد پښتونخوا لفظ پکې لیدلی دی. لیډن په هغه معتبر مضمون کې چې څه کم دوه پېړۍ پخوا (۱۸۱۲م) دبایزید روښان په باره کې د آسیایي څېړنو په یوولسم ټوک کې په پنځه شپېته مخه کې خپور شوی دی، یو ځای لیکي: «بایزید چې دننگرهار نه روان شو پښتنخا یاد کلمې په خاصه معنا افغانستان ته یې مخه کړه.» (۳۵)

وروسته غربیانو د پښتونخوا کلمه زیاته استعمال کړې ده او فرانسوی لـوی عـالـم او وتـلـی مـســتشرق، ډارمـسـتـتـر (۱۸٤۹-۱۸۹٤) دپښتوولسي سندرو دهغې مجموعې نوم هم د پښتونخوا هاروبهار اینښی دی، چې په کوزه پښتونخوا کې یې ټولې کړې دي.

خوداچې د پښتونخوا کلمه په پخوا وختو کې په کومه ساحه اطلاق شوې

ده؟ پدې باره کې ماپه زړو آثارو کې څه نه دي ليدلي. خو د آخون درويزه او نورو له تذکراتو نه داسې ښکاري چې د پښتونخوا اصطلاح هم د پښتنو د ملک په معنا استعمال شوې ده او د ساحې په لحاظ به هم د روه له کلمې سره معادله او يا نژدې وي خو زمونږ د وخت پښتنو د پښتونخوا نوم، عموماً د هغې ساحې په مفهوم استعمال کړی دی چې له آمونه تر اباسينده اوله هراته تر کشميره امتداد لري. دوی دا ساحه د لويې پښتونخوا په نامه هم ياده کړې او په لره او بره پښتونخوا يې ويشلې ده. لره پښتونخوا يې هغه سيمه بللې ده چې له خيبره دا باسيند تر غاړو پورې امتداد لری او بره پښتونخوا يې هغه سمه بللې ده چې له خيبر نه د آمو دسيند ترغاړو پورې پرته ده.

اما کوم نوم چې پښتنو او يا په قومی اصطلاح افغانانو ته منسوب ملک باندې، له ډېر پخوا او په عام او متواتر ډول، اطلاق شوی هغه «افغانستان» دی. دا نوم په تحريری اسنادو کې لږ ترلږه د څورلسمې ميلادی پېړۍ له اولې نيمايې نه د يوې ښايسته پراخې ساحې په يوه يا بله برخه اطلاق شوی او سيفی هروي د هرات تاريخنامه (تأليف: ۷۱۸ - ۷۲۱ هری) ظاهراً، لومړنی معلوم اثر دی چې د «افغانستان» لفظ پکې راغلی دی.

سيفی يو ځای هلته چې د هرات په ځينو شاوخواسيمو کې د ملک شمس الدين کرت په پوځی عمليا تو او بندوبست بحث کوی وايی چې ملک شمس الدين يو هيئت ددې د پاره «افغانستان» ته ولېږه چې دده خپل او

يوه چنګېزي واکدار منکو خان فرمانونه د «افغانستان» واکدارانو او مشرانو ته ور ورسوي. سيفي وايي پدې فرمان کې د «افغانستان» مشرانو ته ليکل شوي وو چې «ستر ملوک فخرالدوله والدين ملک شاهنشاه او ملک ميرانشاه او ملک بهرامشاه او ملک تاج الدين اوهرمز ترى [ترين] ... او دافغانستان مشران او اوسېدونکي او اهالي دي پدې پوه وي چې ...... ټول په يوه زړه ... مور ته راشي.» (۳٦)

د تاريخنامې له سره ترپايه پورې دافغانستان نوم پنځه ديرش وارې د «افغانستان» په بڼه اوپه څلور څلويښتم اوپنځه څلويښتم فصل کې دوه ځايه د «اوغانستان» په بڼه ليکل شوى دى. پدې دوو فصلونو کې دافغان کلمه هم داوغان په شکل ليکل شوې ده.

ابن بطوطه هم دسيفي د تاريخنامې له تأليف نه يو څو کاله وروسته په (۱۳۳۱ ميلادى کې) دافغانستان نوم ياد کړى دى. دابن بطوطه دسفرنامې په فارسي ترجمه کې راغلي چې کشلوخان دعسکرو ټولول پيل کړل او «د ترکستان، افغانستان او خراسان دومره خلک پرې راټول شول چې ... سلطان سره برابر شو.» (۳۷)

ضياء الدين برني له ابن بطوطه نه يو څو کاله وروسته په تاريخ فيروز شاهي کې (تأليف: ۱۳۵۷ ميلادى) دافغانستان نوم يادوي او ليکي چې سلطان ته «له ملتان نه خبر راغى چې شاهو افغان ياغى شوى دى ...سلطان ... ور وخوځېد ...... شاهو له خپلو افغانانو سره افغانستان ته ولاړ.» (۳۸)

په مطلع السعدین کې (تألیف: ۸۷۲ - ۸۷۵ هجری) هم د تیموریانو دعصر د پښتو دبیان په وخت کې دافغانستان نوم اخیستل شوی او داسې لیکل شوي دي چې « ... دسند ترسیند او افغانستان پورې [ځایونه] چې دصاحب قران په وخت کې میرزا پیر محمدبن میرزا جهانګیر ته ورکړل شوي وو حضرت خاقان سعید... دمېرزا په نامه کړل. (۳۹).

زمچی اسفزاری، چې روضات الجنات یې له کال ۸۹۱ نه تر ۸۹۹ هجری پورې لیکلی دی، دافغانستان نوم څو وارې یادوي. یو ځای لیکی چې « دهغه تاریخ دنقل په اساس چې جناب شیخ زاده اعظم شمس الدین محمد ...... دافغانستان له ولایت نه دجناب مغفرت مأب مرشد الزمان شیخ رضی الدین محمد سلمان رحمه اللة له کتابخانې نه راووړ» داخبره معلومه شوه چې...(۴۰)

بیا لیکی چې ملک شمس الدین کرت « دافغانستان یوه کلا؛ بکر، محاصره کړه. » (۴۱)

ظهیر الدین بابر (۱۴۸۳ - ۱۵۳۰) هم دافغانستان نوم اخلی او کله چې دکابل په باره کې غږیږی وایي چې « جنوب ته یې فرمل، نغر، بنو او افغانستان واقع دی. » (۴۲) یوبل ځای لیکی چې « دخواجه اسمعیل، دښت، دوګی (دوکی) او افغانستان غرونه ټول یوشان دي. » (۴۳)

